Bawar.net

د لوړو زده کړو وزارت
ننګرهار پوهنتون
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي
د نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ

# نړیوالې اړیکې

## (د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو اصول)

لیکوال: پوهنوال منګل شېرزاد



Bawar.net



# لیکلړ

| سرلیک | مخ |
|---|---|


سریزه ........................................ ۱۳


## لومړی څپرکی

## د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو پېژندنه


لومړی مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو تعریفونه ........................ ۲۳

لومړی جز: د مسلمانو پوهانو له خوا د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي ........................ ۲۴

دویم جز: د نامسلمانو پوهانو له خوا د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو ........................ ۲۴

دویم مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو تاریخي مخینه ........................ ۲۵

لومړی جز: د ویستفالیا له تړونونو څخه پخوا د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې ........ ۲۶

لومړۍ فقره: پخوانی یونان او د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې ........................ ۲۷

دویمه فقره: پخوانی روم او د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې ........................ ۳۰

درېیمه فقره: د بیزانس یا ختیځ روم امپراتوري او د دولتونو ترمنځ ........................ ۳۲

څلورمه فقره: د اسلام مبارک دین او د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې ........................ ۳۴

دویم جز: له ویستفالیا تړونونو څخه وروسته تر لومړۍ نړیوالې جګړې پورې ........................ ۳۸

لومړۍ فقره: رنسانس ........................ ۳۸

دویمه فقره: د دیني سمون خوځښت ........................ ۳۹

درېیمه فقره: مذهبي جګړې او اغېزې ........................ ۴۴

Bawar.net

استثناءت واردول........................۷۰
څلورم جز: د نه مداخلې په اصل کې ځینې استثناءت واردول........................۷۰
پنځم جز: د لاسوهنې بڼې (شکلونه) ........................۷۱
لومړی فقره: د هېواد په اساسي تشکیلاتو کې مداخله ........................۷۱
دویمه فقره: د یو هېواد د اساسي قانون په برخه کې مداخله ........................۷۱
درېیمه فقره: په مالي امورو کې مداخله ........................۷۲
څلورمه فقره: په اداري چارو کې مداخله ........................۷۲
پینځمه فقره: د یو هېواد په خارجي چارو کې مداخله ........................۷۳
شپږم جز: د لاسوهنې ډولونه........................۷۳
لومړی فقره: نرمه لاسوهنه........................۷۳
دویمه فقره: ګرمه لاسوهنه........................۷۴
دویم مبحث: ډیپلوماټیکي اړیکې........................۷۴
لومړی جز: د ډیپلوماټیکي اړیکو پېژندنه ........................۷۵
دویم جز: د ډیپلوماټیکي اړیکو د رامنځته کېدا شرایط........................۷۶
لومړی فقره: دولت والی ........................۷۶
دویمه فقره: خپلمنځي رسمیت پېژندنه ........................۷۸
درېیمه فقره: خپلمنځي رضایت........................۸۱
درېیم جز: د ډیپلوماټیکي اړیکو لپاره ارکان........................۸۲
لومړی فقره: د ډیپلوماټیکو اړیکو د ارکانو جوړښت:........................۸۲
څلورم جز: د ډیپلوماټیکي اړیکو ډولونه ........................۸۳
لومړی فقره: د دولتونو د مشرانو ترمنځ اړیکې یا لیدنې ........................۸۳
دویمه فقره: د بهرنیو چارو وزیرانو او یا هم نورو وزیرانو ترمنځ اړیکې او لیدنې........................۸۴
درېیمه فقره: د سفیرانو او نورو ډیپلوماټیکي ماموړینو ترمنځ اړیکې ........................۸۴
څلورمه فقره: د نړیوالو کنفرانسونو غونډې او نړیوال سازمانونه........................۸۵
پینځم جز: د ډیپلوماټیکو اړیکو پیل، تعلیق او پرېکون ........................۸۶
لومړی فقره: د ډیپلوماټیکو اړیکو پیل او تعلیق........................۸۶
دویمه فقره: د ډیپلوماټیکو اړیکو پریکون ........................۸۷
درېیم مبحث: بشري حقونه........................۸۹
لومړی جز: د بشري حقونو پېژندنه ........................۸۹
څلورم مبحث: د بشري حقوقو خانګړتیاوې ........................۹۰

Bawar.net


لومړی جزء: بشري حقوق عمومي او نړیوال دي ........................ ۹۰
دویم جزء: بشري حقوق نه انتقالیدونکي دي ........................ ۹۱
دریم جزء: بشري حقوق مساوي دي ........................ ۹۱
څلورم جزء: بشري حقوق یو له بل سره تړلي دي ........................ ۹۲
پنځم جزء: د بشري حقوقو د اجراء ضمانت ........................ ۹۲
لومړی فقره: حقوقي ضمانت ........................ ۹۳
دویمه فقره: ټولنیز او مادي ضمانت ........................ ۹۳
دریمه فقره: سیاسي ضمانت ........................ ۹۴
دویم پراګراف: په بین المللي سطحه د بشري حقوقو د اجراء ضمانت ........................ ۹۴
دویم جز: بشري حقونه د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو د محراق په توګه ........................ ۹۴
څلورم مبحث: نړیوال کېدل ........................ ۹۶
لومړی جز: د نړیوال کېدولو پېژندنه ........................ ۹۶
دویم جز: د نړیوالتوب عوامل ........................ ۹۹
دریم جز: د نړیوال کېدولو تاثیرات د دولتونو پر داخله او خارجه پالیسو باندې ... ۱۰۰
پېنځم مبحث: نظامي ترونونه ........................ ۱۰۱
لومړی جز: نظامي ترونونو پېژندنه ........................ ۱۰۱
دویم جز: د نظامي ترونونو اغیز د دولتونو پر داخله او خارجه پالیسی باندې ........................ ۱۰۳
شپږم مبحث: تروریزم ........................ ۱۰۵
لومړی جز: د تروریزم پېژندنه ........................ ۱۰۵
دویم جز: تروریزم د یوې سیاسي وسیلې په توګه ........................ ۱۰۶
اووم مبحث: ملتپالنه ........................ ۱۰۷
لومړی جز: د ملتپالنې پېژندنه ........................ ۱۰۸
دویم جز: پر نړیوال وحدت د ملتپالنې منفي اغیزې ........................ ۱۰۹
لومړی پراګراف: له نورو سره د مرستي عدم علاقمندي ........................ ۱۰۹
دویم پراګراف: د نورو ردول ........................ ۱۰۹
دریم پراګراف: ځان بې ساري بلل او د پردیو څخه بیره ........................ ۱۱۰
څلورم پراګراف: کلتوري تبعیض او ظلم ........................ ۱۱۰
اتم مبحث: بې طرفي(بې پرېتوب) ........................ ۱۱۰
لومړی جز: د بې طرفي(بې پرېتوب) پېژندنه ........................ ۱۱۱

Bawar.net



لومړی پراګراف: د بې طرفه هېوادونو حقوق ........ ۱۱۱
لومړۍ فقره: ځان ساتنه ........ ۱۱۲
دويمه فقره: منع کول ........ ۱۱۲
درېيمه فقره: بېرته اصلي حالت ته راګرځول ........ ۱۱۲
څلورمه فقره: د يو حقيقت منل او ورته تسليمېدل ........ ۱۱۳
پنځمه فقره: جبيره کول ........ ۱۱۳
دويم پراګراف: د بې پرې دولت حقوق ........ ۱۱۳
درېيم پراګراف: د جګړې د لوريو وجايب ........ ۱۱۳
لومړۍ فقره: ځان ساتل ........ ۱۱۴
دويمه فقره: منع کول ........ ۱۱۴
درېيمه فقره: حقيقت منل او ورته تسليمېدل ........ ۱۱۴
څلورمه فقره: د بې پرېتوب پای ........ ۱۱۴
څلورم پراګراف: د ملګرو ملتونو منشور او بې پرېتوب ........ ۱۱۵
نهم مبحث: اقتصادي پرمختيا او اقتصادي بحران ........ ۱۱۶
لومړی جز: اقتصادي پرمختيا ........ ۱۱۶
لومړۍ فقره: د اقتصادي پرمختيا پېژندنه ........ ۱۱۶
دويمه فقره: د اقتصادي پرمختيا بنسټونه ........ ۱۱۷
الف: د اقتصادي پرمختيا داخلي بنسټونه ........ ۱۱۷
ب: د اقتصادي ودې بهرني بنسټونه ........ ۱۱۹
دويم جز: اقتصادي بحران ........ ۱۲۱
لومړۍ فقره: د اقتصادي بحران پېژندنه ........ ۱۲۱
دويمه فقره: د اقتصادي بحران لاملونه ........ ۱۲۲
ب: د اقتصادي بحران بهرني لاملونه ........ ۱۲۷
درېيمه فقره: د اقتصادي بحران د مخنيوي لارې چارې ........ ۱۳۱
الف: د نړۍ د هېوادونو يو بل تکيه (نړيواله همکاري) ........ ۱۳۱
ج: د جګړو مخنيوی ........ ۱۳۳
د: د نظامي مصارفو راکمول ........ ۱۳۴
هـ: د ټيکنالوژۍ او تعليم عامول ........ ۱۳۴
و: د ګمرکي تعرفو له منځه تلل يا هم راکمېدل ........ ۱۳۵

Bawar.net



ز: د ولسونو ر اوېښېدل ........................................ ۱۳۵

## درېیم څپرکی

## په اسلام کې د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي

## اړیکو بنسټونه او اصول


لومړی مبحث: په اسلام کې د انساني د دولتونو د خپلمنځي اړیکو بنسټونه ........... ۱۳۷

لومړی جز: انساني کرامت ........................................ ۱۳۸

دویم جز: د انساني ټولنې یووالی ........................................ ۱۳۹

درېیم جز: مرسته او همکاري ........................................ ۱٤۱

څلورم جز: گذشت او تېرېدنه ........................................ ۱٤۲

پینځم جز: آزادي ........................................ ۱٤۳

لومړی فقره: د عقیدې آزادي ........................................ ۱٤٤

دویمه فقره: د برخلیک ټاکنې آزادي ........................................ ۱٤٤

شپږم جز: د اخلاقي ارزښتونو الزامیت ........................................ ۱٤٦

اووم جز: عدالت ........................................ ۱٤۷

اتم جز: ورته غبرگون ........................................ ۱٤۸

نهم جز: پر ژمنې ودرېدل یا وفا ........................................ ۱٤۹

لسم جز: ترحم ........................................ ۱۵۰

دویم مبحث: د سولې پرمهال د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې ........................................ ۱۵۲

لومړی جز: د دولتونو ترمنځ په خپلمنځي اړیکو کې اصل (سوله) ده ........................................ ۱۵۲

دویم جز: د اسلام له انده درې گونې څمکې او د هغو حاکمیت ........................................ ۱۵۷

لومړی فقره: درې گونې څمکې ........................................ ۱۵۷

درېیم مبحث: د جگړې پر مهال د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې ........................................ ۱۷۱

لومړی جز: په اسلام کې د جنگ انگېزې ........................................ ۱۷۲

دویم جز: له جنگ څخه دمخه د اسلام احکام ........................................ ۱۷۵

درېیم جز: د جنگ پر مهال د اسلام احکام ........................................ ۱۷٦

څلورم جز: په جنگ کې روا او ناروا: ........................................ ۱۷۷

لومړی) له دیني اشخاصو سره معامله: ........................................ ۱۷۷

دویم: د ماشومانو، ښځو او بوډاگانو د وژلو تحریم: ........................................ ۱۷۸

Bawar.net


درېیم: د کارګرانو د وژنې تحریم ........................ ۱۷۸
څلورم: له تخریب څخه مخنیوی ........................ ۱۷۹
پنځم: په جنګ کې د اخلاقي ارزښتونو رعایت ........................ ۱۷۹
شپږم: د جنګ په میدان کې انساني کرامت ته درناوی ........................ ۱۸۰
څلورم جز: د جګړې له پای ته رسېدو وروسته د اسلام احکام ........................ ۱۸۱
پینځم جز: اوربند ........................ ۱۸۱
شپږم جز: په اسلام کې پناه ورکوونه او جنګي اسیران ........................ ۱۸۵
لومړۍ فقره: په اسلام کې پناه ورکونه ........................ ۱۸۵
دویمه فقره: په اسلام کې جنګي اسیران ........................ ۱۸۶

## څلورم څپرکی

## د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو ارګانونه

لومړۍ مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو د ارګانونو پېژندنه ........................ ۱۸۸
دویم مبحث: کورني (ملي) ارګانونه ........................ ۱۸۹
لومړی جز: د دولت رئیس ........................ ۱۹۰
الف- د سولې او جګړې په برخه کې د دولت د رئیس واکونه او دندې: ........................ ۱۹۱
ب- د سفیرانو او مختار وزیرانو انتصاب: ........................ ۱۹۲
ج- د بهرنیو هېوادونو د سفیرانو او مختار وزیرانو منل: ........................ ۱۹۳
د- د نړیوالو تړونونو تړل او توشېح کول: ........................ ۱۹۳
دویم جز- د بهرنیو چارو وزیر ........................ ۱۹۵
لومړۍ فقره: د هېواد په دننه کې دندې ........................ ۱۹۶
دویمه فقره: له هېواده په بهر پورې اړونده دندې ........................ ۱۹۶
دویم مبحث- بهرني ارګانونه ........................ ۱۹۷
لومړی جز: دایمي سیاسي نمایندګي (سفارتخونې) ........................ ۱۹۸
دویم جز: دایمي خانګړې پلاوی ........................ ۱۹۹
درېیم جز: لنډ مهاله نړیوال اورګانونه ........................ ۲۰۰
څلورم جز: ډیپلوماټیکي اورګانونه (نمایندګۍ) ........................ ۲۰۱
لومړۍ فقره: د ډیپلوماټیکي نمایندګیو ډولونه ........................ ۲۰۲
پنځم جز: د ډیپلوماټیکې نمایندګیو د جوړولو انګېزې ........................ ۲۰۴

Bawar.net



۱. د ډیپلوماټیکې نمایندګیو د جوړولو ستونزې ........................ ۲۰٤
د ډیپلوماټیکې نمایندګیو دندې ........................ ۲۰۵
ب- غیر ډیپلوماټیک اورګانونه: ........................ ۲۰۹
د ډیپلوماټیکې پوستې لخوا د کونسلي دندو ترسره کول: ........................ ۲۱۰
پینځم جز: د کونسلي پوستې لخوا د ډیپلوماټیکې دندو تر سره کول: ........................ ۲۱۱

## پنځم څپرکی

## د دولتونو ترمنځ په خپلمنځي اړیکو کې

## د رامنځته کېدونکو شخړو حل

لومړی مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي شخړو د حل حقوقي لارې ........................ ۲۱٤
لومړی مبحث: د نړیوالو شخړو قضایي سوله ییزې حللارې ........................ ۲۲۰
الف: د نړیوال حکمیت له لارې د شخړو حل ........................ ۲۲۰
ب: د شخړو قضایي حل ........................ ۲۲۱
دویم مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي شخړو د حل سیاسي لارې ........................ ۲۲٤
لومړی جز: د نېغو ډیپلوماټیکې خبرو اترو په واسطه د نړیوالو شخړو حل ........................ ۲۲٤
دویم جز: د درېیمګړیو دولتونو له خوا د منځګړیتوب او نېکو هڅو له لارې ........................ ۲۲۵
درېیم جز: د څېړنې او سوله غوښتنې کمیسیونونو له لارې د نړیوالو شخړو حل ........................ ۲۲۵
څلورم جز: د ملګرو ملتونو او نورو سیمه ییزو سازمانونو غوښتنې او پرېکړه لیکونه ........................ ۲۲٦
پینځم جز: د سوله ساتنې په نوم د نظامي ځواکونو مداخله ........................ ۲۲۷
پایله: ........................ ۲۲۸
ماخذونه (Reference) ........................ ۲۳۰

Bawar.net



## سريزه

د اړيکو او تګ راتګ د وسايلو د ډېر چټک پرمختګ له امله اوسنۍ نړۍ ته د (اړيکو نړۍ) وايي. د اړيکو نړۍ په دې مانا چې د نړۍ ټولې نقطې له يو بل سره وصل او نښتي دي. نه يوازې د ځمکې پر مخ انسانانو په خپلو منځونو کې اړيکې او د اړيکو نيولو وسايل پيدا کړي دي، بلکې انسان له خپلې ځمکې څخه بېرون له سياراتو او ستوريو سره هم اړيکې ټينګې کړي دي او په دې برخه کې ورځ تر بلې پرمختګونه کېږي او روان دي. انسانان سپوږمۍ او نورو سيارو ته ځي او د هغه ځای حال و احوال د ځمکې خلکو ته وايي او راوړي.

دا ډېره پخوانۍ د ارستو د وخت خبره ده چې ووايوو د ځمکې د مخ انسانان د ټولنيز ژوند کولو خاصيت لري او بايده دي چې له يو بل سره ټولنيز ژوند وکړي، يو د بل اړتياوې پوره کړي او يو د بل لاس ونيسي-. د انسانانو په څېر دولتونو هم دا واقعيت او حقيقت پېژندلی دی چې په بين المللي نظام کې ژوند کول د بين المللي نظام د منلو په مانا دي او د بين المللي نظام اساس او بنسټ د دولتونو پر اړيکو باندې ولاړ دی.

اوسنۍ نړۍ د فوټ بال د ډګر بڼه لري چې دولتونه او نړيوال سازمانونه په کې لوبېږي. اوسنۍ نړۍ نږدې له دوه سوه ۲۰۰ هېوادونو جوړه ده، لکه د فوټ بال په لوبه کې چې هر لوبغاړی په ډېر حسادت سره د خپل شهرت د ساتنې لپاره هڅې کوي، پر نړيوال سټيج هم هر لوبغاړی (دولت) د خپل ملي حاکميت د ساتنې او دفاع لپاره هڅې کوي. دوی د همدې موخې لپاره يو د بل په څنګ کې ودرېږي، يو پر بل رحمېږي او قهرېږي. ځينې له نورو سره د همکارۍ تړونونه لاسليکوي، ځينې له نورو د مرستو د راجلبونې هڅې کوي او يو شمېر خپل خير په دې کېويني چې له نورو سره په بېلابېلو سازمانونو کې غړيتوب واخلي. تر اوسه پورې د دغو ټولو کوچنيو او لويو بين الحکومتي سازمانونو Intergovernmental Organizations شمېر نږدې ۳۰۰ ته رسېدلی دی. د دې ټولو سازمانونو غړي يوازې دولتونه دي. په دې سازمانونو کې

Bawar.net


ځينې يې د نړۍ په کچه رول پر غاړه لري، لکه د ملګرو ملتونو سازمان او ځينې يې بيا يوازې د يوې سيمې په کچه رول لوبوي، لکه اروپايي اتحاديه. د دې تر څنګ ځينې غير حکومتي سازمانونه Nongovernmental Organizations (NGOs) هم شتون لري چې انفرادي اشخاص يې غړيتوب لري او شمېر يې زرګونو ته رسېږي. دا دولتونه، بين الحکومتي سازمانونه او غير حکومتي سازمانونه د نړيوالو اړيکو د ساتلو، پاللو او په دې برخه کې د لوبېدلو لوبغاړي دي.

دا خبره هم سمه نه ده چې وړايوو دولتونه خپلو سياسي موخو او اهدافو يو بل ته سره نږدې کړي دي او اړ کړي يې دي چې له يو بل سره اړيکې جوړې کړي. نه د نړيوالو اړيکو د جوړېدو لپاره مذهبي (عقيدوي)، سياسي، اقتصادي، کولتوري، تيکنالوژيکي او جغرافيوي فکتورونو ته هم پام په کار دی. همدغه فکتورونه دي چې دولتونه هڅوي له نورو دولتونو سره اړيکې جوړې کړي او په دې ټولو برخو کې د راکړې ورکړې زمينې برابرې کړي. دا اړيکې هغه وخت دوام موندلی شي چې د نړيوالو اړيکو سياسي لوبغاړي، د نړيوالو اړيکو اصول وپېژني او د عملي کولو لپاره يې تر شا اجرايوي قدرت موجود وي. زه به انشاء الله د دې تحقيقي اثر د ليکلو په جريان کې دا هڅه وکړم چې د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړيکو اصول په بېلابېلو فصلونو کې روښانه کړم تر څو د نړيوالو اړيکو اصولو ته د احترام او رعايت په صورت کې ولسونه د سولې او امنيت په فضاء کې يو د بل تر څنګ د ارام او هوسا ژوند لرونکي شي.

د موضوع لنډيز:

د ماسترۍ د دورې په پای کې هر محصل مکلف دی چې د ماسترۍ دورې د اکمال په خاطر په يوه مشخصه موضوع کې خپل تېزس وليکي. له همدې امله د ننګرهار پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د ماسترۍ بورډ (د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړيکو اصول) تر عنوان لاندې يوه تحقيقي موضوع

Bawar.net



راته راکړه ترڅو یې په هر اړخیزه ډول وڅېړم. نوموړی تحقیقي اثر مې په یوه سریزه او پینځو څپرکو کې رانغښتی دی. لومړی څپرکی د دولتونو تر منځ د خپلمنځي اړیکو پېژندنې ته ځانګړی شوی دی. په دویم څپرکي کې د دولتونو تر منځ د خپلمنځي اړیکو د بحث مهم مسایل رااخیستل شوي دي او دریم څپرکیپه اسلام کې د دولتونو تر منځ د خپلمنځي اړیکو بنسټونو او اصولو ته ځانګړی شوی دی. همدارنګه په څلورم څپرکي کې د دولتونو تر منځ د خپلمنځي اړیکو ارګانونه یاد شوي دي او په پنځم څپرکي کې د دولتونو تر منځ په خپلمنځي اړیکو کې د رامنځته کېدونکو شخړو حل باندې بحث شوی دی.

د موضوع د ټاکلو لاملونه:

دا یو ښکاره حقیقت دی چې بشري نړی یو له بل سره بې اړیکو او په انزوا کې ژوند نه شي کولای. انساني مجبوریتونه، ژبني، عقیدوي، کلتوري او اجتماعي اړیکې هغه فکتورونه دي چې هېوادونه د دوستۍ په فضاء کې سره نږدې ژوند کولو ته هڅوي. دا اړیکې او نږدیوالی هغه وخت دوام پیدا کولای شي چې د نوموړو اړیکو اصولو ته احترام وشي چې په دې صورت کې هېوادونه به د نړیوال کلي د یو ښه غړي په توګه وسټایل شي. د راشې درشې او نعمتونو د تبادلې لپاره به زمینه برابره شي، ما په همدې دلیل نوموړی عنوان د خپل تېزس د تحقیق لپاره په لاندې دلایلو سره انتخاب کړی دی.

۱) نن (د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو اصول) تر عنوان لاندې کوم تحقیقي اثر نه تر سترګو کېږي.

۲) د شرقي زون په موجوده پوهنتونونو کې په پښتو ژبه تدریس کېږي چې ډېری محصلین له نورو ژبو سره کمه اشنایي لري نو لازمه مې وګڼله چې خپل تحقیقي اثر په پښتو ژبه ولیکم، تر څو زیاته استفاده ترې وشي.

۳) د نړیوالو اړیکو د اصولو په رعایت کې هېوادونه په خپلو بهرنیو پالیسیو کې خپلو ملي ګټو ته له حده زیات لومړیتوب ورکوي چې دا ډول کړنې د

Bawar.net


هېوادونو ترمنځ يو سلسله ستونزې رامنځته کوي. زه کوښښ کوم چې دغه ستونزې د نړيوالو اصولو په رڼا کې ورته د حل لارې په ګوت کړم.

پورته درېوو عمده دلايلو زما توجه ځانته جلب کړه تر څو نومورې موضوع د امکان تر بريده وڅېړم، که وشي چې ما په دې تحقيقي اثر کې خپلو وطنوالو ته خدمت کړی وي.

د مسئلې طرحه (پرابلم):

تر کومه بريده چې ما لټه کړې ده په نومورې موضوع کې مې کوم تحقيقي اثر ونه مونده، نو د ماسترۍ بورډ دا لازمه وګڼله چې تر څو زه په دې برخه کې يو تحقيقي آثر وليکم. البته د موضوع د تحقيق پر وړاندې زموږ په ملي ژبو کې کوم اثر نه ليدل کېږي. زه به انشاء الله دغه ستونزه د بېروني او داخلي ژبو او اثارو له مطالعې وروسته د هغې د حل لارې چارې ولټوم. دا طبيعي خبره ده چې د هر نوي تحقيق او ليکنې پر وړاندې يو سلسله خنډونه پراته وي دا خنډونه هغه وخت له مخې لرې کېدای شي چې د هغې د حل لپاره قوي اراده او هوډ موجود وي. دا يوه اړتيا ده چې د همدې تشې د ډکولو لپاره مې د نومورې موضوع تحقيق او څېړنې ته ملا وتړله.

د موضوع موخې:

اوسمهال د نړيوالو اړيکو لوستنه له بېلابېلو اړخونو څخه اهميت او ګټې لري چې په لاندې ډول يې موږ او تاسې لولو:

۱) د نړيوالې ټولنې راښکاره کېدل: انسانانو چې پېړۍ پېړۍ دمخه د کومې نړيوالې ټولنې خوب ليدلی و، هغه خوبونه د اوسنيو نويو ساينسي- او ټکنالوژيکي پرمختګونو له امله پر يو حقيقت بدلېږي، اوسمهال د نړۍ ملتونه او قومونه يو بل تر ډېر نږدې شوي دي، نو په دې خاطر هم د بېلابېلو ملتونو ترمنځ د اړيکو لوستنه ډېره مهمه ده، اوسمهال په نړۍ کې بشري حقوق،

Bawar.net



وروړولي، مساوات، جمهوریت او یو شمېر نورو اصولو بانـدې د نظرونـو توافـق شتون لري، دا ټول د نړیوالو اړیکو له برکته دي.

۲) د درېیمې نړۍ هېوادونو ته د یـو حیثیـت ورکـول: نړیـوالې اړیکـې او د نړیوالو اړیکو اصول د درېیمې نړۍ د هېوادونو لپاره دا ګټه لـري چـې هغـوی په خپل یو حیثیت په نړیوالو اړیکو او معاملات کې برخه اخلي، پخوا به غریـب او وروسته پاتې هېوادونه د پرمختللیو هېوادونو تر استعمار لاندې ول، خـو پـه اوسنۍ نړۍ کې ټول هېوادونه په نړیواله کچه خپل مساوي حیثیت لري.

۳) د ناوړه کړنو پر وړاندې غبرګون ښودل: پـه نـړۍ کـې د لویـو قـدرتونو د ځینې ناوړه اعمالو پر وړاندې غبرګون ښودل او یا یې هم مخه نیول له نړیوالـو اړیکو څخه پرته ناشونې ده، د نړیوالو اړیکـو لوسـتنه او پـرې پوهېـدل لـه دې امله هم مهم دي چې له دې لارې د لویو قـدرتونو د نـاوړه اعمالـو مخـه نیـول کېږي، یا کم تر کمه نور هېوادونه پر دې پوهېږي چې د لویو قدرتونو پالیسـۍ د کومو اهدافو لپاره جوړېږي.

٤) د ملي ګټو ساتنه: د نړیوالو اړیکو لوسـتنه او پـرې پوهېدنـه د هـر هېـواد وګړیو ته دا چانس ورکوي چې خپلې ملي ګټې د ځان لپاره د هېواد په داخـل او له هېواده بېرون تعریف کړي، د نورو د ملي ګټو حـدود، مـوخې او د لاسـته راوړنې لارې چارې یې وپېژني او په دې منځ منځ کې وخـت ناوخـت د خپلـو ملي ګټو دفاع وکړي او د ساتنې او حمایې لپاره یې لاس په کار شي.

۵) د بهرني سیاست جوړول: هر دولـت اړ دی چـې لـه نـورو دولتونـو سره د خپلو ښو اړیکو جوړولو لپاره خپل بهرنی سیاسـت طـرح او ډیـزان کـړي، مـوږ چې تر هغه پورې نړیوالې اړیکې ونه لولو او پرې پوه نـه شـو، نـه کـولای چـې خپلې بهرنۍ پالیسۍ طرحه او ډیزاین کړو، موږ د نړیوالـو اړیکـو د لوسـتنې لـه لارې د نورو دولتونو پر بهرنۍ پالیسۍ هم پوهېدای شو.

٦) د غوره حکومت یا نظام انتخـاب: د نـړۍ دولتونـه لـه بېلابېلـو حکـومتي نظامونو څخه پیروي کوي، نړیوالې اړیکې موږ لـه بېلابېلـو حکـومتي نظـامونو سره هم آشنا کوي، موږ د نړیوالو اړیکو په لوستنه په دې هم پوهېږو چې کـوم

Bawar.net


حکومتي سيستم ډېرې ښېګڼې لري او کوم بدګڼې، له دې لارې کولای شو د خپل دولت لپاره يو غوره حکومتي سيستم وټاکو. همدارنګه کولای شو چې په خپل حکومتي نظام کې موجوده ستونزې د نورو دولتونو د حکومتي سيستمونو په ليدلو او څارولو سره رفع کړو.

۷) د نړيوالو سياسي تحريکونو لوستنه: نړۍ اوس له بېلابېلو سياسي تحريکونو څخه جوړه ده، د بېلابېلو سياسي مکتبونو پلويان لګيا دي د خپل سياسي مکتب د خپرولو هڅې کوي، دوی يو پر بل نيوکې هم لري، موږ د نړيوالو اړيکو د لوستنې له لارې کولای شو دغه سياسي مکتبونه او تحريکونه وپېژنو، د دوی په موخو او مقاصدو باندې ځان پوه کړو او له دې لارې په نړۍ کې د سياسي او نظامي بدلونونو تل ته رسېدای شو.

۸) د نړيوالو بشري حقوقو لوستنه: بشري حقوق د نړيوالو اړيکو يوه مهمه موضوع ده، د نړيوالو اړيکو د مطالعې له لارې موږ پر دې پوهېدای شو چې د نړۍ په کومه برخه کې پر انسانانو څه تېرېږي، نړيوالې اړيکې په نړيواله کچه د بشري حقوقو د نقض نقاط معلوموي او بيا د بشري حقوقو د تامين زمينه سازي کوي.

۹) د نړيوالو ادارو پېژندنه: د نړيوالو اړيکو مهم لوبغاړي دولتونه، نړيوال اشخاص او نړيوال سازمانونه دي، د نړيوالو سازمانونو تر څنګ ځينې نورې نړيوالې ادارې هم شتون لري چې په نړيوالو اړيکو ډېر مهم رول لري، د نړيوالو اړيکو د لوستنې له مخې موږ کولای شو دغه ډول نړيوال سازمانونه او ادارې په ښه توګه وپېژنو، د هغوی پر کار او فعاليت باندې خبر شو او دا چې په نړيوال سياست او نړيوالو اړيکو کې څومره رول لري، ځان پرې پوه کړو.

۱۰) پر نړيوالو مسايلو پوهېدل: نړيوالې اړيکې لوستل په حقيقت کې د نړيوالو مسايلو لوستل دي، فرضاً د سپټمبر د يوولسمې پېښه ولې رامنځته شوه؟ تر شا يې کوم رازونه ول؟ امريکا پر افغانستان ولې يرغل وکړ؟ امريکا په عراق کې څه غوښتل؟ په مصر کې مظاهره چيان ولې پر ګوليو وويشتل شول، سوريه ولې د خپلو ياغي جنګياليو پر وړاندې له تاوتريخوالي کار اخلي؟ پاکستان ولې

Bawar.net


له تروریزم سره مبارزه کې مخلوص نه دی؟ چین ولې د نړۍ د اقتصاد سرلارۍ ګټل کېږي؟ روسيه ولې په نړيوالو مسايلو کې چوپه خوله ده؟ اتومي بمونه باید څوک ولري؟ د نړۍ غربت او ولږه څنګه له منځته تللی شي؟ ولې په نړيواله کچه بېکاري مخ په زیاتېدو ده؟ دا ټول نړیوال مسایل دي، پر دې مسایلو د پوهېدو لپاره موږ ته په کار دي چې نړيوالې اړيکې ولولو او چې نړيوالې اړيکې لولو نو پر دې ټولو مسایلو هم پوهېدای شو.

۱۱) د نړیوال یووالي تحریکونو لوستنه: که له یوې خوا نړۍ او نړیوال د اتومي بمونو او تروریزم له وېرې سره مخ دي، نو له بلې خوا په نړۍ کې ځینې داسې ادارې هم شته چې د نړیوال یووالي او وروری لپاره هلې ځلې کوي، دوی ته نړۍ خپل کور او کلی ښکاري، دوی یوازې مینه وېشي- او محبت خپروي، دا ډول ادارې ډېرې زیاتې دي، لکه د بې سرحده خبریالانو ټولنه، د سره صلیب نړیواله اداره، د بشري حقونو د څارنې سازمان، یونیسف، د کرکټ، فټ بال او نورو لوبو نړیوالې ادارې او داسې نور. د نړیوالو اړیکو لوستنه د دې لپاره هم ګټوره ده چې دغه ادارې به وپېژنو.

د موضوع اهمیت:

لکه دمخه مو چې یاده کړه نړیوالې اړیکې د نړۍ انسانان په نړیواله کچه له یو بل سره تړي او یو د بل له اړتیاوو او امکاناتو څخه ګټنې ته رسوي. په اوسني عصر کې هېڅ دولت نه شي کولای چې په یوازې توګه د نورو دولتونو، بین المللي سازمانونو او یا هم نړیوالو شخصیتونو له همکارۍ، ملاتړ او لاسنیوي څخه پرته په یوازې توګه ژوند وکړي، دوی اړ دي چې د خپل ژوندانه د بېلابېلو اړتیاوو له امله له یو بل سره اړیکې وساتي او د دې اړیکو پر بنسټ له یو بل سره همکاري وکړي. دولتونه د سیاست، امنیت، سوداګرۍ، جرایمو، تعلیم، ټیکنالوژۍ، مخابراتي اسانتیاوو، معلوماتو او ... په برخه کې یو له بل سره اړیکو ساتلو ته اړتیا لري، که د بېلګې په توګه یو دولت وغواړي چې ځانته په یوازې توګه ژوند وکړي، نو هغه به په پورته ټولو برخو کې یوازې وي، له

Bawar.net



نورو سره به ډيپلوماتيکي او سياسي اړيکې نه لري، د امنيت په برخه کې به ورسره څوک همکاري نه کوي، همدارسې په ټولو برخو کې. د همدې اړتيا په درک کولو سره دولتونه هڅه کوي چې د خپلو ګټو په پام کې نيولو سره په پورته ټولو برخو کې له بېلابېلو هېوادونو سره د همکارۍ تړونونه لاسليک کړي، اتحاديې جوړې کړي، د بېلګې په توګه د ملګرو ملتونو سازمان، چې د دولتونو لپاره د نړيوالو اړيکو تر ټولو لوی ډګر دی، همدارنګه ځينې نور سيمه ييز او نړيوال سازمانونه لکه د ناټو NATO سازمان چې د نظامي همکارۍ يو سازمان يا تړون دی، همدارنګه د پولي مسايلو په برخه کې IMF يا نړيوال وجهي صندوق يا هم د نړيوالو جرايمو پوليسي سازمان International Criminal Police Organization (Interpol) چې د جرمي مسايلو په اړه دولتونه يو له بل سره همکارۍ ته هڅوي او تړي يې او همداسې په ډېرو نورو برخو کې هم.

همدارنګه الله تعالی جل جلاله خپل نعمتونه د ځمکې پر مخ په همدې خاطر هم يو شان نه دي ويشلي چې د نړۍ انسانان يو له بل سره د اړيکو اړتيا پيدا کړي، يو له بل سره همکاري وکړي او د انسانيت لوړ مفهوم عملي شي. د بېلګې په توګه يو هېواد به د خپلو لوړو غرونو له امله سرشاره سيندونه لري چې له امله به يې د پرېمانه برېښنا د توليد ظرفيت ولري، همدارنګه شونې ده چې د کرنې او د وطن د آبادۍ لامل يې هم شي؛ خو ممکن يو بل دولت له دې امله دومره غني نه وي، نو بايده دي چې دوی په دې برخه کې يو د بل لاسنيوی وکړي. همداسې په ټولو برخو کې دوی اړ دي چې يو د بل له توليد څخه استفاده وکړي، د بېلګې په توګه اروپايي هېوادونه او جاپان د صنعتي هېوادونو په کتار کې راځي؛ خو د آسيا زياتره هېوادونه کرنيز دي، دوی يو بل ته اړتيا لري.

د علم، روغتيا، ټيکنالوژۍ، نظامي وسايلو او سلاګانو او ... په برخو کې دولتونه يو بل ته اړ دي او دې ته اړتيا پيدا کېږي چې يو له بل سره اړيکې وساتي. معمولاً دولتونه په خپلو منځونو کې د لاندې عواملو له امله اړ کېږي

Bawar.net



چې يو له بل سره اړيکې وساتي، جغرافيوي عامل، قومي عامل، ديني عامل، اقتصادي عامل، ايډيالوژيکي عامل، قبيلوي او طايفوي عامل، په اوسېدونکيو پورې مربوط عوامل، عسکري او نظامي عامل، د خلکو د هجرتونو له امله.

پخوانيو ليکنو ته منطقي کتنه:

کله چې نوموړې موضوع د ماسټرۍ بورډ له خوا ما ته راکړل شوه، په دې لټه کې شوم چې که په کتابخانو او انټرنېټ کې د موضوع اړوند په پښتو يا دري ژبو کوم مستقل اثر ومومم، ولې متاسفانه دا هيله مې نيمګړې پاتې شوه. بيا له ډېر کوشش وروسته په دې وتوانېدم چې په ځينو دري کتابونو کې په پراګنده ډول لنډ لنډ مطالب تر لاسه کړم چې دا زما د تحقيقي اثر لپاره بسيا نه کوي او نه ترې يو تحقيقي اثر جوړېداى شي، همدې مشکل زه دې ته وهڅولم چې د نوموړو مطالبو تر څنګ د انګليسي او جرمني ژبو څخه د کمک اخيستنې په صورت کې د يو بکر او نوي تحقيقي اثر د ليکلو جوګه شم.

کړنلاره (ميتود):

د دې اثر د څېړنې په بهير کې چې زه له کوم ميتود او طريقې څخه ګټه اخلم لاندې ورته اشاره کوم:

۱) کله مې چې د موضوع په اړوند کافي مواد راټول کړل بيا يې په برخو، څپرکو، بحثونو او اجزاوو تقسيموم چې له يوې خوا د موضوعاتو تسلسل او له بلې خوا يو له بل څخه په مستقل ډول وڅېړل شي.

۲) کله چې د موضوع اړوند راټولونه پيل شي زه به کوشش وکړم چې هغه اصلي سرچينې او اخذليکونو د پيدا کولو لټه وکړم کوم چې د موضوع سره پوره اړخ لګوي. د دې امکان هم شته چې د موضوع په باره کې په خپلو ملي ژبو کې د اصلي سرچينو (کتابونو) په موندلو کې بريالى نه شم، نو بيا به هڅه وکړم چې د انټرنېټ، اخبارونو، مجلو او همدارنګه تر يو بريده د خارجي ژبو (انګليسي او جرمني) موثقو اثارو څخه ګټه پورته کړم.

Bawar.net



۳) د موضوع د څېړنې په جریان کې به زه د عدالت او انصاف طرف نیسم، هېڅ ډول شخصي تمایل او تعصب ته به په تحلیل او څېړنه کې ځای نه ورکوم که د موضوع اړوند په نظریاتو کې کوم اختلافات وجود ولري، زه به کوشش وکړم چې هغه نظر او استدلال چې تر ټولو قوي او بې پرې وي په بحث کې به هماغه ته ځای ورکوم.

٤) د اثر د څېړنې په وخت کې به هغه څه ته په لومړیتوب قایل یم چې تاریخي قدامت یې له نورو زیات وي یانې د موضوعاتو تاریخي تسلسل ته به جدي پاملرنه کوم.

٥) که د موضوع د بډاینې لپاره د کوم لیکوال کټ مټ نقل قول رااخلم، نو هغه به په یوه قوس کې ځای پر ځای کوم.

٦) د اثر په څېړنه کې چې له کومو سرچینو څخه استفاده کېږي هغه به د هماغه مبحث په لمنلیکونو کې لیکم.

۷) که د بحث په جریان کې ځینې اصطلاحات چې فهم ترې عاجز وي هغه به په ساده جملو کې په لمنلیکونو کې توضیح کوم.

۸) د موضوع اړوند مطالبو لړلیک به د اثر په لومړي سر کې ورته ځای ورکوم.

۹) او د ماخذونو او سرچینو لړلیک به د اثر په پای کې ځای پرځای کوم.

Bawar.net



# لومړی څپرکی

## د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو پېژندنه

نړیوالې اړیکې یا International Relations (IR) په حقیقت کې د دولتونو ترمنځ د اړیکو لوستنه ده. په دې ډول چې په نړیوال نظام یا سیستم کې دولتونه، بین الحکومتي سازمانونه، نړیوال ناحکومتي سازمانونه او څو ملیتي شرکتونه څه رول لري؟ نړیوالې اړیکې په حقیقت کې یوه علمي او د عامه پالیسۍ ساحه ده. ممکن نړیوالې اړیکې مثبتې او معیاري اوسي، ځکه چې همدا نړیوالې اړیکې دي چې د یو دولت بهرنۍ پالیسي جوړوي او تحلیلوي یې. د سیاسي افعالو په توګه نړیوالې اړیکې د یوناني تاریخلیکوال Thucydides له وخته (۴۶۰-۳۹۵ له میلاد څخه دمخه کلونه) مطرح دي؛ خو په سیاستپوهنه کې د یوې ځانګړې علمي ساحې په توګه د UNESCO سازمان د علمي مضامینو په نوملړ کې په ۵۹۰۱ شمېره د شلمې پېړۍ په پیل کې شامله او وپېژندل شوه.(۱:م۱۱۴)

### لومړی مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو تعریفونه

د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې چې په انګلیسي کې International Relations اصطلاح کارول کېږي، ډېر پراخه مفاهیم په بر کې نیسي. په دې مانا چې په دې مضمون کې د دولتونو ترمنځ سیاسي، اقتصادي، سوداګریزې، نظامي، کولتوري، دیني او ... اړیکې لوستل او تحلیلول شاملېږي. د دولتونو

Bawar.net



ترمنځ د خپلمنځي اړيکو په اړه مسلمانو او نامسلمانو پوهانو بېلابېل تعريفونه کړي دي چې هر يو يې په لاندې ډول لولو:

**لومړی جز: د مسلمانو پوهانو له خوا د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړيکو تعريف:**

د اسلام له نظره نړيوالې اړيکې د اسلامي دولتونو ترمنځ خپلمنځي او يا هم له نورو غير اسلامي دولتونو سره د اسلام مبارک دين د حيثيت ساتلو او احکامو د په پام کې نيولو په شرط د اړيکو، همکاريو، قراردادونو او راشې درشې څخه عبارت دي.

**دويم جز: د نامسلمانو پوهانو له خوا د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړيکو تعريف:**

لومړۍ فقره: نړيوالې اړيکې د سياستپوهنې هغه برخه ده چې په کې د خلکو او دولتونو ترمنځ د اړيکو پر اسبابو او وسايلو بحث کېږي.

دويمه فقره: نړيوالې اړيکې د دولتونو ترمنځ له هغو اړيکو څخه بحث کوي چې دولتونه يې د ډيپلوماسۍ، فرهنگي او اقتصادي وسايلو په پام کې نيولو سره د کنفرانسونو، قراردادونو او د نړيوالو او سيمه ييزو سازمانونو د جوړولو له لارې په خپلو منځونو کې سره جوړوي او په دغو روابطو کې د خلکو او حکومتونو غوښتنې منعکس کېږي.

له پورته تعريفونو څخه معلومېږي چې د يو علمي مضمون په توگه په نړيوالو اړيکو کې د دولتونو ترمنځ د اړيکو څرنگوالی او د دې څرنگوالي تر شا چې کوم عام او معمول عوامل شتون لري، هغه لوستل کېږي. د بېلگې په توگه افغانستان په وچه کې د يو راگير هېواد په توگه او همدارنگه د آسيا د زړه په توگه بايد له خپلو گاونډيو او نړيوالو لويو قدرتونو سره څه ډول اړيکې وساتي؟ فرضاً که له پاکستان سره خپلې اړيکې خرابوي، نو پاکستان به پرې د فشار له امله افغانستان ته راغلې ترانزيتي لاره وتړي او په دې ډول به د افغانستان په

Bawar.net


بازارونو کې نرخونه لوړ لاړ شي. که افغانستان له ایران سره د تېلو تړون ولري، نو ممکن تر نورو دولتونو یې په ارزانه بیه له ایران څخه راوارد کړي. که له لویدیځو هېوادونو په ځانګړې توګه امریکا سره خپلې ګرمې سیاسي اړیکې وساتي، او په دې برخه کې روسیې ته هېڅ پام ونه کړي؛ نو روسیه به افغانستان ته د یو دوست په سترګه ونه ګوري، د همدغو وضعیتونو او احوالو لوستنې او پرې ځان پوهنې ته نړیوالې اړیکې وايي.

## دویم مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو تاریخي مخینه

د نړیوالو اړیکومستند تاریخ په ۱٦٤٨از کال کې د ویستفالیا له تړونونو څخه راپیلېږي، خو تر هغې پخوا هم چې ملي دولتونو شتون نه درلود، شاهي دولتونو او امپراتوریو هم په خپلو منځونو کې اړیکې پاللې. تر دې پورې چې په ډېرو پخوا زمانو کې چې انسانانو په قبیلیوي توګه ژند کاوه او یا هم د یونان او روم د ښاري ټولنو یا دولتونو په څېر دولتونهدرلودل، هم یې په خپلو کې سره اړیکې درلودې. خپل استازي به یې یو بل ته استول. په عمومي توګه ویلای شو چې د نړیوالو اړیکو تاریخ د انسان په لرغونتیا (قدامت) پورې تړلی دی. په دې مانا چې په لومړني ژوند کې انسان له خپل همنوعه سره په لومړنۍ بڼه اړیکو جوړولو ته اړ و. دا اړیکې به یا د مرستې او همکارۍ په موخه وې او یا به هم د برخورد، اختلاف او دښمنۍ لپاره.(۸:م۳۰۴)

په پخوا وختونو کې د قبیلو تر منځ هم چې کله به د اوبو، ځمکو، ښکار او داسې نورو مسئلو پر سر اختلاف رامنځته کېده او دغه اختلاف به ګاونډیو قبیلو ته د منلو وړ نه و یا به یوې ځواکمنې قبیلې کومه کمزورې قبیله په جګړه کې ماته کړه یا هم له منځه وېوړه، یا هم کله به چې د دوو قبیلو تر منځ جګړې ته میلان نه و؛ نو بیا به یې ډیپلوماسۍ او خبرو اترو ته مخه کوله. یانې د یو استازي په وسیله به یې مقابل لورې خبرو اترو ته رابله.په دې ډول به دوو قبیلو په خپلو منځونو کې اړیکې پاللې. خبرو اترو ته د ناستې او یوې پایلې ته د رسېدو لپاره په کار ول چې دواړو لوریو خپل استازي یو بل ته استولیاو

Bawar.net



دواړو لوريو استازي به له هر ډول مزاحمت څخه خوندي تلل راتلل. که به استازی د يو لوري له خوا ووژل شو يا به هم بندي کړای شو؛ نو دا مانا يې لرله چې مقابل لوری خبرو لپاره ناستې ته تيار نه دی. د استازي وژلو، بندي کولو يا هم سپکولو کوم شخصي اړخ نه درلود؛ بلکې دا مانا يې لرله، چې مقابل لوري د استازي د مشر او ټولې قبيلې سپکاوی کړی دی. همدا لامل کېده، چې د استازي لوری سخت غبرگون وښيي. د يونان پېژندل شوی شاعر هومر، استازي ته د يو سپېڅلي شخصيت په توگه قايل و، چې زئوس ورته ورکړی دی.(۱۲:م۱۸)

د پخوانيو قبايلو ترمنځ دغه ډول اړيکې د ډيپلوماتيکي او نړيوالو اړيکوپيلامه گڼل کېږي؛ ځکه چې دا مهال د استازي دنده د خپلې قبيلې د رئيس پيغام د يوې بلې قبيلې رئيس ته ورسوي او له دې پرته د هغه مهال پيغامونه هم ساده ول. زياتره به غوښتنې او تمې وې. که پيغام لېږونکی اړخ به پر خپل ځواک ډاډمن و؛ نو ورسره به يې اولتيماتم يا ضرب الاجل هم ورلېږه، په دې صورت کې به مقابل لوري ته د وړانديز له منلو يا هم جنگ ته له تيارېدلو پرته بله لار نه وه پاتې. ځينې پوهان د قبايلو ترمنځ اړيکو ته د نړيوالو اړيکو نوم نه ورکوي او دا اړيکې د قبيلوي او قومي اړيکو په نوم يادوي؛ خو له دې څخه هېڅوک انکار نه شي کولای چې اوسنۍ پراخې نړيوالې اړيکې چې دولتونه يې مهم لوبغاړي دي، له هماغو قبيلوي او قومي اړيکو څخه پراختيا موندلې ده.

## لومړی جز: د ويستفاليا له تړونونو څخه پخوا د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړيکې

په عمومي توگه د ډيپلوماتيکي او نړيوالو اړيکو د بدلون تاريخ پر دوو دورو وېشل کېږي.

لومړۍ: دوره له ډېرو پخوا زمانو څخه رانيولې تر پينځه لسمې پېړۍ پورې.

Bawar.net


دویمه: دوره له دې پېړۍ څخه شروع کېږي تر اوسني وخت پورې رارسېږي. له دې وېش څخه معلومېږي، چې نړیوالو اړیکو په خپل دغومره اوږده تاریخ کې یوازې یو ځل بشپړ بدلون موندلای دی، چې هغه هم ددغو اړیکو د پیل د نامعلوم تاریخ په نسبت زموږ زمانې ته ډېر نږدې دی. موږ به په اول قدم کې په لرغوني یونان او بیا به په لرغوني روم کې د دولتونو ترمنځ پر خپلمنځي اړیکو بحث وکړو.

## لومړۍ فقره: پخوانی یونان او د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې

تر ټولو لرغونی لاسوند، چې موږ ته په یونان کې د ښاري دولتونو ترمنځ د اړیکو او ټکر کیسه کوي، په ایلیاد کې د یوناني شاعر هومر شعرونه دي. دغه شعرونه د هلن د تښتونې په کیسه کې د هغه د راخلاصون لپاره د یو پلاوي استولو ته اشاره کوي. له دغې افسانې او د لرغوني یونان له تاریخ څخه معلومېږي، چې په یونان کې به د دوو بېلابېلو ټولنو تر منځ کله کله د ځانګړیو استازیو په سبب ځینې ټکرونه کېدل؛ خو عام نه ول؛ ځکه د یونان د ښارګوټو (Cities) اوسېدونکي د سخت نیشنلیستي فکر لرونکي ول او په دې ډول به د هر ښار اوسېدونکیو د خپل ګاونډي ښار اوسېدونکي خپل دښمنان ګڼل او هر را منځته شوی اختلاف به ډېر ژر پر جګړې بدلېده؛ خو له دې ټولو سره سره بیا هم یونان، نه یوازې تر ممکنې کچې پورې له ډیپلوماسۍ څخه ګټنه وکړه؛ بلکې د ډیپلوماتیکي اړیکو په رامنځته کولو کې یې هم د پام وړ پرمختګ وکړ او په دې اړه یې ځینې قاعدې هم رامنځته کړې. د بېلګې په توګه د آتن ډیپلوماتیکي استازي اړ ول، چې په یو بل هېواد کې د آتن هېواد د پلاوي له خوا یو باورلیک له ځان سره ولري او که له دې پرته یې تشه ادعا کوله؛ نو مجازات کېدل به. همدارنګه د آتن هر سفیر به چې د خپل ماموریت د محل له رئیس څخه کومه ډالۍ اخیستې وه؛ نو د خپل هېواد د پلاوي له خوا به تنبیه کېده. تیماګواراس، چې د آتن له خوا هخامنشي لومړي پاچا، اردشېر ته استول شوی و، کله یې چې له هغه څخه ډالۍ واخیسته؛ نو په بدو اخیستنې

Bawar.net



تورن شو. همدرانګه مشهور خطيب دموستن، چې کله په مقدونيه کې د يونان سفير و، هم له فيلپ مقدوني څخه پر بډو (ډالۍ) اخيستلو تورن شو. په مجموع کې به که يو ډيپلومات له نورو دولتونو سره په اړيکو کې ښې لاسته راوړنې نه درلودې، نو هغه به مجرمين ګڼل کېدل. ددې پر عکس کله به چې کوم استازي له خپل ماموريت څخه بريالي بېرته خپل هېواد ته راستنېدل؛ نو دلته به پر ځينو امتيازاتو نازول کېدل هم لکه د ګلانو تاج به ورته په سر اېښودل کېده يا به هم يادګاري بازو بند ورته تړل کېده.

پر يونان باندې د واکمنې ډيموکراسۍ پر بنسټ د دوی ترمنځ ډيپلوماټيکې مذاکرې په ښکاره ډول تر سره کېدلې او هغه مذاکرې چې د تړونونو د لاسليکولو لپاره تر سره کېدلې، مواد به يې پر لويو لوحو باندې په يوناني ژبې وليکل شول او بيا به يې د خلکو په مخ کې ځوړندول. ددې ډول کړنو پر بنسټ ويلای شو چې يونانيانو ريښتنې تړونونه لاسليکول او هغه يې بيا له خلکو سره شريکول، دا ډول کړنې په لرغوني يونان کې د هماغې ډيموکراسۍ د واکمنۍ پر مهال تر سره کېدلې او وروسته له استعماله لوېدلې.

د لرغوني يونان په ډيموکراسۍ کې د ډيپلوماټيکې ماموريت لپاره څو نفره ټاکل کېدل، د دې خبرې دليل داو چې د بېلابېلو ګوندونو استازي به په نوموړي ډيپلوماټيکي هيئت کې شامل وو. که څه هم په دې کې بېلابېلو ګوندونو ته برخه ورکړل شوې وه، خو نيمګړتيا يې په دې کې وه چې د دوی ترمنځ به دښمنيو او تېرو ټکرونو په ډيپلوماټيکه ساحه کې سر راپورته کړ. دوی به زياتره وخت د يو ميز شاته د ناستې او يا په يوې خونې کېويده کېدلو څخه ډډه کوله. د دوی ترمنځ دا ډول ټکرونه به د مقابل لوري په ګټه وو؛ ځکه هغوی په اسانۍ سره کولای شول چې د دوی له دښمنيو څخه په ګټنې خپلې غوښتنې او موخې پرې ومنې او امتيازات تر لاسه کړي. (۵:م۲۴)

د نوموړي ډيپلوماټيکي هيئت شمېر به زياتره وخت لس نفره و، هر نفر به هڅه کوله چې د پاچا پر وړاندې خبرې وکړي؛ ځکه چې په هغه وخت کې ښه خبرې کوونکي (اوراتور) ته په زيات درنښت کتل کېدل. هر يو به بېل

Bawar.net


باورلیک درلود او د خپل ماموریت انګېزه به یې روښانه کوله. دوی به د سفر ډېر کم لګښت تر لاسه کاوه. همدارنګه دوی به د خپل سفر د لګښت او مصارفو ټول حساب خپل دولت ته ورکاوه او د حسابونو د عمومي کمیسیون له خوا به ارزیابي کېده. دوی ته ځانګړي واکونه او اختیارات نه ورکول کېدل له همدېامله دوی اړ وو چې د هرې موضوع په اړه د خپل دولت لارښوونې واوري او یا د ډيپلوماتیک پیک له لارې معلومات تر لاسه کړي؛ نو ځکه دوی په خپلو دندو کې زیاتره وخت پاتې راتلل او په خپلواکه توګه یې کړنې نه شوې تر سره کولای.

په همدغه وخت کې د کونسلي یا کونسلګرۍ بنسټ هم په یونان کې کېښودل شو؛ خو د روم او اروپا د کونسلګریو پر خلاف په یونان کې د کونسلګریو مامورین خپله یونانیان ول، چې د بهرنیو اتباعو د ستونزو د حل لپاره ګومارل شوي ول.

له هغو ټولو پرمختګونو سره سره چې په ډيپلوماتیکي اړیکو کې آتن تر لاسه کړي ول، بیا هم د یونان ډيپلوماسي بریالۍ ډيپلوماسي نه وه او دا ځکه چې د آتن په ډیموکراسۍ کې شخصي نوښتونو ته دومره ځای نه و، چې استازي دې یې وکولای شي له نورو دولتونو سره په اړیکو کې خپل استعدادونه هم ښکاره کړي. زیاتره به استازي د سیاسي جریاناتو د راپور راوړلو او یا هم خپله له اتن سره د یو دولت د مذاکراتو په اړه استول کېدل، چې دغو مذاکراتو به زیاتره ډېر وخت نیوه. کله کله خو به د اتن په مشورتي مجلس کې بحثونه دومره اوږده شول، چې خبره به جنجال زېږوونکیو خطابو او عوام غولوونکیو ویناوو ته ورسېده. ددې بحثونو په اوږدو کې به استازي ته له یوې موثرې ډيپلوماسۍ څخه د ګټنې واک نه ورکول کېده.

خو له دې سره بیا هم د آتن ډیموکراسۍ د ډيپلوماسۍ لپاره پرمختللي بنسټونه رامنځته کړي دي. دموستن، چې خپله یو مهال سفیر و، د اتن په مجلس کې یې د غړیتوب پر مهال، په مقدونیه کې د آتن پر سفیر د فساد او نرم چلن ادعاپانه کې ولیکل، چې (سفیر جنګي کښتۍ او مسلحې قواوې په

Bawar.net



واك کې نه لري. د هغه موثره سلاح د هغه خپلې خبرې او له هغو فرصتونو څخه ګټنه ده، چې مخې ته ورته راځي. د ښو مذاکراتو لپاره ښه فرصتونه اتفاقي او ژر تېرېدونکي وي. که چېرې په کې کومه تېروتنه وکړي؛ بېرته نشي-جبرانېدلای) په همدې ادعاپانه کې دموستن د آتن مجلس هم د د غولوونکو بحثونو پر اوږدولو او علاقه نه درلودلو تورن کړ.

د بېګانه ګانو د حقوقو د تامین لپاره د کونسلګریو تاسیس هم په پخواني یونان کې شوی دی. په یونان کې به چې کوم شخص د بېګانه اتباعو د ساتنې او ملاتړ په موخه ټاکل کېده؛ نو هغه به له بومي وګړيو څخه و یانې د بېګانه ګانو د استوګنې د ځای تبعه به و؛ نه د هغوی هېوادوال. او څوك به چې پر دې دنده ګومارل کېده، د پروکزنوس Proxenos نوم به یې درلود. دغه شخص به هم په لږ و ډېر تفاوت سره هماغه دندې درلودې، چې نن ورځ یې یو کونسل لري؛ خو دی به له داخلي اتباعو څخه و او خپل متبوع دولت به ورته دغه دنده او نوم د بهرنیو اتباعو لپاره ورکوه، نه دا چې بهرني دولت به ورته دا دنده ورکوله. له دې څخه هم معلومېږي چې تر میلاد درې یا څلور پېړۍ دمخه په لرغوني یونان کې د نورو ښارونو خلك بېګانه ګڼل کېدل. دوی به په خپلو کې سره اړیکې درلودې، تر دې پورې چې د یو بل د حقوقو د تامین لپاره به یې د کونسل په نوم ځینې اشخاص هم ګومارل.(۵:م۹۹)

## دویمه فقره: پخواني روم او د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې

رومي تهذیب نړیوالو اړیکو ته ځانګړې ارزښت ورکړ؛ خو له نورو دولتونو سره په اړیکو کې به یې زیاتره له کبر او لويۍ څخه کار اخیست. روم لومړی یو وړوکی ښاري دولت و؛ خو له خپلو ګاونډیانو سره تر جنګونو وروسته یې ډېرې سیمې تر خپل کنټرول لاندې راوستې. دوی په نورو سیمو کې د رومي کولو سیاستونه مخته وړل او بې له رومي دولته، نورو دولتونو دوی ته کوم ارزښت نه درلود. رومي امپراتورۍ خپلې ټولې اړوند سیمې د مرکزي دولت له خوا کنټرولولې.

Bawar.net



پخواني روم ونشو کولای چې نورو ملتونو لپاره د ډیپلوماسۍ په اړه کوم ارزښتمن میراث له ځانه پرېږدي؛ ځکه چې رومیان په خپله یو مغرور ملت و او نور ملتونه یې له ځانه کم ګڼل. تل به په دې هڅه کې ول، چې خپل سیاست او غوښتنې پر نورو ومني. د روم چلن یوازې پر نورو بهرنیو ملتو د خپلو غوښتنو منل و، له هرې لارې چې شونې و، حتا د جنګ له لارې هم. پر همدې بنسټ دا ناشونې وه، چې له یو ملت سره دې، له خپل ځان سره د مساوي یو ملت په حیث، خبرو اترو ته کیني؛ خو له دې ټولو سره سره بیا هم لکه ځرنګه چې د حقوقو، قانون او نظام رامنځته کول د پخواني روم له ځانګړي خوي څخه ګڼل کېږي، په دې مانا چې د بین المللي حقوقو او د بهرنیانو حقوقو اصلي بنسټونه او پایې همدوی ودرولي دي؛ نو په ډیپلوماتیکي حقوقو او نړیوالو اړیکو کې یې هم ډېر محکم قواعد رامنځته کړي دي. سفیر، چې اوارتور Orator به یې ورته وایه، کله به چې خپل ماموریت ته لېږل کېده؛ نو د روم د سنا مجلس له خوا به ورته یو باورلیک ورکول کېده. د هغو د ماموریت موده به هم لنډه وه. خو په دې ماموریت کې هم اوراتورانو کوم ځانګړي واکونه نه درلودل او په دې خاطر به د هغوی د ډیپلوماسۍ ځرګندولو لپاره هېڅ کوم فرصت نه پیدا کېده. د بهرنیو سفیرانو لپاره، چې روم ته به راتلل، ځینې قوانین وضعه شوي ول، چې د اوسني ډیپلوماتیکي خوندیتابه بنسټ ګڼل کېږي. دغه خوندیتوب چې ټول شخصي-و، د سفیر د اوسېدو ځای او کورنۍ په کې نه راتلله او دا ځکه چې هغه مهال به سفیران د لنډمهالو او اتفاقي ماموریتونو لپاره استول کېدل او له کورنۍ پرته به یو ماموریت ته تلل. له میلاد څخه ۲٦٤ کلونه دمخه روم له نورو دولتونو سره ۱۵۰ بېلابېل تړونونه لاسلیک کړي ول، په دې خاطر موږ ویلای شو چې روم د ملي او نړیوالو حقوقو د پیدایښت غېږه او زانګو ده.

ځینې پوهان د کونسلګرۍ د تاسیس پیل هم د روم له امپراتورۍ څخه ګڼي، دغه مهال د پردیو د حقوقو لپاره یو لړ قواعد مشخص شوي ول، چې د نن ورځ د بین المللي خصوصي حقوقو د یوې برخې بنسټ ګڼل کېږي. د

Bawar.net

ایټالیا د یو شمېر خودمختاره ایالتونو تر منځ سوداګري او د اموالو تبادله ددې لامل کېدله، چې همېشه یو شمېر کسان له یو ښار څخه بل ښار ته ددغو معاملاتو د تر سره کولو لپاره په تګ راتګ کې اوسي، چې طبعاً به په هغه ښار کې بېګانه ګڼل کېدل. له دې وروسته د هغه مهال د یو شمېر ښارونو او هېوادونو تر منځ دغه تګ راتګ، چې د دریاب له لارې و، نور هم ډېر شو، ورو ورو ددې اړتیا پیدا شوه، چې په بندرونو کې دې یو شمېر کسان د توکو او مالونو لپاره واوسي. دې کار د سوداګرو تر منځ ډېر نوي مسایل او ستونزې راولاړولې، ځکه دوی به هلته بېګانه ګڼل کېدل. له همدې امله به دغه بېګانه ګان په خپلو کې سره راټولېدل او په هغه سیمه کې به یې د خپل هېواد یو استوګن خپل مشر وټاکه، چې ددوی له ګټو څخه ملاتړ او د حقوقو ساتنه یې وکړي.

## دریمه فقره: د بیزانس یا ختیځ روم امپراتوري او د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې

د بیزانس Byzntine(ختیځ روم) امپراتوري په ۳۹۵ز کال د روم د امپراتورۍ تر تجزیې وروسته د هغه ځایناستې و او نږدې زر کاله یې دوام وکړ، په ۱۴۹۲ز کال کې د دویم سلطان محمد فاتح له خوا پای ته ورسېده.دا زر کلنه دوره په تاریخ کې د تیارې دورې په نوم یادېږي، ځکه چې په دې ټوله دوره کې خلک د پاچایانو او کلیسا د درندو مالیاتو تر اغېز لاندې ول او د خپلو هېڅ ډول حقوقو د ترلاسه کولو لپاره یې غږ نه شو پورته کولای. پاچا هم هڅه کوله چې د کلیسا مشران خوښ وساتي او خپله پاچاهي له نن څخه سبا ته ورسوي. د دې امپراتورۍ پایتخت یې د قسطنطنیې ښار و.له نورو واکمنیو او قبایلو سره تر اوږدو جګړو وروستهپه ډیپلوماسۍ او د ډیپلوماتیکي اړیکو په اداره کولو کې ډېر پرمختګ کړی و. په دې دوره کې د مسلمانانو او عیسویانو ترمنځ اوږدې جګړې هم وشوې، دې جګړو نږدې دوه سوه کلونه دوام وکړ، پیل یې په ۱۰۹۱ز کال کې وشو. د عیسویانو پاپ اوربان د مسلمانانو پر خلاف

Bawar.net



عيسويانو ته د جهاد اعلان هم وکړ. دا جګړه په ۱۲۹۵ز کال کې پای ته ورسېده.(۹۳:۲۱)

په ډيپلوماتيکي اړيکو کې د ختيځ روم د دومره پام وړ پرمختګ يوازيني لامل دا و، چې دوی يوه ځانګړې اداره رامنځته کړې وه. په دې اداره کې مسلکي کسان روزل کېدل چې وروسته بيا د ډيپلوماتانو دنده ترسره کړي. لکه ورته به ويل کېدل چې له بهرنيانو سره په ډېر نزاکت او ادب سره چلن کوئ او هېڅکله د خپل ماموريت د ځای ژبه خپل ځانته د نيوکې لپاره مه اړوئ. همدارنګه دې اداري به د استازيو له خوا رالېږل شويو راپورونو ته رسيده ګي کوله او هم به يې بهرنۍ چارې اداره کولې.

بيزانس له نورو دولتونو سره د مذاکراتو او پر لرو پرتو سيمو د مالياتو ايښودلو له لارې اړيکې ساتلې. د بيزانس د پاچاهانو دربار د نړۍ د بېلابېلو سيمو د سياسي او ډيپلوماټيکي استازو د يو ځای کېدو ځای و. بېلابېلو اروپايي او اسيايي استازو به په خپلو سيمه ييزو لباسونو کې په درباري ميلمستياوو او مراسمو کې ګډون کاوه او په خپلو ژبو به يې خبرې کولې. دوی به د خپلې امپراتورۍ د ځينو ځانګړيو تشريفاتو لپاره د نورو دولتونو استازي راغوښتل، د دې تشريفاتو موخه به دا وه چې د نورو دولتونو استازي له ځانه متاثره کړي.همدارنګه کله چې به نوی امپراتور پر تخت کېناسته، نو ځانګړي استازي به يې د دې لپاره ګومارل چې نورو دولتونو ته خبر ورکړي.

بيزانس به خپل ځواکمن دښمنان په خپلو منځونو کې په جګړو او مخالفتونو سره اچول. له همدې امله د بيزانس د ډيپلوماتانو دنده يوازې دا نه وه چې د خپل دولت او بل دولت ترمنځ اړيکې ټينګې کړي،بلکې هڅه به يې کوله چې د نوموړي دولت په اړه هر اړخيز معلومات ترلاسه کړي او له نورو دولتونو سره يې اړيکې وشېږي. د دې تر څنګ به ډيپلوماتانو هڅه کوله چې ماموريت د دولت د خلکو د روحيې، عاداتو، رواجونو، ارزښتونو، سوداګريزو مسايلو، نظامي قدرت، د پاچاهانو او شهزاده ګانو د خويونو، د هغوی د ځواکمنتيا او

Bawar.net


کمزورتيا په اړه خپل اړوند دولت ته معلومات ورکړي او د دې موخې د لاسته راوړنې لپاره به يې له هر ډول وسيلې څخه کار اخيست.

د بيزانس ډيپلوماتانو کولای شول چې د خپل ډيپلوماټيکي ماموريت ترڅنګ سوداګري هم وکړي او ګټه يې په خپل جيب کې واچوي.

## څلورمه فقره: د اسلام مبارک دين او د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړيکې

د اسلام مبارک دين د ټول بشريت لپاره د سولې، ښه ژوندانه، سوکالۍ او بشپړتيا تر ټولو لوی پيغام دی. د قرآن کريم اکثره احکامات او پيغامونه پر (يا ايها الناس) ای خلکو پيل شوي دي چې مانا يې ټول عام خلک دي او ترې معلومېږي چې د کومې ځانګړې ډلې او فرقې لپاره نه دي. کله چې د اسلام پيغام د ټول بشريت لپاره دی؛ نو له همدې امله موږ ويلای شو چې د اسلام مبارک دين يو نړيوال دين دی او په کومې خاصې ډلې او فرقې پورې تړلی نه دی.

د ځمکې کره د ټولو انسانانو ګډ او مشترک کور دی او الله تعالی جل جلاله په کې انسان خپل استازی او خليفه ګرځولی دی، چې د خپلو احکاماتو په واسطه يې له بدو لارو څخه منعه کوي او ښو لارو ته يې رابولي. د ځمکې پر مخ انسانان هم دا مهال په بېلابېلو هېوادونو کې سره وېشل شوي دي؛ خو بيا هم لکه د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د مبارک حديث د مفهوم له مخې چې وايي، ژباړه: مثال د مومنانو په محبت، رحم، شفقت او يو بل سره په مهربانۍ کې لکه د يوه جسد په څېر دی، که چېرته يو غړی له دې بدن څخه شکايت ولري، نو ټول جسم ددې تکليف له امله ورسره تبه کوي او نارامه وي)). همدغه مفهوم ته سعدي هم اشاره کړې ده او ويلي يې دي چې:

بنــي آدم اعضــاء يــک ديګــر انــد
کــه در افــرينش زيــک جــوهر انــد

Bawar.net


چــون عضــوه بــدرد آورد روزگــار
دیگــر عضــوه هــا را نمانــد قــرار

د پورتــه حــدیث او د دې شــعر دواړو مانــا او مفهــوم دا دی چــې مومنــان (انسانان) د یو واحد وجود او بدن حیثیت لري، ځکه چې جوهر یې یو دی او هغه انسانیت دی.

موږ دمخه یاده کړه چې د اسلام مبارک دین یو نړیوال دین دی؛ نو خامخا به په دې دین کې داسې احکامات شتون ولري چې هغه د نړیوالو اړیکو لپاره استناد شي او پر اساس یې موږ په ډاډه زړه وویلای شو چې که اوسنۍ نړیوالې اړیکې په (۱٦٤۸) ز کال د ویسټفالي ژمنلیک له رامنځته کېدو سره سم رامنځته شوې او همدغه ژمنلیک د نړیوالو اړیکو لپاره بستر و بنیاد ګڼل کېږي؛ خو د اسلام مبارک دین کې دا مسئله له یاد ژمنلیک څخه پېړۍ پېړۍ پخوا موجوده وه.

له بده مرغه چې د نړیوالو قوانینو په اړه لویدیځوال او ځینې هغه ختیځوال پوهان چې د پوهې سرچینه یې لویدیځوال پوهنتونونه او کتابونه دي، پر دې اند دي چې د بین المللي حقوقو مقررات او په دې خانګه کې اصولي او فلسفي نظریات اصلاً د لویدیځ تمدن د وروستیو پېړیو نوښتونه دي. دوی فکر کوي چې د تاریخ په اوږدو کې له اروپایانو څخه پرته بل کوم قوم د ملتونو ترمنځ اړیکو باندې نه سوچ کړی او نه یې په دې برخه کې مقرراتو وضعه کولو ته پام شوی دی.

خو حقیقت دا دی چې قرآن کریم څوارلس سوه کاله دمخه له نورو قومونو او ټولنو سره د مسلمانانو د اړیکو او مناسباتو لپاره اصول او بنسټونه ټاکل دي او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو د لومړني لارښود په توګه هغه په خپل ژوند کې عملي کړي هم دي.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په مدینې منورې کې د خپل حیات (حکومت) په لس کلنه دوره کې له بېلابېلو قومونو او ملتونو، حتا د بېلابېلو

Bawar.net


دینونو له پلویانو سره اړیکې درلودې، ورسره یې تړونونه وکړل، چې د هغه صلی الله علیه وسلم مبارک ژوند، تړونونه او د نورو دینونو له پلویانو سره برخورد او چلند په اسلامي سیاست کې د نړیوالو اړیکو لپاره اساس او بنسټ تشکیلوي.

د اسلامي تاریخ لیکوالانو د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د هغو لیکونو شمېر چې نورو قومونو، مشرانو او رئیسانو ته یې لېږلي، دولس ښودلي دي او ځینو نورو دا شمېر ۲۴ ښودلی دی. ابن سعد په خپل کتاب (طبقات ابن سعد) کې لیکلي دي چې د اووم هجري کال په پیل کې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په یوه ورځ شپږ سفارتي لیکونه د شپږو هېوادونو پاچاهانو ته واستول چې په لاندې ډول یې د نومونو یادونه کوو:

۱) دحیة الکلبي د روم امپراتور ته.
۲) عبدالرحمن بن خرافه د فارس امپراتور ته،
۳) عمربن امیه د حبشې نجاشي پاچا ته،
٤) خاطب بن ابي بلتعه د اسکندریې پاچا مقوقس ته
٥) منذر بن ساوي د بحرین پاچا ته
٦) حرث بن شمر د غستان پاچا ته.

له یهرنیو سفیرانو او استازو سره د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چلن له مینې او دوستۍ ډک و. د بېلګې په توګه کله چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د فارس امپراتور بازان ته خپل استازی واستوه، هغه ورسره ډېر سپک او بد چلن وکړ؛ خو کله چې بازان خپل استازی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راواستوه، ده مبارک ډېر ښه چلن ورسره وکړ او حتا د سرو زرو یو کمر بند یې هم ورته ډالۍ کړ. همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې کله د تبوک غزا ته د رومیانو د یرغل د مخنیوي لپاره تللی و؛ نو په نوموړې غزا کې یې د روم له سفیر سره مذاکره وکړه او د مذاکرې په پای کې یې ورته وویل: (انک الرسول قوم و ان لکه علینا حقا ولکن جتنا و نحن مرملون) ژباړه: بیشکه ته د یو قوم استازی یې او ستا پر موږ حق دی چې عزت دې وکړو، خو

Bawar.net



ته په داسې وخت کې موږ ته راغلی یې چې موږ د جګړې په حالت کې یوو (څه ډالۍ نه لرو).

تر پیغمبر صلی الله علیه وسلم وروسته لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د روم له قیصر سره ښه اړیکې ټینګې کړې او مناسبات یې په سمه توګه ترسره کړل او له ده څخه وروسته دویم خلیفه حضرت عمر رضی الله عنه هم له رومیانو سره اړیکې د دوستۍ او مینې په فضا کې وساتلې. طبري تاریخ د دویم خلیفه او د روم د قیصر ترمنځ اړیکې ډېرې تودې ګڼي، تر دې بریده چې یو وخت د دویم خلیفه بي بي د روم د امپراتور ښځې ته یو ارزښتناکه او قیمتي امېل ولېږه او په مقابل کې د هغې له خوا هم یو ارزښتناکه او قیمت لرونکی امېل د حضرت عمر رضی الله عنه بي بي ته را ولېږه، چې ده مبارک هغه بیت المال ته وسپاره او شخصي ګټه یې ځنې ونه کړه.

له نورو قومونو او دولتونو سره د مناسباتو په اړه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فعل او وینا، همدارنګه د صحابه کرامو کردار د نړیوالو اړیکو لپاره د اسلام نظام او مسلمانانو لپاره اساس و بنسټ دی. په لنډه توګه ویلای شو چې د اسلام مبارک دین سفیرانو او استازیو ته د عادي افرادو پر نسبت زیات حقوق او امتیازات ورکړي دي، له دې څخه هم معلومېږي چې د اسلام روح و روان د نړیوالو اړیکو لپاره تیار دی، اسلام د یوې ډلې، یوې سیمې او یو ټولي دین نه دی، بلکې د نړۍ د انسانانو دین دی او د نړۍ له نورو انسانانو سره مسلمانانو ته د اوږه په اوږه سوله ییز ژوند لاربښوونې لري. (د اسلام له نظره د نړیوالو اړیکو نور احکام به په تفصیل سره په راتلونکو درسونو کې ولوستل شي).

Bawar.net


## دويم جز: له ويستفاليا تړونونو څخه وروسته تر لومړۍ نړيوالې جګړې پورې د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړيکې

### لومړۍ فقره: رنسانس

رنسانس هغه بدلون ته ویل کېږي چې د پنځه‌لسمې زېږدي پېړۍ له وروستيو څخه يې د لويديځې اروپا اوسېدونکو د ژوند ټولې خواوې راونغاړلې او په هنري، ادبي، سياسي او ټولنيزو برخو کې پرمختيا لامل شو. دغه بدلون ته له‌دې امله رنسانس وايي، چې د يوه بې‌روح او تياره پېر په توګه د منځنيو پېړيو زر کلن پړاو ته يې د پای ټکی کېښود او نوی د لرغوني يونان او روم ميراث ته يې مخه کړې وه. خو نن په‌دغو صفاتو سره څوک له منځنيو پېړيو يادونه نه کوي او ټول پوهېږي، چې د اروپا د نويو پېړو ټولو بدلونو رېښې له همدغه پېر څخه ريښه اخلي. (۳۰:م۷۲)

په واقعيت کې د مسلمانانو او مسيحيانو ترمنځ صليبي جګړې (۱۲۹۱-۱۰۹۵) او هغه سل کلنې جګړې (۱۴۵۳-۱۳۴۰) چې د انګلستان او فرانسې ترمنځ تر سره شوې دي، پر اروپايانو يې لازمې ضربې واردې او هغوی يې ژورو بدلونونو ته چمتو کړل. که څه هم اروپايي مورخين له مسلمانانو څخه له اغېزمنېدو انکار کوي؛ خو د صليبي جګړو په اوږدو کې اروپايان د يونان له حکمت او فلسفې او له اسلامي تمدن سره آشنا شول. له بل لوري دغه جګړې ددې لامل شوې، څو د فلورانس او ونيز په څېر د مديترانې حوزې ښارونه وغوړېږي او د ماجراجويانو او دريانوردانو لپاره زمينه برابره کړي. په‌دې ترتيب سره د فتوحاتو وخت پيل شو او په ۱۴۹۸ ز کال کې د امريکا د وچې کشف د دې لامل شو، چې اروپايان ډېره طلا او شتمني تر لاسه کړي. د شتمنۍ را ټولولو د اروپايانو بد ژوند ته بدلون ورکړ. اوس يوه ډله د همدغو بدلونونو ټولګه (رنسانس) بولي او بله ډله دغه ټولګه له درېيو برخو؛ يعنې رنسانس، هيومانېزم او مذهبي سمون څخه رامنځته شوې ټولګه بولي. هر څه، چې ول په لومړيو کې د هنر او ادبياتو په غوړېدا پای ته ورسېدل او د ايټاليا ښارونه، چې د دغو

Bawar.net


بدلونونو مرکزونه ول د مجسمه جوړونکو، نقاشانو او شاعرانو په بستر بدل شول، چې د نړۍ د شاهکارانو رامنځته کېدو لامل شول. پهدغو ټولو آثارو کې انسان ته پاملرنه شوې وه. خو له دغې ډلې څخه دوو کسانو (اراسموس) او (لوفوردټاپل) (دواړه په ۱۵۳٦ ز کال کې مړه شوي دي) په ځانګړې توګه د هیومانیزم فلسفه یې رامنځته کړه او د لرغوني یونان افکارو ته په ورتګ سره د مسایلو په درک او پوهه کې یې د انسان د روح بسنې ته نغوته وکړه. آراسموس (د لېونتوب په ستاینه کې) کتاب په ۱۵۱۱ کال کې خپور کړ. پهدغه کتاب کې، چې له ماوراء الطبیعت مسایلو څخه د عقل د درک ناتوانۍ او عرفاني حالاتو ته نغوته شوې د اپلاتوني افکارو اغېز لیدل کېږي.(۲۹:م۵۴)

لوفردټاپل هم، چې د فرانسې د فلسفې له مخکښانو څخه شمېرل کېږي، د انجیل او د ارستو آثارو لومړنۍ ژباړې یې ټولنې ته وړاندې کړې.(د لېونتوب په ستاینه کې) کتاب هغې ضربې ته د لوستونکي پام اړوي، چې د کلیسا پر لیدلوري پر حاکمو اصولو وارده شوې ده. د هیومانیستانو هڅه دا وه، چې د کلیسا واکمني ماته، د منځنیو پېړیو تصنعي حالات وغندي او انسان خپل طبیعت ته وګرځوي.

بله پېښه چې پهدغه وخت کې یې ژور اغېز یې وښند؛ د چاپ صنعت اختراع وه، چې په ۱۵۵۰ لسیزه کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو او د دغه وخت مهم آثار یې په ډېر شمېر چاپ کړل. پهدې ترتیب سره انجیل او فکري خوځښت ټولو خلکو ته ولېږدول شو. په واقعیت کې د ژباړې خوځښت او د چاپ صنعت دوه هغه ښکارندې وې، چې د نویو افکارو په خپرولو کې یې مهمه ونډه درلوده.

### دویمه فقره: د دیني سمون خوځښت

ټولنیزې ناخوالې، بېوزلي، لوږه او هر هغه عیب، چې خلک له خپلې زماني پکو کوي له هر څه وړاندې یې پرهٔېر سیاسي جوړښتونو او سیاستوالو اچول کېږي. خو په دیارلسمې او څوارلسمې زېږدي پېړیو کې د اروپا اوسېدونکو

Bawar.net



بېوزلي، طاعون او نورو بلاوو مسوولیت پر کلیسا اچوه، چې د منځنۍ پېړیو د سیاسي، ټولنیز او کلتوري نظام نښه بلل کېده. جالبه دا ده، چې سمونونه لومړی په کلیساو کې رامنځته کېدل او پوهو او مسوولو روحانیونو په خپله هغه اړتیا احساس کوله. خو د کلیسا جوړښت داسې و، چې هېڅ ډول سمون او بدلون په کې نه ځایېده، په پایله کې د دغه اجتناب ناپذیرو بدلونونو سرچینه له کلیسا څخه بهر و لېږدول شوه. که وغواړو د مذهبي سمون لاملونه وشمېرو، باید درېیو لاملونو ته نغوته وکړو:

لومړی) مذهبي لاملونه:

د منځنیو پېړیو په پای کې د خلکو مذهبي باورونو په اړه اندېښنې، چې الحادي افکارو ته اوښتي وو، د مسیحیت دین خوښوونکي یې د سمون په فکر کې کړل. دغه انګېزه، چې مذهب ته له لېوالتیا څخه یې سرچینه اخیستې وه، انجیل ته د مراجعې له لارې نېغ په نېغه له خدای سره د اړیکو ټینګولو لامل شو. له همدې امله له انجیل څخه په لسګونه ژباړې وشوې، چې ټولو لوستو کسانو ورته لاس رسی درلود. انجیل ته نېغ په نېغه مراجعې سره هغو روحانیونو ته د خلکو ورتګ کم شو، چې د انجیل تفسیر یې یوازې د خپل ځان په انحصار کې راوستی و. په حقیقت کې د زهد غوښتونکو احساساتو پر لور نوی حرکت او د ټومیسټ (سن ټوماس ډاکن) عقل غوښتونکو نظریو پر وړاندې او د نوي افلاطوني او هیومانستي نظریو سره موافق حرکت و، چې ورو ورو یې د کلیسا ارکان لړزول.

دویم) اخلاقي لاملونه:

له خپلو چارواکو څخه د کلیسا مشرانو ناوړه ګټه پورته کول او د مذهب، انسانیت او اخلاقو خلاف کړنې، چې له دوی څخه تر سره کېدې پر دوی د بې‌باورۍ او له کلیسا څخه د خلکو مخ ګرځولو لامل کېدې. ډېری کشیشان ښکار ته تلل او له پلرونو څخه په میراث ورته څه نه و پاتې. پردې سربېره، چې کلیسا د کشیشانو لپاره واده منعه کړی و، دوی ناوړه کړنو؛ یعنې له بدکاره ښځو

Bawar.net


سره ژوند ته؛ مخ کړې وه. ډېرى کشيشان د جنت په پېر او پلور بوخت او د خلکو له غم څخه پردي ول. (۳۴:م۳۳)

درېيم) سياسي او اقتصادي لاملونه:

د کليسا له مفاسدو څخه يو هم هغه بې‌ځايه لګښتونه او اسراف و، چې لګښت يې پر ټولو اروپايانو د جنت پلورلو له لارې تر لاسه کېده. دغه تحميل شوې کړنه، چې هم يې پر خلکو او هم يې پر دولتونو فشار راوړ د شهزادګانو او دولتونو د اعتراض لامل کېده. شاهزادګانو له امپراتورۍ څخه د خپلواکۍ تر لاسه کولو په موخه هم هڅه کوله. د روم-جرمني سپېڅلې امپراتورۍ بنسټ په ۹۶۲ زکال کې د (ستر اټون) له‌خوا کېښودل شو، چې د (شارلماني) په لاربښوونه ټول اروپايي هېوادونه د مسيحيت دين په محور کې تر خپلې سلطې لاندې راولي. دغه امپراتورۍ اوسني ايټاليا، جرمني، هالنډ، بلجيم، چک، سلواکيا، اتريش، هنګري او کله نا کله هم د اسپانيا هېوادونه يې رانغاړل. يوازې په جرمني کې شاوخوا څلورسوه شهزاده‌مېشتې سيمې موجودې وې، چې د سپېڅلې امپراتورۍ اطاعت يې کاوه. له څوارلسمې زېږدي پېړۍ څخه ټول امپراتوران د هابسبورګ له کورنۍ څخه غوره کېدل. خو سربېره پر شهزاده‌مېشتو سيمو د فرانسې او انګلستان کليساوې هم د روم د پاپ تابع وې. لومړنۍ ضربه د فرانسې له‌خوا د پاپ پر اقتدار وارده شوه. لومړی فليپ لوبل، چې د اتم بنيفانس پر وړاندې يې مقاومت کاوه د (ګاليکن) ښوونو پيدايښت پر وړاندې مقاومت کاوه؛ يعنې د فرانسې کليساوو خپلواکۍ ته لمن وهله او پر اتم بنيفانس يې داسې کړۍ راتنګه کړه، چې د مرګ کومې ته يې ولېږه. د ده ځای‌ناستی يې د فرانسې کارديناالانو له ډلې څخه غوره کړ او مقر يې د فرانسې په سوېل آوينيون ته ولېږداوه (۱۳۰۹)، چې تر (۱۳۷۸) کاله يې دوام وموند. په پايله کې دغه لړۍ د (کنکردای بولونيا ۱۵۱۶) هوکړه‌ليک ترلاسه کولو، چې له مخې يې د فرانسې کليسا خپلواکي تر لاسه کړه پای ته ورسېده. دويمه ضربه په ۱۵۳۴ ز کال کې د اتم هنري له‌خوا د انګليستان کليسا له خپلواکۍ او د انګليکن له ښوونو، چې له روم څخه د انګلستان د کليساو تل‌پاتې خپلواکي وه،

Bawar.net



وارده شوه. پەدغه وخت کې د ديني سمون خوځښت نيمې اروپا تـه غځېدلی و او انگليستان د تل لپاره پروټسټان مذهب غوره کړ.

لکه څنگه، چې ورته نغوته وشوه، ډېرې شهزادگان د خپلواکۍ له موجوديـت څخه سر ټکـاوه او د دينـي سـمون خوځښـت لـه رامنځتـه کېـدو سره جوخـت ورسره يو ځای شول. په حقيقت کې کليسـا او امپراتـوري د يـوې کېـږدۍ دوه ستنې وې، چې يوه يې د اروپا د منځنيو پېړيو نظام کلتوري تولنيز او بـل يـې سياسي پوځي مټ شمېرل کېده. د دغه محور پر وړاندې نـوي خوځښـت هـم دوه ستنې درلودې، چې يوه يې مذهبي کلتوري او بله يې سـياسي وه. اصلاح غوښـتونکي د کليسـاوو پـر وړانـدې او شـاهزادگان د امپراتـورۍ پـر وړانـدې ودرېدل او سره متحد شول. که د ديني سمون خوځښت لپاره ملاتړی نـه وای، معلومه نه وه، چې برخليک به يې څه و؟

د خوځښت پيل: په همدې فضا کې د ۱۵۱۷ زکـال د اکتـوبر مياشـتې پـه ۳۱ نېټه د جرمني ويټنبورگ کليسا کشـيش (مـارټين لـوټر) (۱۵۴۶-۱۴۸۳) خپلـه ۹۵ ټکيزه اعتراض پاڼه د کليسا په دننه؛ چېرې چې دوی عبـادت کـاوه و ځړولـه او په هغه کې د پاپ او آلبر امير برانـدبورگ هغـه کړنـې، چـې گنـاه يـې ښـلې او جنت يې پلورلو وغنـدلې. دغـه کړنـه پـه مسـيحيت ديـن کـې د نـوي مـذهب رامنځته کېدو پيل و، چې ټاکل شـوې وه، نيمـه اروپـا لانـدې کـړي او د دغـه ځمکې تاريخ ته بدلون ورکړي. د لوټر پـر افکـارو د اراسـموس او هيومـانيزم د افکارو اغېزې ښکاره وې. که څه هم د دوی ترمنځ نښتې هم شوې وې. لـوټر د نوي مذهب ډېره د الهي تقدير او غوښتنو پر بنسـټ کېښـوده او خپـل مريـدان يې له هرې لارې د خپل برخليک لـه بـدلون څخـه راوگرځـول. ډېـر ژر نـورو کسانو هم د پروټستانتيزم يا اعتراض له خوځښت سره يو ځای شول. پـه فرانسـه کې (جان کالون) (۱۶۶۴-۱۵۰۹) او په سـوييس کـې (زوينـگلي) (۱۵۳۱-۱۴۸۴) ورته مذهبونه رامنځته کـړل. د کـالون د خوځښـت لمـن د زوينـگلي، چـې لـه مړينې سره يې پای ته ورسېد، پـه پرتلـه پراخـه شـوه او د پروټسـتان مـذهب د دويمې څپې پـه څېـر څرگنـده شـو. پـه ژنـو کـې د ده لـه مېشـتېدو او د ژنـو

Bawar.net


جمهوریت په رامنځته کېدو یې د جرمنۍ ډېرې ایالتونه د خپلو ښوونو تر پوښښ لاندې راوستل او د لنډې مودې لپاره له لوتریانیزم څخه مخکښ شو. د پروټستانیزم خوځښت په چټکتیا سره د اروپا پر پراخې برخې؛ په ځانګړي توګه د دغې وچې پر شمال، خپل سیوری وغوړاوه، چې د ترنت شورا (۱۵۴۵-۱۵۶۳) په چوکاټ کې د روم کلیسا لهخوا د ځان سموني هڅې بېپایلې وې. په ځانګړي توګه دا، چې د کلیسا سمونونو وروستۍ ویناپانه ډېره په احتیاط او محافظهکارۍ سره وه. په ۱۵۶۳ کال کې د کالون مړینې، د ترنت وینایانې له صادرېدو سره جوخت او په ۱۵۵۵ زکال کې د اګسبورګ د سولې له تړون او په ۱۵۶۳ ز کال کې د انګلیکن کلیسا د موسس د ۳۹ مادو له تصویب څخه وروسته د اروپا وضعیت په لاندې ډول و:

د ایبریا په ټاپو وزمه او د مدیترانې په ځینو برخو کې پروټستانتېزم د لازمې زمینې نه درلودونکی و او د ځپلو او کاتولیزم حرکتونه بیاځلي رامنځته شوي ول.

د اروپا په شمال کې برعکس، پروټستانتېزم ریښه ځغولولې وه او د جرمنۍ شمال او ختیځ، د اسکنډنیاویا پادشاهیانې او د هغو تر ولکې لاندې سیمې لکه فنلنډ او آیسلنډ د لوتریانیزم تر پوښښ لاندې وې او کالوینیزم په سکاټلنډ او د انګلیکن ښوونې، چې یو ډول انګلیسي پروټستانتېزم وې په ویلز کې پراخې شوې وې.(۳۴:م ۸۱)

خو د یادو دوو برخو ترمنځ د اروپا سیمې لکه فرانسه، هالنډ، رنانې، سوییس، اتریش، بوهم، هنګرې او پولنډ د کالوینزم د بریا شاهدان ول، چې د بوژوازیانو لهخوا یې ملاتړ کېده. خو حکومتونه څه نا څه کاتولیک مذهب ته وفاداره پاتې ول. لهدې وروسته د کاتولیک او پروټستان مذهب پلویانو ترمنځ نښتې حتمي وې. هغه سیمې، چې د دواړو مذهبونو ترمنځ پاتې وې د مذهبي نښتو اصلي ډګرونه ول. په فرانسه کې چارې د پادشاه په لاس کې وې؛ خو په جرمنۍ کې دغه نښتې نړیوال رنګ پیدا کړ او دېرش کلونو مذهبي جګړو په توګه را څرګندې شوې.

Bawar.net


خو د لوتر او کالون ښوونو کومې ځانګړتیاوې درلودې، چې کلیسا یې ولړزوله؟ لومړنی ځانګړتیا په مذهبي چارو کې له کلیساو څخه د خلکو لیرې کول او د دوی د غوښتنو پوره کېدل ول. انسان کولای شي د کلیسا له منځګړیتوب څخه پرته له لوی څښتن سره اړیکه ولري او د سپېڅلي متن (انجیل) په لوستلو سره د خدای په خبرو پوه شي او درک یې کړي. نوی مذهب پر درېیو اصولو ولاړ و: یوازې خدای، یوازې سپېڅلی متن او د ژغورنې یوازینی لاره د خدای پاک بښل دي. پەدې ترتیب سره عیسویان، خپلواکی او له ټولو واسطو او دنیایي مراجعو څخه خلاصون ته را وبلل شول. حتی لوتر د خپلې طرحې عنوان، چې په ۱۵۲۰ زېږدي کال کې خپره شوه (د مسیحیانو د آزادۍ رساله) ونوموله او په هغه کې یې ولیکل: (مسیحي انسان تر ټولو خپلواک انسان او د ټولو توکو په پرتله غوره دی او د هېچا پر وړاندې سر نه ښکته کوي.)

## درېیمه فقره: مذهبي جګړې او اغېزې

مذهبي جګړې له سلو کلونو څخه زیات دوام وموند، چې یوازې دېرش کاله یې نړیوال رنګ درلود. دغه جګړې د هغه زېږون په څېر وې، چې ملي دولت ترې زېږېدلی دی. د ملي دولت فکري زمینې د منځنیو پېړیو په وروستۍ برخه کې د دولت او دین ترمنځ د شویو شخړو په پایله کې رامنځته شوې وې. د سیاست خپلواکي په رسمیت وپېژندل شوه او د (سن توماس ډاکن)، (مانګولډ دو لوتنباخ) او (ګیوم دوکام) په څېر د کلیساوو مشرانو ومنله، چې دنیوي چارې د پوهې او سیاست نړۍ پورې تړاو لري، چې دا هم د خدای لەخوا پیدا شوي دوی همداراز ومنله، چې عقیدتي او د کلیسا چارې د الهام او وحي نړۍ پورې تړاو لري، او د دواړو منطق جلا دی. د مډرن دولت عیني او ټولنیزې زمینې هم پەفیوډالي نظام کې له کړکېچ او د قدرت تمرکز له امله رامنځته شوې. خو د مډرن دولت رامنځته کېدل یوې قربانۍ ته هم اړتیا درلوده، چې د یوې خونړۍ جګړې لەلارې سر ته رسېده او هغه د سپېڅلې

Bawar.net


امپراتورۍ مرګ و. د نیکولو ماکیاولي ټولواک کتاب، چې په ۱۵۱۳ ز کال کې خپور شو د مډرن عصر د سیاسي عنوان په توګه د دغه بدلونونو لیکلې بېلګه وه، چې خپل باور یې د وستفالیا عصر تر پایه؛ یعنې تر وروستیو کلونو ساتلی دی.(۳۵:م۱۰۴)

## څلورمه فقره: په شپاړسمه پېړۍ کې د سپېڅلې امپراتورۍ او نورو قدرتونو حالات:

په اروپا کې حالات داسې ول، چې درې سترو قدرتونو شتون درلود او هغه: سپېڅلې امپراتوري، د فرانسې پادشاهي او د انګلستان پادشاهي. په ۱۵۲۰ ز کال کې پېنځم شارل، چې (په شارلکن) مشهور شو د (ماکسیمیلین) ځای ناستی شو. ده ته، اتریش، هالنډ، بلجیم او فرانش کنته له پلار څخه په میراث پاتې شول او د مور له خوا هم اسپانیا، سارډیني، سیسیل، ناپل او د اسپانیا امریکايي مستعمرات ورته په میراث پاتې شول. په دې ترتیب سره د اتریش هابسبورګ کورنۍ د اروپا د ډېرې برخو واګې په لاس کې واخیستې. په فرانسې کې هم لومړي فرانسوا حکومت کاوه، چې په شدت د هابسبورګ له کورنۍ سره په سیالۍ کې و. له اتریش سره د فرانسې سیالي تر دې بریده وه، چې فرانسه حاضر وه، څو له غیر مسیحي عثماني ترکانو سره اتحاد وکړي. په انګلستان کې ګڼو کورنیو حکومت کاوه، چې تر ټولو مهم یې د اسکاټلنډ پادشاه استوراټ کورنۍ وه. د تیوډور کورنۍ په ویلز حاکمیت درلود، چې د دغې سلسلې وروستی واکمن الیزابت وه، چې په ۱۵۵۸ زکال کې پادشاهۍ ته ورسېده او د سکاټلنډ چارو کې په لاسوهنې سره یې خپل اقتدار زیات کړ، چې د هنر او ادبیاتو په پرمختګ سره د انګلستان یوه له ویاړه ډکه دوره یې د نوې پېړۍ په پیل کې رامنځ ته کړه.

خو شارلکن، چې متعصبه او کلیسا پلوی پادشاه و، و نه توانېد پراخې ځمکې، چې ده ته رسېدلې وې وساتي او مذهبي یووالي ټینګ کړي. د وحدت او ځمکو نه ساتلو اصلي لامل پر دغې امپراتورۍ د عثمانیانو بریدونه

Bawar.net



ول، چې په ۱۵۲۹ کال کې وین د عثمانیانو له لوري کلابند شو. پر همدې بنسټ په ۱۵۵۵ ز کال کې د اګسبورګ د سولې په منلو سره مذهبي آزادي (هم د کاتولیک او هم د پروټستان مذهب) ومنله، چې یو کال وروسته یې له خپلې دندې استعفا ورکړه او په کور کېناست. نوموړي د اتریش، بوهم او هنګري حکومت په ۱۵۲۲ ز کال کې خپل ورور فردیناند ته وبښه او په ۱۵۵۵ ز کال کې یې پاتې ځمکې خپل زو فلیپ ته ورکړې، چې د اسپانیا پاچا دویم فلیپ په نامه یې شهرت وموند. ده د مادرید ښار د پلازمېنې په توګه غوره کړه او په ۱۵۸۰ ز کال کې یې پرتګال هم خپلو سیمو ته زیات کړ. په دې ترتیب سره نه یوازې د هابسبورګ کورنۍ واکمنۍ په دوو برخو ووېشل شوه؛ بلکې د ټیټو سیمو؛ یعنې هالنډ، بلجیم او لوګزامبورګ ترمنځ هم واټن رامنځ ته شو. پر دغو ځمکو شپاړس شاهزاده مېشتو سیمو شتون درلود، چې د هېڅ یوه ترمنځ یووالی نه و. د دویم فلیپ یوه ستونزه د دغو سیمو اوسېدونکو خپلواکي غوښتنه وه، چې دی یې د پلار په خلاف پردی پادشاه باله. د دویم فلیپ کارونو له ډلې څخه یو هم د انګیزیسیون دستګاه یا د عقایدو تفتیش رامنځ ته کېدل و، چې هغه یې یادو سیمو ته هم پراخه کړه او دا په داسې حال کې وه، چې د بلجیم او هالنډ ډېری ایالتونه پروټستان مذهب ته اوښتي ول.په دغو ټولو سیمو کې خلک را پاڅېدلي ول او د فتنې شورا، چې څه موده وروسته د وینې په شورا بدله شوه ډېری کسان یې د دویم فلیپ په امر په اعدام محکوم کړل. (ویلیام درانژ)، چې خپله د فلیپ نایب السلطنه وه د آزادي غوښتونکي خوځښت مشر شو. په ۱۵۷٦ ز کال کې د اوولسو ایالتونو استازو مذهبي مسایل څنډې ته کړل، د فلیپ پر وړاندې متحد شول او د انګلستان له مرستې څخه یې هم ګټه پورته کړه.فلیپ بریالی شو، د دوی ترمنځ بېلوالی رامنځ ته کړي. لس سویلي ایالتونه، چې ډېری برخه یې کاتولیک ول د لنډې مودې لپاره له اسپانیا سره یو ځای شول؛ خو اوو شمالي ایالتونو په ۱۵۷۹ ز کال کې د (اوترخت اتحاد) رامنځ ته کړ او په ۱۵۸۱ کال کې یې د هالنډ په نامه خپلواکي اعلان کړه. په دغه وخت کې ځینې پېښې رامنځ ته شوې، چې له امله یې

Bawar.net


انګلستان وپټبیله، ځو په جدي توګه له پروټسټان مذهب څخه ملاتړ وکړي. په دې ترتیب سره په ۱۵۸۸ ز کال کې د انګلستان او اسپانیا ترمنځ سخته جګړه رامنځ ته شوه، چې د انګلستان په بریا پای ته ورسېده. هغه توپان، چې په دغه پېښه کې رامنځ ته شو او د اسپانیا بېړۍ یې له منځه یوړې د پروټسټان په باد مشهور شو. دویم فلیپ په ۱۵۹۸ کال کې ومړ.

د دغې جګړې مهمه پایله له اسپانیا څخه انګلستان او هالنډ ته سمندري ځواک لېږد و. هالنډ د دوو پېړیو لپاره له مالي غوړېدا څخه برخمن و او د دغه هېواد پلازمېنه امسټردام د اروپا مهم اقتصادي او مالي مرکز و. په ۱۶۰۱ ز کال د انګلستان شرقي شرکت او په ۱۶۰۲ ز کال کې د هالنډ شرقي شرکت رامنځ ته شو. د دغو شرکتونو رامنځ ته کېدل د نوي اقتصادي پېر یا د مرکنټالیزم عصر اوج و، چې د (والټر شټاین) په خبره اقتصاد پوهانو په آند د نورو بدلونونو مور شمېرل کېده. هر هېواد، چې په دغه پېر کې اقتصادي پرمختګ وکړ خپل راتلونکي پرمختګونه یې تضمین کړل. په دغو هېوادونو کې پر وخت ملي دولت او صنعت وده وکړه او په داسې حال کې، چې د ختیځې اروپا هېوادونه له سمندرونو څخه د لرې والي یا هم نورو لاملونو له مخې تر شلمې پېړۍ ونه توانېدل دغه بریالیتوب ته ورسېږي. په هر حال، د نورو هېوادونو نیواک لپاره د هالنډ او انګلستان همکاري پیل شوه. په ۱۶۰۷ ز کال کې انګلستان په ویرجنیا او په ۱۶۱۲ ز کال کې هالنډ په نیویارک (د امریکا متحده ایالات) کې مېشت شول. هاخوا اسپانیا د زوال پېر پیل کړ. په ۱۶۴۹ زکال کې پرتګال هم بیاځلي خپلواکي ترلاسه کړه.

په همدغه وخت کې فرانسویانو له هېڅ لوري ګټه پورته نه کړ؛ ځکه په کورنیو شخړو او مذهبي جګړو کې ښکېل ول. آلبرمالا د فرانسې د مذهبي جګړو شمېر اته جګړې بولي، چې څلور هغه یې د نهم شارل د واکمنۍ پرمهال او پاتې څلورې جګړې یې د درېیم هنري او څلورم هنري واکمنۍ پر مهال تر سره شوي دي. په ۱۵۵۹ ز کال کې دویم هانري و وژل شو او د ده له څلورو زامنو څخه یوازې دویم فرانسوا د یوه کال لپاره سلطنت وکړ او له ده وروسته

Bawar.net


ورور يې نهم شارل سلطنت ته ورسېد. د دويم هنري مېرمنې کاترين دمديسي، چې د ايټاليا اوسېدونکې وه د خپلو زامنو حکومت کې لاسوهنه کوله. ددې د لاسوهنې له امله و، چې په ۱۵۷۲ ز کال کې د سن بارټلمه ټول وژنه تر سره شوه او دولتي سرتېرو د کاتوليکانو او يو شمېر لنډغرو په ملتيا زيات شمېر پروټسټان مذهبه کسان و وژل.

د کاپسين کورنۍ واکمنۍ د بوربن کورنۍ څخه د څلورم هنري واکمنۍ ته په رسېدو(چې د فرانسې تر انقلاب په واک کې پاتې شو) په ۱۵۸۹ ز کال کې پای ته ورسېده. څلورم هنري ای هنري ناوار پخپله د هوګه‌نو يا د فرانسې پروټسټان مذهبه ډلې مشر و؛ خو خپل مذهب يې کاتوليک ته بدل کړ. خو د نانټ فرمان په نامه د ده د حکم له مخې، چې په ۱۵۹۸ زکال کې صادر شو د خلکو مذهبي آزادۍ ومنل شوې (لکه د اګسبورګ سوله، چې په ۱۵۵۵ ز کال کې د شارلکن له لوري ومنل شو) دی په ۱۶۱۰ ز کال کې د يوه ليوني له لوري و وژل شو او ديارلسم لويي، چې لا ځوان شوی نه و د خپلې مور ماري دومډيسي او ريشيلو کارډينا په ملاتړ پادشاهۍ ته ورسېد.

خو له اروپا څخه بهر د چين، هند، ايران او عثمانيانو امپراتورۍ د يادونې وړ وې. د اروپا په شمال او ختيځ کې هم د سويډن او پولنډ امپراتورۍ له ارزښت څخه برخمنې وې.

د چين امپراتورۍ د مينګ سلسلې تر واکمنۍ لاندې وه او هندوستان په کوچنيو او ګڼ شمېر دولتونو وېشل شوی و، چې ټول يې د تيمور پاتې شونې بابر تر ولکې لاندې راغلي وو (۱۵۳۰ز). د هندوستان د بابر سلسلې تر ټولو ستر پادشاه اکبر و، چې په ۱۵۵٦ ز کال کې پادشاهۍ ته ورسېد. خو په ايران کې تقريبا اروپا ته ورته پېښه رامنځ ته شوې وه. اسماعيل صفوي، چې په ۱۵۰۱ ز کال کې تاج ايښودنه وکړه، سيمه ييز قدرتونه يې له منځه يوړل او پر مذهب سمبال يو متمرکز دولت يې رامنځ ته کړ. د صفويانو دويمه پلازمېنه د اصفهان ښار د نړۍ له سترو ښارونو څخه شمېرل کېده، چې د دې ترڅنګ فلسفي او کلتوري مرکز هم شمېرل کېده. که چېرې د اروپايي مډرنو دولتونو لومړی

Bawar.net


پړاو مطلقه دولت په نامه ونوموو، چې په هغه کې یو سیاسي مرکز له ځانګړو پولو او د یوه سیاسي قدرت وګړي را ټول شوي ول، په ایران کې هم همدا حالات رامنځ ته شول او کولای شو شاه عباس صفوي (۱۶۲۹-۱۵۸۸) خوارلسم لویي (۱۷۱۳-۱۶۶۱)، چې د مطلقه دولت رامنځ ته کوونکی و، په څېر وشمېرو. خو هغه خوځښت، چې په اروپا کې پیل شو دوامداره و، په داسې حال کې، چې په ایران کې دغه خوځښت په بشپړه توګه په ختیځ کې له ماتې سره مخ شو.

په ایران کې د صفوي دولت له فرانسې دولت سره ورته بللی شو او عثماني امپراتوري د روم - جرمني له سپېڅلې امپراتورۍ سره. عثماني امپراتوري، چې لومړني کارونه یې په دیارلسمه پېړۍ کې تر سره شوي ول په ۱۴۵۳ ز کال کې د قسطنطنیې په فتح سره رامنځ ته شوه. دغه امپراتوري هم د اروپا سپېڅلې امپراتورۍ په څېر له پراخو او نامنسجمو ځمکو څخه، چې له اروپا نیولې تر خلیج پورې ځمکې یې رانغاړلې رامنځته شوې وه، چې د اقتدار بنسټ یې پر مذهب اینبودل شوی و. لومړی سلطان سلیم (سلیمان) (۱۵۱۲-۱۵۲۰) له چالدران جګړې څخه او پر شاه اسماعیل صفوي له بریا او همداراز د قاهرې، سوریې، مکې او مدینې له فتحې څخه وروسته په ۱۵۱۷ کال کې ځان یې د مسلمانانو خلیفه وباله. د سلیمان مجلل (۱۵۶۶-۱۵۲۰) واکمنی پر مهال عثماني امپراتوري خپل وروستي برید ته ورسېده او د اروپا پر لور و غځېده. عثماني ځواکونو په ۱۵۲۹ او ۱۵۳۲ ز کلونو کې دوه ځله د سپېڅلې امپراتورۍ مقر وین ښار کلابند کړ. امپراتور اړ شو، څو په ۱۵۶۴ ز کال کې د قسطنطنیه تړون، چې تر ۱۶۰۶ ز کاله په خپل حال پاتې و ومنې او هر کال د پام وړ پیسې عثماني امپراتور ته ورکړي. عثمانیان او اتریشان د ګڼو پرله پسې کلونو لپاره د جګړې په حال کې ول، د عثماني امپراتورۍ ختیځ سیال ایران او د سپېڅلې امپراتورۍ لوېدیځ سیال د فرانسې هېواد و. له همدې امله له یوه لوري د عثماني امپراتورۍ او فرانسې ترمنځ او له بل لوري د ایران او اتریش ترمنځ ښې اړیکې رامنځ ته شوې وې. خو له کارلووتیز تړون له لاسلیک څخه

Bawar.net


وروسته د عثماني امپراتورۍ ماتې پيل شوه، چې په ۱۶۹۹ ز کال کې د سپځلي تړون پر ورانـدې (روسيه، پولنډ او روم امپراتورۍ) ورتـه تسليم شول.(۳۸:م۲۲۲)

## پنځمه فقره: دېرش کلنې جګړې او د وستفاليا تړونونه

لکه څنګه، چې مو وليدل اروپا په درېو برخو ووېشل شوه: شمال پروټستان، سويل کاتوليک او مرکزي سيمه، چې دواړه مذهبونو په کې شتون درلود. د آلمان پروټستان ايالتونو په ۱۶۰۸ ز کال کې د پالاتين امير په هڅونه يوه ټولنه رامنځ ته کړه او له هالنډ او انګلستان سره يې راکړه ورکړه پيل کړه. يو کال وروسته کاتوليک ايالتونو هم د باوير په مشرۍ يوه ټولنه رامنځته کړه او له اسپانيا څخه د مرستې غوښتونکي شو. په دې ترتيب سره د مذهبي جګړې نړيوال کېدو زمينې برابرې شوې. له بل لوري د ترک تړون، چې په ۱۶۰۹ ز کال کې د هالنډ او اسپانيا ترمنځ لاسليک شوی و په ۱۶۲۱ کال کې پای ته رسېده. ستراتېژيانې داسې وې، چې اسپانيا د هالنډ جمهوري ماتې په فکر کې و او فرانسه، چې له اوږدې مودې څخه يې د هابسبورګ له کورنۍ څخه وېره لرله، په آلمان کې د يوه ځواکمن دولت له رامنځ ته کېدو څخه خوشحاله نه وه. له همدې امله پر دې سربېره، چې د فرانسې دولت کاتوليک و، وپتېيله، څو د پروټستان له ټولنې څخه ملاتړ وکړي.(۳۸:م۵۴)

په ۱۵۱۸ ز کال کې د بوهم اوسېدونکو له پروټستان مذهبه و څخه په ملاتړ د فرډيناند امپراتور استازي يې و وژل. فرډيناند د مقابلې پرېکړه وکړه. سربېره پر دې، چې فرانسې او هالنډ له پروټستان مذهبه و څخه ملاتړ کاوه د امپراتورۍ ځواکونه وتوانېدل دوی ته ماتې ورکړي. د پروټستان ټولنه هم په ۱۶۲۱ کال کې منحل شوه او د پروټستان مذهبه و مشري د ډنمارک پادشاه په لاس ورغله. خو سربېره پر دې، چې د پروټستان ايتلاف د ډنمارک، فرانسې او هالنډ له ملاتړ څخه برخمنه وه ماتې وخوړه او د نوي مذهب پلويان هم ناهيلي شول. د کليسا مالونه، چې غلا شوي ول بياځلي ورکړل شول او داسې ول، چې ګواکې

Bawar.net

حالات د تل لپاره د کاولیکانو په ګټه پای ته ورسېدل. خو ډېر ژر پروټستان مذهبه و نوی مشر پیدا کړ، دغه مشر د سویډن پادشاه (ګوستاو آدولفوس) و. نوموړي په ۱۶۳۰ ز کال کې یو شمېر ځواکونه آلمان ته واستول او له سپېڅلې امپراتورۍ سره یې جګړه پیل کړه. ریشلیوهم کله چې خپله د کاتولیک یو اسقف و د کاتولیکانو په جبهه کې یې نفاق اچاوه. خو د سویډن پادشاه په ۱۶۳۲ ز کال کې و وژل شو او د امپراتورۍ ضد لړۍ مشري د فرانسې پر لاس ورغله. سربېره پر دې، چې فرانسویان، سویډنیان، هالنډیان او انګلیسان ټوله د اتریش هابسبورګ کورنۍ د کمزورتیا په فکر کې ول، د یوه بل پر وړاندې ځینې اختلافونه یې هم درلود، چې د دوی د بریا پر وړاندې خنډ و. جګړو تر هغه بریده دوام وموند، چې دواړه خواوې ستړې شوې او له ۱۶۴۴ زکال کې د سولې خبرو اترو لومړیتوبونه رامنځ ته شول. د کاتولیک دولتونه په مونسټر ښار او د پروټستان دولتونه په اوزنابروک ښار کې د امپراتور له استازو سره په خبرو اترو بوخت شول او په ۱۶۴۸ کال کې دوه تړونونه لاسلیک شول، چې د وستفالیا تړونونو په نامه یادېږي. خو د اسپانیان دولت تر ۱۶۵۹ کاله د فرانسې پر وړاندې جګړې ته دوام ورکړ. خو د وستفالیا تړونونه د دو اصولو له منلو څخه نور څه نه و؛ یعنې د مذهب آزادي، چې له دې وړاندې په ۱۵۵۵ ز کال کې د اګسبورګ په سوله او په ۱۵۹۸ زکال کې د نانټ فرمان کې منل شوی و او بل هغه یې د آلمان شهزاده مېشتو سیاسي خپلواکي وه، چې د سویډن او فرانسې په ټینګار ومنل شو.

په ورته وخت کې د وستفالیا تړونونه د اروپا نقشې ته بدلون ورکړ. د تر سره شویو هوکړو له مخې سویس او د هالنډ ایالتونو رسماً خپلواکي تر لاسه کړه، باویر د پالاتینا سویلي برخه په ټاکنو کې د امپراتور ګډون حق سره تر لاسه کړ (یوازې د آلمان شهزاده مېشتو ۷ برخو د امپراتور د ټاکلو حق درلود، چې له دوی سره امیران ټاکل کېدل) د پالاتینا شمالي برخه د اتم ټاکل شوي امیر واکمنۍ حوزې په توګه د براندبورګ د امیر فدریک زوی شارل لوېې ته ورکړل شوه. براندنبورګ د هوهن زولرن کورنۍ ته وسپارل شو، چې د فرانسې

Bawar.net


په تېنګار سره، چې غوښتل یې د هابسبورګ کورنۍ پر وړاندې بل څواک رامنځ ته کړي پراخ شو (وروسته همدغې کورنۍ په نولسمه پېړۍ کې پر فرانسې برید وکړ او د دغه هېواد له ماتې سره د آلمان متحده امپراتورۍ یې رامنځ ته کړه) سویډن، چې د دېرش کلنې جګړې له فاتحانو څخه و د فرانسې په مرسته یې زیات قدرت تر لاسه کړ او د امپراتورۍ په دیت شورا کې د یوې څوکۍ خاوند شو او په روسیې کې د ستر پطر تر څرګندېدو د اروپا شمال ختیځ یې تر خپلې ولکې لاندې درلود. د سپېڅلې امپراتورۍ د اقتدار عملي سیمه اتریش، هنګري او بوهم پورې محدوده شوه، چې خپله یې له امپراتورۍ څخه بېلوالي سره مرسته وکړه. خو د دېرش کلنو جګړو اصلي فاتح فرانسه وه، چې نه یوازې د خپل پخواني دښمن؛ یعنې هابسبوګ کورنۍ پر وړاندې شدیدې ضربې واردې کړې؛ بلکې خپله هم له زیاتو سیاسي، حقوقي او اقتصادي امتیازاتو څخه برخمنه شوه. هغه پېر، چې له وستفالیا څخه وروسته پیلېږي د روم - جرمني سپېڅلې، عثماني، پولنډ او سویډن امپراتوریان د مړینې پېر او د فرانسې او انګلستان د لوړوالي پېر دی، چې څه موده وروسته د روسیې، پروس او اتریش د اقتدار پیل هم دی.

### شپږمه فقره: د ویستفالیا تړونونو لاسته راوړنې

په اروپا کې د وېستفالیا Westphalia د سولې د تړونونو (۱٦٤۸ز کال د مې او اکتوبر ترمنځ) څخه پیلېږي او د فرانسې د (۱۷۸۹ز کال) له انقلاب سره تکامل ته رسېږي. دغه تړونونه د اوزنابروک Osnabruk او مونستر Munster په نومونو د جرمني په دوو ښارونو کې لاسلیک شوي دي؛ نو په همدې خاطر د دغو ښارونو په نومونو هم یادېږي. دغه تړونونه چې د نویو ملي دولتونو لپاره اساس و بنسټ هم ګڼل کېږي، د هغه مهال د روم په امپراتورۍ کې یې دېرش کلنه (له ۱٦۱۸ څخه تر ۱٦٤۸ز کال پورې) مذهبي جګړه او د هسپانیې او جرمني ترمنځ اتیا کلنه (۱٥٦۸-۱٦٤۸ز کال پورې) جګړه له منځه یوړه او هسپانیې د جرمني جمهوریت خپلواکي په رسمیت وپېژندله. دغه تړونونه د

Bawar.net



اتريش، سويډن، فرانسې او پروس (اوسنی جرمني) ترمنځ لاسليک شول او په دې توګه د پروتستانو او کاتوليکانو ترمنځ خونړۍ جګړې پای ته ورسېدې.(۷:م۶۳)

فرانسه او سويډن هېوادونه د جرمني د پروتستانو د ملاتړ له امله له دې هېواد سره جګړې ته لوېدلي ول خو د ويستفالي تړونونو له لاسليکولو وروسته، سويډن د جرمني هېواد حاکميت، ددې هېواد پر مذهبي پروتستانو پر رسميت وپېژاند او فرانسې هم د جرمنيد لويديځ د يو شمېر سيمو په اخيستلو او د جنګي غرامت په تر لاسه کولو سره د سولې دغه تړونونه ومنل.د ويستفالي ددې مهمو تړونونوپه پايله کې د پاپ له لاسه د کليسا تر واک لاندې ځمکې ووتې او په دې ډول يې په اروپا کې نفوذ راکم شو. د دغو تړونونو له مخې په اروپا کې د دين او سياست لارې سره بېلې شوې او په نړيوال نظام کې پينځه هېوادونه د نړيوالو قدرتونو په توګه راښکاره شول چې عبارت دي له: فرانسه، انګلستان، اتريش، پروس او روسيې څخه؛ خو په مقابل کې څلور نور نړيوال قدرتونه د زوال په حال کې ول چې عبارت دي له: د روم امپراتوري، عثماني امپراتوري، سويډن او د لهستان يا پولينډ جمهوريت.

د وېستفالي د تړونونو ارزښت په نړيوالو اړيکو او نړيوالو حقوقو کې ډېر زيات دی، تر دې پورې چې دا تړونونه د نړيوالو اړيکو او نړيوالو حقوقو مبدا او پيل ګڼل کېږي، دغو تړونونو په نړيوال نظام کې لاندې بدلونونه رامنځته کړل:

- د عيسويت د دوو مشهورو ډلو (کاتوليک) او (پروتستانت) ترمنځ روغه وشوه.
- د سويس او هالينډ هېوادونو خپلواکي په رسميت وپېژندل شوه.
- د فرانسې، هسپانيې او پرتګال خپلواک هېوادونه رامنځته شول او د پاپ له مداخلې او حاکميت څخه خلاص شول.
- هېوادونو دا خپلواکي ترلاسه کړه چې په خپلو منځونو کې پرته د پاپ له مداخلې څخه تړونونه لاسليک کړي.

Bawar.net


• د دولتونو اتباعو سیاسي او مذهبي آزادۍ ومنل شوې او په بین المللي نظام کې د دولتونو د حقوقو د مساوات اصل او هم په بهرنیو اړیکو کې خپلواکي د لومړي ځل لپاره په رسمیت وپېژندل شوه.

له ۱٦٤۸ ز کال څخه راوروسته یادو پینځو اصلي قدرتونو ته په پام سره تر ۱۹۱۷ز کال پورې پر نړۍ باندې د قواوو د توازن پر بنسټ یو څو قطبي نظام حاکم و او انګلستان، فرانسې، جرمني، اتریش او هسپانیې پرې راج چلوه. په دې ټوله موده کې دولتونه د پرمختیا او پراختیا په حالت کې ول، جمهوري نظامونه ورځ په ورځ زیاتېدل او د سرمایه دارۍ پر ځای سوسیالیستي نظریات مخ په پراخېدو ول. د نړۍ هېوادونو د دښمنۍ او یو د بل د له منځه وړلو یا کمزوري کولو پر ځای یو بل ته د نړدېوالي هڅې کولې او په دې ډول یې ورو ورو د نړیوالو اړیکو او نړیوالو حقوقو په برخه کې پاخه بنسټونه رامنځته کول، لکه په دې منځ کې یې په خپلو منځونو کې د منازعاتو د حل و فصل لپاره یو څه قواعد او مقررات وضعه کړل. د دې مقرراتو د وضعه کوونې په برخه کې موږ او تاسې د ویانا مشهورې کنګرې (چې په ۱۸۱٤کې پیل او تر ۱۸۱۵ز کال پورې یې دوام درلود) یادونه کولای شو. د ویانا کنګره په حقیقت کې د اروپایي دولتونو لومړنۍ ټولنیزه غونډه وه چې په کې د سفارتي او ډیپلوماتیکي نماینده ګانو او له آزادو بحرونو څخه د بحري کښتیو د تګ راتګ قواعد او اصول وټاکل شول، همدارنګه په دې کنګره کې پرېکړه وشوه چې په نړۍ کې به د ډیمکراټیکو نظامونو د راتګ مخنیوی کېږي. د دې موخې لپاره او هم په نړیوال نظام کې د امن او ثبات په موخه روسیې، انګلستان، جرمني او اتریش په خپلو کې د کارډرپټ Cuard Rupt په نوم یو تړون هم لاسلیک کړ، په ۱۸۱۸ز کال کې فرانسې هم په دې تړون کې برخه واخیسته چې پوره دېرش کاله (تر ۱۸٤۸ ز کال پورې) دغو دولتونو د ډیموکراټیکو نظامونو د رامنځته کېدا تحریک ناکام کړی ؤو.(۷:م۹۵)

همدارنګه په انګلستان او فرانسه کې د ټاکنو پیل کېدل، د امریکا داخلي جنګونه، د جرمني، ایټالیې او جاپان پرمختګ او تر څنګ یې د عثماني

Bawar.net


امپراتورۍ زوال د دې لامل شول چې واړه واړه جمهوریت غوښتونکي آزاد دولتونه رامنځته شي. د روسیې، هنګري، اتریش او انګلستان ترمنځ چې کوم اختلافات ول هغه په کال ۱۸۷۸ز کې د برلین په کنفرانس کې وڅېړل شول او پرېکړه یې وکړه چې د بالکان یو څه سیمه باید ترکیې ته ورکړل شي او په نورو برخو کې نوي واړه دولتونه رامنځته شول چې په کې رومانیه، بلغاریه، مانتي نیګرو، البانیه او یونان شامل دي.

د فرانسې له صنعتي انقلاب څخه وروسته د خامو موادو د مارکېټ اهمیت ډېر زیات شو او همدارنګه لویو استعماري ځواکونو دا کوشش کاوه چې زیات نه زیات هغه سیمې چېرته چې له پانګونې څخه ډېره ګټه لاسته ورتلای شي، تر خپل استعمار لاندې راولي چې د همدغه مقصد د حصول په خاطر په افریقا کې انګلستان او فرانسې ډېر هېوادونه تر خپل استعمار لاندې راوستل، وروسته په کې ایټالیا او جرمني هم ځینې سیمې ونیولې، انګلستان هندوستان، برما او مالیزیا نیولي ول، چین هم د امریکا، انګلستان، روسیې، جرمني او جاپان د مشترکو ګټو او تاثیراتو په دایره کې و.

په دې ټوله موده کې نړۍ د یادو لویو قدرتونو ترمنځ د کشمکش او سیالۍ شاهده وه، دوی هر یو غوښتل چې خپل مستعمرات له یو بل څخه ډېر کړي، د همدې اختلافاتو له امله په مستعمره هېوادونو کې د آزادۍ غوښتنې غورځنګونه په پیاوړي کېدو شول او بالاخره دا نړیوال قدرتونه ورو ورو کمزوري کېدل او مستعمرې یې له لاسه وتلې.

د شلمې پېړۍ په پیل کې د تزاري روسیې د صدراعظم دویم نیکولایس د کوښښونو له امله په ۱۸۹۹ز کال کې په هاګ کې یو کنفرانس دایر شو او بیا په ۱۹۰۷ز کال کې د هاګ دویم کنفرانس هم دایر شو، د دغو دوو کنفرانسونو موخه دا وه چې د دولتونو ترمنځ اړیکو ته یوه نوې او قانوني لاره پیدا کړي او د نړیوالو شخړو او منازعاتو د حل لپاره له پرامنه او مسالمت امېزو وسایلو او لارو څخه ګټنه وکړي. په دې وخت کې د دریېم ګریتوب په نوم یوه نړیواله محکمه هم جوړه شوه، خو تر ۱۹۱٤ ز کال پورې دولتونه په دوو اتحادونو سره

Bawar.net


ویل شوي ول، یوې خوا ته اتحادي دولتونه ول چې په کې انګلستان، فرانسه او روسیه شامل ول او بلې خوا ته محوري دولتونه ول چې په کې جرمني، ایټالیه او اتریش مل ول.

## دریم جز: له لومړۍ نړیوالې جګړې تر دویمې نړېوالې جګړې د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې

دوی یو بل ته ګواښېدل او بالاخره په ۱۹۱٤ ز کال کې سره ونښتل او لومړۍ نړیواله جګړه پیل شوه.

له لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته د ملتونو ټولنه یا League of the Nations رامنځته شوه چې مرکز یې د سویس په جینوا ښار کې و. د ملتونو ټولنې د ۱۹۲۰ ز کال د جنورۍ د میاشتې پر لسمه نېټه رسماً پر کار پیل وکړ، د دې سازمان (ټولنې) د رامنځته کېدو هدف دا و چې دولتونه د یو بل له دښمنۍ څه راوباسي او د نړیوالې سولې او ثبات لپاره هلې ځلې وکړي.

د دې سازمان له جوړېدو څخه لا شل کاله نه و تېر شوي چې د ۱۹۳۹ز کال د سپټمبر په میاشت کې دویم نړیوال جنګ پیل شو، په دې جنګ کې ټول نړیوال اصول او حقوق تر پښو لاندې شول، د انسانیت په مقابل کې له ډېر زیات ظلم او تېري څخه کار واخیستل شو او په نتیجه کې یې میلیونونه انسانان ووژل شول. بالاخره دویمه نړیواله جګړه په ۱۹٤۵ز کال کې پای ته ورسېده چې ورسره سم د ملګرو ملتونو سازمان د اکتوبر پر ۲٤مه نېټه رامنځته شو. د دغه سازمان د منشور له مخې پر وړو او لویو دولتونو تېری او تجاوز غیر مشروع عمل وګڼل شو او ټول دولتونه د دې سازمان د منشور په رعایت باندې مکلف کړل شول او د دې سازمان د غړیو هېوادونو له خوا د قوې او تهدید استعمال منعه کړای شو.(۹:م۹۴)

له دې وروسته په نړیوال سیاست کې شوروي اتحاد او د امریکا متحده ایالات د دوو سترو قدرتونو په توګه پاتې شول. شوروي اتحاد په سیاسي او اقتصادي برخه کې د استبدادي او سوسیالیستي نظام څخه پیروي کوله او

Bawar.net



خپله هم د سوسیالیستي نظام درلودونکی و؛ خو په مقابل کې یې د امریکا متحده ایالات د ډیموکراسۍ او پانګوالۍ د نظام پیرو ول. له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته نړۍ د دغو دواړو قدرتونو د تاثیراتو د حلقې د پراخوالې د هلو ځلو شاهده وه، شوروي اتحاد د ختیزې اروپا سیمې تر خپلو تاثیراتو لاندې راوستې او په ۱۹۴۹ز کال کې یې د لومړي ځل لپاره اتومي چاودنه وکړه او ځان یې په نظامي برخه کې د امریکا متحدو ایالتونو سره برابر کړ، د روسیې د دې عمل په ځواب کې د امریکا متحدو ایالتونو د ۱۹۴۹ز کال د اپریل په میاشت کې د ناټو NATO یا ( North Atrantic Treaty Organization د شمالي اتلانتیک نظامي تړون) رامنځته کړ او له همدې ځایه د دواړو هېوادونو ترمنځ د ساړه جنګ پیل وشو.

د ساړه جنګ په ټول دوران کې د نړۍ دولتونه هم په دوو قطبونو باندې وېشل شوي ول، څه له شوروي اتحاد سره ولاړ ول او څه هم د امریکا له متحدو ایالتونو سره، بالاخره کله چې په ۱۹۹۲ز کال کې شوروي اتحاد په افغانستان کې ماتې وخوړه، نو ټول هغه دولتونه چې خپته یې پرې اچولې وه، خپلواکۍ ته ورسېدل، شوروي اتحاد ړنګ شو او میراث یې روسیې ته ورسېد. په نړیوال نظام کې د امریکا متحده ایالات د یوازیني زبرځواک په توګه پاتې شول، د امریکا متحده ایالتونو هم ورو ورو پر نړۍ د خپل راج چلولو لپاره ځان برابر کړ، په ۲۰۰۱ز کال کې د سپتمبر د ۱۱مې نېټې له پېښې وروسته یې له تروریزم سره د مبارزې په نوم پر افغانستان یرغل وکړ، په ۲۰۰۳ز کال یې پر عراق یرغل وکړ او په دې دواړو هېوادونو کې د شتون له امله یې اوس پر ټوله اسیا راج چلېږي. په ۲۰۰۱ ز کال کې دمخه تر دې چې پر افغانستان یرغل وکړي، جمهور رئیس جورج بوش د امریکا د یکه تازۍ اعلانْ وکړ، په دې ډول چې یا به له دښمن سره اوسئ او یا به هم له موږ سره، د نړۍ په دوه سوه دولتونو کې هېڅوک هم داسې پیدا نه شو چې د هغه د دې اعلان مخالفت دې وکړي، مانا ټول له امریکا سره ودرېدل او لا هم ورسره ولاړ دي.

Bawar.net



## دریم مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو ساحه او حدود

د دولتونو ترمنځ د اړیکو ساحه او حدود نه دي معلوم ځکه چې دا اړیکې ورځ تر بلې پراخېږي، ځکه خو يې ورځ تر بلې د لوستنې مسايل هم زیاتېږي يانې د نړیوالو اړیکو د لوستنې د موضوعاتو پراختیا ورځ تر بلې بدلېږي رابدلېږي، موږ نه شو کولای چې يو څو مشخصې ساحې لکه سوداګري، جګړه، نړیواله ټولنه، په نړیواله کچه د ځواکونو کشمکش، له يو بل سره مرسته، حمله، دفاع، تړونونه، د تګ راتګ وسایل، د لېږد رالېږد وسایل او نور د نړیوالو اړیکو د حدودو په توګه وټاکو؛ خو په مجموع کې موږ د نړیوالو اړیکو حدود او ساحې په لاندې دريوو سطحو کې لوستلای شو:

(۱) په فردي سطحه (د انسانانو په سطحه) Individual Level

(۲) د دولت (حکومت) په سطحه Governmental or State Level

(۳) په نړیواله سطحه International Level

## لومړی جز: د افرادو په سطحه د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې

د نړۍ د تاریخ تر ټولو لوی حقیقت دا دی چې په نړۍ کې چې څومره انقلابونه او بدلونونه راغلي دي، نو پیل يې له يو کس څخه شوی دی، د بېلګې په توګه په نړۍ کې د اسلام راتګ يو ستر انقلاب و، چې پیل يې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی جل جلاله په مرسته وکړ، کارل مارکس هم يو کس و چې خپل نظریات يې د پانګوالۍ پر خلاف څرګند کړ او بالاخره يو وخت د هماغه نظریات د سوسیالیستي انقلاب لامل شول. انفرادي اشخاص ډېر زیات مهم دي، ځینې اشخاص نړیوال شخصیتونه لري، د هغوی خبرې او نظریات د نړۍ په سطحه د خلکو پام ځان ته رااړوي، د بېلګې په توګه د ملکرو ملتونو سرمنشي، يا هم د بېلابېلو مذهبي ډلو مشران يا هم د ځینو مقتدرو هېوادونو مشران، د دوی شخصیتونه د دې توانايي لري چې په نړیوال نظام او سیستم کې بدلون راولي، نو ویلای شو چې د نړیوالو اړیکو د مطالعې ساحه د

Bawar.net



فرد له سطحې څخه شروع کېږي او ځينې مهم نړيوال مسايل چې د فرد له خوا مطرح کېږي، نړيوالې اړيکې ورته پام کوي.

## دويم جز: د حکومتونو په سطحه د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړيکې

د نړيوالو اړيکو بنسټ په حقيقت کې پر دولتونو اېښودل شوی دی، د دولتونو ترمنځ اړيکې، د دولتونو ترمنځ مسايل، له يو بل سره مرسته او همکاري، تړونونه، جنګ، دفاع ټول په نړيوالو اړيکو کې راځي، په دې خاطر پر نړيوالو اړيکو د دولت اغېز ډېر زيات دی، ځکه نړيوالې اړيکې د همدې لپاره رامنځته کېږي چې د دولتونو ترمنځ د جنګ جګړو مخه ونيسي- او د مفاهمې لاره اواره کړي. په دې دونيا کې هېڅ داسې فرد نه شته چې د کوم دولت تبعه نه اوسي، فرد پر دولت خپل حقوق لري او ټول افراد د خپلو دولتونو په نوم پېژندل کېږي، نو ځکه خو ويلای شو چې د نړيوالو اړيکو اساس و بنسټ پر دولت ولاړ دی، دولتونه نړيوالې اړيکې رامنځته کوي او له منځه يې وړي، د شملې پېړۍ تر پيله پورې دولت د نړيوالو اړيکو يوازينی عنصر و چې بحث به پرې کېده، ځينې پوهان فکر کوي چې نړيوالې اړيکې د دولتونو د بهرنيو سياستونو مجموعه ده، که نه وي هم، خو د دولتونو بهرني سياستونه پر نړيوالو اړيکو خامخا خپل اغېز لري، ځکه هر دولت د يوې ځانګړې بهرنۍ پاليسۍ لرونکی دی او همدغه بهرنۍ پاليسي ده چې د نړيوالو اړيکو لپاره خام مواد تهيه کوي، له بلې خوا ټول نړيوال مسايل د دولتونو له خوا رامنځته کېږي.

## دريم جز: د نړۍ په سطحه د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړيکې

په حقيقت کې د نړيوالو اړيکو د فردي سطحې مطالعه او د دولتي يا حکومتي سطحې مطالعه د نړيوالو اړيکو لپاره خام مواد برابروي، نړيوال سازمانونه هم په نړيواله سطحه د نړيوالو اړيکو مهم لوبغاړي دي، چې په لاندې ډول يې لولو:

Bawar.net


## لومړۍ فقره: څو ملیتي سازمانونه

په نړیواله سطحه د نړیوالو اړیکو په لوستنه کې څوملیتي ادارې، قوانین او سازمانونه شامل او دوی ټول پر نړیوالو اړیکو په مستقیم ډول اغېز لري، د دوی هلې ځلې، د دوی پرېکړې، د دوی اقدامات، د دوی اعلامیې طبعاً د نړیوالو مسایلو په اړه وي چې په مستقیم ډول په نړیوالو اړیکو پورې اړوندېږي.

## دویمه فقره: څو ملیتي اتحادیې

په دویمه نړیواله جګړه کې چې نړۍ ورانه شوه، نو ډېره اړتیا احساس شوه چې نړیوالې ادارې رامنځته شي، په همدې خاطر د ملګرو ملتونو سازمان رامنځته شو او له وخت سره سم یې دایره پراخه شوه. اوسمهال د بېلابېلو ملیتونو خلکو په نړیواله کچه ځینې سوداګریزې، خیریه، خدماتي او د ابلاغ ادارې رامنځته کړې دي چې پر نړیوالو اړیکو یې اغېز د پاموړ دی. دا ادارې د یو دولت میراث نه دي، بلکې د هغوی کاري ساحه دولتونه په بر کې نیسي. پر دې ادارو د یو ځانګړي دولت قانون نه شي پلی کېدای، نو ځکه خو د دوی د چارو ترتیب و تنظیم لپاره د نړیوالو اصولو او قواعدو شتون ته اړتیا ده، نړیوالې اتحادیې او شرکتونه له دې امله هم په نړیوالو اړیکو کې مهم دي چې دوی په یوه ورځ کې د میلونونو ډالرو په ارزښت راکړه ورکړه کوي، د هغوی د یوې ورځې راکړه ورکړه د ډېرو دولتونو له ملي بودیجو څخه زیاته وي.(۹:م۱۹)

## درېیمه فقره: سیمه ییز نړیوال سازمانونه

په اوس وخت کې د نړیوالو اړیکو د بحث یوه مهمه موضوع هم سیمه ییز نړیوال سازمانونه دي، له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د نړۍ د سولې او امن په پار د نړیوالتوب غږ ډېر کله اورېدل کېږي، خو تر هغې پورې چې د نړۍ دولتونه او ملتونه ځانونه په نړیوالتوب کې ګوري، نو د ځینو سیمو

Bawar.net



دولتونو سره په خپلو کې د يووالي تړونونه وکړل او يو د بل تر څنګ ودرېدل، لکه اروپايي اتحاديه، د سويلي آسيا دولتونو سازمان يا سارک او داسې نور، د دې سيمه ييزو سازمانونو نړۍ او نړيوالو اړيکو ته يوه ګټه دا وه چې نړۍ يې د ځواک له مخې له دوه قطبونو څخه څو قطبونو باندې ووېشله، د دې ټولو سيمه ييزو سازمانونو موخه دا ده چې يوه سوله ييزه نړۍ ولري.

## څلورمه فقره: نړيوال مسايل

په نړيوالو اړيکو کې موږ اصلاً نړيوال مسايل او نړيوال وضعيت لولو، هغه مسايل او هغه وضعيت چې پر پخوانيو نړيوالو نظامونو تېر شوی وي او اوس هم شتون ولري او بله دا چې په دې نړيوالو مسايلو او وضعيت کې د نړيوالو اشخاصو، دولتونو، نړيوالو سازمانونو او اتحاديو لوی لاس وي او د همدوی له خوا د برابرو شويو خامو موادو له امله دغه نړيوال مسايل او وضعيت رامنځته شوی وي. د بېلګې په توګه د نړيوالو اړيکو د بحث مهم موضوعات عبارت دي له: د ځواک له مخې د نړۍ دوه قطبي نظام، د سويل او شمال شخړه، سړه جګړه، د ختيځ و لويديځ شخړه او داسې نور.(۴:م۱۷)

په پای کې په لنډه توګه ويلای شو چې د نړيوالو اړيکو ساحه که هر څومره پراخه شي او هر څومره بدلونونه په کې راشي، نو بيا هم له دې درېوو عناصرو له منځه شي وتلای چې عبارت دي له افراد، دولتونه او نړيوال نظام، همدا د نړيوالو اړيکو حدود دي.

Bawar.net



## دویم څپرکی
## د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو د بحث مهم مسایل

د دولتونو ترمنځ په خپلمنځي اړیکو کې ټول هغه مسایل تر بحث لاندې نیول کېږي چې په یو نه یو ډول یې اغېز د یو دولت له ساحې څخه وتې وي او اغېز یې نړیوال وګڼل شي. موږ دلته پر هغو مهمو مسایلو بحث کوو چې د د دولتونو ترمنځ په خپلمنځي اړیکو کې مهم وي.

### لومړی مبحث: لاسوهنه یا Interventionism

له لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته نړۍ له اقتصادي او عقیدوي پلوه په دوو بلاکونو ووېشل شوه او د درېیمې نړۍ هېوادونه د دوو زبرځواکونو د سیاسي لوبو او رقابتونو په ډګر بدل شول. هر یو خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د څمکو د پراختیا سیاسي او نظامي طرحې جوړې کړې او د نړیوالو نورمونو او د ملګرو ملتونو د منشور خلاف یې د هېوادونو د استعمارولو طریقې په کار واچولې، د نظامي تجاوز او مداخلې په وجه یې مستقل هېوادونه تر خپل حاکمیت لاندې راوستل، دا چې د یو هېواد حاکمیت ته صدمه رسول مداخله ګڼل کېږي، څکه مداخله هغه عمل دی چې د هغې له امله یو دولت په خپله خوښه او ارادې سره بې له کوم قانوني حق څخه یو بل مستقل دولت په دې مجبوروي چې په خپلو داخلي او خارجي سیاستونو کې د مداخله کوونکي دولت د نظریو او غوښتنو تابعیت وکړي.

Bawar.net



لاسوهنه بالاخره مسلحانه مداخلې ته لاره پرانېزي، مداخله کوونکی هېواد معمولاً هڅه کوي چې د سوله ییزو سیاسي اقداماتو له لارې پر یو هېواد خپلې نظریې او غوښتنې ومني؛ خو که له دې لارې یې موخې ترلاسه نه شي؛ نو بیا مسلحانه مداخلې ته اقدام کوي.

د نه مداخلې د اصل پر بنیاد اصولاً او اخلاقاً د یو دولت مداخله د بل هېواد په چارو کې د مداخله کوونکي هېواد حق نه شي ګڼل کېدای؛ ځکه د مداخلې له امله د یو هېواد استقلال او حاکمیت تر سوال لاندې راځي او د هغه هېواد اساسي حقوقو ته صدمه رسېږي؛ نو ویلای شو چې اصلاً د مداخلې حق وجود نه لري؛ بلکې باید د نه مداخلې اصل د هېوادونو مسوولیت وګڼل شي؛ ځکه هر هېواد د نړیوالو نورمونو او قوانینو پر بنسټ اختیار لري څرنګه چې وغواړي د خپل هېواد داخلي چارې په خپله خوښه او ارادې سره سمې تنظیم کړي او خپل بهرنی سیاست د هېواد د ګټو پر بناء اداره او سنبال کړي.

که چېرته هېوادونه دا اجازه ولري چې قوانین، عادات او روایات یا خپل سیاست پر بل هېواد تحمیل کړي؛ نو په حقیقت کې دا داسې مانا ورکوي چې اخري هېواد د خپلې ازادۍ او استقلال له منځه وړلو حق لومړي هېواد ته ورکړی. حال دا چې دا یو روښانه حقیقت دی چې د یو واحد قانون او اصولو تطبیق په ټولو هېوادونو کې یو رنګ ګټې نه رامنځته کوي، شاید هغه قوانین او مقررات د یو هېواد د سعادت سبب شي، ولې کېدای شي د یو بل هېواد د ګټو لپاره مفید نه وي او د هغوی له روایاتو، عاداتو او مذهب سره اړخ ونه لګوي؛ ځکه چې د هېوادونو ادارې او اجتماعي تګلارې اب و هوا او محیطي جوړښتونه سره بېل دي. د پورته نظریو په تایید سره باید دې ته اشاره وکړو چې تاریخ د تل لپاره د مداخلې بد اثرات او بدې پایلې په روښانه ټکو کې د ولسونو په مخ کې ایښې دي. کله کله داسې هم شوي چې یو دولت دومره قوي نه وي چې د مداخلې له لارې خپلو موخو ته ورسېږي، نو بیا له نورو لارو څخه خپلو موخو ته د رسېدا لپاره استفاده کوي. مثلاً ځینې ډلې یا افراد خپلو ګټو ته د رسېدو په بهیر کې دومره حریص وي چې کله یو پردی هېواد

Bawar.net


د ده په هېواد کې مداخله و کړي له همدې حالت نه په استفادې سره د ولس پر افکارو دومره کار کوي چې د هغوی مخه د خپلو موخو خوا تـه راوګرځـوي او خپلې مادي او مانوي ګټې ترلاسه کـړي. پـه ډېـرى وختونـو کـې تاسـې تـه معلومه ده هر هغـه دولـت چـې د بـل هېـواد پـه چـارو کـې مداخلـه وکـړي د نوموړي هېواد کرکه او کینه د خپل ځان پـه اړونـد راپـاروي، ولـو کـه مداخلـه کوونکی هېواد د مداخلې موخه هغه هېواد ته خدمت وي.(۱۰:م۷۷)

ځينې سياسيون د دخالت په اړوند ځينې دلايل وړاندې کوي او ترې دفـاع کوي، د مثال په ډول دوی په دې عقيده دي چې کلـه پـه يـو هېـواد کـې يـو انقلاب رامنځته شي؛ نو د هغه ګاونډ هېـواد پـه دې وېـره چـې پـاځون د دوی هېواد ته لمن خوره نه کړي؛ نو حق لري چې د پاځون د دفـع کولـو لپـاره لـه اولې هېواد سره مرسته وکړي. ځينې نور سياستپوهان پـه دې نظـر دي چـې د بشردوستۍ په خاطر کله چې په يو هېواد کې د لږکيـو حقـوق تـر پښـو لانـدې کېږي؛ نو بل هېواد حـق لـري د سرغړوونکـي هېـواد پـه خـاوره کـې مداخلـه وکړي، حال دا چې مداخله هغه وخت مشروع او جايز ګڼـل کېـږي چـې د يـو تړون د موادو له تطبيـق څخـه سرغړونـه شـوې وي. پـه دې پـوهېږو چـې هـر دولت د خپل نړيوال حيثيت او د خپلې خاورې د ساتنې پـه غـرض هـر ډول لازم اقـدام کـولای شي او دا اقـدام او عمـل يـې بايـد د خپلـې خـاورې او حاکميت په داخل کې وي، نه دا چې د يو راتلـونکي خطـر نـه د مخنيـوي پـه بهانه د بل هېواد استقلال او حاکميت ته صدمه ورسوي، که چېرتـه د مـداخلې اصل ته په پورته ذکر شوو حالاتو کې مشروعيت ورکړل شي؛ نو دا طبيعي خبـره ده چې په نړۍ کې به مداخله د تل لپاره جايز وګڼل شي او په دې صورت کې به د هېوادونو ازادي له خطر سره مخامخ او تل به د نورو هېوادونـو د مـداخلې ډګر وګرځي او د استقلال او حکمرانۍ حق به له منځه لاړ شي.

لاسوهنه يا مداخلـه پـه سياسـتپوهنه او نړيوالـو اړيکـو کـې يـوه ډېـره مهمـه موضوع ده، د لاسوهنې په پېژندنې سره موږ کولای شـو چـې د نړيوالـو اړيکـو

Bawar.net


اصلي بڼه وپېژنو، د دې لپاره چې د لاسوهنې په اړه ښه پوه شو، نو اړينه ده چې په لومړي قدم کې لاسوهنه وپېژنو:

## لومړی جز: د لاسوهنې پېژندنه

د اوپن هايم Oppenheim په نوم يو سياستپوه وايي: کله چې يو دولت د خپلو اتباعو د ګټو ساتنې په پار د بل دولت په مسايلو کې په امرانه ډول مداخله کوي، دې ته د يو دولت له خوا د بل دولت په چارو کې لاسوهنه ويل کېږي. يا هم د خپل هوډ د ترسراوي لپاره که يو دولت يا هم يو نړيوال سازمان د بل خپلواک دولت حالت بدلول غواړي، چې د دوی خوښ نه وي، يا هم موجوده حالت ساتل غواړي، چې د دوی په خوښه دی، لاسوهنه نومېږي.

د Jack C. Plano او Roy Olton په نومونو پوهان لاسوهنه داسې راپېژندلې ده چې: د يو هېواد يا هم يوې ډلې هېوادونو له خوا د بل هېواد کورنۍ او بهرنۍ پاليسي اغېزمنه کول د لاسوهنې په نوم يادېږي. يا هم د خپلو موخو او نظرياتو د تحميل لپاره د يو دولت له خوا د بل دولت داخلي او بهرنۍ پاليسي اغېزمنه کول لاسوهنه نومېږي.

## دويم جز: د لاسوهنې د توجيه حالات

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته چې د ملګرو ملتونو سازمان د منشور د لومړۍ مادې پر اساس پر نورو هېوادونو يرغل کول او تر خپل حاکميت لاندې راوستل منعه شول، نو د نړۍ زورورو هېوادونو په کمزورو هيوادو کې د خپلو موخو او ګټو د تعقيب او ترلاسه کونې په پار لاسوهنه پيل کړه او د نورو په داخلي او بهرنيو مسايلو کې لاسوهنه تر اوسه پورې ادامه لري، ځينې دولتونه خپلو دغه ډول اعمالو ته توجيهات پيدا کړي دي، ځينو سياستپوهانو هم لاسوهنه په بېلابېلو حالاتو کې توجيه کړې ده چې دغه حالات په لاندې ډول دي:

Bawar.net



**لومړۍ فقره: کله چې یو دولت د متحده سیاست له پرېکړو سرغړونه وکړي**

ځینې مهال دولتونه د خپلو ګټو په پار په متحده توګه د ځینو نړیوالو مسایلو په اړه پالیسي یا سیاست طرحه کوي او د یو ژمنلیک له مخې ټول ژمنه کوي چې دا پالیسي به تعقیبوي او عملي کوي، که پر دغه مهال یو دولت له دغې متحده پالیسۍ څخه سرغړونه کوي، نو نور دولتونه یا هم یو دولت که وغواړي چې پر هغه دولت خپل نظریات تحمیل کړي او یا یې هم بهرنۍ یا داخلي پالیسي تر تاثیر لاندې راولي، نو د دې نوعه لاسوهنې لپاره توجیه همدا ده چې نوموړي دولت پر خپله ژمنه نه دی ودرېدلی او سرغړونه یې تر

ې کړې ده.

**دویمه فقره: که نه لاسوهنه د یو دولت ملي امنیت او ځمکنۍ بشپړتیا ته خطر پېښوي**

دولتونه هڅه کوي چې په نړیواله کچه خپل ملي امنیت او ځمکنۍ بشپړتیا وساتي او ټول دولتونه د دې موخې لپاره سرګردانه دي، کله کله داسې هم کېږي چې د یو دولت له لوري د بل دولت ملي امنیت او ځمکنۍ بشپړتیا په خطر کې وي، نو له دې خطر څخه د ځان ژغورنې په پار تر خطر لاندې دولت کوښښ کوي چې د مقابل دولت پر سیاست خپل اغېز وساتي، په دې صورت کې خپل دغه اغېز یا لاسوهنه د خپل دولت د ملي امنیت یا ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې په پار توجیه کوي.

**درېیمه فقره: د خپلو اتباعو د ژوند د ساتنې په پار**

په نړۍ کې اوسېدونکي ټول خلک خامخا د یو دولت اتباع دي، د اوسنۍ نړۍ بڼه داسې ده چې د هر دولت ډېر شمېر اتباع له هېواده بېرون په نورو دولتونو کې ژوند کوي، کاروبار کوي، زده کړې کوي، رسمي دندې ترسره کوي، کله کله د کوربه دولت له خوا د یو دولت مېلمه اتباعو ته د ژوند

Bawar.net



خطرونه متوجه وي، مېلمه دولت غواړي چې د خپلو اتباعو د ژوند ساتنې په پار د کوربه دولت ملي حاکمیت یا هم بهرنۍ او داخلي پالیسۍ ته صدمه ورسوي او خپله دا لاسوهنه د خپلو اتباعو د ژوند د ساتنې په نوم توجیه کوي، د بېلگې په توگه ایران هر وخت افغان مهاجر نیسي، بندیانوي یې او کله کله یې هم لا مجازات کوي او شدید مجازات یانې اعدام وربانديې تطبیقوي، د ایران دا ډول اعمال د زیاترو افغانانو غوسه راپاروي او غندي یې، که د افغانستان دولت د بېلابېلو فشارونو له امله د ایران سیاست تر اغېز لاندې راولي، نو کولای شي چې خپلې دغې ډول لاسوهنې ته د خپلو اتباعو د ژوند ژغورنې نوم ورکړي.(۱۰:م۸٦)

## څلورمه فقره: که لاسوهونکی هېواد د یو تړون له مخې د لاسوهنې حق ولري

څینې مهال کمزوري او وروسته پاتې هېوادونه له قدرتمندو هېوادونو سره څینې ښکاره اوپټ تړونونه لاسلیکوي چې د هغوی مرستې او همکارۍ راجلب کړي، د دې تړونونو له مخې لومړي دولتونه دویمو دولتونو ته حق ورکوي چې د بهرني او داخلي پالیسیو په طرحه او تطبیق کې خپل نظر ځای کړي چې دا خپله هم یو ډول لاسوهنه ده، خو دا لاسوهنه د همکارۍ او مرستو د تړون پر اساس کېږي، د بېلگې په توگه داسې ویل کېږي چې پاکستان له امریکا سره یو پټ تړون لري چې له مخې یې امریکا ته دا حق ورکړل شوی دی چې پر قبایلي سیمو د بې پیلوټه الوتکو بریدونه وکړي، یا هم دا اوس چې له امریکا سره د ستراتیژیکوهمکاریو سند او د دې سند له مخې امنیتي او دفاعي تړون لاسلیک شو، د دې تړون له مخې به امریکا د افغانستان په سیاست کې د خپل نظر ور موارد وخاري او ځای ځای یې تحمیل هم کړي.

Bawar.net



**پنځمه فقره: که چېرې یو دولت د بین المللي حقوقو له اصولو او یا هم له کوم نړیوال تړون څخه سرغړونه وکړي**

د نړیوالو حقوقو ځینې اصول یا هم ځینې نړیوال تړونونه چې هېوادونو د لاسلیک له لارې ورسره یو ځای شوي وي او اجراء یې پر ځان منلي وي، نو که چېرې دغه ډول اصول د یو دولت له خوا ماتېږي یا هم یو تړون ماتوي، نو نور دولتونه ځان ته دا حق ورکوي چې په نوموړي دولت کې لاسوهنه وکړي، د بېلګې په توګه د ملګرو ملتونو د منشور لومړۍ ماده وايي چې پر نورو دولتونو تېری او تجاوز منعه دی، نو که څوک په یو دولت تېری او تجاوز کوي، د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه کولای شي چې پر هغه دولت سیاسي، اقتصادي او ... بندیزونه ولګوي یا هم د خپلو سوله ساتو ځواکونو په واسطه پر نوموړي دولت حمله وکړي.

**شپږمه فقره: کله چې د یو دولت له خوا نړیوالې سولې ته خطر متوجه وي**

ځینې دولتونه د خپلو کیمیاوي وسلو جوړولو له امله یا هم د نړیوالو ترهګریزو ډلو د حمایې له امله نړیوالې سولې او امنیت ته خطر پېښوي، په دې صورت کې هم نړیواله ټولنه یا هم د ملګرو ملتونو سازمان کولای شي چې د نوموړي دولت په چارو کې مداخله وکړي، تر څو د نړۍ سولې او امنیت ته د متوجه خطر مخه ونیسي.

**اوومه فقره: که چېرې یو دولت د بل دولت تر قیمومیت لاندې وي:**

په دې صورت کې هم لومړی دولت حق لري چې په دویم دولت کې لاسوهنه وکړي.

Bawar.net


## دریم جز: د لاسوهنې اصلي شکل کوم وخت ښکاره کېدای شي؟

### لومړۍ فقره: لاسوهنه باید د یو مستقل دولت په امورو کې شوې وي چې هغه دولت د حاکمیت لرونکی وي

که چېرې مداخله د یو داسې دولت په چارو کې وي چې هغه دولت له مداخله کوونکي دولت سره په اتحاد کې شامل وي یا هغه دولت د مداخله کوونکي دولت تر تسلط لاندې وي؛ نو په دې صورت کې مداخلې ته مداخله نه ویل کېږي. د بېلگې په توگه متحد دولتونه چې د هر یوه عضوه دولت د خاورې بشپړتیا په متحدو دولتونو پورې تړلې او د مقرراتو او اساسي قانون ساتنه د متحدو دولتونو حکومتونو ته سپارل شوې وي. نو ویلای شو چې په هغو حالاتو کې چې د متحدو دولتونو د یو غړي دولت پر خاوره یا اساسي حقوقو تېری وشي؛ نو بیا د متحدو دولتونو حکومت حق لري چې د غړي دولت له حقوقو څخه دفاع وکړي، دا ډول دفاع ته دخالت نه، بلکې د متحدو دولتونو مسوولیت او وجیبه ویل کېږي یا د یو بې طرفه دولت بې طرفي د یو تعداد دولتونو له خوا تضمین شوي وي او څوک د هغوی بې طرفی ته صدمه رسوي؛ نو په دې صورت کې ضمانت کوونکی دولت هم حق لري چې د بې پرې دولت د بې طرفی اصل له تجاوز څخه وساتي او باید مداخله وکړي، چې دې ډول مداخلې ته مشروع مداخله وايي.

### دویمه فقره: لاسوهنه یوازې او یوازې د مداخله کوونکي دولت په ارادې سره رامنځته شوې وي

که چېرې مداخله د طرف مقابل دولت په غوښتنه او رضایت سره شوې وي، بیا هم دغه عمل مداخله نه گڼل کېږي. همدرانگه که مداخله د یو حق د لاسته راوړلو لپاره شوې وي چې هغه حق د یو تړون یا د نړیوالو روایاتو پر بنیاد مداخله کوونکي دولت ته ورکړل شوی وي؛ نو دا ډول عمل هم مداخله نه گڼل کېږي.

Bawar.net


**درېیمه فقره: مداخله په هغه صورت کې مداخله ګڼل کېږي چې مداخله کوونکی دولت خپله غوښتنه او اراده په طرف مقابل دولت قبلول غواړي**

که چېرې مداخله کوونکی دولت د طرف مقابل دولت په اړوند یوازې په نظر ورکولو اکتفاء وکړي او نوموړی دولت د مداخله کوونکي دولت د غوښتنې پر وړاندې دا اختیار ولري چې د هغه اراده او غوښتنه قبلوي یا یې ردوي؛ نو په دې صورت کې مداخله نه رامنځته کېږي.

**څلورم جز: د نه مداخلې په اصل کې ځینې استثناءت واردول**

په دې هکله د حقوقپوهانو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی.

۱. یوه ډله پر دې باور دي چې په هېڅ ډول مداخله مشروع عمل نه شي ګڼل کېدای، ځکه چې مداخله د استقلال او حاکمیت له اساسي اصل سره په ټکر کې ده.

۲. بله ډله وایي چې په ځینو خاصو مواردو او حالاتو کې باید مداخله جایز وګڼل شي، ولې د دې دویمې ډلې ترمنځ د استثنایي مواردو د تعینولو په اړوند د نظر اختلاف موجود دی.

۳.درېیمه ډ له په دې عقیده ده چې مداخله هغه وخت مشروع ده چې د بشردوستۍ په خاطر شوې وي، لکه د ځینو انسانانو د مال او ژوند د نجات لپاره یا د هغوی د عقیدې او مذهب د ازادۍ لپاره وي.

٤. څلورمه ډله مداخله هغه وخت مشروع بولي چې د ډېری هېوادونو د ګډ تصمیم له امله رامنځته شوې وي.

٥. بالاخره وروستۍ ډله سیاسیون مداخله په هغه صورت کې جایزه ګڼي چې د مداخله کوونکي هېواد د حیثیت او ګټو پر وړاندې وېره موجوده وي او له خپلې نظریې څخه د دفاع په منظور دا دلیل راوړي چې د بین المللي جامعې په اصولو کې راغلي چې د هر دولت استقلال په هغه صورت کې په امن کې پاتې کېږي چې د نورو استقلال او ازادۍ ته درناوی ولري، هر کله چې یو دولت د خپل خارجي او داخلي سیاست په جوړولو کې د بل دولت د

Bawar.net


حيثيت حق ته صدمه ورسوي، اخري دولت حق لري چې له ټولو لازمو اقداماتو څخه کار واخلي چې په دې کې حتى د مداخلې حق ورته هم مشروع کېدای شي.

### پنځم جز: د لاسوهنې بڼې (شکلونه)

د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې سياستپوهانود ځينو هېوادونو په داخلي او بهرنيو چارو کې د مداخلې ډولونه ذکر کړي دي چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

د يو هېواد په داخلي او خارجي چارو کې مداخله ممکن د هېواد په اساسي تشکيلاتو، مالي چارو او يا هم په اداري برخو کې وي، زه دلته نوموړې مداخلې په مختلفو صورتونو کې تشريح کوم.

### لومړۍ فقره: د هېواد په اساسي تشکيلاتو کې مداخله

دا ډول مداخله په دې خاطر صورت نيسي- چې مداخله کوونکی هېواد صرف مقابل هېواد دې ته مجبوروي چې په خپل اساسي قانون کې د هغوی په ګټه ځينې مادې ځای پر ځای کړي او يا پرې داسې حکومت ور وتپي چې د مداخله کوونکي هېواد لاسپوځی حکومت وي.

### دويمه فقره: د يو هېواد د اساسي قانون په برخه کې مداخله

دا ډول مداخله د يو هېواد د اساسي قانون د جوړولو يا هم د هغه د ځينې احکامو د تعديل لپاره کېږي، لوی او مقتدر هېوادونه معمولاً په وروسته پاتې اسلامي هېوادونو باندې له بېلابېلو اړخونو څخه فشار راوړي چې په خپلو اساسي قوانينو کې داسې احکاماتو ته ځای ورکړل شي چې د هغوی په خوښه وي. دا کار دوی د خپلو لاسپوڅو مشرانو او د قانون جوړونې په مراجعو کې د خپلو اجنټانو په واسطه کوي. که ځينې هېوادونه په خپلو اساسي قوانينو کې محکم او د اسلام د اساساتو سره سم مواد لري، نو د عوامو د مظاهرو او اعتراضونو له لارې د دغه ډول مادو د تعديل لپاره مداخله کېږي.

Bawar.net



## درییمه فقره: په مالي امورو کې مداخله

په نړیوال کچ ځینې هېوادونه له ځینو نورو هېوادونو څخه پیسې په پور اخلي، کله چې مدیون دولت د داین هېواد پور له ژمنې سره سم ورنه کړي؛ نو په تکرار سره داسې حالت رامنځته شي چې پور ورکوونکی هېواد د خپل ولس د ګټو د ساتنې له امله په مدیون هېواد کې مداخله وکړي، دا ډول مداخله ډېره په شدت او غضب سره وي او کله نرمه او دوستانه او ځینې وختونه یوازې په سیاسي فشار هم اکتفاء کوي. کله داسې هم شوي دي چې یو نړیوال کمیسیون ته دنده سپارل شوې چې د مدیون هېواد مالي امور تر نظارت لاندې ونیسي چې یو وخت د دې جوګه شي چې د داین هېواد پور ورکړي. ځینې علماء دغه ډول مداخله مشروع نه ګڼي، ځکه د هېوادونو د استقلال (د حق اصل) سره په ټکر کې ده، مګر ځینې نور علماء دلیل راوړي چې دولتونه د خپلو اتباعو د حقوقو او ملي پانګې د ساتنې په منظور دا ډول مداخله مشروع ګڼي.

## څلورمه فقره: په اداري چارو کې مداخله

د یو هېواد په اداري چارو کې له مداخلې څخه موخه دا وي چې مداخله کوونکی هېواد غواړي چې یو بل هېواد په دې مجبور کړي چې خپلې اداري چارې داسې اصلاح کړي چې د مداخله کوونکي هېواد د وګړیو حقوق خوندي پاتې شي، دا ډول مداخله د ترکیې هېواد په اداري چارو کې څو څو خله شوې ده. همدارنګه په کال ۱۹۶۰م د الجزایر قرارداد پر بنسټ د نظم د راوړلو په نوم یوه قوه جوړه شوه چې په مراکش کې د خارجیانو د مال او ځان د ساتنې لپاره مداخله وشوه چې دا ډول مداخله د یو هېواد په اداري چارو کې مداخله ګڼل کېږي.(۴۵:م۱۱)

Bawar.net


## پینځمه فقره: د یو هېواد په خارجي چارو کې مداخله

په کال ۱۸۹٤م کې د اروپا لویو دولتونو د جاپان په خارجي چارو کې مداخله وکړه، دا هغه وخت و چې جاپان د چین د خاورې ځینې برخې تر خپل تسلط لاندې راوستې وې، نوموړو هېوادونو جاپان دې ته اړ وېسته چې د چین له خاورې څخه نیول شوې برخې چین ته وسپاري او هم نغدي تاوان ورته ورکړي. په کال ۱۹۱٤م کې د لومړۍ نړیوالې جګړې په بهیر کې د ځینو هېوادونو په خارجي برخو کې مداخلې وشوې، لکه په کال ۱۹۱۷م کې د متفقینو د یونان پاچا کنستانتین چې د هغوی د غوښتنو خلاف یې په جګړه کې برخه وانخیسته، د قدرت له ګدۍ څخه یې لرې کړ، همدرانګه د لومړۍ نړیوالې جګړې ګټونکو هېوادونو په کال ۱۹۱۸م کې په روسیه کې مداخله وکړه چې د بلشویکي نظام له ظلم څخه د روسیې د دهقانانو حمایت او ساتنه وکړي، په هر صورت مداخله که په هر عنوان او بهانه وي د یو هېواد د استقلال او ازادۍ او ملي حاکمیت له اصل سره مخالف عمل دی چې همدغه مداخله یوه ورځ د نړیوالو اړیکو د خرابېدو لامل ګرځي او جګړې ته لاره پرانیزي.

## شپږم جز: د لاسوهنې ډولونه

لاسوهنه یا مداخله ډېر ډولونه لري، موږ یې له دوو اړخونو (شدت او خفت) یا نرمه لاسوهنه او ګرمه لاسوهنه په نومونو لاندې ډولونه لولو:

### لومړۍ فقره: نرمه لاسوهنه

نرمه لاسوهنه د یو هېواد په چارو کې هغې لاسوهنې ته ویل کېږي چې په حقیقت کې لاسوهنه نه ښکاري، په ښکاره لاسوهونکی هېواد یو شمېر نورې موخې ښکاره وي، خو په حقیقت کې غواړي له نرمو لارو څخه خپل فکر و نظر پر بل هېواد تحمیل کړي او و یې مني، دا ډول لاسوهنه له لاندې لارو څخه ممکنه ده او کېږي.(۷:م۱۱٦)

Bawar.net


۱. له فرهنګي او علمي لارو څخه.
۲. د رسنیو له لارې
۳. د لاریونونو، غونډو او کنفرانسونو له لارې
٤. د سیاسي ګوندونو د ملاتړ له لارې
۵. د موسساتو او خیریه مرستندویه ادارو له لارې
٦. د سوداګرۍ او نورو اقتصادي فعالیتونو له لارې

## دویمه فقره: ګرمه لاسوهنه

د لاسوهنې هغه ډولونه په ګرمه لاسوهنه کې راځي چې د لاسوهونکي هېواد موخه هم لاسوهنه وي او په ښکاره هم داسې ښکاري چې یو هېواد د بل هېواد په چارو کې لاسوهنه کوي، دا ډول لاسوهنه له لاندې لارو څخه ممکنه ده او کېږي هم.(۲۷:م۳٦)

۱.د پټو اجنټانو له لارې (جاسوسي)
۲.د ښکاره اجنټانو او مشاورینو له لارې
۳.د نظامي او عسکري ځواکونو پر مټ
٤.د مخالفو وسله والو ډلو د ملاتړ له لارې
۵.د ترهګریزو ګروپونو د جوړونې او ملاتړ له لارې
٦.د اقتصادي بندیزونو لګولو له لارې
۷.د خپلو ډیپلوماټیکي نماینده ګیو د تړلو له لارې

## دویم مبحث: ډیپلوماټیکي اړیکې

ډیپلوماټیکي اړیکې د دولتونو ترمنځ رسمي سیاسي اړیکو ته ویل کېږي، همدا اړیکې دي چې په رسمي توګه یې ټول دولتونه له یو بل سره تړلي دي، یو د بل مرستو او همکاریو ته یې هڅوي، په اوسنۍ نړۍ کې بریالي دولتونه هغه دي چې له ډېرو دولتونو سره یې خپلې دوه اړخیزې اړیکې جوړې کړې وي. ډیپلوماټیکي اړیکې هم د نړیوالو اړیکو د بحث یوه مهمه موضوع ده،

Bawar.net


دومره مهمه چې موږ د ډیپلوماټیکي اړیکو له لوستنې څخه پرته په حقیقت کې نړیوالې اړیکې نه شو لوستلای، یانې ډیپلوماټیکي اړیکې د نړیوالو اړیکو اساس او پایه ده.

## لومړی جز: د ډیپلوماټیکي اړیکو پېژندنه

لکه څرنګه چې انسانان په طبیعي توګه له نورو انسانانو سره اړیکو جوړولو، پاللو او ساتلو ته اړ دي، همدغسې دولتونه هم مجبور دي چې په خپلو منځونو کې اړیکې جوړې کړي، ویې پالي او ویې ساتي، د دولتونو ترمنځ اړیکو ته رسمي یا ډیپلوماټیکي اړیکې هم ویل کېږي. لکه چې انسانان هم د خپلې ارادې او خوښې له مخې د خپلو اړیکو لپاره نور انسانان غوره کوي، همدغسې د دولتونو تر منځ په اړیکو کې هم د دولتونو اراده او غوښتنه مهمه ده. د دولتونو اراده، میلان او غوښتنه د ډیپلوماټیکي اړیکو لومړنی شرط دی چې معمولاً دولتونه خپله اراده او میلان یو د بل په رسمیت پېژندنې باندې څرګندوي. پوهېږو چې دولتونه حقیقي اشخاص نه دي، بلکې حکمي یا حقوقي شخصیتونه دي، نو د دولتونو ترمنځ ډیپلوماټیکي اړیکې هم د حقیقي اشخاصو په واسطه جوړېږي، خو دا حقیقي اشخاصو بیا هر عمل د خپل دولت په استازیتوب او د خپل دولت په نوم باندې کوي او دا ناشونې ده چې د حقیقي اشخاصو له دخالت پرته دې د دولتونو ترمنځ اړیکې ټینګې شي.

ډیپلوماټیکي اړیکې په حقیقت کې د نورو اړیکو لپاره پیلامه ده، په دې مانا که چېرې دوه دولتونه په خپلو کې ډیپلوماټیکي اړیکې ونه لري، نو د هغوی وګړي او ادارې له دولت څخه په ټیټه سطحه نه شي کولای په خپلو کې سره غوره اړیکي ولري، د بېلګې په توګه که د دوه دولتونو د پوهنتونونو ترمنځ کوم تړون او تفاهم لیک لاسلیکېږي، نو د دوارو دولتونو سفارتونه، یا هم وزارتونه باید په جریان کې اوسي او د دغو دولتي ادارو له همکارۍ څخه پرته ناشونې ده چې د دوه دولتونو پوهنتونونه دې په خپلو کې سره هوکړه لیکونه لاسلیک

Bawar.net



کړي. یا هم که چېرې د یو دولت یو شرکت له بل دولت څخه کارکوونکي راغواړي، نو مجبور دی چې له خپل دولت څخه کارکوونکیو ته وېزې واخلي.

که وغواړو د دولتونو ترمنځ ډیپلوماټیکي اړیکې په لنډو عبارتونو کې وپېژنو؛ نو ویلای شو چې ((له خپل قلمرو څخه بېرون د یو دولت رسمي کړنو او له نورو دولتونو سره رسمي اړیکو ته ډیپلوماټیکي اړیکې ویل کېږي)) یا هم ((ډیپلوماټیکي اړیکې د دولتونو له بهرنیو سیاسي اړیکو څخه عبارت دي)). په سیاسي بحثونو او د سیاست په ځینو کتابونو کې ډیپلوماټیکي اړیکو ته سیاسي اړیکې هم وایي، ځکه چې ډیپلوماټیکي اړیکې په حقیقت کې د دولت د بهرني سیاست یا پالیسۍ د انفاذ اړخ دی، نو په دې خاطر هغوی چې د ډیپلوماټیکو اړیکو جوړولو او پاللو لپاره هلې ځلې کوي، سیاسي مامورین بلل کېږي. (ډیپلوماټیکي) لفظ په حقیقت کې د دولت د بهرنیو اړیکو صفت دی؛ خو د دغو اړیکو د اداره کولو ډول ته بیا (ډیپلوماسي) ویل کېږي، چې په ګرامري لحاظ اسم دی. ډیپلوماسي په حقیقت کې له هېواده بېرون د نورو دولتونو پر وړاندې د دولت د سیاست اجرا او عملي کولو ته وایي.

### دویم جز: د ډیپلوماټیکي اړیکو د رامنځته کېدا شرایط

د دولتونو ترمنځ د ډیپلوماټیکي اړیکو د جوړېدا لپاره د یو لړ شرایطو شتون اړین دی، د دغو شرایطو د شتون له امله مونږ حکم کولای شو چې دا اړیکې ډیپلوماټیکي اړیکې دي.

#### لومړی فقره: دولت والی

د ډیپلوماټیکي اړیکو د جوړېدو لپاره لومړنی شرط د بین المللي حقوقو د اصولو له مخې (دولت والی) دی، یانې دا ډول اړیکې د نورو ارګانونو ترمنځ نه شي جوړېدای، تر هغې پورې چې په یو ارګان د بین المللي حقوقو د اصولو له مخې د دولت حکم ونه شي. د بین المللي حقوقو د اصولو له مخې پر یو بین المللي واحد یا ارګان باندې هغه مهال د دولت حکم کېدای شي، نو نورو

Bawar.net



بین المللي واحدونو یا دولتونو هغه د یو دولت په توګه په رسمیت پېژندلی وي.

رسمیت پېژندنه په دوه ډوله ترسره کېدای شي، یو ډول یې صریحه رسمیت پېژندنه ده چې په ښکاره توګه یو دولت خپل استازی بل دولت ته استوي، هلته خپله نماینده ګي جوړوي او اعلانوي چې A یا B دولت په رسمیت پېژني، دویم ډول یې ضمني رسمیت پېژندنه ده، چې په دې ډول کې دولت یا دولتونه په ښکاره د یو بل دولت د رسمیت پېژندنې اعلان نه کوي او نه هم ورته خپل استازی ورلېږي، بلکې همدا چې د ملګرو ملتونو سازمان کې هغه دولت غړیتوب اخلي، دی ورسره خپل مخالفت نه ښکاره کوي، دې ته ضمني رسمیت پېژندنه وایي. د بین المللي حقوقو د اصولو له مخې خپلواکي او د نورو تر اغېز لاندې نه موجودیت هم د (دولت والي) یو بل شرط دی، هغه بین المللي واحدونه چې په داخلي یا هم بهرنیو چارو کې د خپل واک او صلاحیت خاوندان نه وي او د نورو دولتونو تر اغېز لاندې وي، هغوی خپلواک نه ګڼل کېږي او د بین المللي حقوقو اصول پرې د دولت حکم هم نه کوي.

د نړۍ زیاتره دولتونه خپلواک او پېژندل شوي واحدونه دي، چې ټول د بین المللي حقوقو په موجوده سیستم کې د ورته او مساوي حقوقو او مکلفیتونو لرونکي دي او د اصولو له مخې دغه دولتونه چې بین المللي حقوقي شخصتونه لري، له نورو خپلواکو واحدونو سره د اړیکو په رامنځته کولو، غوځولو او تغیرولو کې تام او بشپړ صلاحیت لري. البته له هغه حالت څخه په استثناء، چې د بین المللي حقوقو د قواعدو او مقرراتو یا هم تړونونو پر بنسټ منعه شوي وي. د بېلګې په توګه کولای شي له یو بل خپلواک دولت سره ډیپلوماټیکي، سوداګریزې، کونسلي او مالي اړیکې وساتي او یا هم نظامي اتحادیې ورسره رامنځته کړي او دفاعي تړونونه ورسره لاسلیک کړي. ولې هغه څه چې عمومي تړونونو منعه کړي دي، هغه اعمال سرته نه شي رسولی. د

Bawar.net


بېلګې په توګه هېڅ هېواد نه شي کولای د غلامانو د پلور او پېر تړون لاسلیک کړي.

ځینې داسې دولتونه هم شته، چې حقوقي شخصیت لري او له نورو دولتونو سره د اړیکو ساتلو صلاحیت هم لري، البته یوازې په هغه ساحه کې چې خصوصي تړونونو اجازه ورکړې وي. د بېلګې په توګه واتیکان دولتورته بېله لري، چې په همدې بڼه په بین المللي ټولنه کې پېژندل شوی هم دی او له اکثرو هېوادونو سره ډیپلوماتیکې اړیکې او د دوستۍ تړونونه لري؛ خو بیا هم د ملګرو ملتونو سازمان غړی نه دی او نه شي کولای له نورو دولتونو سره نظامي اړیکې یا دفاعي او سیاسي تړونونه لاسلیک کړي. یا هم د سویس کنفدراسیون، سره له دې چې خپلواک دولت دی، کولای شي له نورو دولتونو سره ځینې اړیکې ولري؛ خو د دفاعي او نظامي تړونونو اجازه نه لري؛ ځکه دا کار یې له بین المللي بې طرفۍ سره په ټکر کې راځي. دا هېواد د ملګرو ملتونو سازمان غړی هم نه دی؛ ځکه شونې ده، چې په دې سازمان کې د یو غړي هېواد په اړه د نظامي دخالت تصمیم ونیول شي، چې دا یې هم له ناپلوۍ سره یو مخالف عمل دی. تر حمایت لاندې یو دولت هم، سره له دې چې بین المللي حقوقي شخصیت لري، خو صلاحیتونه یې زیاتره نامحدود نه وي.

### دویمه فقره: خپلمنځي رسمیت پېژندنه

په بین المللي ټولنه کې کله چې یو دولت رامنځته کېږي، نه شي کولای په خپله له نورو دولتونو سره له ډیپلوماتیکي حقوقو څخه برخمن شي، مګر هغه وخت چې مخکې له مخکې یې نورو دولتونو شتون په رسمیت پېژندلای وي. د یو نوي دولت په رسمیت پېژندل کوم مکلفیت نه دی او عملاً نشو کولای نوي دولتونه مجبور کړو، چې د رسمیت پېژندنې غوښتنه دې وکړي او یا دې هم زاړه دولتونه مجبور وي، چې د نویو دولتونو شتون په رسمیت وپېژني.

Bawar.net

ډیپلوماتیکي ماموریت ته کلب اچوي او خپل مامورین خپل هېواد ته ورغواړي، دا هم د ډیپلوماټیکي اړیکو د پرېکون یو ډول دی او ممکن تر هغه دوام وکړي چې کوربه دولت ورته قناعت ورکړي او یا هم واک ته رسېدلی نظام له منځه لاړ شي.

## دریم مبحث: بشري حقونه

### لومړی جز: د بشري حقونو پېژندنه

بشري حقوق له دوو کلیمو څخه ترکیب شوي دي، بشر- او حقوق، له بشر- څخه هدف انسان دی؛ هغه که د هر قوم، رنګ، ژبې، نژاد، جنس، مذهب او ډلې پورې اړه ولري او حقوق د حق جمع ده، چې د ریښتیا، باطل ضد، عدل، احسان، حقیقت او واقعیت ... معنا لري، نو بشري حقوق په دې ډول تعریفولی شو:

لومړی تعریف: بشري حقوق حداقل د هغو اقتصادي،سیاسي،فرهنګي او ټولنیزو اړتیاوو څخه عبارت دي، چې ټول انسانان حق لري د هغې غوښتنه وکړي او ګټه ترینه واخلي.

دویم تعریف: بشري حقوق هغه بنسټیز او نه انتقالیدونکي حقوق دي، چې د انسان د ژوند لپاره اساسي تلقي شوي وي.

دریم تعریف: بشري حقوق هغه فطري، لازمي او نه بېلونکې ځانګړتیاوې دي، چې انسان ته د هغه د انساني کرامت او آزادیو د خوندیتوب لپاره ورکړل شوې دي او د دولتونو له خوا په اساسي قوانینو کې تسجیل شوې او پلي کېږي.

څلورم تعریف: بشري حقوق هغه حقوق دي، چې انسانان یې د انسانیت پر اساس لري.

پنځم تعریف: د پورته تعریفاتو په نظر کې نیولو سره کولی شو بشري حقوق په لاندې ډول تعریف کړو.

Bawar.net


بشري حقوق د يو لړ حقوقو او آزاديو ټولګه ده، کوم چې د شخصي-، اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي ژوند په ساحو کې د انسان د ژوند اساس جوړه وي او د انسان له شخصيت څخه بېلوالی يې ناممکن وي او هر انسان د انسانولۍ او په ټولنه کې د غړيتوب په اساس له هغې څخه برخمن وي او يو انسان نه شي کولی پرته له هغې څخه ژوند وکړي.

که پورتنيو تعريفاتو ته زير شو؛ نو د بشري حقوقو موضوع او اصلي ماهيت انسان، انساني کرامت او د ده اړونده حقوق دي.

د افغانستان د ۱۳۸۴المريز کال د بشر-د حقوقو د خپلواک کميسيون د تشکيل، دندو او واکونو د قانون د څلورمې مادې پر اساس د بشري حقوقو مفهوم داسې افاده شوي (د دې قانون په مفهوم د بشر حقوق، د اتباعو د هغو بنسټيزو حقوقو او آزاديو څخه عبارت دي، چې په اساسي قانون، نړيوالو اعلاميو، ميثاقونو، قراردادونو، پروتوکولونو او د بشر د حقوقو په نورو نړيوالو سندونو کې چې افغانستان يې په پام کې نيولو او تطبيق ته ژمن دي، تسجيل شوي وي).

## څلورم مبحث: د بشري حقوقو ځانګړتياوې

د نورو انساني علومو په څير بشري حقوق هم يو لړ ځانګړتياوې او صفات لري کوم چې دغه رشته د نورو علمي او حقوقي رشتو څخه بېلوي او د بشري حقوقو په بنه پوهېدنه کې له موږ سره مرسته کوي؛ بشري حقوق ډېرې ځانګړتياوې او صفات لري؛ خو موږ يې مهمې او اساسي ځانګړتياوې په لاندې ډول تر بحث لاندې نيسو:

### لومړی جزء: بشري حقوق عمومي او نړيوال دي

بشري حقوق يوه عمومي او نړيواله رشته ده، په همدې اساس د ټولې نړۍ خلک د دې څخه ګټمن کېدای شي، يعنې بشري حقوق د يوې ټولنې او يوې محدودې جغرافيې پورې تړلي نه دي؛بلکې د طبيعي او مسلمو حقوقو په

Bawar.net



حیث د انساني ټولنې هر غړی ورځخه برخمن دداو برخمن کېدای ي، هر انسان پرته له دې نه چې ژبه، نژاد، جنس، مذهب او جغرافیه یې په نظر کې ونیول شي د دغو حقوقو څخه برخمن کېدای شي.

## دویم جزء: بشري حقوق نه انتقالیدونکي دي

په دې معنی چې د انسان د حقوقو او آزادیو بېلوالی د انسان له شخصیت څخه ممکن نه دی، څکه پرته د دغو حقوقو او آزادیو نه شو کولی یو چاته انسان ووایو، همدغه حقوق او آزادې دي، چې یو شخص ته انساني کرامت او حیثیت ور په برخه کوي او شخصیت ته یې وده ورکوي.

((هېڅ انسان نه شي کېدای چې له خپلو ذاتي حقوقو څخه محروم شي دا که د قانون جوړونکي له خوا وي او که خپله د ده په واسطه وي)). لنډه دا چې هېڅ دولت او هېڅوک نه شي کولی چې فرد مجبوره کړي، چې له خپلو حقوقو څخه صرف نظر وکړي یا دا چې ټول یا د هغې یوه برخه نورو ته انتقال کړي، حتی خپله شخص هم نه شي کولی چې دغه حقوق او آزادې له خپل ځان څخه سلب او یا نورو ته ورکړي. اما په ځانګړو او استثنایي حالاتو کې دغه حقوق سلب کېدای شي. مثلا د یو شخص د آزادی حق هغه وخت سلبېږي کله چې شخص د یو جرم مرتکب وګرځي او د محکمې له خوا په دغه شخص باندې د حبس حکم وشي او یا د یو شخص د ژوند حق هغه وخت سلبېږي کله چې دغه شخص عمداً یو نفس قتل کړی وي او د محکمې له خوا پر دغه مجرم باندې د قصاص حکم شوی وي.(۱۷:م۸۹)

## دریم جزء: بشري حقوق مساوي دي

دغه اصل د انساني کرامت او حیثیت څخه نشاءت کوي، په دې معنی چې ټول انسانان د بشري حقوقو او آزادیو څخه په ګډه اخیستنه کې سره برابر او مساوي دي، ژبه نژاد، جنس، قوم، ملیت، شتمني، منصب، سیاسي یا دیني رتبه، دین او مذهب او نورې طبیعي او ټولنیزې پدیدې نه شي کولی، چې د

Bawar.net


یو انسان برتري په بل انسان باندې ثابته کړي، ټول د قانون پر وړاندې مساوي دي او قانون د ټولو د حقوقو او آزادیو څخه په یو ډول حمایت کوي.

## څلورم جزء: بشري حقوق یو له بل سره تړلي دي

بشري حقوق یو له بل سره لازم او ملزوم دي او په ګلي ډول دغه حقوق یو بشپړ چوکاټ حسابېږي او له دغه حقوقو څخه د یو کمېدل انساني ژوند نیمګړی کوي. مثلا که له یو فرد څخه د ژوند حق یا د کار حق سلب شي؛ نو دغه عمل د انسان په نورو حقوقو او آزادیو باندې تاثیر کوي او له رکود سره یې مخامخ کوي. مثلا د انسان ټول حقوق او آزادی د انسان په ژوند پورې تړلي دي، یعنې ژوند دا نسان د ټولو حقوقو لپاره اساس جوړه وي.

## پنځم جزء: د بشري حقوقو د اجراء ضمانت

بشري حقوق او آزادي باید اجرا او په عمل کې تطبیق شي په همدې خاطر یو لړ تدابیر باید په پام کې ونیول شي.بنا د بشري حقوقو د اجرا ضمانت په ملي او بین المللي کچه هغه لازمي او ضروري اقدامات دي، کوم چې د بشري حقوقو د اجرا او عملي کولو لپاره په لاره اچول کېږي. ځکه د اخلاقي او نورو ټولنیزو قواعدو په پرتله د حقوقي قواعد یوه ځانګړتیا د هغه الزامي والی دی کوم چې د دولت له خوا ترسره کېږي.(۴۹:م۵۳)

د اجرا دغه ضمانت په دوو شکلونو تحقق مومي:

لومړی پراګراف : په ملي سطحه د اجرا ضمانت.

دوهم پراګراف : په بین المللي سطحه د اجرا ضمانت.

### لومړی پراګراف : په ملي سطحه د بشري حقوقو د اجرا ضمانت :

په ملي سطحه د بشري حقوقو د اجرا ضمانت په خپل وار په درېو برخو ویشل کېږي:

Bawar.net


لومړۍ فقره: حقوقي ضمانت:

دویمه فقره: ټولنیز او مادي ضمانت.

دریمه فقره: سیاسي ضمانت.

چې هر یو به یې په تفصیل سره تر بحث لاندې ونیسو.

## لومړۍ فقره: حقوقي ضمانت

په دې معنې چې د افرادو بشري حقوق او آزادي باید په اساسي قوانینو او نورو قوانینو کې درج شي او د حقوقي نقطې له نظره رسماً په رسمیت وپېژندل شي. همدارنګه له دغو بشري حقوقو څخه د استفادې طریقې، د هغې د نقضولو د مخنیوي لارې چارې او د نقض عواقب په قوانینو کې تسجیل شي؛ چې دغه تعامل تقریباً د نړۍ د اکثره هېوادونو په خپلو اساسي او عادي قوانینو کې منلي دي.

## دویمه فقره: ټولنیز او مادي ضمانت

دا په دې معنی دی، چې د افرادو یو شمېر حقوق او آزادې اجتماعي جنبه لري او فرد په یواځې سر نه شي کولی چې د هغېله نقضولو څخه مخنیوی وکړي او یا له هغې څخه د ګټې زمینه ځان ته برابره کړي؛ بلکېپه دې برخه کې د دولت او ټولنې مرستې ته اړتیا لري؛ نو بناء د دغې برخې د حقوقو او آزادیو تضمین او له هغې څخه د ګټې زمینه سازي باید ټولنه او په سر کې دولت سرته ورسوي.

مثلاً: روغتیائي خدمات، ښوونیز خدمات، کار موندنه او نور هغه بشري حقوق دي، چې فرد په لومړي قدم کې په یواځې سر نه شي کولی هغه ترسره کړي همدارنګه د دغې برخې د بشري حقوقو د حقوقي معیارونو او مقرراتو ټاکل هم په دولت پورې تړلي دي،فلذا د دغو حقوقو او آزادیو د اجرا زمینه باید دولت د اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو برنامو د طرح کولو له لارې برابره

Bawar.net



کړي او د فرد لپاره د فعالیت زمینه مساعده او عملاً له هغه سره مرسته وکړي.(۱۵:م۲۸)

## درېیمه فقره: سیاسي ضمانت

په دې معنی چې په هر هېواد کې ملت د ملي حاکمیت د اصلي خاوند په حیث وپېژندل شي، د اساسي قانون پر اساس باید خلک وکولی شي، چې د آزادو ټاکنو له لارې خپل سیاسي مشران وټاکي او یو دیموکراتیک نظام رامنځته کړي، کوم چې د خلکو واقعي اراده تمثیل کړي ترڅو د هېواد د امورو په اداره کې د خلکو ګډون یقیني شي، خلک یواځې په همدغه ډول یو نظام کې کولی شي، چې د خپلو حقوقو او آزادیو څخه په پوره توګه ګټه واخلي، غیر له دې نه په یو دیکتاتور او مستبد نظام کې چې واک یې د یو یا څو کسانو په ولکه کې وي خلک نه شي کولی، چې د خپلو حقوقو څخه په بشپړه توګه استفاده وکړي.

## دویم پراګراف: په بین المللي سطحه د بشري حقوقو د اجراء ضمانت

د بشري حقوقو دغه ډول ضمانت د اعلامېو، میثاقونو او نورو حقوقي اسنادو په صدور سره په قانوني شکل ترسره کېږي او د ملګرو ملتونو د غړیو هېوادونو، نړیوالو سازمانونو او د نړیوالو عامه افکارو په واسطه د اجراء وړتیا پیدا کوي، د یادونې وړ ده چې د بشري حقوقو دغه ضمانت ورځ تر بلې اهمیت پیدا کوي.

## دویم جز: بشري حقونه د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو د محراق په توګه

په نننۍ نړۍ کې د قانون د واکمنۍ، ولسواکۍ پیاوړتیا، ښه حکومتولۍ او د سولې ټینګښت د شعارونو ترڅنګ له بشري حقونو هم د یو شعار په توګه ګټه پورته کېږي، د نړۍ وال سیاست مهمه برخه تشکلیوي او بشري حقونو د هېوادونو ترمنځ پر خپلمنځي اړیکو بشپړ سیوری غوړلای دی. ان چې یو

Bawar.net


شمېر زبرځواکونه يې د نورو هېوادونو په کورنيو چارو کې د مداخلې لپاره د يو وسيلې په توګه کاروي. د هېوادونو ترڅنګ يو شمېر نړۍ وال سازمانونه هم د بشري حقوقو تر نامه لاندې فعاليتونه کوي او دغه مسئلې ته يې پام ور اوښتی دی. (۴۸:م۹)

د هېوادونو په ډله کې د چين او امريکا د ديپلوماتيکې اړيکې ښه بېلګه ده. د اوسنۍ نړۍ دغه دوه زبرځواکونه د بېلابېل مسايلو پر سر له يو بل اختلاف لري، چينايان پر امريکايانو تور لګوي چې تايوان ته وسلې ورکوي او د چين داصلي جمهوريت پر ځای تايوان په رسميت پېژني. برعکس د امريکامتحده ايالات هم پر چين انتقادونه کوي او زياتوي چې چينايان د معنوي ملکيتونو حقوقو ته پاملرنه کوي او د امريکا زياتره معنوي ملکيتونه يې په خپل نامه کړي دي. دغه رنګه امريکايان چين د بشري حقونو په سرغړونه تورنوي او زياتوي چې چين تل بشري حقونه تر پښو لاندې کړي دي او دغه موضوع ته اهميت نه ورکوي. د امريکايانو په باور په چين کې د بشري حقونو وضعيت ورځ تر بلې په خرابېدو دی خو چينايي چارواکو وربانديې ځان کوڼ اچولی دی. د امريکامتحده ايالات په هره نړۍ واله ناسته پاسته کې چين ته د بشري حقونو په برخه کې د اتيايمې لسيزې غميزه ور يادوي. په دغه پېښه کې چې د چين هېواد د تيان ان من په خلور لارې رامنځته شوه د چينايي چارواکو له لارې د ولسواکۍ په سلګونو پلويان ټپيان او تس و نس شول. په دغه پېښې سره د امريکا او چين ترمنځ چې د نړۍ وال سياست ستر زبرځواکونه دي. ديپلوماتيکي اړيکې وګواښل شوې او د يادې حادثې اغيزې اوس هم د دغه هېوادونو پر اړيکو اغيز شيندلې دی. (۱۸:م۴۴)

پورتنۍ موضوع يو بېلګه وه اوسمهال د لوديز زيات شمېر هېوادونه له نورو دولتونو سره د همدغه مسئلې پر سر اړيکې اعياروي. که په يو هېواد کې له بشري حقونو د نقض پېښې زياتې وي له دغه هېواد سره بيا نړۍ واله همکاري کمرنګه کېږي. مګر که يو هېواد د بشري حقونو پياوړتيا لپاره کار کوي. نو نوموړي هېواد ته د نړۍ والې ټولنې پاملرنه ور اوړي او په هر برخه کې ور سره

Bawar.net


مرسته کوي. د پخواني ولسمشر کرزي له واکمنۍ راپدېخوا چې د افغانستان په تړاو څومره نړۍ وال کنفرانسونه او غونډې جوړې شوې دي. له افغانستان سره هر ډول مرسته د بشري حقونو د خونديتوب په شرط مشروط شوې ده.

د نړۍ والو سازمانونو په کچه بيا د ملګرو ملتونو او ناټو سازمان په افغانستان کې د خپل ماموريت يو ستر هدف د بشري حقونو پياوړتيا په ګوته کوي او په افغانستان کې په دغه برخه کې ټولې لاسته راوړنې د ځان ګڼي. لنډه دا چې په نننۍ نړۍ کې بشري حقونه د نړۍ وال سياست او نړۍ والو اړيکو خورا مهمه موضوع جوړوي او د نړۍ والو اړيکو ټينګښت او پرېکون تر ډېره همدغه موضوع پورې تړلی دی.

## څلورم مبحث: نړيوال کېدل

### لومړی جز: د نړيوال کېدولو پېژندنه

نړيوا ل کيدل يو له هغو اصطلاحاتو څخه ده چه په دې وروستيو کالونو کې زموږ په مينځ کې رواج شوي لکه څنګه چې مډرنيزم او داسې نور زموږ په ژبو نوي تعبيرونه دي او په ښکاره سره لکه چې وينو نړيوالتوب يو ترجمه کړل شوي لفظ دي چې په انګليسي کې (Globalization) په عربي کې (العولمه) او همدا رنګه مونږ ورته د نړيوالتوب اصطلاح کارؤ.(۴۶:م۲۱۴)

نړيوال کيدل د ځينو په آند د ملتونو، کلتورونو او وطنونو تر مينځ د پولو را نغښتلو او ختمولو ته ويل کيږي او له دې لارې نه ټول يوې نړيوالي کلتوري او فرهنګي کورنۍ ته سره نيږدې کيږي او ځيني يې بيا د دنيا يه يو نړيوال کلي بدليدل تعبيروي، د نړيوالتوب بحث د اوسنيو مطرح او مروجو موضوعاتو څخه دې کوم چې د نړيوالو مسايلو او بين المللي سياست زياترو علماو د اوسني بين المللي نظام وضعيت د توصيف لپاره هغه کارولې نن ورځ نړيوالتوب د سياسي او علمي محفلونو تود بحث تشکيلوي او د هغې په تحليل، تجزيه او تبيين کې زيات کتابونه، مقالې او مجالي ليکل شوي دي اما دا چې نړيوالتوب څه شي دي؟ نشو کولې چې هغې ته يو قطعي ځواب پيدا

Bawar.net


کړو بلکه زموږ په وړاندې بیلابیل نظرونه او تعریفات وجود لري چه ددې تعریفاتو ډیري برخې سمې دي خو بیا هم په کامله توګه د نړیوالتوب ماهیت نشي ټاکلي ځیني یې د آزاد بازار په اقتصاد پورې تړي ځیني نور یې بیا د اتصالاتو په را څرګندیدو پورې تړي او ځینې نور یې د نړۍ لویدیځوالې پو ځي برلاستیا پوري تړي چه موږ یې د ځینو علماو نظریات او تعریفات په راتلونکي بحث کې تر څیړنې لاندې نیسو.

د نړیوالتوب په باره کې مختلف نظریات!

✓ د مشهور او نومیالي اقتصاد پوه دکتور جلال امین په آند د (العلومه) د لفظ له مینځه وړلو لپاره کارولې ده.

✓ یو بل عالم مالکوم واترز نړیوالتوب داسي تعریف کړیدي نړیوالتوب یو ټولنیز جریان دي چه په هغه کې جغرافیاوي قیودات او بندونه کوم چه په اجتماعي او فرهنګې روابطو باندي یې سیوره خپوره کړي له مینځه ځي او خلک مخ پر زیاتیدونکې ډول ددغو قیوداتو او بندونو څخه آګاه کیږي.

✓ انتوني ګیدنز نړیوالتوب داسي تعریفوي - نړیوالتوب په ټوله نړۍ کې د اجتماعي او اقتصادي روابطو د پراختیا څخه عبارت دي په یوه نړیوال نظام کې د خلکو د ژوند متعدد اړخونه د اجتماعي سازمانونو او شبکو څخه متاثر کیږي چه ددوي څخه زرګونه کیلومتره لیري دي، په دې وضعیت کې باید نړۍ د یوه واحد نظام په عنوان قلمداد کړو.

✓ یو بل ځاي کې نړیوالتوب په دې ډول تعریف شوي دي چې ائتلاف، انظمام، یو ځاي کیدل او یوه پرچه کیدل د اقتصاد او مختلفو بازارونو چه په ټوله نړۍ کې د تجارت چه د پولې چلن یا پولي دوران پواسطه صورت مومې، عبارت له نړیوالتوب څخه دې.

✓ دوکتور محمد عابد الجابري نړیوال کیدل داسي تعریفوي- نړیوال کیدل د فرانسوي کلیمي (Monodialisation) چې په نړیواله سطحه د یو شي

Bawar.net


ګرځولو ته وايي، ژباړه ده په دي مانا چې يو شي د پولو له محدودي او تاکنې څخه را بهر کول او لا محدوديت اړخ ته بوول چه هيڅ څارنه او مراقبت ور باندي نه وي محدوده او ټاکل شوي او د ګمرکاتو په ساحه کې په بشپړه توګه څارل کيږي او د خپلو اصولو سره سم د جنسونو ليږدونه او راوړل تر سره کيږي هغه که په اقتصادي چارو پوري تړاو ولري او که په سياسي او کلتوري پورې يو شانته کړنه ورسره کيږي او مقصود له دي چه هيڅ پوله او بريد نلري.

بنا پر دي نړيوال کيدل د ځمکي پر ټوله کره په اقتصادي مالي او تجارتي چارو کي د هيواد د پولو له مينځه وړلو ته ويل کيږي چه بيا ددې برخې په چارو کې په نړيواله سطحه خوزښت راځي چي له همدي ځايه د نړيوال شوي ملي هيواد سرنوشت ټاکل کيږي علاوه له دي نوموړي فرانسوي کليمه د انګليسي کليمي ژباړه ده چي په لومړي ځل د امريکا په متحده ايالوتو کې په Globalization وکارول شوه چې د يو شي عام کولو او شاملولو مانا تري اخيستل کيږي بنا پر دي ويلي شو چې که له يوي ډلې او يا هيواد څخه دنړيوال کيدلو غوښتنه کيږي نو هرومرو به پورتني مواد په کې د پلي کيدو وړ ګرځي له همدي امله کولاي شو وړاندوينه وکړو چي دا نړيوال کيدل که په هره بڼه او هره لاره تر سره شي مانا به دا وي چي د غربي نړۍ د پرمختګ لپاره يو بل مخ په وړاندي قدم اينښودل کيږي ځکه سره له دي چې تر يوه بريده اقتصادي چاري له ځان سره لري خو د همدي اقتصاد بنسټونه نن د غربيانو په لاس کې دي لکه چي ځيني متفکران په همدي آند دي.

که چيري وغواړو د نړيوالتوب په هکله د وړاندي شويو تعريفونو څخه يو انتخاب کړو نو هغه به داوي چي - نړيوالتوب هغه جريان دي چي د هغې په اساس د نړۍ ټول خلک په واحده نړيواله ټولنه کې يو له بل سره پيوند خوري.

ځيني د نړيوالتوب په اقتصادي اړخ باندي زيات تاکيد کوي او هغه د سوداګرۍ او د نړۍ د مختلفو بازارونو د پرمختګ وسعت او په نړيواله سطحه

Bawar.net

د کارګرانو او انساني نیرو، تکنالوجۍ او خدماتو د انتقال او تبادلې څخه عبارت دي.

## دویم جز: د نړیوالتوب عوامل

د نړیوال کیدو د عواملو په مورد یا په بل عبارت د نړیوالتوب په نوم وضعیت، شکل ګیرنې او تحقیق کې متفاوت او احیاناً متناقض نظریات وړاندې شویدې چه په عمومي صورت سره کولاي شو هغه په دوو جزونو وویشو چې!

لومړۍ واحد عاملي نظریات او دوهم څو عاملي نظریات دي چې دادې اوس یې تر څیړنې او مطالعې لاندې نیسو.

لومړی: د یو عامل نظریه

د هغو لیکونکو له جملې څخه چه نړیوال کیدل د واحد عاملي تحلیل له مخې څیړي کولي شو چې د والرشتاین څخه یادونه وکړو نوموړي نړیوال کیدل د سرمایدارۍ نظام په تاریخي جریان پورې تړلي بولي.

د والتر شتاین په تعبیر کې چې عمد تاً د اقتصادي له نظره او په ځانګړي ډول د بین المللي اقتصاد له نظره په تحلیل باندې لاس پورې کوي نړیوالتوب د سرمایه داري اقتصاد په جهان ګیر او فراګیر باندې تفسیر کیږي.(۲٦:م٦۲)

Games Rusnan د نړیوالو مسایلو یو بل د نظر خاوند دي چې د نړیوال کیدو او د هغې د شکل ورکوونکو عواملو په مورد واحد تفسیر لري نوموړي نړیوال کیدل د نوي تکنالوجۍ په قلمرو کې تحلیل کوي .

Ronald د کلیدي مفهوم د متقابل تړاو په بحث کې دي چې د تکنالوجۍ د پرمختګونو څخه په راپیدا کیږي د نوموړي په عقیده متقابل تړاو د هیوادونو د بین المللي سیاستونو په ځاي جهان شموله بین المللي سیاستونه غوره کړیدي او د دولتونو انحصاري حاکمیت د ناچارۍ له رویه د بین المللي سازمانونو، شرکتونو او جنبشونو په نوم د نویو شریکانو منونکي شویدي .

Bawar.net


دویم: د څو عواملو نظریات

د نظریاتو دوهمه دسته د نړیوال کیدلو عامل او ریښې د څو عاملونو له مخې څیړو او اشاره ورته کوو Antoney Giddens نړیوالتوب د مدرنیزم محصول بولي دده په نظر مدرنیزم په خپل زړه کې ځینې داسې ګیرایشونه هماهنګ کوي چې نړیوالتوب ته تمایل لري Giddend نړیوالتوب ددولتونو د مختلف نظام، نړیوال نظام د کار بین المللي ویش او نړیوال اقتصاد له نظره مطرح کوي.

Ronald Robertson هماغه د Giddens په څیر نړیوالتوب ته د نوي عصر-د مدرنیزم او نوسازۍ سره ارتباط ورکوي، دده په نظر نړیوالتوب څو بُعدي ( اقتصادي، سیاسي او فرهنګي ) ماهیت لري په نهایت کې Robertson د Giddens په څیر سرمایه داري او د نړیوالې فضا په ظهور د اقتصاد، سیاست او فرهنګ د نړیوالتوب لپاره مهمترین بولي.

## دریم جز: د نړیوال کېدولو تاثیرات د دولتونو پر داخله او خارجه پالیسو باندې

نړۍ والتوب د دهېوادونو د سیاستونو پر دواړه ابعادو اغیز شیندي او د غه برخې تر خپل اثر او رسوخ لاندې راولي. څکه د نړۍ هر دولت په داخلي سیاست کې نهایت کوشش کوي چې د ولس رضایت ترلاسه کړي، دغه رضایت ددې لپاره مهم دی چې واکمن حکومتونو دوام پیداکړي. بنآ حکومتونه د خپل ثبات لپاره اړ دي چې په داخل کې د خپلو اتباعو حمایت او ملاتړ لاسته راوړي. ولس ته په بېلابېل برخو کې خدمات وړاندې کړي او اړتیاوې یې رفع کړي. دغه کار هغه شونی دی چې یو هېواد نړۍ وال کلي ته د نړۍ والتو ب له لارې ورګډ شي. د نړۍ له ټولو هېوادونو سره اړیکې پیدا کړي او هغه څه چې نور دولتونو یې د نوې تکنالوژۍ په ساحه کې اختراع کوي په ډېره اساني له مخترع هېواد څخه تر لاسه او خپل هېواد ته یې وارد کړي. همدارنګه هغه

Bawar.net


اړتیاوې چې دولتونه يې په نورو برخو کې لري لکه د داخلي صنايعو پياوړتيا چې دغه کارهم له نړۍ والتوب پرته ممکن نه دی.

له پورته خبرو څخه دا نتيجه لاسته راځي چې د داخلي سياست پرمخ وړلو لپاره د ولس اړتياوې او هغه ته خدمات وړاندې کول خورا اړين ګڼل کېږي او دغه چاره له نړۍ والتوب پرته ناشونې بريښي. پايله دا شوه چې نړيوالتوب د هېوادونو د کورني سياست په ثبات او وده کې ډېره مرسته کوي.

له بل پلو کورنی سياست او بهرنی سياست داسې مانا لري لکه د يوې سکې دوه مخونه. په بل عبارت د هر دولت کورنی سياست د هغه د بهرني سياست دوام دی او د کورني سياست له تعريف پرته د بهرني سياست تعريف ناشونی دی. وړاندې مو يادونه وکړه چې په کورني سياست کې دولتونه اړ دي چې د نورو هېوادونو څخه ډول ډول خدمات تر لاسه کړي او داکار د نړۍ والتوب پرمټ کېدلای شي. ياني له نورو هېوادونو سره اړيکې فعال بهرني سياست ته اړتيا لري. که يو هېواد پياوړی بهرني سياست ونه لري او د هغه سياست په دننه کې خپلې ګټې خوندي او تعريف نه کړي. د نوموړي هېواد کورنی سياست به له ستونزو سره مخ شي.

په لنډو ټکو کې ويلای شو چې هېوادونه له نړۍ والتوب وروسته د نور وهېوادونو پر وړاندې خپل بهرنی سياست تعريفوي او وروسته د ګلوبلازيشن په مرسته قدم په قدم کورنی او بهرنی سياست پلی کوي.(۳۳:م۳۱۵)

## پينځم مبحث: نظامي تړونونه

### لومړی جز: نظامي تړونونو پېژندنه

نظامي تړونونه هغه تړونونو ته ويل کېږي چې په سيميزه او نړۍ واله کچه په نظامي ساحه کې د يو ګډ امنيتي ګواښ د خنثی کولو او په يو مشخصه جغرافيا کې د امنيت د ټينګښت په موخه جوړېږي. دغه تړونو د يوې مشخصې مودې لپاره تړل کېږي او د ګډ امنيتي ګواښ له پای ته رسېدو وروسته له منځه ځي.

اما که په يو نظامي تړون کې په ګوته شوې امنيتي ګواښ په تاکلي موده کې

Bawar.net



خنثی نه شي؛ د تړون موده د بیا ځل لپاره تمدیدیږي. لکه د وارسا په نظامي تړون کې همداسې وشول. نوموړی تړون د شلو کلونو لپاره تړل شوی و او د یادې مودې له تېرېدو ورسته یو واربیا تمدید شو. دغه فوځي تړون په همدغه تمدید کې له منځه ولاړ او هغه ارمان یې بر اورده نه شو د کوم لپاره چې تړل شوی وو. (۲۳:م۳۴)

د نظامي تړونونو یوه ستره ځانګړنه داده چې په دغه ډول تړونونو کې که کوم هېواد په یوازې ځان خپل امنیت نشي تامینولای او یا دا چې د سیمې یو هېواد د خپل امنیت پر وړاندې ګواښ ګڼي. نو هغه کوي چې د ډلیز امینت د سیستم په دننه کې خپل امنیت خوندي کړي او له نورو هېوادونو سره تړون لاسلیک کړي. همدا لامل دی چې د زیاتر نظامي تړونونو په منشور کې یو ماده د ډلیز امینت د خوندیتوب لپاره په دې ډول راوړل کېږي. لکه د ناټو تړون په پېنځمه ماده کې راغلي دي.

پېنځمه ماده: د ناټو تړون پر یوه غړي تېری د تړونو پر ټولو غړیو تېری ګڼل کېږي. ټول غړی باید په ګډه او یوه تړه له تېری شوي نه د تېری کوونکي په مقابل کې دفاع وکړي.

بناً هر هېواد په دې انګیزه چې که د کوم هېواد له لوري تر یرغل لاندې راځي نو د تړون نور غړي هېوادونه به یې مرسته او لاسنیوي ته رادانګي او دفاع به ترې کوي. تړون ته داخلیږي.

مګر کله کله یو نظامي تړون ته د هېوادونو د داخلېدو انګیزې توپیر کوي. لکه د سیټو په تړون کې د غړیو هېوادونو د داخلېدو انګیزې چې سره متفاوتې وې. په نوموړي تړون کې د امریکا بنسټیز هدف د کمونستانو په مقابل کې د یوې نظامي اتحادیې رامنځته کول و، انګلستان بیا غوښتل چې د سېټو له طریقه د مالایا له چریکې ډلو سره مبارزه وکړي، پاکستان په دې فکر د سېټو غړیتوب منلی و چې له هند سره مقابلې لپاره به د سېټو څخه مرسته ترلاسه کړي، فلیپین له کوم هېواد سره ښکاره شخړه نه درلوده، چې د سېټو د نظامي تړون حمایت یې له ځانه سره لرلی، ولې په راتلونکې کې د خپلې نظامي او

Bawar.net



اقتصادي پیاوړتیا خوبونه یې لیدل او په همدې موخه تړون ته را دننه شوی ؤ، استرالیا او نیوي زیلند بیا د آسیا په سهیل ختیځ کې د ډلییز امنیت له کلکو پلویانو څخه ګڼل کېده، فرانسه چې له هندوچین څخه د وتلو په حال کې وه، غوښتل یې چې په راتلونکې کې د تړون له لارې خپلې ګټې خوندي کړي، ولې په ټوله کې د سېټو د راجوړېدو هدف هماغه و چې پورته مو یادونه وکړه.

## دویم جز: د نظامي تړونونو اغیز د دولتونو پر داخله او خارجه پالیسۍ باندې

کله چې یو هېواد په داخلي سیاست او د امنیت په ټینګښت کې پاتې راشي، د امنیت خوندیتوب لپاره په بهرني سیاست کې لار لټوي. تر څو له دې لارې د خپل هیواد او وګړو امنیت خوندي کړي، دغه هدف هغه وخت لاسته راتلای شي چې د هېواد له پولو بیرون د سیمې د هېوادونو له لخوا د یو تړون په دننه کې د امنیتي همکارۍ سازمان رامنځته شي. کله کله داسې کېږي چې د یو سیمیز ګډ ګواښ په سبب یو شمېر هېوادونه په خپل بهرني سیاست کې د یو تړون په جوړولو لاس پورې کوي. ترڅو دغه رامنځته شوی امنیتي ګواښ ا و خطر ته د پای ټکی کېږدي. په دغه اړوند ښه بېلګه په امنیتي برخه کې شانګهای د همکارۍ سازمان دی. یاد سازمان د چین، روسیې او منځنۍ اسیا د یو شمېر هېوادونو له لوري هغه وخت رامنځته شو، چې په افغانستان کې د طالبانو او شمالي ټلوالې ترمنځ د شخړې او جګړې لمن د امو له پولو هاخوا د منځنۍ اسیا په لور وغځېده، بنآ روسیې او چین ددې لپاره چې پر دغه اور یې اوبه شیندلې وي او د یادو هېوادونو امنیت یې خوندي کړی وي، د شانګهای د همکاریو سازمان په جوړولو یې لاس پورې کړ. په همدې دول شونې ده چې د یو نظامي تړون جوړېدل د یوې سیمې هېوادونه د یو بل نظامي تړون جوړولو ته اړ کړي. لکه کله چې د دویمې نړۍ والې جګړې وروسته د امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ په نړۍ واله کچه د سړې جګړې سیالۍ زور واخیست. نو په ۱۹۴۹ م کال کې امریکا متحده ایالاتو د لودیزې اروپا یو شمېر هېوادونه پر

Bawar.net



خان راټول او د ناټو سازمان یې رامنځته کړی، که څه هم په ظاهره د دغه سازمان موخه د اروپايي هېوادونو د امنیت خوندیتوب کنټرول کېده خو په حقیقت کې یاد سازمان له شوروي اتحاد سره په ایډیالوژیکي لحاظ د مبارزې لپاره رامنځته شوی ؤو، د ناټود جوړېدو په متهو امریکا متحده ایالاتوغوښتل د کمونیزم د غوړېدو مخه ونیسي- او پرېنږدي چې کمونیستي ایډیالوژي د ختیځې اروپا په هېوادونو کې خپره شي. (۲:م۷۴)

په همدې اساس کله چې شوروي اتحاد پوه شو چې ناټو یې د وړاندې تګ مخه نیسي او یاد سازمان په سړه جګړه کې د امریکا متحده ایالاتو د ګټو لپاره کارول کېږي، هماغه وو چې د وارسا پکټ په جوړلو یې لاس پورې کړو. ترڅو په ګرده نړۍ کې د ناټو مکارو سیاستونو ته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي. د ورسا پکټ له ناټو وروسته په ۱۹۵۵ م کال کې جوړ شو، د نوموړي تړون په دننه کې د ختیځې اروپا یو شمېر هېوادونه او په راس کې یې شوروي اتحاد واقع ؤو. په دې ډول وارسا له ناټو سره د ډغرې وهلو لپاره په سره ښکېل شو. خو تاب یې رانه وړ او په اوبایمه لسیزه کې بېرته ړنګ شو. پورتنی کرښې داپه ډاګه کوي چې ناټو او وارسا د بهرنۍ سیاست له ایجاباتو سره سم د هېوادونو په نظامي دستګاه ګانو کې طرحه شوي ؤو. حېره دې نه وي چې د امریکا متحده ایالاتو په سړه جګړه کې له شوروي اتحاد سره د سیالۍ لپاره یوازې په ناټو بسنه ونه کړه بلکې یو شمیر نور تړونونه یې هم رامنځته کړل. لکه د سینټو، سیټو او انزوس تړونونه.

وروستي دوه تړونونه د امریکا په بهرني سیاست کې هغه وخت طرحه شول چې کمونیزم په سویل لودیزه اسیا کې دغوړېدو په درشل کې و. نو امریکا د کمونیزم د بشپړ مهارولو لپاره د دیادو تړونونو جوړول اړین وګڼل. په هرحال له پورته مسایلو څخه دې پایلې رسیږو چې نظامي یا فوځي تړونونه د هېوادونو په داخلي او بهرنۍ پالیسي بشپړ اغیز شیندي او دغه موضوع د سړې جګړې پرمهال د ناټو، وارسا، سینټو، سیټو او انزوس په تړونونو کې په اسانۍ سره په ډاګه کېدلای شي.

Bawar.net


## شپږم مبحث: تروريزم

مقدمه(عمومي مطالب) : تروريزم نن ورځ د نړيوال سياست يوه مهمه موضوع جوړه وی؛ خو د تروريزم په برخه کې تر اوسه يو ټاکلی تعريف وجود نه لری او هر دولت يي د خپلو ګټو مطابق تعريفوی همدا علت دی چې د تروريزم څخه د يوې سياسي وسيلې په حيث استفاده کيږي او ځينې دولتونه خپلې شومې موخې له دې طريقه توجيه کوي. د دې لپاره چې د تروريزم پديده په ښه توګه وپيژنو په همدی منظور د تروريزم پديده په دوو برخو کې د بحث لاندی نيسو:

### لومړی جز: د تروريزم پيژندنه

لکه څنګه مو چې پورته ذکر کړل تروريزم يو ټاکلی تعريف نه لری او هر دولت د خپلو ګټو مطابق تعريف ورکوی، د مثال په توګه، لږ پرمختللي هيوادونه غواړي د اشغال پر ضد او د ازادی لپاره مبارزه تروريزم ونه بلل شي، په ملګرو ملتونو کې يو ديپلمات وروسته د ډيرو بحثونو نه دا خبره څرګنده کړه چې: (ساده حقيقت دا دی چې تروريزم مختلفو ملتونو ته مختلفې معناوې افاده کوی؛ سره له دی چې ټوله نړی د بين المللی تروريزم سره مخامخ ده خو بياهم د تروريزم لپاره يو ټاکلی تعريف وجود نه لری).

که څه هم د تروريزم په هکله يو ټاکلی تعريف وجود نه لری خو بيا هم د تروريزم لغت لاندی معناوې افاده کوی:

★ تروريزم تشدد Violence دی.

★ د انفرادي اشخاصو، غير دولتي سازمانو او مخفي دولتي جاسوسانو له خوا سرته رسيږي.

★ په ځانګړی توګه يې هدف ملکی وګړي وي.

★ د حملې لپاره د مخفي ميتودونو څخه کار اخلي،لکه په موټر کې بم اېښودل او يا الوتکه اختطاف کول.

★ هڅه کوي چې پر سياست اغيز وښندي.

Bawar.net



نو د تروریزم د اصطلاح په مورد کې د پورتنیو عناصرو په نظر کې نیولو سره کولای شو چې و وایو: تروریزم د ملکي وګړو او ملکي تاسیساتو په نښه کولو سره یوې ډلې خلکو ته تاوان په دې موخه رسوي چې په بله ډله کې بېره ایجاد کړي، د تروریستانو هدف یوازې د خلکو وژل،زخمي کول او نور مادي تخریب نه دی،بلکه اصلي موخه یې دا ده چې په هغو کسانو کې بېره او مایوسی ایجاد کړی چې د دوی تروریستی عمل ویني او یا د هغه په ارتباط د رسنیو له لیارې خبرېږی،که څه هم تکتیکونه یې سره ورته دي خو بیا هم داخلی او بین المللی تروریزم په خپل مینځ کې سره توپیر لري.

داخلی تروریزم د داخلي وګړو له خوا د داخلي اهدافو لپاره د داخلي وګړو په نښه کول دي، بین المللی تروریزم بیا د خارجی هدف، که په داخل کې وي او که په خارج کې وی په نښه کول دي.(۱۸:م۲۲)

تروریزم زیات ډولونه لری چې مهم یې په لاندي ډول دي:

* سیاسي تروریزم
* غیري سیاسي تروریزم
* نیمه تروریزم
* انقلابی تروریزم
* ظالمانه تروریزم
* دولتی تروریزم
* چینایی تروریزم او داسي نور

### دویم جز: تروریزم د یوې سیاسي وسیلې په توګه

په ټوله کې نن ورځ تروریزم د یوې سیاسی وسیلې په توګه کارول کیږي، د مثال په توګه تاسو وګوري د سړې جګړې(د پخوانی شوری اتحاد د له مینځه تللو) نه وروسته د امریکا متحده ایالاتو په نړی باندی د خپل راج د چلولو لپاره د پاکس امریکن پالیسی تر عنوان لاندي د ځلورو موخو په پلمه غربیان د

Bawar.net



ځان سره کړل او په دې ډول یې په نړۍ کې خپلو موخو ته د رسیدو لپاره کار پیل کړ چې د امریکا متحده ایالاتو نوموړې پلمې عبارت دي له:

۱- تروریزم مخنیوی.

۲- د مخدره موادود تولید او قاچاق مخنیوی.

۳- د بشری حقوقو تامین.

۴- د اتومي وسلو د پراختیا مخنیوی(۴۷:م۱۱۳)

که څه د امریکا متحده ایالاتو اصلی موخې درې وې:

۱- د نړۍ د ستراتیژیکو نقطو نیول.

۲- د نړۍ د انرژۍ د منابعو مهارول.

۳- د اسلامی حرکتونو ځپل.

یعنی امریکا او متحدین یې نن ورځ د تروریزم څخه د یوې سیاسی وسیلې په توګه کار اخلی او له دې طریقه په نړۍ کې خپلو موخو ته ځان رسوی؛ دا په داسی حال کې ده چې د تروریزم اصلي عاملین خپله امریکایان دی.، د سعودي عربستان د علماو ۱۲٦ کسیزه ګروپ په یوه مشترکه اعلامیه کې لیکي( مونږ د امریکا متحده ایالات او د هغه اوسنی حکومت، د اسرائیلو په شمول د بین المللی تروریزم اوله درجه مسئولین بولو).

## اووم مبحث: ملتپالنه

مقدمه(عمومی مطالب): ملتپانه د دیموکراسی یو اساسي عنصر ګڼل کیږي ؛ د دین او مذهب څخه د غربیانو د مخ اړولو او انکار کولو علت، قوم پالنه،رنګ، نژاد پالنه او وطن پالنه ده د هغوی په فکر کې پراخوالي نشته بلکه فکر یې په یو ټاکلي جغرافیوي چوکاټ کې بند دي قوم پالنه او وطن پالنه د هغوی نوې دین او مذهب ګرځیدلې دي. د دی لپاره چې مونږ ملتپالنه(نیشنلیزم) په ښه توګه وپیژنو په همدي منظور بحث په دوه عنوانونو کې څیړو.

Bawar.net


## لومړی جز: د ملتپالنې پېژندنه

د یو ملت د مادي او معنوي ځانګړتیاو څخه دفاع کول،د خپل دولت او ملت سره وفادارۍ او د خپل هیواد ساتنه د ملتپالنې څخه عبارت ده.

هغوی چې یوې ځانګړې نژاد او ژبې ته عقیده لرله د ملتپالنې اساسات یې ژبه او نژاد ګڼلو او د هغې پر اساس یې ملتپالنه تعریفوله ځینو نورو په خپلو تعریفونو کې یواځې د ملتپالنې سیاسي اړخ په نظر کې نیولي اقتصادي او ټولنیز اړخ ته یې هیڅ پام نه دی کړی خو نوي او مترقي ملتپالنه چې د ټولنې د مادي او معنوي ځانګړتیاو پر اساس مینځ ته راځي د خپلې ټولنې مادي نیمګړتیاوې له مینځه وړي او د ټولنیز عدالت په نظر کې نیولو سره په عادلانه توزیع عقیده لري.

ملتپالنه زیات ډولونه لري چې مهم یې په لاندې ډول ذکر کوو:

۱-لیبرال ملتپالنه ، ۲-یو ګوندې ملتپالنه ، ۳-مترقي یا نوې ملتپالنه

۱-لیبرال ملتپالنه : په لیبرال ملتپالنه کې په انساني ارزښتونو،بشري حقوقو او په فردي ازادیو د ملي دولت په چوکاټ کې ټینګار کیږي،لیبرال ملتپالنه د هر ډول سیاسي ازادیو غوښتونکي ده او د هغو دولتونو او موسسو مخالفه ده چې سیاسي ازادې ختموي لیبرال ملتپالنه فرد او فردي ازادیو ته خورا درناوی کوي په دې اساس فردي ګټو ته په ټولنیزو ګټو ترجیح ورکوي د لیبرال ملتپالنې اقتصادي پرمحتګ هم په افرادو پوري اړه لري د دولت هر ډول لاسوهنه، انحصار او تشبث په توزیع او په تولید کې بې لزومه ګڼي او مقاومت ورسره کوي.(۱۴:م۶۸)

۲-یو ګوندي ملتپالنه : هغه ملتپالنه چې د ټولنې اصالت په افرادو ترجیح ورکوي او د لیبرال ملتپالنې ضد ده یو ګوندي ملتپالنه فرد د دولت په لاس کې یوه وسیله ګڼي له دولتي خدمت څخه افرادو ته په ازادو حقوقو او دندو قایل نه دی په دې اساس فرد له ټولنې څخه قربانوي سیاسي قدرت د یو حاکم شخص په لاس کې راولي.

Bawar.net


۳- نوی یا مترقي ملتپالنه : نوې یا مترقي ملتپالنه د دوو مخکنیو ملتپالنو برعکس ده یعني په نوي یا مترقي ملتپالنه کې هم فرد او د هغه حقوق په نظر کې نیول کیږي او هم ټولنه په نظر کې نیول کیږي.

## دویم جز: پر نړیوال وحدت د ملتپالنې منفي اغیزې

پر نړیوال وحدت د ملتپالنې منفي اغیزې زیاتې دی چې مونږ مهمې په لاندې ډول د بحث لاندې نیسو:

### لومړی پراګراف: له نورو سره د مرستي عدم علاقمندي

ملتپالنه د نورو پر وړاندی زمونږ د مسوولیت احساس محدودوي، ډیر وګړي نه یواځې دا چې د خپل ګروپ په دننه کې له نورو سره مرسته کول غواړي بلکه د عامه اجتماعی خدماتو د بودجې له لیارې له نورو سره مرسته کول خپل مسئولیت ګڼي مګر په بین المللي سویه ډیر لږ خلک د مسئولیت احساس کوی همدا ملتپالنه د دي باعث کیږي چې د نورو هیوادونو وحشتناکې پیښې ډیر لږ د نورو خلکو د توجو وړ ګرځي مګر که کوم ډول حوادث یې په خپل وطن کې پیښ شی بیا ډیر جدی عکس العمل ښکاره کوي.

### دویم پراګراف: د نورو ردول

هر کال په میلونونو خلک د سیاسي خشونت،فقر او نورو مجبوریتونو له امله خپل کورونه پریږدي خپل هیواد پریښودل نن ورځ یو نړیواله ستونزه ګرځیدلي ده د مهاجرینو په مقابل کي د ملتپالنې د (مونږ- دوي) نظر تقریبا نړیوال مقاومت مینځ ته راوړي دي، په ۴۰ هیوادونو کې د خلکو د یوې سروې له مخې په اوسط ډول په سلو کې ۷٦ ٪ خلکو غوښتل چې د دوي هیواد ته د مهاجرینو په راتګ محدودیتونو نور هم پسی زیات شي د امریکایانو یو لوی اکثریت ٪۸۱ او کاناډایانو ٪٦۹ دا ډول احساس لري په داسي حال کې چې د دي هیواد اکثریت خلک په خپله مهاجر دي. دوه هیوادونه چې پر مهاجرینو د لږ محدودیت غوښتونکی دی جاپان ٪۴۳ او جنوبي کوریا ٪۳۷

Bawar.net



دي مګر خبره داده چې دوی همدا اوس د مهاجرینو ډېر سخت قوانین او په نتیجه کې ډېر لږ مهاجرین لري.(۱۱:م۴۳)

## دریم پراګراف: ځان بې ساري بلل او د پردیو ځخه بیره

ملتپالنه د ځان لوړ بللو احساس او حتی له نورو ځخه بیره او کرکه هم مینځ ته راوړی بیګانه هراسي د نورو ملتونو ځخه د بیري او کرکي احساس دي ځان بې ساري بلل چې خپل ملت د نورو ملتونو ښه بللو عقیده ده مګر بیا هم دردونکي ده،په ۴۳ هیوادونو کې یوه سروې شوي چې په هغې کې د ۳۹ هیوادونو اکثریت خلکو ځان تر نورو ځخه لوړ ګڼلي چې په دې ډله کې لومړی درجه هندیان و، او د عامه ذهنیت خلافه لږو فرانسویانو ځان بې ساري بللي ؤو.

## څلورم پراګراف: کلتوري تبعیض او ظلم

په هغو دولتونو کې چې یو مسلط ایتنیکي ګروپ او یو زیات اقلیتي ګروپونه وجود ولري مسلط ګروپ تقریبا هر وخت د سیاسي،اقتصادي او اجتماعي امتیازاتو خاوند وي ځیني اوقات مسلط ګروپ په اقلیت ګروپونو ظلم کوی او حتی د نسل د مینځه وړلو لپاره یي هڅه کوي په بوسنیا او کووسو کې د سربیانو د نژادي لیونتوب په روندا کې د هوتو له خوا د توتسي قتل عامونه او په دي نژدي وختو کې په سوډان کې د عربو مسلمانانو له خوا د عیسوی تور پوستانو او مسلمانو تور پوستانو ډله ییزي وژنې مثالونه دي.(۱۱:م۹۴)

## اتم مبحث: بې طرفي(بې پرېتوب)

بې طرفي معمولا له دوه اړخه ډیره مطرح کیږی له حقوقی پلوه او سیاسی پلوه، یا که وایو په جګړه کې بې طرفي او په سیاست کې بې طرفي؛ که ځه نن ورځ د ملګرو ملتونو منشور ته په کتلو بې طرفي اعلانولو ته کوم ځای پاتي نه دي او د ملګرو ملتونو سازمان ټول غړي دولتونه مجبور دي چې د دغه سازمان

Bawar.net


له خوا نيول شوي تصميمونه ومني او په پلي کولو کې ورسره مرسته وکړي خو په بحث باندي د ښي پوهيدونې لپاره دوه عنوانونه مطالعه کوو.

## لومړی جز: د بې طرفي(بې پرېتوب) پيژندنه

اوپنهايم وايي بې طرفي(بې پرېتوب) هغه حالت ته وايي چې يو دولت د جګړې په حالت کې د هيڅ لورې په طرف واقع نشي- او ښکيل اړخونه ورسره دغه حالت ومني او په پايله کې يو لړ حقوق او وجايب رامينځ ته کيږي دغه حالت د بې طرفي د حالت په نامه يادېږي.

د پورته تعريف څخه معلوميږي چې بې طرفي هغه مهال قانوني حيثيت غوره کوي چې د دولتونو تر مينځ شخړې وي او يو دولت پکې اعلان وکړي چې هغه به د شخړې د لوريو څخه ملاتړ نه کوی او په مطلق ډول به بې پرې پاتی کيږی، د شخړي اړوند دولتونه د دولت په دغه اعلان باور کوي او له دي وروسته د بې پرې دولت حقوق او وجايب پيليږي.

په دي باب چې يو دولت ولې بې پرې پاتی کيږي او دغه حالت څه ګټې لري په نظرونو کې اختلاف ليدل کيږي خو دا ويلاي شو چې په عمومي ډول بې طرفي د جګړې لمن محدوده ساتي دولتونه ته په جګړه کې له ښکيلتيا څخه سر بيره يو بل انتخاب په مخ کې ږدي او دا فرصت ورته برابروي چې د ښکيلو اړخونو تر مينځ د سولې راوستلو کوښښ وکړي چې له دي لارې امکان لري نړيوالې اړيکې له خرابيدو څخه وژغورل شي او د سولې فرصت په بشپړه توګه له مينځه ولاړ نشي.

## لومړی پراګراف: د بې طرفه هيوادونو حقوق

د اوپنهايم د پورته تعريف په نظر کې نيولو سره غواړو چې په دی ځای کې په جګړه کې د بې طرفه هيوادونو او په جګړه کې د ښکيلو دولتونو حقوق او وجايب وپيژنو:

Bawar.net


## لومړۍ فقره: ځان ساتنه

بې پرې هیوادونه باید په جګړه کې د ښکیلو هیوادونو له هر ډول مستقیم او غیری مستقیم ملاتړ څخه ځان وساتي، د یادونې وړ ده چې ملاتړ اقتصادي، سیاسي، پوځي او اخلاقي بڼه لرلای شي؛ نو ځکه به بې پرې دولت له پیسو او قرضونو ورکولو،پوځي روزنې،مهماتو او وسلو ورکولو، د کوم یو په اړه سیاسي نظر ورکول چې د بل په مقابل کې مثبت یا منفي نظر ثابتیدای شي او هم د اخلاقي ملاتړ څخه چې وایي د بې پرې دولت په نظر څوک په حق او څوک په ناحق دي ځان وساتي.

## دویمه فقره: منع کول

بې پرې دولت به له یوي خوا پخپله د ښکیلو دولتونو د ملاتړ څخه ځان ساتي له بلي خوا به په خپله خاوره او اوبو کې داسي هر ډول حرکتونه منع کوي چې په جګړه کې د کوم ښکیل لورې د ملاتړ هڅه کوي افراد ورته ګوماري او یا هم ورته پیسي او مهمات برابروي.

## دریمه فقره: بېرته اصلي حالت ته راګرځول

له پورته وجیبې سره تړلی وجیبه داده چې که چیرته د یو بې پرې دولت په خاوره او یا هم تر کنترول لاندي اوبو کې په جګړه کې د ښکیلو لوریو پر ضد ګامونه اخیستل شوي وي ،ګومارنه شوي وي،پیسي ورته برابري شوي وي او یا بل داسي کار وشي چې د قانون له مخي باید نه وای تر سره شوي نو بې پرې دولت مجبور او مکلف دي چې چټک ګامونه پورته کړي او حالت بیرته عادي کړي یا هم که چیرته د جګړي ښکیل لورې د بې پرې دولت تر کنترول لاندي خاوره او اوبو کې د بل ښکیل لورې پر ضد کوم ګام پورته کړي،کښتۍ ونیسي،یا پوځیان ور وتښتوي نو دا د بې پرې دولت مسوولیت دي چې کشتۍ راخلاصه او ښتن دولت ته وسپاري او پوځیان ازاد کړي او خپل دولت ته د تګ لاره وربرابره کړي.

Bawar.net



**څلورمه فقره: د یو حقیقت منل او ورته تسلیمیدل**

د بې پرې دولت یو مسوولیت دادي چې که چیرته داسي یوه پیښه تر سترګو شي چې د دولت اتباع یو غیري قانوني کار ترسره کړي دي نو دولت باید د هغوي د خلاصولو کوښښ ونه کړي او ومني چې دغه غیري قانوني کار ترسره شوي دي که له دغه ډول حقیقت څخه انکار وکړي او د دغه اتباعو د خلاصون لار ولټوي نو بې پرېتوب ته يي تاوان اوړي، د بیلګې په توګه که یوه کښتۍ چې د بې پرې دولت بیرغ پرې رپیږي ونیول شي او له هغي څخه غیر قانوني وسلې او مهمات را و ویستل شي نو دوي باید په دغه موضوع کې کار ونه لري او پریږدي چې د قانون سره سم اقدامات ترسره شي.

**پنځمه فقره: جبیره کول**

که چیرته کوم بې پرې دولت د بې پرېتوب اصول تر پښو لاندي کړي نو مجبور دي چې تاوان جبیره کړي او جریمه هم اداء کړي.

**دويم پراګراف: د بې پرې دولت حقوق**

د اصل په توګه باید ووایو چې په جګړه کې ښکیل لورې په هیڅ ډول نشي- کولاي چې د پري دولت دغه قانوني حیثیت له مشکل سره مخامخ کړي داسي چې د بې پرې دولت خاوره او اوبه د مقابل لورې پر ضد وکاروي یا دبې پرې دولت پر خاوره، ابو او هوا کې داسي کارونه ترسره کړي چې د بې پریتوب حالت له خنډ سره مخامخ کړي او که چیرته داسي کوم حالت ترسره شي نو ښکیل لوری مکلف دي چې جبیره او جریمه اداء کړي.(۱۹:م۳۹)

**دریم پراګراف: د جګړې د لوریو وجایب**

د بې پرې هیوادونو د حقوقو او وجایبو څخه وروسته به په جګړه کې د ښکیلو لوریو په وجایبو هم غږیږو:

Bawar.net


## لومړی فقره: ځان ساتل

د بې پرې دولت په خیر د ښکیلو لوریو تر ټولو مهم کار دا دي چې بایـد لـه هر ډول غیري قانوني تیري ،برید او یرغل څخه ځان وساتي،دوي اجـازه نـه لري چې د بې پرې دولت په اوبـو ،خاوره،اتبـاعو، ځنګلونو،هـو ،کښـتیو داسي کار ترسره کړي چې یا د بې پرې دولت پرضد تري د یرغل معنی واخیستل شي او یا هم د بې پرې دولت اړیکې له نورو دولتونو سره دزیانمولو معنی ولري.

## دویمه فقره: منع کول

په جګړه کې ښکیل لورې په دوهم ګام کي بایـد دا مسـوولیت ومنـي چـې د بې پرې دولت پر ضد د ټولو ناسمو او ناوړه کارونو مخه ونیسي- همـدا راز بایـد دوي باور وکړي چې د بې پرې دولت استازي،سفارت،کونسولي دفترونه،نورې ودانې او اتباع چې د ښکیلو لوریو په خاوره دي او هغـه کښـتي او کـار ځایونـه چې د دغو دولتونو په اوبو کې دي له هر راز برید او یرغل څخه خوندي پـاتي شي.

## دریمه فقره: حقیقت منل او ورته تسلیمیدل

که چیرته بې پرې دولت د ښکیلو دولتونو اتباعو ته پناه ورکـړي یـا د ښـکیلو پوځونو ناروغه او زخمي افراد په بې پرې هیواد کې د درملنې لاندی وي او یـا د ښکیل دولت کښتۍ د بې پرې دولت په بندر کې د ترمیم په حالـت کـې وي نو ښکیل دولتونه باید د بې پرې دولت دغه پریکړه ومني، ورته درنـاوي وکـړي او د دغو خلکو او وسایلو پر ضد له ډول برید څخه ډډه وکړي.

## څلورمه فقره: د بې پرېتوب پای

د یاودني وړه ده که جګړه پای ته ورسیږي بـې پـرې دولـت پـه جګـړه کـې برخه واخلي،کوم ښکیل دولت د بې پرې دولت په خـاوره، اوبـو یـا هـوا بریـد وکړي او له مسوولیت منلو او جریمي ورکولو څخـه ډډه وکړي،ښـکیل دولتونـه

Bawar.net


دخپلو وجایبو ترسره کولو کې پاتي شي یا کوم داسی حالت رامینځ تهشي چې نور د بې پرېتوب حالت ساتل ناممکن شي او د بې پرېتوب حالت هم پای ته ورسیږي.

## خلورم پراګراف: د ملګرو ملتونو منشور او بې پرېتوب

د حقوق بین الدول ځیني حقوق پوهان وایي چې د ملګرو ملتونو په منشور کې ځینې داسی مادې شته چې د دولتونو لپاره یې د بې پرېتوب اختیار له مینځه وړي دي او د جنګ پر مهال اوس دولتونه برید کوونکي دي او یا هم تر برید لاندي نیول شوي دي او په دواړو حالتو کې دوې د جګړې لورې بلل کیږي نو د بې پرې پاتي کیدو چانس اصلا نشته.

د دي نظریي اساس دا دي چې د ملګرو ملتونو د منشور دوهمه ماده پنځمه فقره په ډاګه وایي چې ټول غړي دولتونه مکلف دي د ملګرو ملتونو په هره پریکړه کې ملاتړي واوسي او باید له هغه دولت سره چې دغه سازمان یي پر ضد ګامونه اخلي له هر راز مرستې څخه ډډه وکړي همداراز د منشور ۲۵ ماده په زعرده وایي چې د ملګرو ملتونو غړي دولتونه د امنیت شوراء ټولې پریکړې تائیدوي او اعلان کوي چې له دغه سازمان سره به د ټولو ګامونو په بریالي کولو کې مرسته کوي.

دوي دلیل وایي په داسي حال کې چې ملګري ملتونه د یو دولت پر ضد پریکړه کوي او د اقتصادي،سیاسي،ټولنیزو ،پوځي ګامونو لپاره لار هواروي نو امکان نه لري چې کوم دولت دی خپل پرېتوب اعلان کړي او بیا دي وکولاي شي چې خپل بې پرېتوب تر پایه وساتي.(۲۰:م۶۹)

د ملګرو ملتونو د پریکړو په باب باید و وایو چې نورې پریکړې یي پر دولتونو اجباری نه دی او دوي کولاي شي چې د سازمان د پریکړو څخه مخالفه تګلاره خپله کړي خو د اوم څپرکي په رڼا کې پریکړې اجباري جنبه لري او پر ټولو دولتونو الزامي دي نو ځکه هیڅ دولت نشي کولاي چې د دغو پریکړو پر ضد یي تګلاره غوره کړي.

Bawar.net


## نهم مبحث: اقتصادي پرمختيا او اقتصادي بحران

په اوسنۍ نړۍ کې اقتصاد د نړيوالو اړيکو يوه تر ټولو مهمه موضوع ده، د نړۍ ټول هېوادونه چې له يو بل سره اړيکې ساتي، خپلې اقتصادي گټې په پام کې نيسي. په اقتصادي لحاظ اوس د نړۍ ټول هېوادونه يو په بل پسې تړلي دي، ځکه چې د نړۍ ټول هېوادونه يو ډول طبيعي منابع، بشري منابع او جغرافيوي موقعيت نه لري. د نړۍ يو شو هېوادونه بېلابېل توليدات لري او په مقابل کې يې يو زيات شمېر نور هېوادونه د هغوی د مصرف لپاره ښه بازارونه دي. هغه هېوادونه چې له خپلو منابعو څخه د توليد په موخه استفاده نه شي کولای؛ نو هغوی مجبور دي چې خپل خام مواد پرمختلليو هېوادونو ته ورکړي. موږ په دې سرليک کې غواړو چې د هېوادونو اقتصادي پرمختيا، د اقتصادي پرمختيا بنسټونه، اقتصادي بحران او لاملونه يې او د اقتصادي بحران د مخنيوي لارو چارو باندې بحث کوو.

### لومړی جز: اقتصادي پرمختيا

#### لومړۍ فقره: د اقتصادي پرمختيا پېژندنه

اقتصادي پرمختيا يا Economical Development له هغې پروسې او پاليسۍ څخه عبارت ده چې له مخې يې د يو هېواد د ټولو خلکو فردي اقتصاد د ښه کېدو په لور وي يا هم هغه پروسه او پاليسي چې له مخې يې يو دولت په اقتصادي لحاظ پر خپلو پښو د ودرېدو په لور روان وي، اقتصادي پرمختيا گڼل کېږي.

د Mansell او Wehn په نوم دوه پوهان وايي: د هرې هغې اقتصادي پاليسۍ له مخې چې د يو مملکت د سړي سر عايد کې زياتوالی راشي، اقتصادي پرمختيا نومېږي.

د اقتصادي پرمختيا لپاره يو بل تر ټولو ساده تعريف دا هم دی چې کله د وروسته پاتې هېوادونو يا سيمو خلک له خپل وروسته پاتېوالي څخه راوځي او

Bawar.net



د ښاري او پرمختللي ژوند امکانات تر لاسه کوي، نو دې ته اقتصادي پرمختیا ویل کېږي یا هم کله چې د یو هېواد مجموعي عواید له مجموعي مصارفو څخه زیات شي، دا د اقتصادي پرمختیا حالت دی.

**دویمه فقره: د اقتصادي پرمختیا بنسټونه**

دمخه مو یاده کړه چې اقتصادي پرمختیا د مملکت د عوایدو زیاتوالي یا د مملکت د اوسېدونکیو د مجموعي اقتصاد ښه والي ته ویل کېږي، خو پوښتنه دا ده چې د هېواد د خلکو مجموعي اقتصاد یا مجموعي عواید څنګه ښه کېدلای شي؟ یا په بل عبارت د یو هېواد د مجموعي اقتصاد ستنې پر کومو بنسټونو ولاړې دي؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره ویلای شو چې د هر هېواد د تولیز اقتصاد ستنې معمولاً پر دوه ډوله بنسټونو ولاړې دي چې یو یې هم داخلي بنسټونه دي او بل یې هم بهرني چې موږ یې هر یو لولو.

**الف: د اقتصادي پرمختیا داخلي بنسټونه**

د هر دولت اقتصادي پرمختیا د هغه دولت په داخلي بنسټونو پورې ډېره تړلې ده، که یو دولت په داخل کې ښه اقتصادي بنسټونه ولري او ترې د کار اخیستنې ښه پالیسي هم ورته جوړه کړې نو ډېره اسانه ده چې یو وروسته پاتې هېواد پر پرمختللي اقتصادي هېواد بدل شي، د هېوادونو د اقتصادي پرمختیا په داخلي بنسټونو کې لاندې منابع شاملې دي:

۱- تر ځمکې لاندې منابعو څخه استفاده

هر هېواد تر ځمکې لاندې یو لړ منابع لري چې که ترې ګټنه وشي، نو د هېواد اقتصاد ورسره ښه کېدای شي، د بېلګې په توګه کانونه، نفت، د ډېرو سکاره او نور، عربي هېوادونه ځکه په اقتصادي لحاظ ښه ګڼل کېږي چې د نفتو غنیزیرمې لري، له همدغو نفتي زیرمو څخه ګټنه د دې لامل شوې ده چې د عربي هېوادونو اقتصاد ورځ تر بلې ښه شي.

Bawar.net



۲- د کر وړ ځمکې حاصلخيزه کول

کرنه او زراعت هم د هېوادونو په اقتصادي وده کې ستر رول لري او کرنه پر ځمکې او خاوره ممکنه ده، هغه هېوادونه چې پراخه دښتې لري، د دښتو د کر لپاره اماده کولو لپاره ضرور ده چې له سيندونو څخه نهرونه او کانالونه ورسم شي، د خړوبولو منظم سيستم ورته جوړ شي، د کر تخمونه اصلاح شي، دا کار د هېواد په اقتصادي وده کې ستر رول لري. ځينې هېوادونه موسمي بارانونه هم لري، نو بيا ضرور نه ده چې ځمکې د سيندونو د اوبو په تمه پاتې شي، د موسمي بارانونو د اوبو لپاره هم کرل کېدای شي. کله چې په وطن کې غله دانه ډېره وي، د خلکو خېټې مړې وي، هغوی بيا خپله د وطن د آبادۍ لپاره سوچ و فکر کوي.

۳- له سيندونو، روانو اوبو څخه ګټنه کول

مخکې مو ياده کړه چې د سيندونو له اوبو څخه د کرکيلې لپاره ښه ګټنه کېدلای شي، سربېره پر دې پر سيندونو برېښناکوټونه هم جوړېدای شي چې برېښنا د هېواد اقتصادي ودې او توليداتو لپاره لومړنۍ اړتيا ده، تر دې پورې چې ځينې هېوادونه خپله اضافي برېښنا د پيسو په مقابل کې نورو هېوادونو ته هم صادروي، د سيندونو له اوبو څخه کانالونه هم ايستل کېدای شي چې د زراعت او د ښارونو د کاناليزيسيون لپاره ترې ښه ګټنه کېدای شي.

٤- له بشري منابعو څخه ګټنه

په اقتصادي وده کې بشري منابع د ارزښت وړ دي، ځينې هېوادونه چې د کر ځمکې لري، کانونه لري، سيندونه لري، خو د کار لپاره نفوس نه لري، هغوی مجبور دي چې له نورو هېوادونو څخه مهاجر کاريګر خپلو هېوادونو ته وغواړي، هغه هېوادونه چې د کار لپاره ښه بشري نېرو لري، همدا منبع يې د اقتصادي ودې لامل کېدای شي ځکه چې کاريګر يې پيسې له هېواده بيرون نه وباسي او د هېواد په داخل کې يې مصرفوي.

٥- د داخلي توليداتو ملاتړ

Bawar.net


د هېواد داخلي تولیدات د اقتصادي ودې له منابعو څخه یوه ده، له داخلي تولیداتو څخه ملاتړ په دې کېدلای شي چې خلک خپل ملي تولیدات وکاروي او له پردیو هغو څخه ځان وساتي. دولتونه معمولاً خپل داخلي تولیدات پر کارخانو د کم ټیکس یا هم له ټیکس څخه د معافیت له لارې کوي، ځیني هېوادونه خپلو کارخانو ته سبسایډي ورکوي، د دې په خاطر چې کارخانې پر خپلو پښو ودرېږي. د ملي تولیداتو ملاتړ پر بهرنیو ورته تولیداتو باندې د لوړ ټیکس وضعه کولو له لارې هم شونی دی. دا په هغه صورت کې چې تولیدات یوازې او یوازې د هېواد په داخل کار کارېږي. که چېرې د یو دولت ملي تولیدات له هېواده بېرون هم بازار درلود؛ نو ملاتړ یې پر صادراتو باندې د صفر ټیکس یا هم تر ټولو کم ټیکس وضعه کول دي، د بېلګې په توګه پاکستان پر خپلو هغو تولیداتو چې افغانستان ته راصادرېږي صفر ټیکس لګولای دی، د دې په خاطر چې د افغانستان بازارونه تر خپل کنټرول لاندې راولي او پرېنږدي چې افغانستان هغه اجناس خپله تولید کړي.

## ب: د اقتصادي ودې بهرني بنسټونه

دمخه مو د هغه بنسټونو یادونه وکړه چې د دولت په داخل کې قرار لري او له امله یې د یو دولت اقتصاد وده کولای شي، اوس له هغو بنسټونو څخه یادونه کوو چې د یو هېواد له قلمرو څخه بیرون موقعیت لري، خو د دولتونو په اقتصادي وده او پرمختګ کې مهم رول لري، دا ډول بنسټونه عبارت دي له:

۱- بهرنۍ پانګونه

د نورو هېوادونو پانګونه هم د دې لامل کېدای شي چې یو هېواد په اقتصادي لحاظ پر مخ لاړ شي، په چین کې زیاتره پانګونه بهرنیانو کړې ده، متحده عربي امارات هم د بهرنۍ پانګونې یو بل ښه مثال دی، د نورو هېوادونو پانګوال خپلې پانګې په ارزانه بشري ځواک، امنیت، د تولید په بازار، له ټیکس څخه خلاصو ځمکو او په نرمو قوانینو پسې ګرځوي. د بهرنۍ

Bawar.net


پانګونې یوه ګټه دا ده چې د هېواد کاریګرو ته په اسانه د کار زمینه مساعدېږي، ازرانه تولیدات، پر عایداتو باندې مالیات هغه څه دي چې د یو هېواد په اقتصادي وده کې ستره ونډه اخیستلای شي.

۲- بهرنۍ مرستې

د ځینو هېوادونو د اقتصاد پایې پر بهرنیو مرستو ولاړې وي، پرمختللي هېوادونه له غریبو هېوادونو سره په دې پار مرستې کوي چې د نفوذ له دایرې څخه یې ونه وځي، هغه هېوادونه چې اهل چارواکي لري، نو له دغو بهرنیو مرستو څخه د هېواد د اقتصادي پایو د ودرېدو لپاره کار اخلي، بهرنۍ اقتصادي مرستې کله کله بلا عوضه وي او کله هم له عوض سره وي، دا د هېواد په رهبریت او پالیسي جوړونکیو پورې اړه لري چې په کومو شرایطو له کومو هېوادونو څخه په کومه برخه کې مرستې ترلاسه کولای شي، د بېلګې په توګه د افغانستان د جهاد په وختونو کې پاکستان خپلې اقتصادي پایې د امریکا، لویدیځې نړۍ او عربي هېوادونو په مرستو ودرولې، په ایران کې تر اسلامي انقلاب وروسته ایران ته د شوروي مرستې ور روانې شوې. د شوروي اتحاد له ماتې وروسته د منځنۍ آسیا هېوادونو ته د امریکا مرستې یا هم له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته اروپايي هېوادونو ته د امریکا مرستې، یانې که موږ د نړۍ په تاریخ کې د هېوادونو پخواني حالتونه وګورو، زیاتره یې د نورو هېوادونو په مرستو تر اقتصادي پرمختیا پورې رسېدلي دي.

۳- د کارګرانو مهاجرت

د نړۍ ټول هېوادونه یو ډول امکانات په لاس کې نه لري، ځینې یې کار لري خو کارګر نه لري او ځینې نور یې چې کارګر لري کار نه لري، هغوی چې په پرمختللیو ملکونو کې یې ګټي او په خپل ملک کې یې خوري د اقتصادي ودې یو لامل یې هم همدغه ده. د یو ملت اقتصادي وده د هغه ملت د افرادو له اقتصادي وضعې څخه زېږي، کله چې د ملت افراد ښه ژوند او ښه عاید ولري، دا په مجموع کې د ملت د اقتصادي ودې په ښه والي او د عاید په

Bawar.net



زياتوالي کې ستر رول لوبولای شي. د دې تر څنګ د کارګرانو له تګ له راتګ سره د دواړو دولتونو اړيکې د ښه والي په لور ځي.

٤- د ټيکنالوژۍ واردول

ټيکنالوژي او هغه وسايل چې په ټيکنالوژۍ پورې اړوند دي، که هېوادونه يې ولري يا يې راوارد کړي، نو د هېوادونو د پرمختګ سبب ګرځي، کله چې د يو مملکت اداري سيستم له کاغذونو څخه په کمپيوټري او برېښنايي هغه واوښت نو هلته ډېر کارونه په کم وخت کې کېدلای شي، هلته مامورين خپلو مراجعينو ته نه شي ويلای چې سبا راشه، مکتوب به دې په رئيس صيب امضاء کړم، هلته د يوې ورځې او يوې اوونۍ په ځو کليک کولو او ځو ساعتونو کې ترسره کېږي. له نېکه مرغه اوس ټيکنالوژي له سرحدونو اوښتې ده، ګرځندي موټرونه، رېل، الوتکې، انټرنېټ، موبايل، کمپيوټر، فاکس او ... هغه څه دي چې هر ملت او هر هېواد ورته اړتيا لري، اوس مهال ټيکنالوژي دومره د انسان ژوند ته راننوتې ده چې انسانان فکر کوي له ټيکنالوژۍ پرته به انسانان انسانان پاتې نه شي.

## دويم جز: اقتصادي بحران

### لومړۍ فقره: د اقتصادي بحران پېژندنه

لکه د اقتصادي پرمختيا په پېژندنه کې مو چې وويل، هغه حالت يا وضعيت چې په کې د يو هېواد اقتصاد ورځ تر بلې غوړېږي او ښه کېږي، له اقتصادي ودې يا اقتصادي پرمختيا څخه عبارت دی، همدغسې ويلای شو چې هغه حالت چې په کې د يو هېواد اقتصاد ورځ تر بلې د نزول په حالت کې وي، ورځ تر بلې خرابېږي، له اقتصادي بحران څخه عبارت دی.

اقتصادي بحران بېلابېل لاملونه لري چې ځينې لاملونه يې د هېواد په داخل کې پيدا کېږي او ځينې يې هم له هېواده بېرون پورې اړه لري، موږ يې په لاندې توګه هر يو لولو.

Bawar.net


## دویمه فقره: د اقتصادي بحران لاملونه

### الف: د اقتصادي بحران داخلي لاملونه

د اقتصادي بحران داخلي لاملونه له هغو عواملو او فکتورونو څخه عبارت دي چې د هېواد په داخل پورې اړوند وي یا هم د هېواد له داخله راپورته شوي وي او د هېواد پر اقتصادي وضعې یې اغېز کړی وي، معمولاً له داخلي اړخه یو هېواد د لاندې فکتورونو له امله له اقتصادي بحران سره مخېږي:

۱- فساد

د فساد تر ټولو ساده او اسانه تعریف دا دی چې: له خپل موقف څخه د مادي او غیر مادي ګټو د تر لاسه کولو په موخه ګټنه کولو ته فساد وایي. فساد د یو هېواد په اقتصادي بحران کې تر ټولو بنسټیز رول لري، په کومو هېوادونو کې چې فساد عام وي، هغه هېوادونه وروسته پاتې، خوار و حقیر وي، ځکه چې د هغو هېوادونو خلک یوازې په لوټه پښه ږدي او له اوبو تېرېږي، هر سړی په دې هڅه کې وي چې څنګه خپل کارونه پر مخ بوځي، څنګه خپل کارونه په اداراتو کې خلاص کړي، هلته د قانونیت او اصولیت پر ځای ټول خلک په نفسي نفسي کې راګیر وي او هر سړی یوازې د ځان ښه غواړي، خو پر دې سوچ نه کوي چې زما د ځان ښه غوښتل څومره نورو ته زیان رسوي. په دغسې هېوادونو کې ملي شتمنۍ په ناتعریف شوي حالت کې پاتې وي، ملي پانګه یوازې د یو څو ګوتشمېرو خلکو لاسونو ته لوېږي.(۲۸:م۳٦)

۲- خپلمنځي اختلافات

اقتصادي وده او پرمختیا د وګړیو په سوله ییز ژوند کې متصوره ده، کله چې د یوې ټولنې اوسېدونکي یو له بل څخه ډاډه اوسي، کله چې د یو دولت ټول اوسېدونکي ځانونه په مساوي توګه د دولت اتباع ګڼي او یو پر بل فوقیت و لوړتیا ته قایل نه وي، نو په دغسې دولتونو کې خلک ټول پام دې ته کوي چې څنګه د ژوند په بېلابېلو برخو کې پرمختګ وکړي، ځکه د دوی ټوله انرژي په یو اړخ او یو ډګر کې مصرفېږي، هغه خلک چې خپله انرژي د ځان د لوړتیا او د نورو د سپکاوي ثابتولو لپاره مصرفوي، هغوی سره د اقتصادي او

Bawar.net



د ژوندانه د نورو برخو د ودې او پرمختګ لپاره هېڅ هم نه پاتې کېږي. خپلمنځي اختلافات د يو دولت د اقتصادي بحران له داخلي عواملو څخه يو مهم عامل دی. د نړۍ ټول دولتونه چې په اقتصادي لحاظ پرمختللي ګڼل کېږي، لومړی پر دې توانېدلي دي چې د خپلو خلکو ترمنځ موجود د ژبني، مذهبي، قومي، جغرافيوي، ګوندي او ... اختلافات له منځه يوسي نفاق د بدبختۍ مور ده، په هره ټولنه کې چې ځانځاني پيدا شوه، هغه ټولنه بيا له هر اړخه وروسته پاتې کېږي.

۳- ناقانونيت

د ناقانونيت ساده مانا د قوانينو او مقرراتو د نه عملي کېدا وضعه کېږي، خو ناقانونيت موږ هغې وضعې ته هم ويلای شو چې دولت د يوې مشخصې برخې د تنظيم لپاره هېڅ قانون او اصول نه لري، کله کله دغه د قانون د نه شتون او د قانون د شتون په صورت کې د هغه د نه عملي کېدا وضعه هم د دې لامل کېږي چې مملکت له اقتصادي بحران سره مخ شي. فرضاً که دولت د مالياتو يا ټيکس لپاره پرمختللی قانون ولري، خو که د خپل دغه قانون د عملي کولو متره په کې نه وي، نو دا هم د ناقانونيت حالت دی او د اقتصادي بحران لامل کېږي. ډېر کله دولت پر دې نه توانېږي چې د خپلې اقتصادي پرمختيا لپاره روښانه او د عملي کېدا وړ قوانين جوړ کړي، د بېلګې په توګه په افغانستان کې د بانکونو د چارو د تنظيم، ګروهۍ او هلته د پيسو د ساتلو لپاره روښانه قوانين نه شته، که شته هم نو څوک يې نه عملي کوي، که عملي کېدا نو ولې به د افغانستان يو مشر په ميلونونو ډالر له افغانستانه تښتول او په امريکا کې به يې پرې مزې کولې. موږ د دولتي ځمکې د آبادۍ او حاصلخيزه کولو لپاره کومه روښانه پاليسي او قانون نه لرو، د دولتي ځمکو په قرارداد ورکولو لپاره ډېر عادي شرايط اېښودل شوي دي که يوځل چا تر لاسه کړه بيا کولای شي چې په خپل ملکيت کې يې راولي، دولت د خپلو املاکو د ساتلو او يا هم له غاصبينو څخه د بېرته راګرځولو لپاره کوم قانون او پاليسي- نه لري، هر څه

Bawar.net


خپلسري او د خپلې خوښې دي. همدا لامل دی چې زموږ اقتصاد نه یوازې ښه کېږي نه بلکې ورځ تر بلې خرابېږي.

٤- د پانګې جامدېدل

پانګه یوازې پیسې، سره او سپین زر نه دي؛ بلکې ځمکه، روانې اوبه، بې روزګاره ځوانان، تر ځمکې لاندې غني کانونه او ذخایر ټول په پانګه کې راځي، د یو دولت اقتصاد هغه مهال ښه کېدای شي کله چې د دولت دغه پانګه خوځنده اوسي. پانګه که په هره بڼه وي، تر هغې چې خوځېږي، هغه ګټه کوي، کله چې پانګه له خوځښته ولوېده، نو د هغې نه ګټه خپله تاوان دی. کوم دولتونه چې د خپلې پانګې په خوځښت راوستلو کې پاتې راځي، هغوی به له اقتصادي بحرانه ځورېږي. د پانګو په خوځښت راوستل هم رغنده او روښانه پالیسیو ته اړتیا لري، د نورو ډېرو عواملو تر څنګ امنیت او مطمین چاپیریال هم د دې لامل کېږي چې راکده او پر ځای ولاړه پانګه په حرکت راشي. په متحده عربي اماراتو کې له سپیرو دښتو او خاورو څخه پرته بل څه نه لیدل کېږي، خو دا چې مسوولین یې له دونیاوالو سره د سازګارۍ ورتیا او سالم فکري چاپېریال لري؛ نو د نورې دونیا پانګوال خپلې پانګې ورځغلوي او په هغو شړو او خاورو کې یې خښوي. زموږ د هېواد یو زیات شمېر پانګوال هم هلته کارخانې لري، له افغانستانه کاریګر هم غواړي، پانګه د افغانستان، پانګوال د افغانستان، کاریګر د افغانستان، تولید د افغانستان لپاره، خو ګټه ترې اماراتیان اخلي، یوازینی لامل یې دا دی چې موږ د پانګې د کارونې لپاره مساعد چاپیریال او شرایط نه لرو. برېښنا د فابریکو تر ټولو لومړنۍ اړتیا ده، خو له بده مرغه چې موږ د رڼا لپاره هم په سلو کې لس سلنه برېښنا نه لرو، د تولید او فابریکو لپاره خو پرېږده، زموږ په لکونو ځوانان وزګار ګرځي، خو لا هم په زرګونو بهرني اتباع د فني او مسلکي کارکوونکیو په توګه زموږ له وطنه هر کال په میلونونو افغانۍ بیرون وړي، همدا لامل دی چې موږ د اقتصاد په یو بحراني حالت کې یوو.

Bawar.net


۵- جغرافیوي بدمرغي

ځينې دولتونه په جغرافيوي لحاظ بدمرغه وي، په دې مانا چې په داسې جغرافيوي موقعيت کې ژوند کوي چې د اقتصادي پرمختيا لپاره هېڅ هم نه لري، لکه د کر لپاره هوارې ځمکې نه لري يا تر ځمکې لاندې ...خ ډول کانونه او منابع نه لري، اقليم او اب و هوا يې دې ته نه وي مساعد چې زراعت په کې وده وکړي، د بېلګې په توګه افريقايي هېوادونه، يا هم ځينې هېوادونه يوازې په وچې پورې را ايسار وي او له بحر سره کومه لاره نه لري، لکه افغانستان، ځينې هېوادونه د شريرو ګاونډيو په منځ کې پراته وي چې آرام ته يې نه پرېږدي،دا ټولې جغرافيوي بدمرغۍ ګڼل کېږي چې د دغه ډول دولتونو اقتصادي مخ پر ځوړتيا يوازې د هغوی د جغرافيوي موقعيت له امله وي. هغسې چې د ځينو هېوادونو اقتصادي پرمختګ د هغوی له غوره جغرافيوي موقعيت څخه دی، همدغه شان د ډېرو هېوادونو اقتصادي وروسته پاتېوالی هم د هغه د ناسم جغرافيوي موقعيت له امله دی. که څه هم بايد ياده کړو چې دا د ملتونو په واک کې نه ده چې خپل ناسم جغرافيوي موقعيت پرېږدي اوپه سم جغرافيوي موقعيت پسې وګرځي، خو دا يې په واک کې ده چې د خپل ناسم جغرافيوي موقعيت څخه سمه ګټنه وکړي، ځکه چې جغرافيوي موقعيت د اقتصادي پرمختيا يوازينی عامل نه دی، بلکې نور هم ډېر عوامل لري، خو که ملت مفکرين ولري او ويښ اوسي.

٦- بشري بدمرغي

د ځينو ملتونو اقتصادي وروسته پاتېوالی د هغوی د خلکو په بدمرغۍ پورې تړلی وي، ځينې ملتونه رښتيا هم لټ او تنبل وي، هغوی سره د سبا ورځې د نسلونو فکر و غم نه وي. ځينې په علمي لحاظ بدمرغه وي، اکثريت يې نالوستي وي، ځينې شرير او شر اندازه وي، ځينې بېځايه کبرجن او مغرور وي، دا ټول هغه لاملونه دي چې د يو ملت په توګه يې دغه خلک له اقتصادي پرمختيا څخه وروسته ساتلي دي او همدغه خويونه د دې لامل شوي دي چې د دوی اقتصاد ورځ تر بلې خراب شي. هغه ملتونه چې ويښ وي، هغوی د

Bawar.net



حاکمانو له پالیسیو و پلانونو څخه ځانونه خبروي، د هرې هغې پرېکړې په اړه خپل غبرګون ورته کوي چې د دوی په زیان وي، هغوی د وخت پابنده وي او د خپل وطن لپاره په کار کولو کې ډېر جدي وي، د جرمني په اړه ویل کېږي چې له دویم نړیوال جنګ نه وروسته هر جرمني یوازې د جرمني د آبادۍ لپاره څلور ساعته اضافه کار کوه، چې په ډېر کم وخت کې یې جرمني دومره آباد کړ چې خلک یې د ورانۍ تصور هم اوس نه شي کولای، خو شته په دې نړۍ کې داسې ملتونه هم چې نه یوازې د خپل وطن د آبادۍ او اقتصادي ودې لپاره کار نه کوي بلکې هلې ځلې یې دا وي چې خپل لوی کور (وطن) وران کړي او خپل کوچنی کور (شخصي کور) پرې جوړ کړي. داسې ملتونه هېڅکله د اقتصادي پرمختیا له حالت سره نه مخ کېږي او ټول عمر په اقتصادي بحران کې تېروي.(۲۵:م۶۶)

۷- مصرفي اقتصاد

د نړۍ زیاتره هېوادونه خپلې ټولې اړتیاوې له خپلو ملي تولیداتو څخه نه شي پوره کولای، هغوی که د پردي دولت جوړې کړې جامې اغوندي، خو د خپلو ځمکو د غنمو له اوړو څخه ډوډۍ خوري، بلکې نورو ته هم غنم او اوړه صادروي. که یو هېواد له بل څخه ټیکنالوژي راواردوي، نو په مقابل کې خپلې وچې او لمدې مېوې ورته انتقالوي، عربي هېوادونه که اوبه له نورو هېوادونو څخه راواردوي، نو نورو هېوادونو ته تېل صادروي، همدغه صادرات او واردات د مملکت د اقتصاد بنسټونه جوړوي، چې د نړیوالو اړیکو پایې هم پر همدې بنسټونو ولاړې دي، دولتونه هغو نورو دولتونو سره ځانونه ډېر نږدې کوي، د کومو تولیدي توکو ته چې جدي اړتیا لري او له هغو دولتونو سره نږدېوالي ته اهمیت نه ورکوي چې یا تولید نه لري او یا یې هم تولید ته اړتیا نه لري. په دې منځ کې خراب هغه دولتونه دي چې یوازې له یوې مخې مصرف کوي، دوی خولې نورې نړۍ ته وازې نیولې وي چې ورته یې ډکې کړي، که احیاناً یو دولت پرې خپل صادرات وربند کړل، دوی وږي وي. دا دولتونه د متقابل فشار په توګه هېڅ نه لري چې ترې کار واخلي. دا ډول

Bawar.net


دولتونه د مصرفي اقتصاد لرونکي دولتونه ګڼل کېږي، دوی د هېڅ شي د توليد توان نه لري، بلکې پر دې بنه پوهېږي چې څه شی څنګه مصرف کړي. د مصرفي اقتصاد لرونکي دولتونه هم د خپل ټول عمري مصرف له امله زياتره له اقتصادي بحران سره مخ وي او اقتصادي ورځ يې نه بنه کېږي.

## ب: د اقتصادي بحران بهرني لاملونه

دولتونه يوازې د داخلي لاملونو له امله له اقتصادي بحران سره نه مخېږي، ځينې مهال دولتونه د خپل قلمرو په داخل کې له ټولو اړخونو څخه پور و مامور وي، خو ځينې بهرني لاملونه د دې لامل چې د هېواد اقتصادي وضعه ورځ تر بلې خرابه شي او بالاخره له يو لوی اقتصادي ناورين سره مخ شي، موږ د اقتصادي بحران بهرني لاملونه په لاندې ډول لولو:

۱- جګړې

جګړه د انسانيت تر منځ تر ټولو لويه بدمرغي ده، دولتونه چې څومره پيسې د جګړو د اماده ګۍ لپاره مصرفوي، که څلورمه برخه يې هم د خپل ځان او نورو د بنبرازۍ لپاره مصرف کړې وای، نو اوس به نړۍ له دې حالته ډېره بنه وه. له ۱۹۹۲ز کال څخه تر ۲۰۰۵ز کال پورې د نړۍ مجموعي نظامي مصارف نږدې ٤، ۱۱ تريليونه ډالرو ته رسېږي، په دې پيسوکې يوازې ٤،٤ تريليونه ډالره د امريکا متحده ايالتونو مصرف کړي دي، له دې ټولو مصارفو وراخوا تر ټولو لويه بدبختي دا ده چې په جګړه کې انسانان وژل کېږي، يوازې په شلمه پېړۍ کې ۱۱۱ميليونه انسانانو ژوند جګړو اخيستی دی. انسانان چې څومره پرمختللي کېږي، هماغومره ورسره د جګړو او وژنو حرص زياتېږي، د شلمې پېړۍ په جګړو کې د وژل شويو خلکو شمېر د نولسمه پېړۍ په پرتله شپږ ځلې زيات دی او د اته لسمې پېړۍ په پرتله ۱٦ځلې زيات، يانې تر اتلسمې پېړۍ په نولسمه پېړۍ کې او تر نولسمې پېړۍ به په شلمه پېړۍ کې ډېر انسانان جګړو خوړلي دي.

Bawar.net


دولتونه د دومره سترو مصارفو لپاره مجبوره دي چې لوړ ټیکسونه وضعه کړي او دا لوړ ټیکسونه د عوامو پر اوږو لوی بوج وي، زیاتره هېوادونه چې له اقتصادي بحران سره مخښږي، نو لامل یې د هېواد په داخل یا له هېوادوه بېرون اوږده او له مصارفو ډکه جګړه وي، بېه مثال یې په ۱۹۹۲ز کال کې د افغانستان په جګړه کې د شوروي اتحاد ماتې ده، شوروي چې د افغانستان په جګړه کې مات شو، نو اقتصاد یې هم دومره کښته راغلی و، چې خپل جمهوریتونه یې هم له ځان سره ونه شول ساتلای، هغوی هم تر د خپلواکۍ اعلان وکړ، شوروي ونړېد او روسیه یې د وران ویجاړ اقتصاد پر غولي کېناسته.

۲- د بهرنۍ پالیسۍ لوی لګښتونه

په بین المللي سیستم کې چې دولتونو ځانونه ځای پر ځای کړي دي او ټول هلې ځلې کوي، یو لامل یې د هغوی د بهرني پالیسۍ پورې اړوند اهداف تر لاسه کول دي. ټول دولتونه د خپلو بهرنۍ پالیسۍ د تحقیق او اهدافو د ترلاسه کولو لپاره سرګردانه دي. د هر دولت د بهرنۍ پالیسۍ اهداف د هغه دولت د ملي ګټو له مخې تعریفېدای شي، د بېلګې په توګه د امریکا متحدو ایالتونو د بهرنۍ پالیسۍ یو هدف دا دی چې هر دولت او د هر دولت وګړي باید امریکا د یو بېساري او ستر ځواک په توګه ومني، خلک باید په رواني او واقعي توګه دې ته اماده اوسي چې له امریکا پرته او د امریکا له خوښې پرته حتا د دوی په خپلو هېوادونو کې هم د دوی ژوند ته ګواښ پېښېدلای شي. دولتونه د دې اهدافو د تحقق لپاره کله د جګړې لاره نیسي-، کله هم د جګړې پر خلاف د ډیپلوماسۍ، کله هم د استخباراتي چینلونو د کارونو له لارې او کله هم له نورو دولتونو سره د مرستو له لارې دا کار کوي. امریکا د خپلې بهرنۍ پالیسۍ د اهدافو رسېدو لپاره تر ډېره له مرستو او بسپنو څخه کار اخلي، بشري حقوق، د بیان آزادي، د ښځو حقوق، ډیموکراسي، د قانون حاکمیت او ... هغه غوړې خبرې دي چې له لارې یې امریکا په هېوادونو کې د خپلې بهرنۍ پالیسۍ اهدافو ته د رسېدو زمینه سازي کوي. معمولاً له ټولې نړۍ غېږ تاوول او ټوله نړۍ یا یې اکثره برخې د خپلې بهرنۍ

Bawar.net


پالیسی د اغېزمنولو لپاره لوړو مصارفو ته اړتیا ده. په نورو دولتونو کې د سفارتونو پرانیستل، د کارمندانو معاش او د سفارتونو لوړ لګښتونه، له کوربه دولت سره په بېلابېلو برخو کې مرستې او ورته بسپنې ورکول، د جاسوسی دستګاه ګانو فعالول او وربانديې لوړ لګښتونه کول زیاتره د دې لامل کېږي چې د هېواد اقتصاد له پښو وغورځېږي او هېواد د اقتصادي بحران کندې ته وربرابر شي.

۳- د نړیوالو اړیکو کمزورتیا

د نړۍ ټول دولتونه له بېلابېلو اړخونو څخه یو پر بل باندې تکیه دي، د یو دولت امنیت او ناامني پر بل دولت باندې ښه او بد اغېز کولای شي، نړیوالې اړیکې د دولتونو ترمنځ له اړیکو څخه جوړېږي، هغه که د سوداګرۍ په برخه کې اړیکې وي، که د سیاست په برخ کې اړیکې وي اوکه په نظامي برخ کې اړیکې وي. په بین المللي نظام کې ښه او بریالی هېواد هغه ګڼل کېږي چې له ډېرو دولتونو سره ښې اړیکې ولري، هغه دولتونه چې له نورو هغو سره کمې اړیکې ساتي یا یې پالي، هغوی د ژوند په بېلابېلو برخو کې له ستونزو سره مخ وي، ځکه چې الله تعالی جل جلاله د ځمکې پر مخ ټول نعمتونه د یو دولت وګړیو ته نه دي ورکړي. همدا لامل دی چې دولتونه یو پر بل د تکیه کولو د اصل له مخې یو له بل سره اړیکې ساتي، یو له بل سره همکاري او مرستې کوي. د یو دولت د اقتصادي بحران یو لامل دا هم کېدای شي چې هغه دولت له ډېرو کمو دولتونو سره اړیکې پالي، ځکه دا دولت د دې وړتیا نه لري چې په نړیوال کلي کې په اصطلاح له چا سره مړی او ژوندی وکړي، دا دولت د هېچا د ښې او بدې نه دی، نور دولتونه هم ترې خپله لمن راټولوي او په ښې او بدې یې کار نه لري. په دغسې ګوښه حالت کې ځان ساتل هم د دولتونو د اقتصادي بحران لامل کېږي.(۳:م۳۵)

۴- د نړۍ په سرعت پرمختګ

پښتانه متل کوي چې (لنډ نیالګی یې له اوږده نیالګي سره برابروه، نو لنډ له بېښه راووت) شک نه شته چې د اروپایي او امریکایي هېوادونو پر اقتصادي

Bawar.net


ودې او پرمختیا خو پېړۍ اوښتي دي، هغوی ته د هغوی پلرونو، نیکونو او د نیکونو نیکونو یې کارونه کړي دي، د اقتصادي پرمختیا بنسټونه یې ورته درولي دي، اوس ترې هغوی په ډېر ډاډه توگه گټنه کوي. امریکایان په خپلو کې یو متل لري وایي: ((موږ هر یو د خپلو راتلونکیو نسلونو لپاره کار کوو، څکه چې زموږ پخوانیو نسلونو موږ ته کار کړی دی)). خو ختیزوال او افریقایي هېوادونه بیا په تاریخي لحاظ له پېړیو پېړیو له راهیسې د جنگ او فقر قرباني دي، کله چې نړۍ د یو کلي حیثیت خپلوي، نو شک نه شته چې د پرمختللې نړۍ په بېره پرمختگ د وروسته پاتې هېوادونو د لا وروسته پاتېوالي او اقتصادي بحران باعث کېږي. وروسته پاتې هېوادونه او اوسېدونکي یې هم اړ دي چې له پرمختللي ټیکنالوژۍ څخه استفاده وکړي، په کورکې ټلویزیون ولري، برېښنا ولري، پر مختللې لوړې زده کړې ولري، ښاري سهولتونه ځان ته پیدا کړي، د دولت په کچه پرمختللی اداري سیستم، پرمختللې نظامي وسلې او پرمختللې ټیکنالوژي ولري،خو دا هر څه په ډېر لوړ قیمت تر لاسه کېږي او ارزانه نه دي، د دې لپاره هغوی اړ دي چې د لویو قدرتونو لمن ته ځانونه وغورځوي یا هم له هغوی په سود پورونه واخلي چې دا پورونه نسل په نسل له گټې سره یو ځای پر دوی پاتې کېږي. نو له دې ځایه ویلای شو چې د اقتصادي بحران او وروسته پاتېوالي یو تر ټولو لوی عامل د پرمختللیو دولتونو په بېړه اقتصادي وده او پرمختگ دی چې وروسته پاتې هېوادونه په اساني ورته ځانونه نه شي رسولای.

۵- اقتصادي گلوبالایزیشن

د اقتصادي گلوبالایزیشن مانا دا ده چې بانگه او توکي دولتونو تر پولو منحصر پاتې نه شي او اخوا دېخوا واوړي راواوړي، د آیفل کمپنی په چین کې ده، خو د امریکا لپاره گرځنده موبایلونه، کمپیوټرونه او نورو برېښنایي توکي تولیدوي، خو دا ټول شیان په امریکا کې نه پاتې کېږي، بلکې تر جلال آباد او مهترلام ښارونو پورې هم رارسېدلي دي. ډالر د امریکا کرنسی ده او یورو د اروپایي اتحادیې، خو د نړۍ په ټولو ښارونو کې دواړه پیدا کېږي او

Bawar.net


دواړه ارزښت لري، د آیفل د کمپنۍ د تولیداتو قیمت هم لوړ دی او جنسیت یې هم ښه دی او تر ټولو پرمختللي او لوکس هم دي، د دې کمپنۍ موبایلونو او کمپیوټرونو نړدې په نورو ټولو موبایلونو او کمپیوټرونو اغېز پرېباسلی دی. اوس له ایفل سره د سم سینګ کمپنۍ ښه رقابت روان دی. دغه ډول لوکس تولیدات چې له خپلو سرحدنو راتېرېږي او حتا د وروسته پاتې هېوادونو ښارونو ته ځانونه رارسوي او د پرمختللیو هېوادونو کرنسي- د وروسته پاتې هېوادونو پر تولیداتو او د کرنسۍ پر ارزښت ژور اغېز پرېباسي، د وروسته پاتې هېوادونو د اقتصادي پرمختیا مخه ډب کوي او هغوی له اقتصادي وروسته پاتېوالي او بحران سره مخامخوي.(٦:م٩٦)

## درېیمه فقره: د اقتصادي بحران د مخنیوي لارې چارې

دمخه مو په هغو لاملونو باندې خبرې وکړې چې د دولتونو د اقتصادي وروسته پاتېوالي او بحران لامل کېږي، اوس غواړو هغو مهمو ټکیو ته اشاره وکړو چې د اقتصادي وروسته پاتېوالي او بحران د مخنیوي باعث کېدای شي، دغه ټکي په لاندې ډول دي:

### الف: د نړۍ د هېوادونو یو بل تکیه (نړیواله همکاري)

هسې خو په زیاترو سیاسي بحثونو کې ویل کېږي چې د نړۍ دولتونه د Independent له حالته راوتي دي اوس ټول دولتونه یو پر بل تکیه یا Depend دي. که د نړۍ ټول هېوادونه پر دې باور اوسي چې دوی یو پر بل تکیه دي او یو د بل د دولت اقتصادي او سیاسي وضعیت نه اغېز کېدای شي، نو دوی مجبوره دي چې یو د بل لاس ونیسي او یو له بل سره همکاري وکړي، کله چې دولتونه په سیاسي لحاظ یو بل ته نږدې شول، نو اقتصادي همکاری او مرستې خپله رامنځته کېږي، په دې صورت کې به پر خپلو پښو ولاړ هېواد هغه ته لاس ورکړي چې له پښو غورځېدلی دی او له ځان سره به یې نېغ ودروي.

Bawar.net


**ب: د دولتونو ترمنځ د روښانه او صادقانه پالیسیو طرح**

د اقتصادي همکاریو او یو پر بل تکیه کولو لپاره تر ټولو مهمه دا ده چې دولتونو په خپلو منځو کې یو د بل مقابل کې روښانه او صادقانه پالیسی جوړې او عملي کړي، له بده مرغه زموږ سیاسي او اقتصادي واقعیتونه دا دي چې غواړو یو بل له پښو وغورځو، یو بل ته سیاسي ستونزې پیدا کړو چې اقتصاد یې صفر شي، اقتصاد یې صفر کړو چې سیاست یې بې ثباته شي، سیاست او اقتصاد یې دواړه خراب کړو چې په نظامي برخه کې له موږ کمزوری شي او له پښو وغورځیږي. هغه هېوادونه چې وروسته پاتې دي، په خپلو کې شدید اختلافات لري، اروپا او امریکا که له یو بله ډېر لرې هم دي خو یو د بل په مقابل کې روښانه او صادقانه پالیسی درلودلو یو بل ته نږدې کړي دي، هغوی ټولو خپلې ګټې د ناټو سازمان په چوکاټ کې تعریف کړي دي او خپل غم او خوشحالي یې له دې لارې یو له بل سره شریک کړي دي. د اروپایي اتحادیې غړي دولتونه دومره سره نږدې شول چې یو د بل په مقابل کې د کومې پالیسی طرحه کولو ته اړتیا نه پېښوي، هلته اعتماد او ډاډ دومره لوړ تللی دی چې پولې او سرحدونه هم له منځه لاړل، د جرمني ګټه د ټولې اروپا ګټه ده او د فرانسې زیان د ټولې اروپا زیان ګڼل کېږي. د آسیا وروسته پاتې هېوادونه په ځانګړې توګه اسلامي هېوادونه ولې نه شي کولای چې د اسلام مبارک دین له ارشاداتو سره سم چې د مسلمانانو ترمنځ هېڅ ډول بېلوونکې پوله اوسرحد نه شته، خو بیا هم دوی له یو بله بېل دي او دومره بېل دي چې یو د بل له لاسه ښه ورځ نه لري. اسلام دوی ته خپلې مشترکې ګټې او زیانونه هم تعریف کړي دي، خو دوی یې لا نه مني او پر ټولو د نفسي نفسي- حالت خپور دی. که د عربي نړۍ هېوادونه خپل تېل یوازې پر اسلامي نړۍ وپلوري او له تېلو او نفتو څخه لاسته راغلې پانګه په اسلامي هېوادونو کې مصرف کړي او که د اسلامي هېوادونو کنفرانس د اسلامي هېوادونو د ساتنې لپاره مشترکه مسلمانه اردو او نظامیان ولري، نو شک نه شته چې اسلامي نړۍ به ډېره ژر په اقتصادي، سیاسي او نظامي برخو کې پرمختګ وکړي او ځانونه به له اروپایانو او

Bawar.net


امریکایانو سره سیال وګوري. دې کې هم شک نه شته چې یو شمېر اروپايي او امریکايي هېوادونه د اسلامي نړۍ وحدت ته خندونه پېښوي، خو که اسلامي نړۍ صادقانه او کلک عزم وکړي، نو پښتانه متل کوي چې که غر څومره لوړ وي، نو پر سر يې لار شته.

## ج: د جګړو مخنيوی

دمخه مو یاده کړه چې جګړه یوازینی هغه عامل دی چې انسانان خوري، پیسې په کې مصرفېږي، آبادۍ ورانېږي، فصلونه او باغونه په کې سوځېږي او هر څه په کې د اور خوراک کېږي. سیاستپوهان وايي: جګړه ګټونکی نه لري، حتا هغوی چې د جګړو له ډګره بریالي راستنېږي، تر نورو ډېر مات دي. له بده مرغه د اوسنۍ زماني اقتصادي واقعیتونه دا دي چې دولتونه د خپلو ځانته ځانته ملي ګټو د ساتنې او ترلاسه کوونې په پار د جګړو لاره نیسي، د جګړې په لاره کې دومره پیسې مصرفوي، دومره انسانان وژني او دومره آبادۍ له منځه وړي چې په کلونو کلونو کې يې نه شي ترلاسه کولای، د نړۍ د زیاترو هېوادونو اقتصادي وروسته پاتېوالی د داخلي او بهرنیو تحمیل شویو جګړو له امله دی. زموږ ګران هېواد افغانستان يې تر ټولو ښه بېلګه ده، موږ تر پینځه دېرشو کلونو زیات یو بل ووژل، نورو ووژلو، خو هېڅ شی مو تر لاسه نه کړ، زموږ ګاونډیو په ځانګړې توګه پاکستان ته چې زموږ د څو دېرش کلنې جګړې کباړ ور روان و او دی، هغوی زموږ جګړې د کباړ له امله دومره پرمختګ وکړ چې نن د اسلامي نړۍ یو مهم او پرمختللی هېواد یادېږي او په اسیا کې یو یاد نوم دی. جګړه د اقتصادي وروسته پاتېوالي تر ټولو لوی عامل دی، که د نړۍ دولتونه پر دې وتوانېدل چې یو د بل په مقابل کې د ښکاره او پټو، د تودې او سړې جګړې مخه ونیسي، نو شک نه شته چې دولتونه به د جګړې مصارف پر تعلیم، روغتیا او سپورټ ولګوي او ټول دولتونه به نه یوازې له اقتصادي بحران سره نه مخېږي، بلکې اقتصادي پرمختګ به هم وکړي.

Bawar.net


## د: د نظامي مصارفو راکمول

د نړۍ دولتونه یو د بل په مقابل کې صادقانه او روښانه پالیسي نه لري، همدا لامل دی چې یو له بل نه وېرېږي او یو د بل په مقابل کې جګړې ته د امادګۍ لپاره هر کال په میلونونو ډالر نظامي مصارف لري، کله چې خپلمنځي پالیسي روښانه او صادقانه شوې، لکه اروپایي اتحادیه، کله چې خپلمنځي اختلافات او جګړې له منځه لاړې، نو شک نه شته چې دومره ډېرو نظامي مصارفو ته هم اړتیا نه پېښېږي، نظامي مصارف راکمېږي او دولتونه خپل له اقتصادي بحران څخه راوځي او د اقتصادي ودې پر خوا ورګرځي، د لوړو نظامي مصارفو کول د اقتصادي وروسته پاتېوالي یو تر ټولو ستر عامل دی.

## هـ: د ټیکنالوژۍ او تعلیم عامول

یوه عامه اصطلاح دا ده چې ناپوهي د هر ډول بدبختۍ مور ده، یانې هره بدمرغي له ناپوهۍ رازېږي، هغه دولتونه چې پرمختللي دي، هغوی ځانونه د بدبختیو له موره ژغورلي دي، خپل جهل یې وژلی دی او علم یې ترلاسه کړی دی. په اقتصادي لحاظ د و روسته پاتې هېوادونو د نفوس اکثره برخه نالوستي او بېکاره دي. کله چې په دغو دولتونو کې تعلیم عام شو، نو وروسته پرمختللې ټیکنالوژي هم عامېږي، د تعلیم او ټیکنالوژۍ پر عام کیدو سره ډېرو ځوانانو ته کار پیدا کېږي، خلک مصروفېږي او چې خلک مصروفه شول نو د هغه مملکت مجموعي اقتصاد هم وده کوي او دولت له اقتصادي بحران څخه راوځي. د اقتصادي وروسته پاتېوالي د مخنیوي تر ټولو ښه عامل دا دی چې تعلیم او ټیکنالوژي عامه شي، د هېواد ګوټ ګوټ ته دې ښوونځي او مدرسې ورسېږي، د هېواد ګوټ ګوټ ته دې پاخه سړکونه تېر شي، د برېښنا پایې دې ولګول شي، کرنه دې میکانیزه شي او د کروندګر حاصلات دې په ښارونو کې وپلورل شي، دا ټولې چارې یو له بله سره تړاو پیدا کوي او دا تړوا ورکول هم د تعلیم، ټیکنالوژۍ او د دوی په رڼا کې د غوره پالیسۍ دنده ده.

Bawar.net


## و: د گمرکي تعرفو له منځه تلل یا هم راکمېدل

د نړۍ د ډېرو دولتونو اقتصاد پر سوداګریزې راکړې ورکړې ولاړ دی، د ښې او اسانه سوداګریزې راکړې ورکړې لپاره د دولتونو ترمنځ د سوداګریزې همکارۍ تړونونه او موافقتلیکونه شرط دي چې په کې سوداګرو ته د گمرکي تعرفو تخفیف او یا هم له منځه تګ درج وي. که چېرې سوداګر د گمرکي تعرفو له وېرې او تشویش پرته په ډاډه زړه خپل اموال له یو سرحد څخه واړولای شي، نو له یوې خوا به په گمرکونو کې د خوراکي موادو، دواګانو او نورو هغو اموالو باندې د وخت د تېرېدو مخه نیول شوې وي چې په څو ورځو کې له منځه ځي او خرابېږي او له بلې خوا به یې له قیمت څخه د ټیکس اومالیې اندازه راکمه شوي اوسي، له سوداګرو سره دا ډول مرسته په حقیقت کې د خپل ملت له پېرېدونکیو سره مرسته ده. له سوداګرو سره دا ډول مرسته د دې زمینه سازي هم کوي چې د دوو یا څو دولتونو ترمنځ سوداګري پراخه شي او په نتیجه کې یې دواړه لوري د اقتصادي پرمختیا په لاره وربرابر شي. همدا چې د دواړو دولتونو ترمنځ د سوداګرۍ له امله د پیسو راکړه ورکړه صورت نیسي-، دا خپله د دې ضمانت دی چې دا هېوادونه به اقتصادي وروسته پاتېوالي ته نه پاتې کېږي.

## ز: د ولسونو ر اوینښېدل

د ولسواکۍ مانا او مفهوم دا دی چې حاکمیت له ولسونو سره دی، پر دولتي څوکیو ناست حاکمان په خپل سره هېڅ هم نه شي کولای، که یې کوي، ولسونه د بیان له آزادۍ څخه په گټنې حق لري چې خپل اعتراضیه غږ پورته کړي، حاکمان د ولسونو د اعتراض له وېرې سمې پالیسۍ طرحه کوي او سم کارونه کوي، سم کارونه په دې مانا چې په پالیسیو او خپلو فعالیتونو کې د خپلو خلکو گټې په پام کې نیسي-، په دې خاطر چې دوی د یوې معلومې دورې لپاره په واک کې دي، که سم کار او سمې پالیسۍ یې طرحه نه کړې، نو بیا پرې څوک باور نه کوي، بلکې محکوموي یې، پښتانه وایي: ((د ولس زور د

Bawar.net



خدای زور دی)). حاکمان د خدای له زوره وېرېږي. خو دا ټول په هغه صورت کې چې ولسونه ويښ وي، ولسونه د خپلو حاکمانو له خوا طرحه شوې پاليسۍ گوري او لولي، د هغوی اعمال قدم په قدم تعقيبوي، کله چې ولسمشر- ټاکي نو اهل ولسمشر ته رايه ورکوي، کله چې مقننه قوې ته خپل استازي لېږي نو اهل، په کار پوه او د ولس په درد دردمن استازي لېږي، آزاد او بې پرې مطبوعات لري، نو په دې صورت کې ولسونه هر څه کولای شي. حاکمان فاسد نه وي، قانون حاکم وي او قانون تر ټولو مشر- گڼل کېږي، په داسې دولتونو کې مساوات په رښتينې مانا موجود وي او هېڅوک له هيچا څخه کم و زيات نه وي. کله چې د پاليسيو په جوړولو کې خلک يا د خلکو استازي دخيل اوسي، نو پاليسۍ او د چارواکو اعمال به دواړه داسې وي چې د خلکو او په مجموع کې د دولت د اقتصادي ودې لپاره وي او په کې به د اقتصادي بحران او وروسته پاتېوالي مخه نيول شوې اوسي.

Bawar.net


## دریم څپرکی
## په اسلام کې د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو بنسټونه او اصول

**لومړی مبحث: په اسلام کې د انساني د دولتونو د خپلمنځي اړیکو بنسټونه**

د اسلام مبارک دین د خپلو پلویانو لپاره په انفرادي او ټولنیز ژوند (هغه که د کلي په سطحه وي، د ولس او ولسوالۍ په سطحه وي، د ولایت، هېواد او نړۍ په سطحه وي) کې له یو بل سره د اړیکو او چال چلند لپاره ځینې بنسټونه واردمخه ایښې دي او خپلو پلویانو ته یې امر کړی دی چې خپلمنځي اړیکې (د مسلمانانو ترمنځ اړیکې او د مسلمانانو او نامسلمانانو تر منځ اړیکې) به پر دې بنسټونو ودروي او دا ارزښتونه به په پام کې نیسي. دې ارزښتونو او بنسټونو ته اسلام دومره ارزښت ورکړی دی چې هر هغه عمل او فعل نامناسب او ناوړه ګڼي چې دا ارزښتونه او حدود په کې په پام کې نه وي نیول شوي یا دې ارزښتونو ته په کې صدمه رسېدلي وي.

د اسلام مبارک دین له نظره د انساني اړیکو چې د نړیوالو اړیکو پیل ګڼل کېږي، بنسټونه باید په لاندې ارزښتونو ولاړ وي یا په بله مانا، موږ چې د اسلام په مبارک دین کې له لاندې ارزښتونو سره مخېږو؛ نو پوهېږو چې په اسلام کې نړیوالو انساني اړیکو ته ځای شته دی.

Bawar.net


## لومړی جز: انساني کرامت

د قرآن کريم د البقرې سورت

(وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ...) (۳۱-۳۲)ايت پورې د الله تعالی جل جلاله له ارشاداتو څخه معلومېږي چې الله تعالی جل جلاله انسان پر ځمکه خپل خليفه مقرر کړ، د ځمکې مخ او کاينات يې ورته مسخر کړل او هم يې ورته د عقل ځواک، چې په خپلواکه توګه د هستی د حقايقو د درک کولو وسيله ده، ورکړ. همدارنګه يې د ځمکې او آسمانونو د پوهې ور کړ او تر دې چې د پرېښتو د سجدې ور يې کړ.

له دې څخه معلومېږي چې په اسلام کې انسان د تکريم او درناوي وړ دی، تر دې پورې چې له زېږېدو څخه دمخه د جنين په مرحله کې هم د هغه د انسانيت مقام پر ځای دی. د قرآن کريم د اسراء سورت په (۷۰)مه شمېره ايت (وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ۷۰ کې هم په صريحه توګه د انسان لپاره د (کرامت) لفظ ياد شوی.

د قرآن کريم له ايتونو او له نبوي مبارکو احاديثو څخه معلومېږي چې د انسان تکريم او درناوی په کومې ځانګړې ډلې، جنس، نژاد او قوم پورې محدود نه دی او ټول انسانان، چې د انسانيت پر مانا برابر وي، ترې برخمن دي، د اسلام پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په دې اړه فرمايلي دي: كلكم لآدم و آدم من تراب، لا فضل لعربی على أعجمی إلا بالتقوى.( الزرقي: ۹)

ژباړه: تاسې ټول له آدم او آدم له خاورې پيدا شوی دی، هېڅ عربی پر عجمي لوړ نه دی، مګر د تقوا له امله.

د قرآن کريم په منطق کې د خلکو ترمنځ د رنګ پر اساس هېڅ امتياز شتون نه لري او د فضيلت اساس يوازې تقوا ده. په يو روايت کې راغلي دي چې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په صحابه کرامو کې يوه چا ته په دې خاطر

Bawar.net



چې مور یې توره وه، د پیغور په توګه د تورې زوی ووایه. پیغمبر صلی الله علیه وسلم په دې خبره په غوسه شو او درې ځل یې وویل چې ((له حد څخه تجاوز شوی دی، سپین پوستی پر تور پوستي هېڅ فضیلت نه لري)).(بیهقي : ۱۳)

همدارنګه اسلام د عقیدې پر اساس هم د انسان - هغه که مړ وي یا ژوندی- هېڅ توپیر ته نه دی قایل، روایت شوی دی چې یوه ورځ د یو یهودي جنازه وړل کېدله، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یې درناوی ته له ځایه پورته شو، ورته وویل شول چې دا د یهودي جنازه ده، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((ولې انسان نه دی؟))(امام مسلم : ۱۵ )

په اسلام کې د انسان دغومره اکرام او درنښت مورږ دې ته هڅوي چې له نورو انسانانو سره تر هغې پورې ښې اړیکې ولرو او وپالو، تر څو چې یې زموږ دین، زموږ ځان، زموږ مال، زموږ ناموس او زموږ خاورې ته زیان نه وي رسولی.

## دویم جز: د انساني ټولنې یووالی

د اسلام مبارک دین انساني ټولنې ته یو امت ویلای دی، اصل او ریښه یې یوګنې او یادونه کوي چې د انسانیت مفهوم ټول په بر کې نیسي- او یووالی ورته ورکوي. دا مسئله د قرآن کریم په بېلابېلو ایتونو کې په وضاحت سره بیان شوې ده،لکه د النساء سورت په لومړي ایت کې راغلي دي:

(يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ...).

ژباړه: ای خلکو! له خپل هغه رب نهووېرېږئ چې هغه تاسې له یو تن څخه پیدا کړئ او له هماغه تن څخه یې د هغه جوړه مینځ ته راوړه او له دې دواړو نه یې په نړۍ کې ډېر نارینه او ښځې خواره کړل، له هغه خدای نه ووېرېږئ چې د هغه په وسیله تاسې له یو بل نه خپل حقوق غواړئ او د خپلولۍ او

Bawar.net


پیوندونو له غوڅولو نه ډډه وکړئ، باور ولرئ چې الله تعالی پر تاسې څاروونکی دی.

همدارنګه د البقرې سورت په (۲۱۳) ایت کې راغلي دي:

(كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۚ...)

ژباړه: په لومړي وخت کې ټول خلک پر یوه لاره روان وو (بیا چې دې وضعې دوام ونه کړ او ا ختلافونه رامنځ ته شول) نو الله پیغمبران ولېږل چې په سم تګ زېري ورکوونکي او د انحراف له نتیجو څخه وېروونکي وو او له هغوی سره یو ځای یې حق کتاب ولېږه چې هغه اختلافونه چې د حق په باب د خلکو ترمینځه راغلي وو، فیصله کړي (او د دې اختلافونو د پېښېدو دلیل دا نه و چې په ابتدا کې خلکو ته د حق ښودنه نه وه شوې، نه) اختلاف هغو کسانو راپیدا کړ چې د حق په برخه کې معلومات ورکړل شوي وو، هغوی د روښانه لارښودونو له موندلو څخه وروسته صرف په دې غرض حق پرېښود او بېلابېلې لارې یې رامینځته کړې چې غوښتل یې په خپلو مینځو کې یو پر بل تېری وکړي؛ نو الله هغو کسانو ته چې پر پیغمبرانو یې ایمان راوړ، په خپل اذن د حق هغه لاره وښودله چې خلکو په کې اختلاف کړی و، د الله چې چا ته خوښه شي، سمه لاره ورښیي.

د قرآن کریم په منطق کې د ژبې، رنګ، نژاد، قوم او نورو لاملونو له امله بېلوالی د انساني ټولنې د وحدت مانع کېدای نه شي، بلکې دغه بېلوالی د انسان په خلقت کې الهي نښې دي چې انسانان پرې په خپلو منځونو کې یو بل وپېژني، لکه چې الله تعالی جل جلاله د الحجرات سورت په (۱۳) ایت کې فرمایلي دي:

ژباړه:ای خلکو! موږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې نه پیدا کړئ او بیا مو تاسې قومونه او قبیلې وګرځولئ، تر څو چې تاسې یو تر بله سره وپېژنئ، په حقیقت کې د الله تعالی جل جلاله په نزد له تاسې نه تر ټولو زیات عزتمند هغه

Bawar.net


ځوک دی چې په تاسې کې تر ټولو زیات پرهېزګاره وي، په باوري ډول الله پر هر څه پوهېدونکی او باخبره دی.

کله چې پوه شو چې انساني ټولنه سره یوه ټولنه ده؛ او د انسانانو ترمنځ تفاوتونه د هغوی د خپلمنځي پېژندنې لپاره دي، نو بایده دي چې وې په خپلو منځونو کې د دغې پېژندګلوی پر بنسټ یو د بل له تجربو او امکاناتو څخه ګټه واخلي، که چېرې د ځمکې پر مخ انسانان یو له بل سره پېژندګلوي او همکاري ونه لري؛ نو د ځمکې پر مخ به انساني ژوند ستونزمن شي. همدا لامل دی چې قرآن کریم خپل پلویان هاند و هڅې، حرکت او سیاحت ته هڅوي او ورته وايي چې د ځمکې پر مخ د روزۍ موندلو لپاره خپاره شئ، د دې خپرېدو او له یو ځایه بل ځای ته د سفر کولو موخه هم دا ده چې یو د بل له امکاناتو او تجربو څخه ګټنه وکړي، که چېرې انسانان په خپلو منځونو کې اړیکې ونه لري، نو نه شي کولای چې یو د بل سیمې او خاورې ته داخل شي.

## دریم جز: مرسته او همکاري

د انسانانو ترمنځ د مرسته او همکاري د انساني ټولنیز ژوند تر ټولو مهم بنسټ او پایه ده،که دا پایه ولړزېده یا ونړېده، نو وګنئ چې ټول انساني ژوند ورسره لړزېږي او نړېږي. د اسلام دیني لارښوونو دا اصل د ژوندانه ټولو برخو او سطحو ته عام کړی دی او پر دې اصل عمل کول یې الهي فریضه او ټولنیز مسوولیت ګڼلی دی. الله تعالی جل جلاله د قرآن کریم د المایدې سورت په دویم ایت کې فرمایلي دي:

ژباړه: کوم کارونه چې د نېکۍ او خدای پالنې دي په هغو کې له ټولو سره مرسته وکړئ او کوم کارونه چې د ګناه او تېري وي په هغو کې د هېچا ملاتړ مه کوئ.

همدارنګه حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خپل ژوند کې له نورو سره د همکارۍ تر ټولو غوره مثال و، هغوی چې کله مدینې منورې ته هجرت

Bawar.net


وکړ؛ نو له یهودیانو سره یې ژمنلیک لاسلیک کړ، چې له مخې یې دواړو ډلو په شریکه له مدینې منورې څخه د ضرر یا حملې مخنیوی کاوه.

همدارنګه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مبارک سیرت په برخه کې لیکل شوي دي چې د ۲۵کلنۍ په عمر د قریشو له ځینو مشرانو سره د عبدالله بن جدعان په کور کې تړون وکړ چې د زورورو په مقابل کې به د کمزوریو ملاتړ کوي، له بعثت څخه وروسته هغه مبارک د دې پیمان په اړه ویلي ول: ما د عبدالله بن جدعان د کور په تړون کې ګډون درلود چې زه به یې د اوښانو پر نعمتونو هم ورنه کړم او که نن ورځ هم ورته وبلل شم، نو مثبت ځواب به ورته ووایم.

کله چې د انسانانو ترمنځ مرستې او همکارۍ ته دومره اهمیت ورکړل شوی دی؛ نو اوسمهال چې د نړۍ انسانان له بل هر وخت یو د بل لاسنیوي او همکارۍ ته ډېره اړتیا لري، نوبایده دي چې د نړۍ انسانان او د نړۍ هېوادونه یو له بل سره د مرستې او همکارۍ په فضاء کې ژوند وکړي او یو له بل سره لاسونه یو کړي.

## څلورم جز: ګذشت او تېرېدنه

په اسلام کې د ټولنیز ژوندانه بل اصل ګذشت او تېرېدنه ده؛ خو په دې مانا نه چې هر شر او هر ذلت ته دې انسان غاړه کېږدي. اسلامي شریعت خپل پلویان په ښه او اسانه لار د ضرر دفعه کولو او له منځه وړلو ته هڅوي. الله تعالی جل جلاله خپل پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته وایي چې د دښمنانو د بدۍ په مقابل کې له تېرېدنې او نېکۍ څخه کار واخله، تېرېدنه ښه ده؛ خو په دې شرط چې له قوت سره سمه ترسره شي او عزت النفس ته زیان ونه رسوي، نه دا چې د عجز او کمزورۍ له امله وي. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په مبارک ژوند کې د ګذشت او تېرېدنې ښه بېلګه د حدیبې د سولې په تړون کې هم لیدلای شو، د دې تړون د لاسلیک پر مهال حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه ملګري په دې کال له حج کولو څخه منعه

Bawar.net


کړای شول، پيغمبر عليه السلام کولای شول چې د جنګ لاره يې غوره کړې وای، ځکه کافي اندازه سربښندونکي ملګري ورسره ول، خو بيا يې هم د ګذشت لاره غوره کړه، د دې معاهدې له نورو موادو څخه هم په ښکاره داسې ښکارېده چې له مسلمانانو سره زياتی کېده؛ تر دې پورې چې حضرت عمر رضی الله عنه توره په لاس کې خوځوله او په غوسه يې ويل: ولې په خپل دين کې پستي ومنو؟ خو حضرت محمد صلی الله عليه وسلم بيا هم ګذشت او تېرېدنې ته ترجيح ورکړه او د جنګ لاره يې غوره ونه ګڼله.

له دې وراخوا په جنګونو کې هم حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ډېر ځل له ګذشت څخه کار اخيستی او د انتقام اخيستنې په فکر کې شوی نه دی. نو له همدې ځايه موږ ويلای شو چې د اسلام مبارک دين خپلو پلويانو ته د ټولنيز ژوند او په اوسنی نړۍ کې له خلکو سره د ښه ژوند کولو لارښوونه کوي او د ښه او ټولنيز ژوند له فکر سره سم نړيوالې اړيکې هم جوړېږي او رامنځته کېږي.

## پينځم جز: آزادي

ټول انسانان په انفرادي او ټولنيزه بڼه هغه مهال د رښتيني شخصيت څښتنان کېدای شي چې د فکر و عمل آزادي ولري. الله تعالی جل جلاله چې کله حضرت آدم عليه السلام پيدا کړ؛ نو په فطري توګه يې د ځينو شيانو د نومونو علم ورکړ او هماغه علم په بالقوه توګه د حضرت آدم عليه السلام ټولو اولادونو ته انتقالېږي؛ خو بني آدمان له دې قوې يا استعداد څخه هغه مهال ګټه کولای شي چې د فکر، حرکت، اقامت، خبرو او ... آزادي ولري؛ خو په اسلام کې به د آزادۍ دغه هره بڼه د ايمان او عقل په بند کې وي او کله چې د ايمان او عقل له بند څخه وځي؛ نو اسلام بيا له دا ډول آزديو سره جوړ نه دی. اسلام له هغو آزاديو سره هم جوړ نه دی چې د هوا و هوس په زنځيرونو تړلې وي. د اسلام مبارک دين په دوو برخو کې د انسان آزادۍ ته د قدر په سترګه ګوري:

Bawar.net


## لومړی فقره: د عقیدې آزادي

د اسلام مبارک دین د عقیدې آزادۍ بشپړ درناوی لري او پر نامسلمانو یې په زور د دین له قبلولو څخه منعه فرمایلې ده، د قرآن کریم د البقرې سورت په ۲۵۶مه شمېره ایت کې دې ټکي ته اشاره شوې ده چې (د دین په چارو کې زور او مجبورول نه شته) همدارنګه کله چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یو صحابي خپل دوه زامن د اسلام منلو ته اړ ایستل؛ نو هغه یې له دې کار څخه منعه کړ.

د عقیدې د آزادۍ بله غوره بېلګه دا ده چې کله د دویم خلیفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دربار ته یوه بوډۍ ښځه د څه کار لپاره راغله؛ نو حضرت عمر رضی الله عنه هغه اسلام ته راوبلله؛ خو هغې د اسلام بلنه ونه منله، حضرت عمر رضی الله عنه له دې وېرې چې هسې نه پر هغې یې زور راوړی وي، پروردګار ته مخ کړ او دوعا یې وکړه: ای الله! ګواه اوسه چې ما هغه مجبوره نه کړه.

کله چې د اسلام مبارک دین نامسلمانو ته په اسلامي حریم کې تر دې پورې د عقیدې آزادي ورکوي؛ نو له دې څخه معلومېږي چې د دې آزادۍ موخه دا ده چې مسلمانان له نامسلمانانو سره د ښو اړیکو غوښتونکي دي او په عادي شرایطو کې باید دواړه لوري یو د بل له امکاناتو او وسایلو څخه ګټه وکړي؛ خو دغه اړیکې او دغه له وسایلو ګټنې باید داسې نه وي چې د مسلمانانو د ذلت، د مسلمانانو د دین د سپکاوي او د مسلمانانو د عقیدې د خرابوالي لامل شي.

## دویمه فقره: د برخلیک ټاکنې آزادي

د اسلام مبارک دین لکه څرنګه چې خپل پلویان د بیان، عقیدې او استوګنې له آزادۍ څخه برخمن کړي دي، خپلو مخالفینو ته هم د خپل برخلیک ټاکنې آزادي ورکوي، په عین حال کې مسلمانانو ته دا اجازه نه ورکوي چې د نااسلامي بیرغ تر سیوري لاندې محکومیت ته غاړه کېږدي، ځکه نا اسلامي

Bawar.net


نظام نه شي کولای چې هغه احکام چې اسلام د خپلو پلویانو د کورنۍ او نورو ټولنیزو مسایلو په اړه مقرر کړي دي، د دوی لپاره اجرا او ترسره کړي.

د اسلام مبارک دین هر امت ته له تېري څخه د خلاصي حق ورکړی دی او دا چې خپل برخلیک به خپله ټاکي، مسلمانان هم دا حق نه لري چې پر نورو تېری وکړي، په اسلام کې استعمار نه شته او نه دې ته اجازه شته چې د یوې سیمې خلک دې په ناحقه د بلې سیمې له خلکو یا هم د هغوی د کار له وسایلو او ځمکو څخه ګټنه وکړي یا دا چې ځانونه پر هغوی تحمیل کړي او لوړ یې وګڼي.

حضرت عمر فاروق او له هغه وروسته د اسلام ټولو خلیفه ګانو د خپلو فتوحاتو پر مهال کرنیزې ځمکې خپل ملکیتونه نه دي ګڼلي، بلکې یوازې یې پر هغوی د (خراج) په نوم مالیه وضعه کړې ده. همدارنګه اسلامي دولت تر هغې چې تر تېري لاندې رانه شي، له خپلې خوا نه د جنګ اعلان نه کوي او که له دفاعي اړتیا سره سم یې پر جنګ لاس پورې کړ، بیا هم د ملتونو د برخلیک ټاکنې حق په رسمیت پېژني. کله به چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د تېري په مقابل کې د دفاع لپاره کوم قوماندان د جنګ ته استوه؛ نو ورته به یې ویل چې دښمنانو ته د اسلام منل، د سولې تړون کول او یا هم جنګ ته اماده کېدل، درېواړه مخې ته کړئ، که چېرې به یې د سولې تړون خوښوه؛ نو بیا به پرې وفا کول لازمي ول او که جنګ ته به یې ترجیح ورکوله؛ نو د هر ډول ورانې او خسارې سبب به هغوی په خپله ول.

کله چې د اسلام مبارک دین نورو خلکو ته د خپل برخلیک ټاکنې پراخه آزادي ورکوي، له هغوی سره د سولې پر تړون وفا کوي؛ نو له دې څخه معلومېږي چې مسلمانان یوازې ځانغوښتي او ځانمنلي خلک نه دي، بلکې په خپلې شاوخوا کې نور هغه خلک هم منلي او زغملي شي، چې دوی ته یې ښکاره ضرر او زیان نه وي متوجه یا یې هم د دوی پر خلاف په ښکاره د جنګ سنګر نه وي نیولی، کله چې د نامسلمانو له خوا مسلمانانو ته ضرر او زیان متوجه وي یا یې پر خلاف د جنګ سنګر پرانیست؛ نو مسلمانان هم د جهاد لاره

Bawar.net


نیسي او په دې لاره کې مرګ خپل شهادت ګڼي او ژوندي پاتې کېدل د غازیتوب درجه بولي.

## شپږم جز: د اخلاقي ارزښتونو الزامیت

د اسلام په مبارک دین کې د انساني اړیکو لپاره یوه تر ټولو مهمه پایه د اخلاقي ارزښتونو منل او په پام کې نیول دي. دغه اصل په ټولو وختونو او ځایونو کې، د جنګ او سولې په ټولو حالتونو کې د ټولو خلکو په مقابل کې، هغه که د هر نژاد، هر قوم، هرې ژبې او هر دین پورې تړلي اوسي، د اجراء وړ دی؛ ځکه چې په اخلاقي اصولو کې استثناء نه شته، ټول خلک د خپل انسانیت له امله ترې برخمن کېدای شي؛ ځکه ښه په هر ځای کې ښه دي او بد په هر ځای کې بد دي.

د دې لپاره چې د جنګ په حالت کې پر مسلمانانو د دوښمنۍ احساسات غالب نه شي؛ نو قرآن کریم د جنګ په حالاتو کې د اخلاقي ارزښتونو په پام کې نیولو باندې ډېر تاکید کړی دی. قرآن کریم که څه هم د تجاوز پر مهال مسلمانانو ته د ورته غبرګون ښودلو اجازه ورکوي؛ خو د تقوا د اصل د رعایت سپارښتنه هم ورته کوي، چې په حقیقت کې د اخلاقي ارزښتونو په پام کې نیول دي. په دې مانا که چېرې نامسلمانان پر مسلمانانو د خپل تېري پر مهال اخلاقي ارزښتونه په پام کې ونه نیسي؛ نو بیا هم مسلمانانو ته نه دي په کار چې ورته غبرګون ونیسي، بلکې پر دوی لازم دي چې اخلاقي ارزښتونه په پام کې ونیسي، د بېلګې په توګه که دوښمن د ښځو پر عفت تېری وکړي، یا هم ښځې او ماشومان ووژني یا هم جنګي بندیان قصداً د لوږې او تندې له امله مرګ ته وسپاري یا دا چې د مسلمانانو مړي بدرنګه کړي، مسلمانانو ته روا نه دي چې په مقابل کې یې دې ته ورته اعمال تر سره کړي.

د احد په غزا کې مشرکانو د سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله عنه جسد مثله کړ؛ خو کله چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر هغوی غالب شو؛

Bawar.net


نو له هغوی سره يې دا ډول عمل ترسره نه کړ، بلکې پر دې يې ډېر تاکيد وکړ چې (له مثله کولو ښځه ځان وژغورئ).

د اسلام پيغمبر اسلامي لښکر ته په خپلې يوې سپارښتنې کې فرمايي ((د الله په نوم او د الله په لاره کې حرکت وکړي، د الله له دښمنانو سره وجنګېږئ، له غلا، غدر، د غنيمت په مال کې له خيانت، مثله کولو او د ماشومانو له وژلو ځانونه وژغورئ))(امام مسلم: ۱۰) . نو له دې ښځه معلومېږي چې د اسلام مبارک دين خپل پلويان له نورو خلکو سره په اړيکو کې، هغه که په عادي حالاتو کې وي او که د جنګ په حالاتو کې وي، تقوا، فضيلت او د اخلاقي ارزښتونو رعايتولو ته هڅوي. د اسلام د راتګ موخه هم دا ده چې د اخلاقي فضايلو ملاتړ وکړي او رذايل له منځه يوسي، دا چې د دې دين رسالت ټولشموله او د ټولو انسانانو لپاره دی، نو ځکه خو نه د دوستانو او نه هم د دوښمنانو په مقابل کې له اخلاقي ارزښتونو ښځه تېرېدلو ته اجازه شته.

هو د اسلام جنګ، د ظلم پر خلاف د عدالت جنګ دی، دبې رحمۍ او رذالت پر خلاف د رحمت او فضيلت جنګ دی، يو داسې جنګ دی چې د عدالت او اخلاقو پر بنسټونو پيلېږي او د عدالت او اخلاقو پر بنسټونو پای مومي.

په جنګ او عادي حالاتو کې د اسلام د لوړو اخلاقي ارزښتونو په پام کې نيول خپله د دې ښودنه کوي چې اسلام د يوې سوکالې، پر امنه، پر اخلاقي ارزښتونو پوښلې نړۍ او نړيوالو غوښتونکی دی او خپل پلويان هم دې ته هڅوي، چې دا ارزښتونه په خپلو ټولو انساني اړيکو کې په پام کې ونيسي.

### اووم جز: عدالت

په اسلام کې د انساني اړيکو يوه بله مهمه پايه او بنسټ عدالت دی، د دې اصل پر بنسټ ټول خلک سره مساوي دي، هر څوک له خپل ترسره کړي عمل سره سم، ښه يا بده سزا ګوري او د اسلامي عدالت پر وړاندې د دوښمن او

Bawar.net


دوست ترمنځ هېڅ توپير نه شته. قرآن کريم د المايدې سورت په (۸)مه شمېره ايت کې فرمايي :

(يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِ ۖ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُواْ ۚ ٱعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ).

چې د يو قوم دښمني او خصومت بايد مسلمانان ظلم کولو او د عدالت د تطبيق منعې ته واداره نه کړي؛ بلکې د قرآن کريم له منطق سره سم له دوښمنانو سره له عدالت نه کار اخيستل، تقوا ته نږدې دي. که د مسلمانانو او نامسلمانانو ترمنځ د جنګ اور هم ولګېږي، بيا هم مسلمانانو ته نه دي روا چې د عدالت له پولو ورواوړي.

هر دين يوه ښه لري، د اسلام مبارک دين ښه عدالت دی، بلکې عدالت د اسلام شعار او ښکاره ځانګړنه ده، عدالت يوه داسې تله ده چې د خلکو ترمنځ اړيکې، هغه که د سولې په حال کې وي او که د جنګ په حال کې، تعينوي او پر بنسټ يې د انسانانو حقوق توضيح کېږي، عدالت دی چې بشري ټولنې ته نظم ورکوي.

اسلام د ژوند په ټولو امورو کې خپلو پلويانو ته د عدالت توصيه کوي، د مسلمانانو نړيوالې اړيکې هم بايد د عدالت پر بنسټ ولاړې وي، په اسلام کې له ظالم سره ودرېدل، په لاره ورسره تلل اولاس ورسره يو کول منعه دي، د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم مبارک حديث دی چې څوک له ظالم سره پر لاره لاړ، له اسلام څخه ووت.( الحاد المثاني : ۱۱)

### اتم جز: ورته غبرګون

په اسلام کې د انساني اړيکو يو بل اصل هم ورته غبرګون يا ورته معامله کول دي، دا اصل له عدالت سره نږدې اړيکې لري، بلکې د عدالت يوه برخه ده، د اسلام پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په دې هکله فرمايلي دي: له خلکو سره هغه ډول معامله وکړئ، چې څرنګه يې له ځان سره خوښوئ. پر همدې بنسټ کله چېرې يو مسلمان تر تېري لاندې راشي، نو حق لري چې

Bawar.net



ورته غبرګون وښيي؛ خو هېڅکله دا حق نه لري له تېري څخه تېری وکړي، په اسلام کې تېری ظلم او دفعه یا مخنیوی یې عدالت ګڼل کېږي. ورتـه غبرګـون یا د تېري مخنیوی په اسلام کې له ګذشت او تېرېدنې سره په ټکر کـې نـه دی، ګذشت او تېرېدنه هېڅکله د ذلت او تسلیمۍ په مانا نه ده.

لکه مخکې مو چې یاده کړه،په اسلام کې ورته غبرګـون د اخلاقـي ارزښـتونو په پام کې نیولو سره ښودل کېږي، یانې که دوښمنانو اخلاقي ارزښتونه پـه پـام کې ونه نیول؛ نو مسلمانانو ته په کار دي چې پـه پـام کـې یـې ونیسي- د ورتـه غبرګون او د تېري د مخنیوي د جـواز فلسـفه دا هـم ده چـې اسـلام غـواړي د ځمکې له مخې رذالتونه له منځه یوسي، او پر ځای یـې فضـیلت خپـور کـړي، اسلام د دې مخه نیسي چې کمزوري او بې دفـاع مسـلمانان د ټـولنې د زورورو او ظالمو خلکو تر حملو لاندې راشي،کله چې تېری پر ظلم بدلېږي؛ نـو اسـلام خپلو پلویانو ته اجازه کوي چې مخه یې ونیسئ او که غواړئ نو ورته عمل هـم ورسره کولای.

مسلمانانو ته په کار دي چې له نورو خلکو سره په اړیکو کـې دا اصـل هـم لـه پامه ونه غورځوي، که څوک غواړي چې پرې ظلم او تېری وکړي یا یې حقوق تر پښو لاندې کړي، دوی هم کولای شي چې په ورته غبرګون او معاملې ورسره وړاندې لاړ شي یانې ځانونه به خوارۍ او ذلت ته نه ورکوي او نه به نورو خلکو ته اجازه ورکوي چې دوی د خپلو ګټو لپاره وکاروي.

## نهم جز: پر ژمنې ودرېدل یا وفا

د اسلام مبارک دین خلک سولې ته رابولي او پر مسلمانانو یې لازمي کړې ده چې که دښمن سولې ته میلان درلود؛ نو تاسې هـم سـوله ومنـئ؛ خـو د سـولې لپاره تر ټولو غوره لار امنیتي او د نـه تـیري ژمنلیکونـه دي. قـرآن کـریم دغـو ژمنلیکونو ته ژمن پاتې کېدلو باندې تاکید کوي او د ځواکمنتیا سبب یې ګڼـي او ماتول یې د کمزورۍ او ماتې سبب. که چېرې پر ژمنو عمل کول له سـوګند سره یاد شي؛ نو بیا یې ماتوونکي ګنهکارېږي هـم. لـه بلـې خـوا اقتصـادي او د

Bawar.net


پراختيا غوښتنې انګېزې بايد د دې لامل نه شي چې ژمنې ماتې شي. په قرآن کريم کې پر ژمنې وفا کول له لوړو اهدافو څخه ګڼل شوي دي چې مسلمانان بې بايد د خپلې انساني ټولنې د وحدت لپاره په پام کې ونيسي.

حضرت محمد صلى الله عليه وسلم هم پر ژمنې د وفا کولو په اړه ګڼ شمېر احاديث فرمايلي دي، لکه يو ځای کې فرمايي ((په تاسې کې غوره هغه څوک دي چې پر خپلو ژمنو وفا وکړي)). همدارنګه په يو بل ځای کې فرمايي ((زه پر ژمنې د وفا کولو په برخه کې تر ټولو وړ او منلی يم)).

همدارنګه حضرت محمد صلى الله عليه وسلم چې څومره پر ژمنې د وفا کولو امر کړی دی، همدومره يې له غدر او خيانت څخه منعه هم فرمايلې ده، لکه چې وايي ((هر خاين به د قيامت په ورځ د يو بيرغ لرونکی وي او تر ټولو لوی د خيانت بيرغ به د عامه امير (پاچا يا سلطان) وي)).(الجامع صحيح الترمذي المثاني : ۱۲)

د نړيوالو قوانينو پوهان پر دې اند دي چې په اسلام کې د (پر ژمنې وفا کولو اصل) د اوسنيو نړيوالو ژمنليکونو لپاره اساس او بنسټ دی چې اسلام څوارلس سوه کاله دمخه پرې د نړيوالو تړونونو او نړيوالو اړيکو بنسټونه کلک کړي دي، له بلې خوا د (پر ژمنې وفا کولو اصل) يې د انسان په وجدان او ايمان پورې تړلی دی او د دې اصل ماتوونکي ته يې پر ايماني او وجداني مسووليت سربېره خدايي مسووليت هم راجع کړی دی.

### لسم جز: ترحم

د اسلام مبارک دين ټول احکام د ټول انسانيت لپاره دي او لکه دمخه مو چې ياده کړه اسلام انسانيت ته په لوی ارزښت قايل دی او خپل پلويان له سخت زړي څخه منعه کوي او د نرمۍ توصيه ورته کوي. کله چې د حضرت محمدصلى الله عليه وسلم او د قريشو مشرکينو ترمنځ د حديبې د سولې تړون لاسليک شوی و؛ نو حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ته خبر راغی چې قريش په قحطۍ کې راګير دي، حضرت محمد صلى الله عليه وسلم د حاطب

Bawar.net



بن ابی بلته په لاس پینځه سوه دیناره ابوسفیان ته واستول چې غنم پرې واخلي او د قریشو پر غریبانو یې ووېشي.

که څه هم د جنګ پر مهال د مسلمانانو او د هغوی د دوښمنانو ترمنځ اړیکې پرې وي؛ خو اسلام بیا هم خپلو پلویانو ته له هغو کسانو سره چې عملاً د جنګ اراده نه لري، د ښه چلند، نیکي کولو او عدالت کولو څخه نه منعه کوي،د قرآن کریم د ممتحنه سورت په (۸) شمېره ایت کې فرمایي:

ژباړه: الله تاسې له دې خبرې نه منعه کوي چې تاسې له هغو خلکو سره د نېکۍ او عدل چلند وکړئ چې هغوی د دین په باب له تاسې سره جنګ نه دی کړی او تاسې یې له خپلو کورونو څخه نه یئ وېستلي. الله عدل کوونکي خوښوي.

په مسند امام احمد بن حنبل کې راغلي دي چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د تبوک په غزا کې د رومیانو د حملې د دفعې کولو لپاره تشریف وړی و؛ نو هلته یې د جنګ په جبهه کې د روم له سفیر سره مذاکره وکړ او هغه یې د ملاقات په پای کې داسې وفرمایل:

ژباړه: بېشکه ته د یو قوم استازی یې او ستا پر موږ حق دی (چې عزت دې وکړو) مګر ته په داسې وخت کې موږ ته راغلی یې چې موږ د جګړې په حالت کې یو (څه تحایف نه لرو).

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دا مبارک الفاظ د داسې یو قوم سفیر ته د عذر خواهۍ الفاظ دي چې عملاً د جنګ په جبهه کې یو بل ته ګوته په ماشه ناست دي. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د دې خبرې په اوږدو سره حضرت عثمان رضی الله عنه وفرمایل: زه یوه زربفت جوړه لرم، هغه به ورته ورکړم او همدارنګه یو بل صحابي هم د هغه سفیر اکرام ته حاضر شو.

نو له دې څخه معلومېږي چې د اسلام مبارک دین تر ټولو دمخه او په ډېر ښه ډول د نړیوالو اړیکو لپاره اساس او بنسټ ایښی دی او خپل پلویان یې د نړیوالو اړیکو اصولو ته ژمن کړي دي. له دې وراخوا مسلمانان کولای شي چې د یو واحد ملت په توګه له خپلو نورو مسلمانو هېوادونو سره په سیاسي،

Bawar.net



امنيتي، اقتصادي، سوداګريزې، فرهنګي، علمي او معلوماتي برخو کې نږدې، دوستانه او د همکارۍ اړيکې ولري او په دغو اړيکو کې د اسلامي امت په توګه د ټولو مسلمانانو عليا او لوړې ګټې په پام کې ونيسي.

همدارنګه مسلمانان له نامسلمانانو سره هم په پورته ټولو برخو کې اړيکې ساتلی او پاللی شي؛ خو په دې شرط چې له دغو اړيکو څخه به د مسلمانانو دين يا هم د مسلمانانو ښکاره ګټو ته زيان نه وي متوجه، هر کله چې له نامسلمانانو سره د مسلمانانو له اړيکو څخه د اسلام مبارک دين او د مسلمانان خاورې او ګټو ته زيان متوجه وي؛ نو اسلام له دې اړيکو څخه منعه فرمايلې ده.

## دويم مبحث: د سولې پرمهال د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړيکې

### لومړی جز: د دولتونو ترمنځ په خپلمنځي اړيکو کې اصل (سوله) ده

د اسلام مبارک دين په ټولو حالاتو کې خلک سولې ته رابولي، جنګ ته په کرکه ګوري او د شيطان لاره يې ګڼي. اسلام تاکيد کوي چې څوک د جنګ پر لاره قدم ږدي؛ نو په حقيقت کې يې د شيطان پر لاره قدم ايښی دی. اسلام دا هم تصريح کوي چې هر چا مسلمانانو ته د سولې وړانديز وکړ، مسلمانان بايد د هغوی پر وړاندې له جنګ څخه لاس واخلي او مسلمانانو ته په کار نه دي چې پر هغوی له دې امله جنګ تحميل کړي، چې هغوی مسلمانان نه دي.

دا حقيقت د قرآن کريم په نصوصو کې چې په حقيقت کې د اسلامي شريعت او قانون تلپاتې مصدر دی، په روښانه توګه راغلی دی. اسلام په داسې حال کې د دولتونو ترمنځ سوله د انساني اړيکو د اصولو له جملې څخه يوه اصل ګڼي، مسلمانانو ته اجازه نه ورکوي چې د نورو هېوادونو په چارو کې لاسوهنه وکړي؛ خو د عمومي آزاديو د ملاتړ لپاره يا هم په هغه صورت کې چې مظلومان له مسلمانانو څخه د مرستې غوښتنه وکړي او يا هم هغه مهال چې د اسلام پر پلويانو تېری وشي، په دې حالتونو کې کېدای شي د فتنې د له منځه وړلو لپاره اقدام وکړي.

Bawar.net


د اسلام مبارک دين پر خپل قلمرو د هر دولت حاکميت او له خپل قلمرو څخه د هر دولت دفاع او ارضي تماميت ته درناوی لري او په دې برخه کې د پرمختللو او وروسته پاتې، ځواکمنو او کمزوريو، لويو او کوچنيو دولتونو ترمنځ هېڅ ډول توپير ته قايل نه دی.

که اسلامي دولت په بل دولت کې لاسوهنه کوي؛ نو هغه به د اسلامي احکامو د تبليغ او لارښوونې لپاره وي، نه په دې خاطر چې پر هغه دولت او د هغه پر خلکو خپل حاکميت تحميل کړي؛ ځکه چې پر خپل قلمرو حاکميت درلودل د هر دولت له طبعي حقوقو څخه دی.

له شک پرته د اسلام له انده په اړيکو کې اصل جنګ نه دی، ځکه د دولت او ملتونو ترمنځ د اړيکو په برخه کې مو چې له کومو بنسټونو څخه يادونه وکړه، هغه مسلمانانو ته اجازه نه ورکوي چې د جنګ پيلوونکي اوسي؛ خو په هغه صورت کې چې د هغوی ياد شوي اساسات او مبادي تر تېري لاندې راشي او تر پښو لاندې شي، په دې صورت کې د هماغو بنسټونو په رڼا کې د مسلمانانو جنګ توجيح کېدای شي.

بايد ياده کړو چې نړيوالې اړيکې، هغه مهال چې قرآن کريم نازل شو او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم پر رسالت مبعوث شو، د ځنګل پر قانون ولاړې وې، هر هېواد به پر بل هېواد يرغل وروو، ژمنليکونه او ميثاقونه به تر هغې پورې محترم ول، تر کومه به چې د دوو دولتونو ترمنځ د قواوو توازن شتون درلود، که چېرې به يو د بل کمزوري احساس کړه، پر هغه به يې يرغل کاوه او د هېڅ تړون او ژمنليک رعايتولو مسووليت به يې نه احساسوه.

د اسلام مبارک دين چې د نجات، نېکمرغۍ او خلاصون دين دی، په روښانه توګه يې وويل چې د خصوصي افرادو ترمنځ د اړيکو په څېر د ملتونو ترمنځ په اړيکو کې هم اصل سوله ده.يو اسلامي دولت يوازې هغه مهال وسلې ته لاس غځولی شي چې عملاً تر تېري لاندې راغلی وي يا راشي او يا هم له ديني لحاظه مسلمانان د فتنې تر يرغل لاندې راشي؛ نو په دې صورت کې به اسلام

Bawar.net


کې جنګ یوه اړتیا ده چې له نفس، عقیدې او آزادۍ څخه دفاع یې لازمي کړې ده.

له هغه ځایه چې په اسلام کې د اړیکو اصل تلپاتې او دوامداره سوله ده؛ نو قرآن کریم ټولو خلکو ته د سولې بلنه ورکوي، لکه چې د النساء سورت په (۹۰مه) شمېره ایت کې راغلي دي:

﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَٰقٌ أَوْ جَآءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَن يُقَٰتِلُوكُمْ أَوْ يُقَٰتِلُوا۟ قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَٰتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ ٱعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا۟ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَمَ فَمَا جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا ٩٠﴾

ژباړه: که هغوی له تاسې نه څنګ وکړي او له جنګېدو نه لاس په سر شي او تاسې ته د روغې جوړې لاس اوږد کړي؛ نو الله ستاسې لپاره هغو ته د لاس اوږدولو کومه لاره نه پرېښې.

کله چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر رسالت مبعوث شو، مشرکان یې په عبادت کې توحید ته راوبلل، هغوی ته یې د نېکو پر ترسره کولو امر او د بدیو له ترسره کولو څخه منعه وفرمایله او سوله یې خپل شعار وګرځاوه؛ خو بر عکس مشرکین د هغه پر ضد راپاڅېدل، هغه او ملګري یې تر اذیت لاندې ونیول او له خپل هېواد څخه یې ایستلو ته اړه کړل؛ نو هماغه و چې د خپلې بلنې لپاره د زمینې برابرولو او له شکنجې څخه د خپلو ملګرو له ژغورولو نه بغیر یې بله چاره نه وه، هماغه و چې ددې موخې لپاره یې د عقیدې د آزادۍ د ملاتړ لپاره لاس په کار شي. اسلام، سره له دې چې د سولې لپاره بلنه ده، خو دا بلنه هېڅکله زور او باطل ته د تسلیمۍ مانا نه لري؛ ځکه الله تعالی جل جلاله پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته دا اجازه هم ورکړې ده چې د باطل له منځه وړلو لپاره پر جنګ لاس پورې کړي او دا هم د دې لپاره چې که باطل د جنګ په واسطه له منځه لاړ نه شي؛ نو د د یهودیانو عبادتځایونه، د نصراوو کلیساګانې او د مسلمانانو مسجدونه به له منځه لاړ شي. دې مطلب ته د قرآن کریم د حج سورت په (۳۹-۴۰) آیتونو کې الله تعالی جل جلاله فرمایلي دي:

Bawar.net


(أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُواْ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ٣٩ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَٰتٌ وَمَسَٰجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا ٱسْمُ ٱللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٤٠).

ژباړه: هغو کسانو ته اجازه ورکړل شوه چې د هغو پر خلاف په جګړه لاس پورې کېږي؛ ځکه هغوی مظلومان دي او الله په یقیني ډول د هغو د ملاتړ وس لري. دا هغه کسان دي چې له خپلو کورونو څخه په ناحقه وویستل شول، یوازې په دې جرم چې هغوی وایي زموږ رب الله دی، که الله خلک یو د بل په وسیله دفع نه کړي؛ نو خانقاګانې، کلیساګانې، عبادتخانې او جوماتونه چې په هغو کې د الله نوم ډېر زیات اخیستل کېږي، ټول به ونړول شي.الله به ارومرو له هغو کسانو سره مرسته وکړي چې د هغه مرسته وکړي، الله ډېر زورور او برلاسی دی.

قرآن کریم جنګ یوه ناخوښه پدیده بولي، ولې په عین حال کې ضروري او اجتناب ناپذیر ګڼي،کله چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د جنګونو عوامل او انګېزې ولولو، نو پوه به شو چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په خپلو ټولو جنګونو کې له لاندې دوو اهدافو څخه یو هدف تعقیب کړی دی:

لومړی – د تېري دفعه:

لکه څرنګه چې تاریخ ګواه دی، په لومړیو کې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په مکې معظمې کې له زیاتې او تېري لاندې راغی، تر دې پورې چې له مکې معظمې څخه ایستو ته اړ شو او له مهاجرت څخه وروسته د جزیرة العرب ټولو مشرکینو خپل خانونه د هغوی پر ضد سره یوکړل او په مدینې منورې کې د مسلمانانو په له منځه وړلو پسې راووتل، په همدې خاطر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مجبور شو چې له ځانه د دفاع په موخه د جزیرة العرب په ټولو سیمو کې پر جنګ کولو پیل وکړي.

Bawar.net


د جنګ د مشروعیت لپاره لازمه نه ده چې باالفعل تېری وشي؛ خو کله کله احتمالي تېري څخه د مخنیوي په موخه، چې پېښېدل یې قراینو او دلایلو پیشبیني کړی وي، مشروعیت یې توجیه کېدای شي. لکه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې خسرو پروېز ته لیک واستوه او هغه یې اسلام ته راوبله، هغه یو شخص ته دنده وسپارله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ووژني او مبارک سر یې له ځان سره ایران ته یوسي. همدا د احتمالي تېري لپاره ښکاره قرینه او دلیل و، نو په دې خاطر د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ملګرو نه شول کولای چې منتظر کېني چې د ختیځ له لوري د کسرای خسرو او لوېدیځ له لوري د روم هرقل پرې یرغل راوړي؛ بلکې اړینه وه چې دغه تېری له پېښېدو څخه واردمخه له منځه یوسي، په همدې خاطر ځینې مهال پر نورو یرغل او هجوم د دفاع تر ټولو غوره ډول وي.

دویم – د اسلامي دعوت له لارې څخه د خنډونو لرې کول:

دویم.دلیل چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم جنګونه پرې توجیه کېدای شي، دا دی د هغه مهال واکمنانو په خپلو واکمنیو کې اوسېدونکي مسلمانان شکنجه او آزارول، هغوی یې اړ کول چې د اسلام له دین څخه بېرته وګرځي او مرتدان شي او هم تر خپلو اتباعو د اسلام د دین د پیغام رسېدو مخنیوی کاوه، خلک یې منعه کول چې په آزاده توګه د خپلې خوښې دین ومني، تر دې پورې چې هرقل امر کړی چې په شام کې شته ټول مسلمانان ووژني.

په همدې خاطر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خلکو ته د هدایت د نور د رسېدو او له شکنجې او آزار څخه د مومنانو د خلاصون لپاره د مسلحانه جنګ څخه پرته بله کومه چاره نه درلوده، په همدې خاطر له حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهم سره له سلا کاولو وروسته د اسامه د لښکر د تیارولو امر ورکړ.

Bawar.net



له پورته یادونو څخه دا حقیقت روښانه کېږي چې د مسلمانانو او نامسلمانانو ترمنځ په اړیکو کې اصل سوله ده او تر هغې پورې چې د جنګ لپاره قانع کوونکي او کافي دلایل شتون نه لري، مسلمانان جنګ ته نه وځي.

کله چې په مدینې منورې کې اسلام دولت تاسیس شو؛ نو د هغه مهال د شاوخوا ټولو پاچایانو او د هېوادونو مشرانو خپلې ګټې په خطر کې ولیدې او د اسلام مبارک دین د نور په خاموشه کولو پسې راووتل، د اسلامي دولت د له پښو غورځولو او د مسلمانانو له منځه وړلو په موخه یې په خپلو کې سره موافقې وکړې، په همدې خاطر مسلمانانو د هغه مهال موجوده واقعیت ته په پام سره ځانونه جنګ ته اماده کړل؛ ځکه د مسلمانانو مصلحت په دې کې نه و چې دوښمنان تیاري ته پرېږدي او په خپلو کورونو کې د هغوی تېري او یرغل ته انتظار وکړي. حضرت علی کرم الله وجهه ویلي دي ((هر څوک چې په خپل کورکې تر یرغل لاندې رغی، ذلیلېږي)). هغه مهال چې مسلمانان جنګېدل؛ نو له خپلو کورونو، سیمو، دین او اصولو څخه د دفاع په خاطر جنګېدل؛ خو بیا هم هغوی د خپلې شاوخوا د سیمو اوسېدونکو ته په درې انتخابونو کې د یو انتخاب اختیار ورکوه، د اسلام منل، پر مسلمانانو د نه تېري تړون او یا هم جګړې ته اماده کېدل، کله به یې چې لومړی او دویم انتخاب ونه کړ؛ نو له دې معلومېدل چې هغوی جنګ ته تیار دي؛ نو په داسې حالت کې د دوښمن ناڅاپي حملې ته انتظار ایستل حماقت دی.

## دویم جز: د اسلام له انده درې ګونې ځمکې او د هغو حاکمیت

### لومړی فقره: درې ګونې ځمکې

#### الف: دارالسلام

دارالاسلام هغې ځمکې یا هېواد ته ویل کېږي چې مسلمانان په کې حاکمیت لري او په کې د شوکت او قوت خاوندان وي. پر مسلمانانو واجب دي چې د دوښمن د یرغل پر مهال له دغې ځمکې یا هېواد څخه دفاع وکړي، که چېرې دوښمن د دې هېواد خاورې ته راداخل شي، د دفاع په

Bawar.net


خاطر یې جهاد فرض عین ګرځي که دې خاورې ته راداخل نه شي؛ نو بیا فرض کفایي ګرځي.

**ب: دارالحرب**

د دارالحرب په تعریف کې فقها دوه ډوله نظر لري، لومړی نظر دا دی چې دارالحرب عبارت له هغې ځمکې څخه دی چې مسلمانان په کې له شوکت او حاکمیت څخه برخمن نه وي او د هغوی او د نورو ترمنځ کوم تعهد او تړون نه وي. په دې تعریف کې معیار حاکمیت او شوکت دی؛ نو هر هغه ځمکه چې د مسلمانانو له تسلط او حاکمیت څخه وتې وي او د مسلمانانو او نامسلمانانو ترمنځ کوم تعهد او تړون نه وي، ورته دارالحرب ویل کېږي. له دې ځمکې څخه مسلمانان هر وخت د خطر احساس کوي؛ نو مکلف دي چې د خطر د دفعې او له ځانه د دفاع په خاطر لازم امنیتي تدابیر او تیاریانې ونیسي، زیاتره فقهاوو دا نظر تایید کړی دی.

دویم نظر چې په امام ابوحنیفه او یو شمېر نورو فقهاوو پورې اړه لري، دا دی: سره له دې چې په یوې ځمکې کې حاکمیت او قدرت له نامسلمانانو سره وي؛ خو بیا هم هغې ځمکې ته تر هغې پورې دارالحرب نه شو ویلای، تر څو چې لاندې درې شرطونه په کې نه وي رامنځته شوي:

لومړی: په دې شرط چې حاکمیت، قدرت او شوکت په دې خاوره کې له مسلمان حاکم سره نه وي او نه په کې شرعي قوانین تطبیقېدای شي.

دویم: دا خاوره باید له اسلامي هېواد سره تړلې وي، په داسې ډول چې پر دارالاسلام د تېري احتمال او خطر ترې متصور وي. له دې شرط څخه دا ټکی هم راایستلی شو چې له دارالاسلام سره تړلې صحراګانې تر هغې پورې چې د کوم بل خواک له لوري تقویه نه شي او په کې د اسلام د خپربېدو مخه ونه نیول شي، دارالحرب ورته نه ویل کېږي، همدارنګه له اسلامي هېواد سره تړلي بحرونه هم تر هغې پورې چې په کې د مسلمان واکمن د نفوذ مانع نه وي موجود، د دارالحرب حکم پرې نه کېږي.

Bawar.net



دريیم: دريیم شرط دا دی چې په دې خاوره کې به کوم مسلمان شخص يا ذمي (هغه نامسلمان چې د اسلامي دولت تبعه وي) د مخکيني اسلامي امان پر بنسټ، چې مسلمانانو ورته د استوګنې اجازه ورکړې وي، استوګن نه وي. په دې مانا هغه ځمکه چې مسلمانانو پرې يو ځل تسلط پيدا کړی وي او خلکو ته يې امان ورکړی وي او وروسته د جنګ يا هم ځينو نورو عواملو له امله پرېښودنې ته مجبور شوي وي او نوي دولت مسلمانان او د اسلامي دولت اتباع د پخواني امان د غوښتنې له مخې پر خپل حال پرېښي وي، دارالحرب ورته نه ويل کېږي، خو طبعاً داسې به نه وي؛ ولې په هغه صورت کې چې دې دولت له مسلمانانو سره ژمنليک لاسليک کړی وي. خو که چېرې يې خپل امان نقض کړ او د مسلمانانو پر ضد وجنګېدل؛ نو بيا دې ځمکې ته دارالحرب ويل کېږي، که څه هم په هغه ځای کې مېشتو مسلمانانو ته يې نوی امان ورکړی وي.

له شک پرته دغه دويم نظر په نړيوالو اړيکو کې د سولې له اصالت، د قرآن کريم له روح او هغوی شرعي نصوصو سره همغږی دی، چې پر سولې دلالت کوي؛ ځکه د دې نظريې له مخې هېڅ ځمکه تر هغې پورې دارالحرب نه ګڼل کېږي، تر څو پورې چې مسلمانان ترې په بالفعل او عملي ډول د يرغل او تېري خطر احساس نه کړي او يا هم دا چې ترې د يرغل او تېري احتمال شتون ونه لري.

دلته يو د اوسني وخت واقعيت ته په پام سره يو ټکی بايد روښانه کړو چې د امام ابوحنيفه رحمه الله دويم شرط چې دارالحرب بايد له اسلامي هېواد سره تړلې وي او په دې خاطر ترې د حملې احتمال موجود وي، د اوسنۍ نړۍ له پرمختللې ټيکنالوژۍ او پرمختللو سلاګانو له امله اوسمهال د کفري هېوادونو له خوا پر مسلمانو هېوادونو د نړۍ په هر ګوټ کې د يرغل وېره او احتمال شتون لري.

Bawar.net


**ج: دارالعهد**

د اسلام په تاریخ کې د دارالعهد په نوم د ځمکې شتون داسې حقیقت دی چې نه ترې په علمي لحاظ انکار کېدای شي او نه هم ترې په واقعي لحاظ، ځکه چې داسې قبایل او دولتونه موجود وو چې په بشپړ ډول د مسلمانانو تر سلطې لاندې نه وو؛ خو د هغوی او اسلامي حاکمیت تر منځ به د سولې تړون شوی و، په همدې خاطر د دارالعهد په تعریف کې ویل شوي دي چې: دارالعهد هغه ځمکه ده چې د اوسېدونکو او مسلمانانو ترمنځ یې له پیل څخه د سولې تړون شتون ولري یا دا چې د جنګ له پیل څخه وروسته مسلمانانو هغوی د ژمنلیک په لاسلیکولو، د اسلام قبلولو او یا هم جنګ کولو کې مخیر کړي وي او هغوی په ځانګړیو شرایطو سره د تړون لاسلیکولو ته ترجیح ورکړې وي.

دغه ډول ځینو قبایلو د اسلام په پیل کې د یو اندازه مال په بدل کې سوله منلې وه، چې دوی به مال مسلمانانو ته ورکوي او په مقابل کې به یې مسلمانان له هغوی څخه دفاع کوي، لکه څرنګه چې د نجران له مسیحیانو سره د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د سولې په ژمنلیک کې پېښ شول، په داسې ډول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی د ځان و مال خوندیتوب د هر ډول تجاوز و تېري په مقابل کې - هغه که د مسلمانانو په واسطه وي او که د نامسلمانانو په واسطه- تضمین کړ.

همدارنګه د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت پر مهال عبدالله بن ابی السرح د نوبه له خلکو سره د سولې ژمنلیک لاسلیک کړ چې پر بنسټ یې هغوی له امنیت او خپلواکۍ څخه برخمن وو او له سوداګریزو توکو څخه بغیر یې مالیه ترې وانخیسته.

د پورته دلایلو پر بنسټ دغه ډول قبایلو ته د دارالحرب نوم نه شو ورکولای او ورته دارالاسلام ویلای شو؛ بلکې مناسبه ده چې دارالعهد ورته ووایو. ځینو فقهاوو ویلي دي چې دا ډول ځمکې په عامه توګه په دارالاسلام کې شاملېږي،

Bawar.net



په دې دليل چې دا ژمنليکونه مسلمانانو نه دي لاسليک کړي؛ بلکې په داسې حال کې چې هغوی د قوت او شوکت لرونکي ول.

دلته بايد دې ټکي ته هم پام وکړو چې نن ورځ د نړۍ هېوادونه د (ملګرو ملتونو سازمان) په نوم د يو سازمان غړي دي او هر يو يې د دغه سازمان قوانين او مقررات منل پر ځان لازمي کړي دي؛ نو په همدې خاطر په دې برخه کې د اسلام حکم دا دی چې مسلمان هېوادونه بايد (پر ژمنې د وفا) اصل باندې د عمل کولو پر بنسټ، چې په قرآن کريم کې پرې ډېر تاکيد شوی دی، خپلو ټولو ژمنو او التزاماتو ته ژمن پاتې شي، پر همدې بنسټ هغه هېوادونه چې په دې سازمان کې غړيتوب لري، دارالحرب ورته نه شو ويلای؛ بلکې د دارالعهد حکم پرې کېږي.

**دويمه فقره: حاکميت**

د اسلامي دولت حاکميت پر ټولو اسلامي ځمکو او سيمو ثابت دی، که چېرې د اسلامي امت يووالی عملاً رامنځته شي او اسلام د يو دولت لرونکی شي، په دې صورت کې يې حاکميت پراخېږي او بيا د اسلامي هېوادونو ترمنځ صحراګانې او بحرونه د چا تر تسلط لاندې نه وي، لکه د عربي خليج اوبه چې له شک پرته د اسلامي حاکميت د قلمرو جز ګڼل کېږي، که چېرې ترې ګېرچاپېره اسلامي هېوادونه په يو واحد چوکاټ کې سره متحد وي، هېڅ نااسلامي هېواد حق نه لري دغه اوبه تر خپل حاکميت لاندې راولي او که د راوستلو هڅه يې وکړي؛ نو تېری ګڼل کېږي او په مقابل کې يې دفاع الزامي او واجب ده. د اسلامي واحد حاکميت نه لاندې مفاهيم لاسته راځي چې بايد په پام کې ونيول شي.

الف- مسلمان چې هر چېرې وي د اسلامي دولت ګڼل کېږي:

د اسلامي حاکميت لومړی تقاضا دا ده چې يو مسلمان فرد چې هر چېرې وي او په هر وطن کې ژوند کوي، هغه د اسلامي دولت تبعه ګڼل کېږي او د اسلام حاکميت پر نافذ دی، دا چې نامسلمان پر مسلمان ولايت نه لري؛ نو د

Bawar.net



نااسلامي حاکميت په قلمرو کې د يو مسلمان فرد شتون له هغه څخه اسلامي حاکميت نه شي له منځه وړلای. پر مسلمان فرد اسلامي حاکميت پر دريوو موارد و کې شتون لري:

۱- هر مسلمان فرد چې په خپله خمکه کې ديني واجبات ترسره نه شي کړای، واجب دي پرې چې د اسلامي دولت قلمرو ته هجرت وکړي، قرآن کريم مسلمانانو ته حکم کوي چې د ديني او عبادتي آزادۍ له لاسه ورکولو ذلت ته غاړه مه ږدئ او څوک چې په دې برخو کې ذلت ته غاړه ږدي د هغه ځای د جهنم سوځوونکی اور دی.

۲- مسلمان چې هر چېرې وي، له بل مسلمان څخه ميراث وړلای شي، د بېلګې په توګه که يومسلمان په کابل کې مړ شي او د هغه څوک وارث په انګلستان کې وي، دغه وارث يې کولای شي چې له ده څخه ميراث يوسي، څکه په اسلام کې د ميراث بنسټ نږدېوالی او همکاري ده.

۳- که يو مسلمان د اسلامي دولت له قلمرو څخه بېرون د کوم جرم مرتکب شي او له دې وروسته د اسلامي دولت قلمرو ته راشي، نو مجازات کېدای شي، د بېلګې په توګه که د داسې جرم مرتکب شي چې په اسلام کې پرې حد تطبيق کېږي، خو هلته پرې حد تطبيق نه شي؛ نو دلته پرې تطبيق کېږي.

**ب) د اسلامي دولت په قلمرو کې د اسلامي دولت او نامسلمانو افرادو ترمنځ متقابل حقوق او وجايب:**

اسلامي دولت پر هغو نامسلمانانو هم خپل حاکميت لري چې تر ېېرغ لاندې يې ژوند کوي، نامسلمانان په دوو نومونو د اسلامي دولت تر حاکميت لاندې ژوند کوي چې عبارت دي له ذمي او مستامن څخه.

يو - ذمي هغه څوک دی چې له مسلمانانو سره ژوند کوي او د هغوی په خير و شر کې خانونه ګډ بولي، په اسلامي شريعت کې د نامسلمان (ذمي) او اسلامي دولت ترمنځ يو تړون شتون لري چې دواړو لوريو ته يو لړ حقوق او وجايب او يو شمېر مسووليتونه او امتيازات راجع کوي. دا تړون د وخت له مخې دايمي

Bawar.net

دی او تر هغې پورې چې ذمي ژوندی وي، له اسلامي دولت سره یې تړون شته او کله چې ذمي مري؛ نو اولادونه یې هم له دغه تړون څخه ګټنه کولای شي. اسلامي فقهاوو د ذمیت د تړون لپاره دوه شرطونه شودلي دي چې په لاندې ډول دي:

۱- ذمیان باید د خپلو مالي ژمنو تادیه پر ځان لازمي کړي، د دولت په جوړښت او مالي بودیجه کې ونډه ولري.

۲- په مالي تعاملاتو او د جزایي قوانینو کې به د اسلام د احکاماتو پابند وي، او په خیرو شر او ګټه و زیان کې به له مسلمانانو سره شریک وي.

خو د کورنیو پورې اړونده مسایلو کې لکه اسلام هغوی د خپل دین او اصولو په متابعت کې آزاد پرېښي دي، تر دې پورې چې د حنفي مذهب ځینې فقهاء په دې نظر دي چې کـه هغـه نامسلمانان چې د اسلامي دولـت تـر حاکمیـت لاندې ژوند کوي او پر دې ګروهمن وي چې د شرابـو څښـل یـا هـم د خـوګ غوښه خوړل ناروا نه دي؛ نو هغوی کولای شي چې شراب وڅښي او یـا هـم د خوګ غوښه وخوري او په مقابل کې یې مجازات کېدای نه شي. تر دې پـورې چې حنفي مذب د ذمیانو دغه ډول شخصي- آزادي ساتل پـر اسـلامي دولـت لازمي او وجب ګڼلې ده په دې مانا که یو مسلمان د ذمي شراب له منځه یوسي یا یې خوګ ووژني، باید تاوان یې ورته ورکړي؛ خو کـه دا کـار لـه یـو مسـلمان سره وکړي؛ نـو بیـا یـې پـر تـاوان ورکولـو ملـزم نـه دی، ځکـه شراب او خـوګ نامسلمان ته ارزښتمن دي؛ خو یو مسـلمان تـه ارزښـت نـه لـري، کـه څـه هـم جمهور علماء له دې نظـر سره مخـالف دي او هغـوی وایـي چـې د شرابـو او د خوګ د غوښې حرمت له ټولنې څخه د فساد د مخنیوي لپاره دي.

دوه – مستامن هغه څوک دی چې د یو توافق له مخې اسلامي خـاورې تـه راغلی وي؛خو دلت د دایمي استوګنې اراده نه لري، بلکې غواړي چې د یـوې لنډې مودې لپاره دلته پاتې شي او د راتګ موخـه یـې هـم سـوداګري یـا هـم سیاحت وي. اوسمهال مستامنینو ته بهګانه ګان ویـل کېـږي او هغـه کسان دي چې د وېزې په واسطه کوربه هېواد ته راننوځي. په اسلام کـې مسـتامن عـین د

Bawar.net


مسلمانانو په څېر بنسټیز حقوق لري، هغه مال چې په اسلامي هېواد کې یې تر لاسه کړی دی، په ملکیت کې یې پاتې کېږي.

همدارنګه اسلامي فقهاء پر دې یو نظر لري چې که مستامن په اسلامي دولت کې مړ شي، مال یې باید د هغه ورثه وو ته ولېږل شي، که څه هم متبوع هېواد یې له اسلامي هېواد سره په جګړه کې وي.

همدارنګه که چېرې مستامن په اسلامي هېواد کې د کوم جرم مرتکب کېږي نو د اسلامي شریعت د احکاماتو سره سم به مجازات کېږي.

## ج) په اسلام کې د سیاسي استازیو حقوق

سیاسي استازي هغه څوک دي چې له خپلو دولتونو څخه بېرون د خپل دولت د رسمي استازیتوب دنده ورترغاړې وي، معمولاً په دې خاطر چې په یو بل پردي هېواد کې د خپل دولت د اتباعو له حقوقو څخه ملاتړ وکړي یا هم له هغه دولت سره د خپلو دولت د اړیکو جوړولو لپاره بوخت وي. نړیوالو قوانینو سیاسي استازیو ته په درېوو برخو کې خوندیتوب ورکړی دی چې په لاندې ډول دي:

۱- شخصي خوندیتوب

په دې مانا چې سیاسي استازی تر هغې پورې چې په دې هېواد کې اوسي، باید شخصاً خپله، د ده کورنۍ او هغه څوک چې د ده لپاره په خدمت کې دي، له هر ډول تیري او تجاوز څخه خوندي اوسي او دا هم په دې خاطر چې خپله ډیپلوماټیکه دنده په ښه توګه له کومې وېرې پرته ترسره کړي.

۲- مالي خوندیتوب

په دې مانا چې دغه سیاسي استازی به د کوربه دولت د اتباعو او نورو بهرنیانو پر خلاف له ټولو هغو مالیاتو او ټیکسونو څخه معاف وي چې معمولا یې دا دولت له خپلو اتباعو او نورو بهرنیانو څخه اخلي.

Bawar.net



۳- قضايي خونديتوب

په دې مانا چې که چېرې سياسي استازی په کوربه دولت کې د کوم جرمي عمل مرتکب کېږي؛ نو هغه د کوربه دولت امنيتي، عدلي او قضايي ارګانونه تر تعقيب، محاکمې او مجازاتو لاندې نه شي نيولای، بلکې په خپل اصلي هېواد کې به محاکمه او مجازات کېږي.

اسلامي شريعت له پورته لومړيو دوو خونديتوبونو سره کومه ستونزه نه لري او اسلامي دولتونه کولای شي چې د نورو دولتونو له خوا د دوی سياسي استازيو ته د ورته خونديتوب په ورکولو سره د هغوی استازيو ته هم دا ډول خونديتوب ورکړي؛ خو له درېيم خونديتوب (قضايي خونديتوب) سره اسلامي شريعت سل په سلو کې موافق نه دی. امام ابوحنيفه رحمه الله وايي چې د هغو جنايتونو په اړه، چې په حقوق الله پورې اړونده‌ېږي يا هم حقوق الله په کې غالب وي، ودې ببنل شي؛ خو د قصاص په برخه کې نه د امام ابوحنيفه په نزد د ببنې وړ دي او نه هم د نورو فقهاوو په نزد، نو ويلای شو چې هغه مجرمين چې د قصاص جزا ورته لازمه وي، هغوی په هېڅ لحاظ د ببنې وړ نه دي.

دلته شونې ده دا پوښتنه هم رامنځته شي چې څنګه شونې ده چې له نورو دولتونو سره ډيپلوماتيکي اړيکې هم وساتو او د ډيپلوماتيکي اړيکو منل شوی عرف (چې له قضايي خونديتوب څخه عبارت دی) ونه منو، د دې پوښتنې په ځواب کې ويلای شو چې په ډيپلوماتيکي اړيکو کې اصلاً د دغه ډول جرايمو ارتکاب، چې په قرآن کريم کې ياد شوي دي، د تصور وړ نه دي او که چېرې کوربه دولت داسې احساس کړي چې ډيپلومات به د دغسې جرايمو مرتکب شي؛ نو کولای شي چې د جرايمو له ارتکاب څخه دمخه يې د نامطلوب په نوم له خپلې خاورې وباسي.

٤- د سولې تړونونه

نړيوالو قوانينو خپل احکامات د هېوادونو ترمنځ په معاملاتو کې له معمول عرف او تړل شويو تړونونو څخه ترلاسه کړي دي، په همدې خاطر په نړيوالو

Bawar.net



قوانینو کې تړونونه یا ژمنلیکونه ځانګړې ځای لري؛ خو د اسلام نړیوال قانون خپل قوت له هغو انساني ارزښتونو څخه، چې دمخه یاد شول، تر لاسه کوي چې یو هم په کې پر ژمنو وفا کول دي. په همدې خاطر عادلانه ژمنلیکونه او تړونونه د نړیوالو اسلامي قوانینو په تکوین کې ځانګړې ځای لري.

قرآن کریم پر ژمنې وفا کول مطلق ګڼلي دي او هېڅ ډول ملاحظاتو ته یې په کې ځای نه دی پرېښی، دا چې د اسلام له مخې په انساني اړیکو کې اصل سوله ده؛ نو د تړونونو له لاسلیکولو څخه موخه هم د جنګ امکانات له منځه وړل او یوې دایمي سولې ته لاره برابرول دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تړونونو څخه معلومېږي چې له خپلو ګاونډیو سره یې د یو سوله ییز ژوند کولو لپاره لاسلیک کړي دي. د بېلګې په توګه هغه ژمنلیک چې له یهودیانو سره یې لاسلیک کړ،موخه یې یوې دوامدارې سولې ته رسېدل و، څکه چې په دې ژمنلیک کې راغلي دي ((یهودیان به له مسلمانانو سره متفقانه زنده ګي وکړي، یهودیان هم د مسلمانانو په څېر یو ملت تشکیلوي، هر یو به یې، یهودیان او مسلمانان خپل دین ولري، دوی پر خپلو ځانونو او غلامانو تصرف لري، خو څوک چې ستم وکړي او د ګناه مرتکب شي؛ نو له خپل ځان او خپلې کورنۍ څخه پرته به بل څوک هلاک نه کړي. بني نجار، بني حارث، بني ساعده، بني جشم، بني اوس، بني شطنه یهودیان د بني عوف یهودیانو په څېر دي، د یهودو دوستان او همپیمان خپله د یهودو په څېر دي. د یهودو نفقه د هغوی پر خپله غاړه ده او د مسلمانانو نفقه د هغوی پر خپله غاړه. هر څوک چې د دې ژمنلیک د ګټې پر ضد عمل وکړي، هغوی (یهود او مسلمان) باید د هغوی پر خلاف په جنګ کې له یو بل سره مرسته وکړي. همدارنګه پر هغوی لازم دي چې یو بل ته پر نېکۍ، نه پر بدۍ نصیحت وکړي او هېڅوک به د خپل همپیمان پر ګناه ګنهکار نه ګڼل کېږي. له مظلوم سره مرسته لازمي ده، ګاونډی د خپلوان په څېر دی او بایده دي چې له ضرر څخه خوندي پاتې شي، د الله مرسته دي وي له هغوی سره چې پرهېزګاري یې خپله دنده ګرځولې ده او د دې ژمنلیک ګټو ته وفاداره پاتې شي. څوک چې پر یثرب

Bawar.net


یرغل وکړي، هغوی باید له یو بل سره په مرستې له هغې (یثرب) څخه دفاع وکړي او هر کله چې سولې ته راوبلل شو، هغه دې ومني، کله چې د دفاع لپاره مسلمانانو ته بلنه ورکړي، پر مسلمانانو لازم دي چې بلنه یې ومني، مگر هغه څوک چې د دین پر ضد جنګېږي. هر کس د هغې سیمې دفاع لري چې چېرته مېشت دی. د دې ژمنلیک د ګټو تطبیق ته نه د ظالم ظلم مانع کېدای شي او نه هم د ګنهګار ګناه، څوک چې له مدینې بېرون لاړ شي یا هم په مدینه کې پاتې شي له امنیت څخه برخمن وي؛ مگر هغه کس چې د ګناه او ظلم مرتکب شي. الله تعالی د پرهېزګارو او نېکانو ساتونکی دی)).

د پورته ژمنلیک له متن څخه په ښکاره معلومېږي چې موخه یې له ګاونډیو سره د مسلمانانو دوستانه اړیکې، د انصاف او عدالت د پایو تثبیت او له مظلوم او کمزوري څخه دفاع او د یوې عادلانه سولې رامنځته کول و.

په یوې بله وثیقه کې چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له یهودیانو سره لیکلې ده، راغلي دي ((ستاسې ځانونه، مالونه، غلامان او دین د الله او د هغه د رسول په ذمه کې دی، ستاسې پر ځمکه به هېڅ لښکر یرغل در نه وړي او په زوره به جنګ ته سوق نه شئ او له تاسې څخه چې څوک سفر کوي د الله او د هغه د رسول په امان کې به وي، په دین کې هېڅ اکراه نه شته)).

لنډه دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې په خپل وخت کې له نامسلمانانو سره څومره د سولې ژمنلیکونه لاسلیک کړي دي، له لاندې عواملو څخه یې یو خامخا درلود:

لومړی- د سولې ژمنلیک به یې هغه مهال ورسره لاسلیک کاوه چې مسلمانان به نامسلمانان اسلام منلو، جنګ کولو او یا هم د سولې تړون کولو ترمنځ اختیارمن کړل، که هغوی به د سولې تړون غوره وګاڼه؛ نو بیا به یې ورسره سوله کوله او د ذمي حکم کې به راتلل یا هم دا چې په خپلو ځمکو کې به پاتې کېدل او هر کال به یې یوه اندازه مالیات مسلمانانو ته ورکول او په مقابل کې به یې مسلمانانو دفاع کوله.

Bawar.net


دویم- مسلمانانو به له نامسلمانانو سره د اوربند ژمنلیک لاسلیکوه، چې طبعاً دا ډول ژمنلیکونه به په معین وخت پورې محدود ول او په دې وخت کې به دواړه په خپلو ژمنو ته وفاداره پاتې کېدل.

موږ په لنډه توګه ویلای شو چې په اسلام کې د سولې د تړونونو شمېر ډېر زیات دی، موږ د یو څو تړونونو نومونه دلته اخلو چې عبارت دي له: د مدینې منورې تړون، د جهینه تړون، د حدیبې تړون، د تبوک د سولې تړون، د ثقیف د سولې تړون او د بیت المقدس د سولې تړون. د اسلامي قانون له مخې د اسلامي تړونونو مقصد د توحید له نظریې سره سم د ټولې نړۍ د اړیکو توحید او د ټولو انسانانو په لاربښوونه کې د نړیوالو اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو اړیکو او حقوقو مساوت دی. ا سلامي حکومت نړیوال حکومت دی او په همدې حیثیت سره نړیوالې اړیکې رامنځته کوي.

۵- بې طرفي

بې طرفي هغه مهال مطرح کېږي چې دوه قدرتونه د خپل نفوذ او حاکمیت د پراخلو لپاره په یوه سیمه کې سره په رقابت کې وي او یا هم جنګ ته سره کېوتي وي. ځینې لیکوال فکر کوي چې په اسلام کې بې طرفي نه شته ځکه اسلام دونیا په دوو سیمو وېشي، یوه یې هم دارالاسلام او بله هم دارالحرب او د دې دواړو ځمکې په منځ کې منځنۍ ځمکه نه شته. موږ اوتاسې د دارالاسلام او دارالحرب په بحث کې د یو ډول نورو ځمکې یادونه هم وکړه چې هغه ته په اسلام کې دارالعهد ویل کېده. نو له دې معلومېږي چې منځنۍ او بې طرفه ځمکه او خلک شته دي. د بېلګې په توګه که مسلمانان له یوې ډلې سره په جنګ کې وي؛ خو له دې ډلې څخه یو شمېر یې بې طرفي اختیار کړي او په جنګ کې له اشتراک څخه ځان وژغوري، همدوی ته بې طرفه وایي. قرآن کریم هم د بې طرفه خلکو درناوی کول او پر هغوی تېری نه کول یو شرعي فریضه ګڼلې ده لکه چې د النساء سورت په (۹۰) مه شمېره ایت کې فرمایي:

ژباړه: البته هغه منافقان له دې حکم څخه مستثناء دي چې له یو داسې قوم سره یو ځای شي چې له هغه سره ستاسې تړون وي، دغه راز هغه منافقان هم

Bawar.net


مستثناء دي چې تاسې ته راځي او له جګړې نه زړه تورن دي، نه له تاسې سره جنګېدل غواړي او نه له خپل قوم سره، که الله غوښتلای نو هغوی به يې پر تاسې مسلط کړي وای او هغوی به هم درسره جنګېدلي وای له دې کبله که هغوی له تاسې نه څنګ وکړي او له جنګېدو نه لاس په سر شي او تاسې ته د روغې جوړې لاس اوږد کړي؛ نو الله ستاسې لپاره هغو ته د لاس اوږدولو کومه لاره نه ده پرېښې.

دا قرآني نص پر دې صراحت او قاطعيت لري چې هر چا بې طرفي اختيار کړه، هغه بايد بې طرفه وپېژندل شي او دا آمر د اسلام له کلي بنسټونو سره، چې په اړيکو کې سوله اصل ګڼي، همغږی دی.

په اسلام کې بې طرفي په لاندې درېوو ډولونو ده:

لومړی - د بې طرفۍ په دې ډول کې به دوه مسلمانې ډلې يا هم دوه اسلامي هېوادونه په جنګ کې وي، په دې صورت کې د اسلام حکم دا دی چې ټول مسلمانان دې اول کې هڅه وکړي چې د دې دوه ډلو ترمنځ روغه جوړه وکړي او په هغه صورت کې چې د سولې او روغې جوړې امکان نه و، نو مسلمانان مکلف دي چې بې طرفي اختيار کړي او که چېرې يوه مظلومه ډله د ظالمې او تېري کوونکې ډلې په مقابل کې پر دفاع بوخته وه؛ نو په دې صورت کې د مسلمانانو بې طرفي روا نه ده او د ظلم پر وړاندې چوپ پاتې کېدل خپله ظلم دی.

دلته بايد اضافه کړو چې د ظلم په صورت کې يوازې له مظلوم څخه دفاع کفايت نه کوي؛ بلکې اسلامي څواکمن هېواد دنده لري چې د امنيت، د اسلامي دولتونو ترمنځ د دوستانه او مسالمت امېزو اړيکو او د سوداګريزو، اقتصادي، فرهنګي او د يرغلونو د مخنيوي په برخه کې د اړيکو د پراختيا لپاره له هېڅ ډول هاند و هڅې لاس وانه خلي.

دويم - د بې طرفۍ دويم ډول په هغه صورت کې مطرح کېږي چې د اسلامي او نااسلامي هېوادونو ترمنځ جنګ وي، په دې صورت کې هم بې طرفه پاتې کېدل روا نه دي اوپر ټولو مسلمانانو لازم دي چې له اسلامي هېواد څخه

Bawar.net


د دفاع په خاطر راپورته شي، ځکه چې پر یومسلمان فرد تېری پر ټولو مسلمانانو تېری ګڼل کېږي. حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((ژباړه: مسلمان د مسلمان ورور دی، هغه نه دښمن ته تسلیموي او نه یې هم په مشکلاتو او سختیو کې یوازې پرېږدي)) همدارنګه یې په یو بل ځای کې ویلي دي چې ((ژباړه: مومن د مومن لپاره د دېوال په څېر دی چې خښتو یې یوه بله محکمه نیولې وي)).

دا په هغه صورت کې چې اسلامي هېواد تر تېري لاندې راشي او که چېرې اسلامي هېواد خپله تېری وکړي، نو په دې حالت کې مسلمانان باید هڅه وکړي چې د دواړو لورو تر منځ سوله او اصلاح راولي.

درېیم- په دې ډول بې طرفۍ کې به دوه نااسلامي دولتونه په جنګ اخته وي، چې دا ډول بې طرفي درې حالته لري.

په لومړي حالت کې که چېرې له جنګېدونکو ډلو څخه یوه ډله دمخه له مسلمانانو سره جنګېدلي وي او اوسمهال ورسره نه د سولې کوم تړون لري او نه هم د نه تېري، بلکې دغه نامسلمانه ډله خپلې وارې ته ګوري چې پر اسلامي هېواد تېری وکړي؛ نو په دې صورت کې مسلمانانو ته بې طرفه پاتې کېدل نه دي په کار؛ بلکې له خپلوملي ګټو څخه د دفاع په موخه کولای شي چې د دې ډلې مقابل جانب ډلې سره مرسته وکړي.

دویم حالت یې دا دی چې که چېرې د مسلمانانو او له جنګېدونکو ډلو څخه د یوې ډلې ترمنځ د دوستۍ تړون لاسلیک شوی وي؛ نو په دې صورت کې هم درسته نه ده چې مسلمانان بې طرفي اختیار کړي، ځکه کله چې د قریش قبیلې له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره کړی تړون مات کړ او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر همپیمانې قبیلې خزاعه یې یرغل وکړ؛ نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم د قریشو پر خلاف لښکر راوویست او مکه یې فتحه کړه.

درېیم حالت یې دا دی چې د مسلمانانو او جنګېدونکو ډلو ترمنځ هېڅ ډول تړون او پیمان نه وي او د دواړو ډلو رابطه له اسلامي دولت سره یو ډول وي،

Bawar.net


په دې صورت کې پر مسلمانانو واجب دي چې خپله بې طرفي وساتي او په جنګ کې له ګډون څخه ځان وژغوري.

لنډه خبره دا ده چې هغه څه مو چې د سولې په حالت کې د اسلامي نړیوالو اړیکو په اړه ولوستل، پر درېوو بنسټونو ولاړ دي:

۱. د مسلمانانو او نامسلمانانو ترمنځ د عدالت تحکیم او د ټولنیزو، فرهنګي اړیکو پراختیا او د همکارۍ، مرستې او انساني یووالي د روحیې تقویه.

۲. پر نورو له تېري څخه ځان ژغورل؛ ځکه چې تېری که په هره بڼه وي، د اسلام له انده ناروا دی، د دې لپاره چې مسلمانان پر نورو غلبه پیدا کړي؛ نو بایده دي چې هغوی سره، په ځانګړې تر خپلو لاس لاندې کسانو او هغو نامسلمانانو سره، چې اسلامي قیادت یې منلی دی، له مهربانۍ څخه کار واخلي، د هغوی حقوق رعایت کړي او د هغوی پر وړاندې خپل مسوولیتونه په بنه ډول تر سره کړي او په هېڅ لحاظ اخلاقي او انساني ارزښتونه هېر نه کړي.

۳. د نامسلمانانو وګړیو له آزادیو څخه ملاتړ، په ځانګړې توګه له دیني او عقیدوي آزادیو څخه؛ ځکه چې اسلام په دین کې فتنه او د عقیدې د تغیر لپاره اکراه منعه کړې ده او هغه وګړیو ته یې، چې د اسلامي دولت تر سیوري لاندې ژوند کوي، بشپړه آزادي ورکړې ده، د دې لپاره چې خپل دیني شعایر ترسره کړي.

## درېیم مبحث: د جګړې پر مهال د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکې

جنګ مسلمانانو ته یو منفور عمل دی؛ ځکه چې د جنګ بنسټ د نفس پر وژنې ایښودل شوی دی او مسلمان هېڅکله نه خوښوي چې په ناحقه یو ژوندی انسان د ژوندانه له نعمت څخه محروم شي.

قرآن کریم صراحت لري چې رښتینې مومنان جنګ د یوې نفرت راوړونکې پدیدې په توګه نه خوښوي؛ خو کله چې ورته اړتیا پېښه شي او یا هم په جنګ کې مصلحت شتون ولري؛ نو خدای تعالی جل جلاله هغوی ته د جنګ کولو

Bawar.net



حکم هم کړی دی او دوی مجبور دي چې د هغه جل جلاله فرمان ومني. دغه ناخوښه عمل هغه مهال ضروري کېږي او مسلمانان نه شي کولای چې مخ تـرې وګرځوي چې پر ټولنه زور او ظلم حاکم وي. هغه څه چې الهي پيغمبرانو او په ځانګړې توګه د اسلام پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیـه وسـلم ورتـه خلـک رابللي دي، د دې ایجاب کوي چې رزیلت پر فضیلت، شر پر خیر او باطـل پـر حق له منځه یوسي. حق، عدالت او فضیلت تـر واکمنـی ورسـوي او د ظلـم، باطل او رذیلیت کمپله ټوله کړي. دې موخې ته د رسېدو لپاره اړینـه ده چـې کله کله وسلې ته لاس شي او د جنګ لاره غوره کـړای شي، پـه همـدې خـاطر ويلای شو چې په اسلام کې جنګ ذاتاً مطلوب نه دی؛ خو کله کله د عـدالت د تحقق او د فضیلت او نیاو د عامېدلو لپاره له جنګ څخه پرته بله چاره نه شته.

## لومړی جز: په اسلام کې د جنګ انګېزې

په اسلام کې د جنګ انګېزې باید د قرآن کریم په نصوصو، په نبـوي سـنتو، د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په عملي ژوند کې او له نورو سره د هغـه پـه برخورد کې ولټوو. قرآن کـریم لـه جنـګ څخـه دمخـه، د جنـګ پـه پیـل او د جنګ په منځ کې تجاوز او تېری منعه کـړې دی او یـوازې دفـاعي جنـګ یـې توجیه کړی دی، د البقرې سورت په (۱۹۰) مه شمېره ایت کې راغلي دي:

(وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ).

ژباړه: او تاسې د الله په لار کې له هغو کسانو سره وجنګېږئ چې لـه تاسـې سره جنګېږي؛ خو تېری مه کوئ چې الله تېـری کـوونکي نـه خوښـوي. اسـلام هغه مهال د دوښمنانو پر ضد جنګ ته اجازه ورکـوي چـې جنـګ هغـوی پیـل کړی وي. کله چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم عملي ژوند ته مراجعه وکړو؛ نو ګورو چې هغه مبارک دیارلس کاله پر دعوت او تبلیـغ تېـر کـړل، کلـه چې یو شمېر خلکو پر هغه ایمان راوړ او ورسره ملګري شول؛ نو مشرکینو یې پـه مقابل کې لاسونه سره یو کړل، هغه او ملګري یې تر ازار لاندې ونیـول، تـر دې پورې چې د حضرت عمر بن الخطاب او حضرت حمزه بن عبدالمطلب نـه پرتـه

Bawar.net



بل څوک د هغوی له آزار او ظلم څخه پاتې نه شول؛ خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم مومنانو ته د صبر او زغم توصیه و کړه او د مشرکانو پر ضد یې هېڅ ډول عملي اقدام ته اجازه نه ورکوله، تر دې چې د مشرکانو دوښمني دې ته ورسېده چې غوښتل یې د بشریت ستر لارښود ووژني، الله تعالی خپل پیغمبر له دې توطیې څخه خبر کړ او هغه صلی الله علیه وسلم مجبور شو چې مکه پرېږدي او له خپلو ملګرو سره مدینې ته هجرت وکړي. له هجرت څخه وروسته یې هم دوښمنان غلي نه شول؛ بلکې د مهاجرینو مالونه به یې یرغملول او هغه مسلمانان چې په مکه کې پاتې ول، د تېر په شان به یې آزارول او شکنجه کول، هماغه و چې الله تعالی جل جلاله خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته اجازه ورکړه چې د مسلمانانو له حقوقو څخه د دفاع په خاطر په جنګ لاس پورې کړي.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دفاعي جنګ ترڅنګ توحیدي بلنې ته هم ادامه ورکړه او خلک یې د ایمان او عقیدې آزادۍ ته راوبلل، کله یې چې اسلامي بلنه د جزیرة العرب ټولو برخو ته ورسوله؛ نو له جزیرة العرب بېرونیو سیمو ته د دې بلنې د خپرولو په فکر کې شو. هماغه و چې د نړۍ بېلابېلو پاچایانو ته یې لیکونه واستول او هغوی یې خپل دین ته راوبلل، دا لیکونه نړدې د بیان او منځپانګه له مخې سره ورته دي او په عبارت کې یې له ډېر کم توپیر څخه پرته نور توپیر په کې نه لیدل کېږي، دلته د بېلګې په توګه د هغه لیک متن رااخلو چې هرقل ته لیکل شوی دی.له دې لیک څخه د نړیوالو اړیکو په اړه د اسلام روح او اصالت معلومېږي، دا لیک موږ پر دې پوهوي چې د اسلام داعیان باید خپله خبره څنګه پیل کړي او څنګه یې باید پای ته ورسوي. لیک په دې ډول دی:

ژباړه: د الله د رسول محمد له لوري د روم عظیم ته!

مسلمان شه چې سالم پاتې شې،کنه د رعیت ګناه به دې ستا پر غاړه وي.

((ای اهل کتابو! د هغې خبرې په لور راشئ چې زموږ او ستاسې ترمنځ یو

Bawar.net


ډول ده، چې له یو الله پرته بل څه ونه نمانځو او بل څه ورسره شریک ونه نیسو او زموږ ځینې ځینې نور- له الله پرته -پر خدایی ونه نیسي)).

په دې مشرانو کې ځینو، لکه د مصر واکمن مقوقس د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لیک په ډېره دوستانه او شریفانه رویې ځواب کړ؛ خو ډېرو یې بېخي غبرگون ونه ښود، د بېلګې په توګه د ایران واکمن خسرو پروېز د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لیک څېرې کړ او د هغه په وژنې پسې یې یو کس ولېږه چې سر یې راته راوړئ؛ خو دمخه تر دې چې دا ارمان یې پوره شي، خپله ووژل شو. همدارنګه هرقل په شام کې موجود مسلمانان تر شکنجې لاندې ونیول او یو شمېر یې ووژل، په همدې خاطر پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته بله چاره نه وه، پرته له دې چې د ایران او شام د واکمنانو پر خلاف وسلې ته لاس کړي او جنګ پیل کړي.

له پورته یادونو څخه معلومېږي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنګونو شاته دوه انګېزې موجودې وې، لومړی انګېزه د نورو د تېري او تجاوز دفعه وه، څکه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په بالفعل ډول تر تېري لاندې و او همدارنګه د مسلمانانو ځانونه او مالونه هم عملاً تر تېري لاندې ول؛ نو په همدې خاطر چې اسلام د عزت او قوت دین دی او خپلو پیروانو ته اجازه نه ورکوي چې ذلت او پستی ته تسلیم شي، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تېریو د دفعې په خاطر د جهاد اعلان وکړ او په ښکاره یې وویل چې تر هغې پورې چې شر په نړۍ کې پاتې وي، جهاد به یې په مقابل کې دوام لري. دویمه انګېزه دا وه چې د اسلامي دعوت مخې ته موجوده خنډونه او موانع لرې کړي، د اسلام دعوت حق و، په همدې خاطر یې د خلکو د عقیدې او دین د آزادۍ اصل په رسمیت وپېژنده، څکه ډېرو خلکو په خپله خوښه د حق دین په لور کړون درلود؛ خو د وخت مستکبرینو او زورواکو د خلکو پر دې آزادۍ پابندي ولګوله او هغوی یې له دې څخه منعه کول چې خلک اسلام ومني یا هم اسلام ته راوبلل شي. هغوی نه یوازې دا چې د اسلامي بلنې مخه یې نیوله؛ بلکې مسلمانان یې وژل، شکنجه کول یې، په همدې خاطر

Bawar.net

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او ملګري يې مجبور ول چې وسلې تـه لاس پورته کړي.

په مقابل کې يې اسلام پر نورو په زور او جبر د خپـل ديـن منـل منعـه کـړي دي او ویلي يې دي چې ((په دين کې اکراه نه شته))؛ خو تر څنګـ ې نـورو ته هم دا اجازه نه ورکوي چې پر مسلمانانو په زور خپل عقاید تحمیل کړي.

## دويم جز: له جنګ څخه دمخه د اسلام احکام

لکه دمخه مو چې يـاده کـړه پـه اسـلام کـې جنـګ د دوو انګېـزو لـه مخـې پیلېږي، يو دا چې د تېري مخه پرې ونيول شي او بل دا چې د اسلام بلنې تـه زمینه برابره شي او خنډونه يې له مخې لرې شي، خـو کلـه چـې د همـدې دوو انګېزو له مخې جنګ ونښلي؛ نو اسلام خپلو پیلونو ته وايي چې ((لـه دوښـمنانو سره د مقابلې هیله مه کوئ او کلـه چـې ورسره مـخ شـوئ؛ نـو بيـا لـه ثبـات او استقامت څخه کار واخلئ)). اسلام خپلو پلويانو ته دا هم وايي چې نامسلمانانو ته درې اختيارات ورکړئ چې يو په کې غوره کړي، یا دې اسلام ومني، يـا دې هم د سولې تـړون ومنـي او يـا دې هـم جنـګ تـه تيـار شي. پـه دې کـار سره مسلمانان هغوی ته ښيي چې موخه يې هېڅکله د هغوی اسـتعمارول نـه دي او نه هم غواړي چې پر ځمکو او مادي امکاناتو يې غلبه وکړي، بلکـې موخـه يـې دا ده چې هغوی د اسلام مبارک ديـن پـه واسـطه د انسـانيت لـوړو پوړونـو تـه ورسوي.

کله چې معاذ بن جبل رضی الله عنه د يمن د فتحې لپاره اسـتول کېـده؛ نـو پيغمبر صلی الله علیه وسـلم ورتـه دا ډول توصـيه وکـړه: ((تـر هغـې پـورې لـه دوښمنانو سره مه جنګېږئ، تر څو مو چې بلنه نه وي ورکړې او که چېـرې يـې ستاسې بلنه ونه منله؛ نو بيا هم تر هغې پورې په جنګ پيـل مـه کـوئ، تـر څـو چې هغوی نه وي پيل کړی او چې په جنګ يې پيل کړ؛ نو تر هغې ورسره مـه جنګېږئ، تر څو يې چې له تاسې څخه يو وژلی نه وي او کله يې چې له تاسو څخه يو ووژه؛ نو مړی ورته وښيئ او ورتـه ووايـئ: آيـا لـه دې څخـه پرتـه بلـه

Bawar.net


غوره لاره شتون نه لري؟ ځکه چې که چېرې الله تعالی جل جلاله ستا په واسطه یو کس ته د اسلام هدایت وکړي، له هر هغه څه څخه غوره ده چې لمر پرې راخېژي او پرېوځي)).

## درېیم جز: د جنګ پر مهال د اسلام احکام

هغه نرمي او ترحم چې اسلام له جنګ څخه دمخه د هغه توصیه کوي، د جنګ پر مهال پرې هم تاکید کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي چې: زه د رحمت، قوت او جنګ پیغمبر یم.

په حقیقت کې رحمت و قوت یو له بل سره لازم و ملزوم دي، پر ځمکه واقعي رحمت هغه مهال رامنځته کېدای شي چې د فساد ریښه تـرې وشکېږي او دا کار هغه مهال کېږي، کله چې د فساد له منځه وړلو لپاره قوت او ځواک شتون ولري. خو له سره دې هم اسلام د جنګ پر مهال خپلو پلویانو ته د نرمۍ او ترحم توصیه کوي او له ظلم، بداخلاقۍ او رذالت څخه یې منعه کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپل جنګي لښکر ته داسې حکم کاوه: ((د خلکو زړونه په نرمۍ تر لاسه کړئ او له بلنې څخه دمخه ناڅاپه پر هغوی یرغل مه کوئ؛ ځکه که تاسې د ځمکې ټول اوسېدونکي مسلمانان کړئ، له دې ښه ده چې نارینه یې ووژنئ، ښځې او ماشومان یې له ځانونو سره بندیان کړئ)).

په یو بل ځای کې خپل یو بل قومندان ته داسې وايي: ((د خدای په نوم، د خدای لپاره او د خدای په برکت حرکت وکړئ، زاړه، کمزوري، ماشومان او ښځې مه وژنئ، خیانت مه کوئ، اصلاح وکړئ او احسان وکړئ، خدای تعالی نېکان خوښوي)).

له پورته بېلګو څخه په ښکاره معلومېږي چې په اسلام مبارک دین کې د جنګ او جهاد موخه د انسانانو له منځه وړل نه دي او نه هم یوازې د انسانانو وژل او قتال دی؛ بلکې د جهاد موخه یوازې د رذالت، فساد، ظلم او زیاتي له منځه وړل دي، هغه که د انسانانو په وژنه او له منځه وړنه له منځه ځي او که

Bawar.net


پرته له دي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مبارک سیرت او د هغه د راشدینو خلیفه ګانو له مبارک ژوند څخه معلومېږي چې په ټولو اسلامي جنګونو کې اسلامي جنګیالیو لوړ انساني او اسلامي اخلاق ساتلي دي او له خانه یې د دغو اخلاقي ارزښتونو د پلي کولو غوره بېلګې پرېښې دي.

## څلورم جز: په جنګ کې روا او ناروا:

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه د خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه له لاربښوونو څخه په جنګ کې روا او ناروا یا حلال او حرام معلوم کړو، دا چې د اسلام په مبارک دین کې د جنګ انګېزه د تېري دفعه کول او دعوت ته زمینه برابرول دي؛ نو په همدې خاطر د ملکي او بې طرفه خلکو وژل ناروا دي او همدارنګه پر دیني آزادۍ تجاوز او تېری هم ناروا دی. په اسلام کې د دیني آزادۍ د ساتنې غوره بېلګه د اسلام په جنګونو کې له دیني اشخاصو سره معامله ده.

### لومړی) له دیني اشخاصو سره معامله:

کله چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپل لښکر شام ته استوه؛ نو لومړۍ توصیه یې ورته دا وه چې دیني اشخاص مه وژنئ او د هغوی دیني آزادۍ په قیدوئ، د شام څمکه یوه داسې څمکه وه چې اوسېدونکو یې پر درېوو اسماني دینونو عقیده درلوده، اسلام، مسیحیت او یهودیت، له بل لوري په دې څمکه د یهودو او نصاراوو عبادتځایونه هم موجود ول ځکه خو د اسلام لومړي خلیفه خپلو سرتېرو ته وویل چې دیني اشخاص مه وژنئ، خو له دیني اشخاصو څخه یې موخه هغه اشخاص ول چې په خپلو عبادتځایونو کې ګوښه ناست وي او په خپل عبادت بوخت وي، هغه افراد چې خانونه یې د دین تر څادر لاندې پټ کړي وي او په حقیقت کې د اسلام پر خلاف جنګیالي اوسي یا هم د جنګیالیو مشاورین او مبلغین اوسي، د هغوی وژل روا دي، ځکه هغوی هم د جنګیالیو حکم اخلي.

Bawar.net



**دویم: د ماشومانو، ښځو او بوډاګانو د وژلو تحریم:**

د دې ترخنګ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ماشومانو، ښځو او زړو خلکو وژل هم ناروا کړي دي، ځکه چې په اسلام کې د جنګ موخه د تېري له منځه وړل دي او دا خلک د تېري وړتیا نه لري، یو ځل د اسلام سرتېرو ماشومان وژلي وو، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سخت په غوسه شو او ویې ویل: ((ولې ځینې ډلې په وژنه کې تر دې اندازې پورې زیاتی کړی دی چې ماشومان یې هم وژلي دي، هن! د ماشومانو له وژنې ځانونه وژغورئ)).

دلته هم باید یادونه وکړو هغه بوډاګان، ښځې او حتا نابالغ ماشومان چې له جنګیالیو سره مرسته کوي، هغوی ته نخچې ورکوي، جاسوسي ورته کوي او د مسلمانانو اسرار ورته افشاء کوي، هغوی هم د جنګیالیو حکم اخلي او وژل یې روا دي، لکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د حنین په غزا کې د درید بن صمه د وژلې امر صادر کړ، ځکه هغه بوډا له دوښمنانو سره د جنګ په پلان او ترتیبولو کې مرسته کوله.

**درېیم: د کارګرانو د وژنې تحریم**

د اسلام پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په مکرر ډول په اسلامي جنګونو کې د کارګرانو او مزدورانو منعه فرمایلې ده، البته د هغو کارګرانو چې د پیسو په مقابل کې خپل کار کوي او په جنګ کې هېڅ ډول ګډون نه لري.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د یوې جګړې پر مهال په حضرت خالد بن ولید پسې یو کس واستوه او ورته یې حکم وکړ چې ماشومان او کارګران دې نه وژني. دا چې کارګران د وطن د آبادۍ لپاره خپله د استعمار او ظلم قرباني دي؛ نو په همدې خاطر اسلام هغوی تر حمایت لاندې نیسي- او ظلم پرې نه کوي.

Bawar.net


## څلورم: له تخریب څخه مخنیوی

لکه دمخه مو چې یاده کړه د مسلمانانو د لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په وصیت کې د مېوه لرونکو ونو له تخریب او وهلو څخه منعه شوې وه. ښکاره ده چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خپل شخصي-نظر پر اساس دا خبره نه ده کړې، بلکې د اسلام مبارک دین له روح او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له مبارک سیرت څخه په الهام یې دا خبره کړې ده او هېڅ کوم صحابي ورسره په دې برخه کې مخالفت نه دی کړی.

بل دلیل او منطق دا دی چې په اسلام کې د جنګ موخه د ظالمو حکمرانانو او د هغوی د ظلم له منځه وړل دي؛ نه خلکو او عوامو ته زیان رسول، په همدې خاطر مناسبه نه ده چې د خلکو کښتونو، باغونو، ودانیو او نورو عامه تاسیساتو ته زیان ورسېږي؛ خو که چېرې معلومه شوه چې دوښمن له کومې ودانۍ، کوم باغ یا کښت څخه عملاً د سنګر ګټنه کوي؛ نو بیا یې له تخریب څخه پرته بله چاره نه شته.

## پنځم: په جنګ کې د اخلاقي ارزښتونو رعایت

لکه دمخه مو چې یاده کړه د اسلام په نړیوالو اړیکو کې ورته معامله یا ورته غبرګون ښودل د جنګ او سولې په دواړو حالتونو کې یو اصل او اساس دی؛ خو د اخلاقي ارزښتونو د رعایت په شرط او دا شرط هر وخت کې لومړی ګڼل شوی دی او په هېڅ لحاظ یې ماتولو ته اجازه نه شته، د بېلګې په توګه که چېرې دوښمن ماشومان، کارګران، بوډاګان، ښځې وژني یا هم عامه تاسیسات تخریبوي، باغونو او کښتونو ته زیان رسوي؛ نو دلته اسلام خپلو سرتېرو ته د ورته غبرګون او ورته معاملې اجازه هم نه ورکوي څکه چې که د اسلام سرتېري دا کار وکړي؛ نو دا په دې مانا چې اخلاقي ارزښتونه یې په پام کې نه دي نیولي، اسلام اخلاقاً د ماشومانو، ښځو وژل، د کښتونو او باغونو له منځه وړل ښه نه ګڼي، د اخلاقي ارزښتونو د رعایت ډېرې غوره بېلګې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د مبارک ژوند پر مهال او له هغه وروسته د صحابه کرامو او

Bawar.net



له هغو وروسته د اسلامي خلیفه ګانو په جنګونو کې شته، د بېلګې په توګه د احد په غزا کې مشرکینو د حضرت حمزه رضی الله عنه جسد مبارک مثله کړ؛ خو د اسلام لښکرو یې په مقابل کې دا ډول کوم عمل نه دی کړی. همدارنګه په صلیبي جنګونو کې د مسلمانانو قومندان یوسف صلاح الدین ایوبي زیات شمېر صلیبیان بندیان ونیول؛ خو دا چې د هغوی لپاره کافي غذا ورسره نه وه؛ نو هغوی یې خوشې کړل، نه یې ووژل او نه یې هم په لوږه کې پرېښودل؛ خو ناپلیون بوناپارت چې کله د عکارا د نیونې پر مهال یو شمېر مسلمانان بندیان ونیول او د هغه له لښکرو سره غذا نه وه؛ نو هغوی ټول یې ووژل، د مسلمانانو او نامسلمانانو په رویه کې بایده دي چې همدومره توپیر اوسي.

### شپږم: د جنګ په میدان کې انساني کرامت ته درناوی

مخکې مو یادونه وکړه چې اسلام د نړیوالو اړیکو په ټولو ډولونو کې انساني کرامت ته درناوی لازمي ګڼلی دی، که څه هم د سولې پرمهال دا الزمیت ډېر عجیب نه دی، ښایي لوېدیځوالو ته به عجیبه وي، ځکه هغوی خو لا هم د تور و سپین ترمنځ توپیر ته قایل دي، خو د جنګ پر مهال د انساني کرامت درناوی رښتیا هم عجیبه دی او دا درناوی اسلام د جنګ پر مهال لازمي او واجب کړی دی، لکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د جنګ په میدان کې د وژل شویو د جسدونو مثله کول منعه کړي دي او په خپلو جنګونو کې به یې خپلو سرتېرو ته ویل چې د دوښمن مړي ښخ کړي او پرېنږدي چې وحشي-حیوانات او مرغان یې وخوري، دا امر یې په بدر غزا کې هم وکړ چې مړي په یوې وچه او بې اوبو کنده کې واچوئ او ښخ یې کړئ. همدارنګه هغه صلی الله علیه وسلم د دوښمن پر مخ ګوزار منعه کړی دی او هم یې د بندیانو له شکنجې او تعذیب څخه منعه فرمایلې ده، که یو څوک داسې زخمي شي چې د خپل زخم له امله نور مقاومت نه شي کولای؛ نو وژل یې ناروا دي، بلکې باید بندي شي، درملنه یې باید وشي او د مال یا د تبادلې په مقابل کې او یا هم همداسې وړیا خوشې کړای شي.

Bawar.net


**څلورم جز: د جګړې له پای ته رسېدو وروسته د اسلام احکام**

معمولاً جنګونه له لاندې ډولونو څخه په یو ډول پای ته رسېږي.

لومړی: د جنګیالیو ډلو ترمنځ د لنډ او معین وخت لپاره اوربند او د جنګ متارکه کېږي

دویم: د جنګیالیو لورو ترمنځ د دایمي سولې تړون لاسلیک کېږي..

درېیم: جنګ چې خپلو موخو ته ورسېږي، په دې ترتیب چې دوښمن په مطلقه توګه، له قیدوشرط پرته د ذمې عقد لاسلیک کړي او یا هم د خپل ځان او مال د ساتنې په شرط مسلمانانو ته تسلیم شي.

موږ یې په لاندې ډول هر یو لولو:

**پینځم جز: اوربند**

د جنګ پر مهال اوربند او متارکه کله په دایمي سولې بدلېږي او کله هم لنډمهاله وي او هماغه معلوم وخت په پوره کېدو سره جنګ، په اسلام کې اوربند په دوو حالاتو کې واجب دی:

لومړی: په حرامو میاشتو مشهورو څلورو میاشتو کې، چې عبارت دي له ذوالقعده، ذوالحجه، محرم او رجب، د قرآن کریم د نص له مخې په دې یادو شویو میاشتو کې له اړتیا څخه پرته له جنګ او تاوتریخوالي څخه ځان ژغورل واجب دي. دا چې لومړۍ درې میاشتې د حج د مناسکو د ادا لپاره دي او وروستۍ میاشت د عمرې د ادا لپاره او دا ټولې میاشتې د عبادت او د نفس د تزکیې لپاره دي؛ نو په دې میاشتو کې جنګ منعه شوی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع په خطبه کې هم د دې څلورو میاشتو یادونه کړې ده او په خپل عملي ژوند کې یې هم په دې میاشتو کې جنګ نه دی کړی.

دویم: د اوربند دویم حالت هغه دی چې دښمن د اوربند غوښتنه وکړه، په دې حالت کې هم د اوربند منل په کار دي، که څه هم له دې حالته دښمنه

Bawar.net



ناوړه ګټه اخلي او د راتلونکي جنګ لپاره اماده ګي نیسي.- الله تعالی جل جلاله د انفال سورت په ٦١ او ٦٢ ایتونو کې فرمایي:

ژباړه: که هغوی سولې ته کړون (میلان) وښود؛ ته هم سولې ته ورشه او پر خدای توکل وکړه چې اورېدونکی او پوه دی او که ویې غوښتل چې تا ته فریب درکړي، خدای ستا لپاره کافي دی او هغه، هغه څوک دی چې ته یې خپلې او د مومنانو پر دوستۍ تقویه کړې.

د اوربند لپاره تر ټولو غوره دلیل او مثال له قریشو سره د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له خوا د حدیبیې د سولې تړون و چې نږدې لس کاله یې دوام وکړ، که څه هم قریشو هغه وروسته مات کړ؛ خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره له دې چې لښکر یې درلود، بیا یې هم پر خپلې ژمنې وفا وکړه او پر جنګ یې لاس پورې نه کړ.

د حدیبیې د سولې د تړون عمده مواد په لاندې ډول دي:

۱- پیغمبر به سږ کال له لارې څخه ګرځي او د حج له ادا کولو څخه به منصرف کېږي او دا عبادت په راتلونکی کال ترسره کوي. لس کاله به جګړه ودرېږي او په دې موده کې به خلک د سولې او امنیت له نعمت څخه ګټه واخلي.

۲. له قریشو څخه هر څوک چې شام یا مصر ته د خپل سفر پر مهال مدینې ته داخلېږي، ځان او مال دې یې په امان کې و ي.

۳. د مکې له اهل څخه هر څوک چې د خپل اهل (کورنۍ) له اجازې څخه پرته مسلمانېږي او له محمد سره یو ځای کېږي، مکې ته دې راولېږل شي او د محمد له پلویانو څخه چې هر څوک د هغه له دین څخه راګرځي او مکې ته راځي، هغه ته دې نه لېږل کېږي.

٤. د عربو له قبایلو څخه هر کس اجازه لري چې له دواړو لوریو سره (پیغمبر او قریش) که وغواړي، تړون وکړي.

Bawar.net



که څه هم د حديبې د سولې تړون په ښکاره د مسلمانانو په زيان و، خو راتلونکو پېښو ثابته کړه چې دا تړون د مسلمانانو او اسلام په ګټه و او پيغمبر صلى الله عليه وسلم په دې برخه کې د وحي له رڼايي څخه ګټه اخيستې وه.

دويم: دايمي او تلپاتې سوله

شونې ده چې کله هم جنګ د يوې دايمي او تلپاتې سولې له امله پای ته ورسېږي، په قرآن کريم کې له نامسلمانانو سره د دايمي او تلپاتې سولې په هکله هېڅ مانع نه شته؛ بلکې پر مسلمانانو (پر ژمنې د وفا اصل) له امله لازم دي چې ورته ژمن پاتې شي او که د دايمي او تلپاتې سولې تړون ماتوي، نو هغه خيانت او غدر ګڼل کېږي.

بايد يادونه وکړو چې پر ژمنې وفا کول او دايمي سوله منل په دې مانا نه ده چې مسلمانان د دښمن پر وړاندې له احتياط او بيدارۍ څخه کار واخلي،بلکې که معلومه شوه چې دښمن پر مسلمانانو د حملې لپاره تياری نيسي؛ نو په دې صورت کې پر مسلمانانو لازم نه دي چې تړون ته ژمن پاتې شي، دوی ته هم په کار دي چې ځانونه د هغوی يرغل او حملې ته اماده کړي.

درېيم: له جنګېدونکيو لوريو څخه د يو تسليمېدل

ځينې مهال جنګ د يو لوري پر ماتې تمامېږي، که ماته د مسلمانانو له خوا وي؛ نو بيا خو مسلمانانو ته کوم مکلفيت نه پاتې کېږي. حال دا چې اسلام خپلو سرتېرو ته اجازه نه ورکوي چې دښمن ته تسليم شي ځکه اسلام د عزت او کرامت دين دی او ذلت او خواري نه مني.

کله چې مسلمانانو د احد په غزا کې ماتې وخوړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم خپاره شوي مسلمانان سره راټول کړل او په دښمن يې يرغل وروړ، خو دښمن د دې په خاطر چې بريا يې په ماتې بدله نه شي،مکې ته ورګرځېدلو ته يې ترجيح ورکړه. که چېرې جنګ د دښمن د تسليمۍ او ماتې له امله تمام شي؛ نو په دې صورت کې اسلام خپلو پلويانو ته په ښه توګه د عدالت د تطبيق حکم کوي.

Bawar.net


پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې مکه فتحه کړه او خلک ورته تسلیم شول؛ نو اعلان یې وکړ: ((څوک چې د ابوسفیان کور ته ننوت، په امن کې دی، څوک چې مسجد الحرام ته ننوت، په امن کې دی او څوک چې خپل کور ته ننوت او دروازه یې بنده کړه په امن کې دی او چا چې له جنګ څخه لاس واخیست، په امن کې دی)).

اوکله چې یې دغه مهال خبر تر لاسه کړ چې د خالد بن ولید په مشرۍ د مسلمانانو یو ګروپ لا هم له دښمن سره په جنګ اخته دی، هغه ته یې خبر ولېږه او له جنګ څخه یې منعه کړ، ځکه مشرکان مات او تسلیم ول. اسلام د اوسنیو جنګیالیو په څېر نه وایي چې پر مغلوب دې غضب وي، بلکې وایي چې پر مغلوب دې ترحم او مهرباني وي.

کله چې مخالفین ماتېږي؛ نو اسلام به سره به په دوه حالاتو کې پاتې کېږي یا خو په د سولې د تړون له مخې د تړون د یو اړخ یا معاهدینو حکم اخلي او ځمکې به یې په خپل تصرف کې پاتې کېږي او د دارالعهد حکم به واخلي او یا هم دا چې ځمکې به یې د اسلامي دولت په قلمرو کې شاملې شي او د مسلمانانو په ګټو او زیان کې به شریک شي، مسلمانان به ورسره په ترحم، مهربانۍ او محبت برخورد وکړي. په اسلام کې د دې ټول ترحم او مهربانۍ اصلي سبب دا دی چې اسلام جنګ د خلکو پر ضد نه کوي، بلکې د ظلم، ناروا او طغیان پر ضد یې کوي، کله چې ظالم او ناروا واکمنان مات شي، نو د هغوی ظلم او ناروا هم ورسره له منځه ځي، له دې وروسته اسلام نه غواړي چې خلک ذلیل کړي، په ځانګړې توګه هغوی چې اسلام ته د تسلیمۍ غاړه ږدي، اسلام هغوی ته دا ازادي هم ورکړې ده چې که غواړي د اسلام دین دې ومني او د یو مسلمان په توګه دې په اسلامي ټولنه کې له ټولو حقوقو او امتیازاتو څخه ګټنه وکړي او که نه غواړي نو کولای شي پر خپله عقیده پاتې شي او د یو نامسلمان په توګه یې چې کوم حقوق او امتیازات دي، په اسلامي ټولنه کې دې له هغو څخه ګټنه وکړي.

Bawar.net


## شپږم جز: په اسلام کې پناه ورکوونه او جنګي اسیران

### لومړۍ فقره: په اسلام کې پناه ورکونه

لکه دمخه مو چې یاده کړه په اسلام کې جنګ د ملتونو او عوامو پر ضد نه دی؛ بلکې د حکامو او زورواکو پر ضد دی؛ نو دمخه تر دې چې جنګ د دښمن پر تسلیمۍ پای ته ورسېږي، اسلام د جنګ د خاتمې لپاره یوه بله دروازه هم پرانیستې ده او هر مسلمان ته یې دا حق ورکړی دی چې کولای شي جنګېدونکو دښمنانو ته پناه ورکړي، قرآن کریم د توبې سورت په (٦) مه شمېره ایت کې فرمایي:

وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ٱسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُۥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ٦ ).

که له مشرکانو څخه له تاسو څخه پناه واغواړي، هغه ته پناه ورکړه، د دې لپاره چې د الله خبره واوري (او په کې فکر وکړي)بیا هغه خپل د امن ځای ته ورسوه ځکه چې هغه ناپوهه ډله ده.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: مسلمانان د وینې له اړخه په خپلو کې سره برابر دي او تر ټولو کښته یې هم کولای شي د هغوی له اړخه نورو ته پناه ورکړي او هغوی د نورو په مقابل کې یو لاس دي. خو له اوسنیو شرایطو او اړتیاوو سره سم باید یادونه وکړو چې د هر کس له خوا نامسلمانانو ته پناه ورکول به د اسلامي دولت لپاره ستونزې راولاړې کړي، په همدې خاطر مناسبه دا ده چې د مسلمانانو له خوا که کوم نامسلمان ته پناه ورکول کېږي، نو بایده دي چې اسلامي امیر یا و اکمن هغه تایید کړي.

په اسلام کې هغوی، چې پناه ورکول کېږي، جنګي اسیران نه ګڼل کېږي، بلکې د ذمیانو په سترګه ورته کتل کېږي او له مسلمانانو سره په ګټه و زیان کې یو شی دی. پناه ورکونه په اشارې سره هم ترسره کېدای شي، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه فرمایي: که څوک دښمن ته ووایي چې مه وېرېږه، په حقیقت کې یې هغه ته امان ورکړی دی. یو مهال هغه واورېدل چې له

Bawar.net


مجاهدینو څخه کوم کس یو ایراني جنګیالي ته ویلي و چې (مه وېرېږه) او بیا یې هغه وژلی و، نو هغه مبارک وفرمایل: زه خبر شوم چې ستاسې ځینې چې له دښمن سره مخېږي، دا چې دښمن غره ته پناه وړه او له جنګ څخه یې لاس اخیسته، هغه ته وایي چې مه وېرېږه، خو کله چې هغه ونیسي-؛ نو وژني یې، په الله قسم هر څوک چې د دې عمل مرتکب شو، غاړه به یې پرې کړم.
همدارنګه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فرمایي: که له مسلمانانو څخه یو څوک د جنګ په حالت کې یو مشرک ته په خپله ګوته د اسمان په لور اشاره وکړي او بیا هغه ووژني؛ نو زه به یې هم ووژنم.

یوه یادونه باید وکړو چې پناه ورکوونه/پناه غوښتنه له تسلیمی سره توپیر لري، له پناه ورکونې څخه موخه دا ده چې دښمن د اسلامي دولت تر سیوري لاندې پاتې کېږي او د مسلمانانو په ګټه و زیان کې شریکېږي او ځان و مال یې په امان کې کېږي، همدارنګه د جنګي اسیرانو له جملې څخه هم نه ګڼل کېږي او نه په غلامی نیول کېدای شي.

### دویمه فقره: په اسلام کې جنګي اسیران

دا چې جنګیالي هغه مهال اسیران کېږي، کله چې د جنګ اور بل وي او غوسه او غضب خپل اوج ته رسېدلی وي، د انتقام انګېزه تر هر څه ډېره وي؛ خو د اسلام مبارک دین بیا هم په دغسې له غوسې او قهر څخه ډکو حالاتو کې خپلو پلویانو ته د جنګي اسیرانو د انساني کرامت او د هغوی د بشري حقوقو د ساتنې او ورسره د نرم او له مهرباني څخه ډک چلند سپارښتنه او تاکید کوي.
قرآن کریم هغه مومنان الله تعالی ته نږدې ګڼي چې مسکین، یتیم او بندي ته ډوډۍ ورکوي، همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: له اسیرانو سره نېک چلند وکړئ.
د قرآن کریم د احکاماتو له مخې په اسلام کې به د جنګي اسیرانو برخلیک له دوو حالاتو څخه خالي نه وي، لومړی: یا به د یو یو شمېر معلومو پیسو په مقابل کې خوشې کېږي او یا هم له بل مسلمان جنګي اسیر سره به تبادله

Bawar.net



کېږي او دویم: له کومو پیسو او یا تبادلې څخه پرته خوشې کېږي، البته دا په هغه صورت کې چې اسیر فقیر او ناداره وي او د هغه په خوشې کولو کې اسلامي مصلحت وي. له دې څخه معلومېږي چې په اسلام کې غلامي په صراحت سره شتون نه لري، یوازې له دښمن سره د ورته عمل لپاره تري کار اخیستل کېدای شي، که دښمن له مسلمانو اسیرانو څخه د غلامانو په توګه کار اخیسته، نو مسلمانان هم د دې حق لري چې د دښمن له اسیرانو څخه د غلامانو په توګه کار واخلي؛ خو که هغوی دا کار نه و کړی، نو مسلمانانو ته هم د دې اجازه نه شته؛ ځکه په دې صورت کې دوی تېریګر ګڼل کېږي او تېری په اسلام کې منعه دی.

Bawar.net



# څلورم څپرکی
# د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو ارګانونه

## لومړی مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي اړیکو د ارګانونو پېژندنه

په نړیواله ټولنه کې دولتونه په خپلو منځو کې بېلابېلې اړیکې لري او لکه څرنګه چې دولتونه حقوقي شخصیتونه دي؛ نو ناچاره دي، چې حقیقي اشخاص یې پر نوم دغه اړیکې اداره کړي. دغه حقیقي اشخاص په بین المللي ټولنه کې د دولت استازي او معرف (پر نورو پېژندونکي) ګڼل کېږي. تر ټولو لومړی او لوړپوړی کس، چې د یو دولت استازی او معرف ګڼل کېږي، د دولت رئیس یا هم د هېواد رئیس دی. او له هغه وروسته د بهرنیو چارو وزیر او یا هم بل هر وزیر چې د هېواد د اساسي قانون له مخې د بهرنیو اړیکو د اداره کولو لپاره ګومارل شوی وي.

ډیپلوماتیکي مامورین (سفیران او نور ټول ډیپلوماتیکي مامورین) د پورتنیو اشخاصو په نوم او د هغوی له لوري دنده تر سره کوي. پر همدې بنسټ د یو دولت په بهرنیو اړیکو کې دوه ډلې عملاً پر دندو بوختې وي. لومړی د دولت استازي او دویم ډیپلوماتیکي مامورین دي، د دې لپاره چې د دې لپاره چې د دولتونو خپلمنځي اړیکو، د دولتونو او سازمانونو ترمنځ اړیکو پر جوړښت، پروسېجر او رامنځته کېدا باندې ښه پوه شو، نو مناسبه ده چې هغه ارګانونه هم وپېژنو چې دغه نړیوالو اړیکې جوړوي، پرمخ یې بیایي او پالي یې، په دې

Bawar.net



څېرکي کې به پر دې هم پوه شو چې د نړیوالو اړیکو په ارګانونو کې کوم ارګان یا مقام ډېر او مهم رول لوبوي او د کوم رول مهم یا ضعیف دی.

هغه اورګانونه چې د دولتونو په استازیتوب له نورو دولتونو او سازمانونو سره اړیکې نیسي، ساتي یې او پالي یې، د دولتونو د نړیوالو اړیکو اورګانونو په نوم یادېږي. یا په بله مانا دا اورګانونه هغو بېلابېلو دولتي اورګانونو ته ویل کېږي، چې دولتونه د دوی له لارې د نورو دولتونو، نړیوالو سازمانونو او نورو نړیوالو حقوقي شخصیتونو سره اړیکې نیسي.

ټول دولتونه په خپلو منځونو کې سیاسي، اقتصادي، کولتوري، نظامي او نورې بېلابېلي اړیکې لري، چې دغه ټولې اړیکې د نړیوالو اړیکو په نوم یادېږي او ددې اړیکو ټړل، ساتل، پالل او تنظیمول د دولتونو په غاړه دي، چې دولتونه بیا د نومړو اړیکو لپاره ځانګړې اورګانونه یا هم حقیقي اشخاص لري.

د دولتونو د نړیوالو اړیکو د اورګانونو جوړښت، واکونه، دندې او... نور د هر هېواد په قوانینو کې ځانګړیشویدي او په ټولیزه توګه یې په نړیوالو حقوقو کې یادونه شوې ده. له همدې کبله هغه اورګانونه چې د دولتونو په نړیوالو اړیکو پورې اړوند وي، په ټولیز ډول پر دوو برخو وېشلای شو، چې لومړي- کورني اورګانونه او دویم- بهرني اورګانونه.

## دویم مبحث: کورني (ملي) ارګانونه

کورني اورګانونه هغه دي، چې پر کورنیو دندو سربېره د دولت د نړیوالو اړیکو د پرمختګ لپاره هم د دولت په دننه او هم له دولت څخه دباندې فعالیت کوي، لکه ولسمشر، لومړی وزیر، د بهرنیو چارو وزیراو په ځینو هېوادونو کې د سوداګرۍ وزیر هم د اساسي قانون پر بنسټ د نړیوالو اړیکو د ټړلو لپاره اړین ګڼل کېږي.

لکه مخکې چې مو وویل کورني اورګانونه پر کورنیو دندو سربېره د دولت د نړیوالو اړیکو د پرمختګ لپاره د دولت په دننه او بهر دواړو کې فعالیت کوي،

Bawar.net


خو توپیر یې له بهرونیو اورګانونو سره دا دی چې د کورنیو ارګانونو کاري مقر او ځای د متبوع دولت په داخل کې وي، چې مهم یې د دولت مشر (ولسمشر) او د بهرنیو چارو وزیر دي، چې په لاندې ډول به هر یو په بېل بېل ډول ولولو:

### لومړی جز: د دولت رئیس

د دولت رئیس او یا هم د هېواد رئیس تر ټولو لومړی او لوړپوړی شخص دی، چې په بین المللي ټولنه د نړیوالو اړیکو د جوړولو په برخه کې کې د خپل دولت تر ټولو مهم معرف (پر نورو پېژندونکی) او استازی ګڼل کېږي. دا مهمه نه ده، چې د دولت رئیس دې پاچا وي یا هم ولسمشر- او یا دې په کوم بل نوم یادېږي لکه جمهور رئیس، امپراتور، پاچا، د کنفدراسیون رئیس، ملک، شیخ، امیر او دا هم مهمه نه ده، چې مقام یې میراثي تر لاسه کړی دی او که د ټاکنو پر بنسټ. یوازې همدومره بسنه کوي، چې د خپل هېواد له اساسي قانون سره سم یا هم په عملي توګه یې د دولت د ریاست څوکۍ تر لاسه کړې وي او نورو دولتونو هم په همدې نوم پېژندلای وي، په نړیواله کچه ددوی ترمنځ کوم ځانګړی توپیر نه لیدل کېږي.

په یو شمېر دولتونو کې ولسمشر یوازې تشریفاتي بڼه لري او د نړیوالو اړیکو په صحنه کې نور مقامات لکه لومړی وزیر یا صدر اعظم رول لري، لکه د انګلستان او آلمان په دولتونو کې؛ خو په عامه توګه د دولتونو رئیسان د نړیوالو اړیکو تر ټولو مهم او لوړ رتبه ارګان او مقام دی، هغه اړیکې چې د دولتونو د رئیسانو په واسطه رامنځته کېږي یا شوي وي، هغه تر ټولو قوي او کلکې هم وي، معمولاً د دولتونو ترمنځ هغو موافقتلیکونو، تړونونو او نړیوالو کنفرانسونو او غونډو ته په ډېر ارزښت ورکول کېږي چې ګډونوال یې د دولتونو رئیسان وي. دا چې په نړیوالو اړیکو کې د دولتونو د رئیسانو واکونه او دندې څه دي، په لاندې توګه ورته اشاره کوو.

لومړی فقره: د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکو کې د دولت د رئیس دندې

Bawar.net


د نړیوالو اړیکو او ډیپلوماسۍ په برخه کې په بېلابېلو حکومتي رژیمونو کې د دولت د رئیسانو واکونه او اختیارات توپیر لري. په ټولیز ډول په دیکتاتوري رژیمونو کې د دولت د رئیس واکونه او اختیارات پراخه، نا محدود او مطلق وي، په داسې حال کې چې په ډیموکراتیکو او پارلماني رژیمونو کې د د دولت د رئیس واکونه او اختیارات د اساسي قانون پر بنسټ تعین او ټاکل سوي وي. د نړیوالو اړیکو په برخه کې زیاتره وخت د ولسمشر واکونه د جګړې د اعلان او د سولې تړون، د ډیپلوماتیکي استازیو ټاکل، د بهرنیو سیاسي استازو د باورلیکونو منل او د نړیوالو تړونونو لاسلیکول دي، چې په لاندې ډول به یې پورتنۍ دندې او واکونه په لنډ ډول ولولو:

## الف- د سولې او جګړې په برخه کې د دولت د رئیس واکونه او دندې:

د زیاترو هېوادونو په اساسي قوانینو کې د ولسمشر واکونه د جګړې او سولې په اړه ټاکل شوي وي. د جګړې مسئله چې د ولسونو په برخلیک پورې اړه لري، د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د ولسمشر له بنسټیزو دندو څخه ګڼل کېږي.

د ولسمشر ددې دندې د ارزښت په اړه دومره ویل بسنه کوي، چې د سړې جګړې پرمهال د یو ولسمشر له خوا د یوه بټن په کېکاږلو سره شونې وه، چې دربیمه نړیواله جګړه پیل شي. د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د ولسمشرانو له خوا دې دندې ته په نه پاملرنې سره، جګړې پیل شوي دي او په ملیونونو انسان یې وژلي دي. پر افغانستان د شوروي د یرغل آمر چې د شوروي د هغه مهال د دولت رئیس لاسلیک کړی و، وروسته د هغه تر ټولو لویه تېروتنه وګڼل شوه او له امله یې میلیونونو انسانانو ته مرګ ژوبله واوښته، هېوادونه وران شول او د شوروي اتحاد د له منځه تګ باعث شو، تر دې پورې چې لا هم خپل اصلي حالت ته نه دی راغلی.

پر عراق او افغانستان د امریکا د ولسمشر بوش یرغل او د جګړې پیل یوه ډېره درنه او سخته پرېکړه وه، ښایي د امریکا راتلونکي نسلونه بوش پر دې محکوم

Bawar.net



کړي چې د دومره ډېرو زیانونو، مرگ ژوبلې او بدنامۍ لپاره یې ولې گام پورته کړی. په هر حال د دولت رئیسان د خپلو اساسي قوانینو له مخې د جگړې د اعلان، د جگړې د متارکې د اعلان، نورو هېوادونو ته د سرتېرو د لېږد او یا بېرته د راغوښتنې واک و دنده لري.

د افغانستان د اساسي قانون د (٦٤) مې مادې (٤) مه فقره کېدی ولسمشر د واکونو تر سرلیک لاندې راغلي دي چې ((د ملي شورا په تایید د جگړې او متارکې اعلانول)) یانې زموږ د هېواد ولسمشر هم زموږ د اساسي قانون له مخې دا صلاحیت لري چې له کوم بهرني هېوادس ره جگړه اعلان کړي او یا هم روانه جگړه ودروي او د سولې تړون ورسره لاسلیک کړي. چې دغه د سولې اعلانول او له نورو دولتونو سره د سولې د تړونونو لاسلیکول، د جگړې د اعلان پر خلاف د ولسمشرانو له ارزښتناکو دندو څخه گڼل کېږي.

## ب- د سفیرانو او مختار وزیرانو انتصاب:

د سفیرانو او سیاسي استازو او په نړیوالو موسسو او سازمانو کې د دولت د استازیو ټاکل هم د ولسمشرانو د واکونو او اختیاراتو څخه دي. د تاریخ په اوږدو کې سیاسي استازي د پاچا یا سلطان استازي گڼل کېدل او په مستقیم ډول به یې له پاچا څخه هدایت اخیسته؛ خو نن ورځ داسې رسم موجود دی، چېسفیران او سیاسي استازي د بهرنیو چارو وزیرله خوا نومول کېږي او کله یې چې ولسمشر یا د دولت رئیس تایید کړي؛نو بیا بهرنیو دولتونو ته د خپل دولت په استازیتوب ورځي؛ خو په ځینو حالاتو کې ولسمشر- هم ځینې کسان د ډیپلوماټیکي پوستونو لپاره ټاکي. زموږ د اساسي قانون د (٦٤) مې مادې خوارلسمه فقره کې د ولسمشر د واکونو تر سرلیک لاندې راغلي دي ((په بهرنیو هېوادونو او نړیوالو موسسو کې د افغانستان د سیاسي نماینده گیو د مشرانو ټاکل)) همدارنگه په ځینو هېوادونو کې بیا پارلمان هم د ډیپلوماټیکیاستازیو په ټاکنه کې رول لري، هغوی غواړي چې د ولسمشر یا هم د بهرنیو چارو وزیر له خوا نومول شوي سیاسي استازي د هغوی د تایید رایه واخلي.

Bawar.net


**ج- د بهرنيو هېوادونو د سفيرانو او مختار وزيرانو منل:**

ولسمشر سربېره پر دې چې د بهرنيو هېوادونو لپاره سفيران او مختار وزيران انتصابوي، د بهرنيو هېوادونو سفيران او مختار وزيران هم خپل حضور ته غواړي. د افغانستان د اساسي قانون د (٦٤) مې مادې په پينځه لسمه شمېره کې د ولسمشر د واکونو تر سرليک لاندې راغلي دي: ((په افغانستان کې د بهرنيو سياسي نماينده گيو د باورليکونو منل)) ياني ولسمشر دنده لري چې د نورو دولتونو د سياسي استازيو باور ليکونه په خپل هېواد کې ومني، د باورليک د سپارلو په لومړی ليدنه کې ځانگړي تشريفات تر سره کېږي. دا اصل چې سفيران او مختار وزيران د ولسمشر پر وړاندې ماموريت لري، د ۱۹٦۱ز کال د نړيوالو اړيکو د ويانا د کنوانسيون په ۱۴ ماده کې هم په دې ډول منل شوی دی ((سفيران او مختار وزيران د ولسمشر پر وړاندې ماموريت لري)). همدارنگه سفيران او مختار وزيران هغه باورليکونه چې د استونکي دولت د ولسمشر له خوا لاسليک شوي وي، د قبلونکي دولت ولسمشر ته سپاري. د باور ليک تسليمي هم يو لړ شرايط او تشريفات لري، نوی راداخل شوی سفير يا سياسي استازی بايد په لومړي سر کې خپل ځان د قبلوونکي هېواد د بهرنيو چارو وزير ته وروپېژني او د خپل باور ليک يوه کاپي هغه ته وسپاري، له دې وروسته هغه ته د بهرنيو چارو وزارت له خوا د اصل باوريک د تسليمی د نېټې په اړه معلومات ورکول کېږي. په هماغه نېټه بيا په ځانگړيو تشريفاتو کې د قبلوونکي هېواد د رئيس له خوا قبلېږي او خپل اصل باور ليک هغه ته تسليموي.

**د- د نړيوالو تړونونو تړل او توشېح کول:**

د نړيوالو اړيکو او ډيپلوماسی په برخه کې د ولسمشر بل واک او اختيار د نړيوالو تړونونو لاسليکول او توشېح کول دي. سربېره پردې چې نړيوال تړونونه د ولسمشرانو په لاسليکولو سره ارزښت پيدا کوي، ځکه ولسمشران د خپلو خپلو دولتونو د رئيسانو په توگه د نورو دولتونو لپاره د خپل دولت لوړ

Bawar.net



پوړي استازي دي، دوی ته خپلوولسونو رایه ورکړې ده او یا هم د هغو قوانینو له مخې یې دغه څوکۍ ترلاسه کړي دي چې د ولسونو استازیو جوړ کړي دي، دوی عملاً کولای شي چې د خپل هېواد او خلکو په استازویتوب له نورو دولتونو په بېلابېلو برخو کې لکه سیاسي، نظامي، اقتصادي، سوداګرۍ، روغتیا، کولتور، علمي او ... کې د همکارۍ تړونونه لاسلیک کړي، که چېرې دغه تړونونه د دولت د رئیس په استازیتوب سفیر یا بل ډیپلوماټیکي استازي او یا هم کوم وزیر لاسلیک کړي وي؛ نو د پارلمان له تصویب وروسته یې ولسمشر- توشېح کوي.

هـ: په نړیوالو کنفرانسونو او غونډو کې ګډون او د خپل دولت په استازیتوب وینا

اوس مهال نړیوال کنفرانسونه او غونډې د پرانیستې ډیپلوماسۍ او بهرني سیاست د عملي کولو تر ټولو غوره ډګرونه دي، په ګډو ګټو پورې پر اړونده مسایلو باندې د بحث لپاره یا په سیمې پورې د ځینو اړونده موضوعاتو په اړه د ډلییز موافقت ترلاسه کولو لپاره معمول شوې ده چې د هغو دولتونو مشران، لومړي وزیران، د بهرنیو چارو وزیران، سفیران او یا هم نور استازي، چې سره ګډې ګټې لري، د کنفرانس په نوم په یوه غونډه کې سراه راټول شي.

هر نړیوال کنفرانس او غونډه یو بلوونکی او کوربه دولت لري چې ګډونوال یې واردمخه مشخص شوي اوسي، بلونکی او کوربه دولت واردمخه رابلوونکو دولتونو ته د کنفرانس ځای او نېټه اعلاموي او هغوی ته د راتلو بلنه ورکوي، په نړیواله کچه په نړیوالو اړیکو کې هغه کنفرانسونه او په کې شوې پرېکړې د ډېر ارزښت لرونکي دي چې ګډونوال یې د دولتونو رئیسان اوسي. پر پورته یادو شویو دندو سربېره د دولتونو رئیسان دا دندې او مکلفیتونه هم لري چې د خپل دولت په استازیتوب په نړیوالو کنفرانسونو او غونډو کې ګډون وکړي، هلته د خپل دولت له بهرني سیاست سره سم ویناوې وکړي او د خپل دولت او خلکو لازم استازیتوب وکړي.

Bawar.net



## دویم جز- د بهرنیو چارو وزیر

هر دولت د خپل هېواد د چارو په اداري سیستم کې یوه برخه له نورو بهرنیو دولتونو سره د خپلو بهرنیو اړیکو اداري لپاره ځانګړې کوي، که څه هم د هر دولت اداري سیستم په بشپړه توګه خپله د هماغه دولت په واک کې دی او د دې سیستم اداره په نورو دولتونو پورې هېڅ اړه نه لري، نو ځکه خو هر دولت د خپلو بهرنیو اړیکو او چارو د ادارې لپاره خپلواکي لري چې خپل هر اداري واحد د دې کار لپاره وړ ګڼي، ویې ګوماري. نړدې په ټولو هېوادونو کې دغه اداري واحد (د بهرنیو چارو وزارت) په نوم یادېږي چې د دغې ادارې د دندو مشخص کوونکی نوم دی او څوک چې د دې اداري واحد په سر کې اوسي، هغه د بهرنیو چارو وزیر یادېږي، چېد هېواد د ډیپلوماسۍ او بهرنیو چارو دستګاه اداره کوي. ځینې هېوادونو دغه اداري واحد ته نور نومونه هم ورکړي دي، لکه د لاتیني امریکا هېوادونه ورته د (بهرنیو اړیکو وزارت) وایي، همدرانګه د امریکا متحد ایالتونه ورته State Deportment وایي او د بهرنیو چارو وزیر Secretary of State په نوم یادوي. په فرانسه کې د بهرنیو چارو وزیر ته د ډیپلوماسۍ مشر- (Chief of Diplomacy) ویل کېږي. په ځینو هېوادونو کې شونې ده دوه هغه اداري واحدونه سره یو ځای شي، چې په خپلو کې سره نږدې کاري اړیکې لري، او یو کس ورته وګومارل شي، لکه د سوداګرۍ او بهرنیو چارو وزارت یا وزیر. د بهرنیو چارو وزیر چې که بل هر نوم ولري، خو د خپل دولت د رئیس پسې په نړیوالو اړیکو کې دویم مهم لوبغاړی او مقام دی، دی د خپل دولت د رئیس په نوم او د هغه له خوا په بهرنیو اړیکو کې تصمیم نیسي. د بهرنیو چارو وزیر دندې په ټولیز ډول پر دوو برخو باندې وېشل شویدي: الف- د هېواد په دننه کې دندې، ب- له هېواده په بهر پورې اړوند دندې.

Bawar.net



## لومړۍ فقره: د هېواد په دننه کې دندې

د هېواد په دننه کې د بهرنيو چارو وزير د دولت د هيئت غړی دی، چې د بهرني سياست په تنظيم او لارښوونو کې رول لري، همدارنګه د بهرنيو چارو د وزارت تشکيلات او اداره هم پر غاړه لري. سربېره پر دي په پلازمېنه کې له بهرنيو ډيپلوماټيکو استازيو سره اړيکه، په ډيپلوماټيکو مراسمو کې ګډون، په بهرنيو اړيکو او نړيوالو سازمانونو پورې اړوند د تړونونو او اسنادو لاسليکول، دده له کورنيو دندو څخه ګڼل کېږي. همدارنګه د نړيوالې اوضاع څارنه او په بهرني سياست پورې اړوندد راپور او ګزارش جوړول او هغه د دولت هيئت ته سپارل، د دولت د سياست د ملاتړو په څېنو غونډو او مرکو کې ګډون کول او په مقننه قوه کې په بهرني سياست پورې اړوند پوښتنو ته ځواب ويل، د بهرنيو چارو د وزير له عمده داخلي دندو څخه ګڼل کېږي.

## دويمه فقره: له هېواده په بهر پورې اړونده دندې

د بهرنيو چارو وزير د هېواد په داخل کې پر خپلو دندو سربېره، له هېواده بهر هم يو لړ بنسټيزې دندې لري، يانې د بهرنيو چارو وزير بايد په بهرنيو هېوادونو کې له خپلو سفارتونو او کونسلګريو سره ټينګې اړيکې ولري او د هغوی څارنه وکړي، په بهرنيو هېوادونو کې دخپلو هېوادوالو ملاتړ او د ګټو ساتنه وکړي، له خپلو سيالو وزيرانو سره د ليدنې لپاره بهر ته سفر وکړي او هم په نړيوالو کنفرانسونو او سازمانونو کې ګډون وکړي، د خپل دولت په استازيتوب تړونونه لاسليک کړي، همدارنګه د خپل دولت د بهرني سياست اجراء کول، له نورو دولتونو سره مذاکرات کول، د ليکونو تبادله، د بهرنيو چارو د وزير هغه دندې دي چې په بهر پورې اړه لري، په لنډه توګه ويلای شو چې د بهرنيو چارو وزارت په ټولو هېوادنيو مسايلو کې د دولت د ټولو بهرنيو اړيکو واسطه ګڼل کېږي او هم د بهرنيو دولتونو پر وړاندې د دولت د ټولو دستګاګانو استازی هم دی.

Bawar.net



د سفیرانو او مختار وزیرانو ټاکنه زیاتره وخت د بهرنیو چارو په وزیر پورې اړه لري چېږد دولت رئیس ته وړاندیز کوي. همدارنګه د خپل هېواد په سفارتونو کې دایمي کارکوونکي د بهرنیو چارو د وزیر استازي دي او هم دده پر وړاندې مسوولیت لري. په نورو هېوادونو کې د بهرنیو چارو وزیر خبرې او کړنې د خپل دولت په استازیتوب وي، خو که چېرې د کوم تړون تایید یا رد له ده څخه په پورته مقام یانې د دولت رئیس او پارلمان پورې اړونه وي، په هغه کې بیا د بهرنیو چارو وزیر پریکنده رول نه لري.نن ورځ د بهرنیو چارو وزیران زیات سیاسي او ډیپلوماتیکي سفرونه کوي او بېله دې چې سفیران ددوی په کارونو کې لاسوهنه وکړي، د نړیوالو اړیکو او د ډیپلوماسۍ د پرمختګ لپاره په خپلواکه توګه عمل کوي، چې ددوی دا کړنه د پخوا په نسبت د سفیرانو ارزښت را کموي.

په مجموع کې ویلای شو چې د هر دولت د بهرنیو چارو وزیر د خپل دولت د رئیس په استازیتوب د نړیوالو اړیکو په برخه کې د هماغو صلاحیتونو لرونکی دی چې د دولت رئیس یې لري، البته د جګړې او سولې له اعلام څخه پرته، یانې د بهرنیو چارو وزیر هم کولای شي چې ډیپلوماتیکي استازي د خپلو دولت د رئیس په استازیتوب استخدام کړي، د نورو دولتونو سیاسي استازي ومني، له نورو دولتونوسره د همکارۍ تړونونه لاسلیک کړي، په بین المللي غونډو او کنفرانسونو کې د خپل دولت په استازیتوب ګډون وکړي او هلته د خپل دولت بهرنۍ سیاست تعقیب کړي.

### دویم مبحث- بهرني ارګانونه

لکه مخکېمو چې وویل د دولتونو د نړیوالو اړیکو نړیوال (له هېواده بهر) اورګانونه هغه دي چې د دولت په نړیوالو اړیکو پورې اړونده چارېله متبوع دولت نه بهر پر مخ بیایي. دا اورګانونه په ټولیز ډول له دوو اړخونو په دوو ډولونو وېشلای شو: الف- د دوام له اړخه، ب- له ډیپلوماتیکي اړخه، چې په لاندې ډول به د هریو په اړه بېل بېل بحث وکړو:

Bawar.net



الف- د دوام له اړخه: د دوام له اړخه د دولتونو د نړيوالو اړيکو اورګانونه پر دوو برخو باندې وېشل شويدي، لومړی- دايمي ارګانونه او دويم- لنډمهاله (موقتي) ارګانونه:

لومړی-دايمي نړيوال اورګانونه:د دولت د نړيوالو اړيکو بهرني دايمي ارګانونه هغه دي، چېمقر يې له هېواد څخه بهر په يو بل هېواد کې موجود وي او په تلپاتې توګه د خپل دولت په استازيتوب له بل دولت يا نړيوال سازمان سره اړيکې ساتي. دايمي اورګانونه بيا هم پر دوو برخو باندې وېشل شوي دي،
الف- سياسي نمايندګۍ (سفارتخونې)
ب- ځانګړې پلاوی: چې په لاندې ډول به يې يادونه وکړو:

## لومړی جز: دايمي سياسي نمايندګۍ (سفارتخونې)

په بهرني هېواد کې د ډيپلوماټيکو مامورينو مجموعې ته ډيپلوماټيکي استازۍ (هيئت) ويل کېږي او ددې استازي د کار ځای ته سفارتخونه يا سياسي نمايندګۍ ويل کېږي. په سفارتخونه يا سياسي نمايندګۍ کې سياسي او ډيپلوماټيک استازي د خپل متبوع دولت او قبلونکي دولت ترمنځ د اړيکو پر ټينګولو باندې ګومارل شوي وي، چې ددې استازي مشر- ته سفير وايي، له سفير سره ترڅنګ يو شمېر نور ډيپلوماټيکي او سياسي غړي هم د خپل متبوع دولت او قبلونکي دولت ترمنځ د اړيکو د ټينګولو لپاره کار کوي. ددې لپاره چې د دولتونو ترمنځ د اړيکو پر ټينګولو باندې ښه پوه شو، نو د سياسي نمايندګۍ د مشر (سفير) په اړه به څه ناڅه معلومات وړاندې کړو:

سفير:

سفير هغه څوک دی، چې په بهرني هېواد کې د خپل متبوع دولت د ډيپلوماټيکي استازيو مشرتوب کوي، سفير د خپل متبوع دولت په استازيتوب له قبلونکي دولت سره د اړيکو په ټينګولو کې خپلواک عمل کولای شي او د متبوع دولت ولسمشر يا د دولت مشر ته مسووليت لري. همدارنګه د کليسايي

Bawar.net


استازیو مشر ته بیا نونس ویل کېږي، چېله سفیر سره په مساوي ډول ګڼل کېږي.

د سفیر عمده دندې په لاندې ډول دي:

(۱)- د قبلوونکي دولت پر وړاندې د استونکي دولت استازیتوب؛

(۲)- په قبلوونکي دولت کې د استونکي دولت او وګړیو د ګټو ساتنه؛

(۳) له قبلونکي دولت سره د خپل متبوع یا استوونکي دولت په استازیتوب خبرې او مذاکره کول؛

(۴) د قبلوونکي دولت د چارو او وضعیت په اړه د معلوماتو را غونډول او د راپور چمتوکول؛

(۵) د استوونکي او قبلوونکي دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو پراخوالی؛

## دویم جز: دایمي ځانګړی پلاوی

په نړیوالو سازمانونو کې د دولتونو دایمي استازي او د ځینو دولتونو لپاره د نورو دولتونو ځانګړي دایمي استازي له هېواده بهر د دولتونود نړیوالو اړیکو د همېشنیو او دایمي اورګانونو له جملې څخه ګڼل کېږي. د ملګرو ملتونو د ۱۹۷۱ز کال د مسودې د لومړۍ مادې پربنسټ په ملګرو ملتونو کې دایمي او همېشنۍ نمایندګیپه دې سازمان کې د غړیو دولتونو د تلپاتې او دایمي استازیو شتون ته ویل کېږي یا هم لکه د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړی استازی ریچرډ هولبروک یا هم د افغانستان لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیل زاد او په دې ډول د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی کای آیډي، دا ټول په دایمي ځانګړیو پلاوو کې راځي. د ملګرو ملتونو سازمان د یادې مسودې پر بنسټ ځانګړي پلاوي لاندې دندې لري:(۴۱:م۱۵۲)

(۱) په ملګرو ملتونو سازمان کې د استونکي دولت استازیتوب کول.

(۲) د استونکي دولت او ملګرو ملتونو سازمان ترمنځ د اړیکو ټینګول.

(۳) له نړیوالې ټولنې سره خبرې اترې کول.

Bawar.net


(۴) د نړيوالو سازمانونو د کړنو څارنه او استونکي دولت ته د هغو په اړه راپور ورکول.

د ځانګړې پلاوي مشر به د استونکي دولت باورپاڼه (باورليک) له ځان سره وړي او نورو نړيوالو سازمانونو ته هم د همدې پلاوي استول جواز لري. دا باورليک بايد د استونکي دولت د ولسمشر يا د بهرنيو چارو وزير له خوا لاسليک شوی وي.

## دريیم جز: لنډ مهاله نړيوال اورګانونه

د دولتونو د نړيوالو اړيکو د نړيوالو اورګانونو بل ډول لنډمهاله (موقتي) اورګانونه دي، دا ډول اورګانونه په لنډ مهاله توګه د خپل متبوع دولت د اړيکو د ټينګولو لپاره کار کوي. ددې ډول اورګانونو مهم ډولونه په دې ډول دي:

(۱) لنډمهاله ځانګړی پلاوی.

(۲) په ډيپلوماټيکي چارو کې لنډمهاله پلاوی.

(۳) په نړيوالو کنفرانسونو او کميسونونو کې ځانګړی پلاوی.

دا ډول پلاوي استول چې لنډمهاله ډيپلوماسي به يې پر مخ بيوله،له لومړۍ نړيوالې جګړې څخه وروسته رامنځته شول، دا پلاوي د ټولو هغو موضوعاتو لپاره چې خپلواک دولتونه يې په خپلو منځونوکې د ډيپلوماټيکي استازيو له لارو نه شي حل کولای، ډېر اغېزناک رول لري. لنډمهاله پلاوي د دوو نړيوالو جګړو په جريان کې د ډېر صلاحيت لرونکي ول او تر اوسه پورې دا دود پاتې دی.

د ځانګړو پلاوو حقوقي مسايل، امتيازات، خونديتوبونه او له دايمي ډيپلوماټيکي استازيو سره يې اړيکې د هغه تړون پربنسټ چې په ۱۹۶۹ کال کې د ملګرو ملتونو د پخوانۍ مسودې پربنسټ جوړ شوی دی، اداره کېږي. د همدې تړون پر بنسټ ځانګړي پلاوي هغه لنډمهاله پلاوو ته ويل کېږي، چې د يو هېواد په استازيتوب بل هېواد ته د هغه دولت په خوښه زياتره وخت د ځانګړو دندو لپاره لېږل کېږي. همدارنګه د نوموړي تړون پر بنسټ يو هېواد

Bawar.net


کولای شي، چې يو خانګړی پلاوی په يو وخت کې يوه يا زياتو دولتونو ته واستوي، همدارنګه يو يا څو دولتونه هم کولای شي، چې په يو وخت کې يو پلاوی په ګډه يو دولت ته واستوي.

ب- له ډيپلوماټيکي اړخه: له دې اړخه چې د نړيوالو اړيکو نړيوال اورګانونه يوازې سياسي او ډيپلوماټيکي اړيکې ټينګوي او که نورې اړيکې هم ټينګوي، بيا هم د دولتونو د نړيوالو اړيکو نړيوال اورګانونه پر دوو برخو باندې وېشو:

الف- ډيپلوماټيکي اورګانونه (سياسي نمايندګۍ)،

ب- ناډيپلوماټيکي اورګانونه (کونسلګرۍ)، چې په لاندې ډول به ولولو.

## څلورم جز: ډيپلوماټيکي اورګانونه (نمايندګۍ)

د ډيپلوماټيکي اړيکو د کنوانسيون د ۲مادې د دويمې برخې پر بنسټ د ډيپلوماټيکي استازيو استول او د نمايندګيو جوړول داسې پېژندلای شو ((د دولتونو ترمنځ د دايمي ډيپلوماټيکي استازيو لېږل د دولتونو په متقابل رضايت پورې اړه لري)).

په دويمې مادې کې يوه ټکي ته بايد اشاره وکړو، چې د ((ډيپلوماټيکي اړيکو رامنځته کول)) د ((دايمي ډيپلوماټيکو نمايندګيو)) له جوړولو سره توپير لري. يانې د دوو دولتونو ترمنځ د ډيپلوماټيکي اړيکو د رامنځته کولو لپاره اړينه نه ده، چې نوموړي دولتونهيو د بل په هېوادونو کې بايد ډيپلوماټيکي نمايندګۍ ولري. لکه څرنګه چې په نړۍ کې زياتره داسې دولتونه شته چې په خپلو منځونو کې ښې ډيپلوماټيکي اړيکې لري؛ خو د يو او بل په هېوادونو کې ډيپلوماټيکينمايندګۍ يا سفارتونه نه لري. نن ورځ زياتره ډيپلوماټيکي اړيکې د ملګرو ملتونو د سازمان په چاپېريال کې چې زياتره دولتونه يې غړي دي رامنځته کېږي.

Bawar.net

## لومړۍ فقره: د ډیپلوماټیکې نمایندګیو ډولونه

په بهرني دولت کې د یو دولت نمایندګي د صلاحیت او دندو له پلوه پر څو برخو باندې وېشل کېدای شي:

(۱) دایمي (مقیمه) ډیپلوماټیکي نمایندګي.

(۲) لنډمهاله یا نامقیمه ډیپلوماټیکي نمایندګي.

(۳) ګډه (مشترکه) ډیپلوماټیکي نمایندګي.

(۴) د دریېمګړي دولت د ګټو د ساتنې نمایندګي.

(۵) د نمایندګۍ پر ځای ((دفتر)).

(۱) دایمي (مقیمه) ډیپلوماټیکي نمایندګي:

دایمي ډیپلوماټیکي نمایندګۍ هغه دي، چې د دولتونو له خوا د رضایت پر بنسټ د سفارت تر عنوان لاندې جوړېږي، چې د وخت له اړخه دایمي بڼه لري. اصولاً دا ډول نمایندګۍ د قبلونکي دولت په پلازمېنه کې جوړېږي.

(۲) نامقیمه ډیپلوماټیکي نمایندګي:

شونې ده چې د استونکي دولت نمایندګي د قبلونکي دولت لپاره د اکریډیټ (Accredit) په بڼه وي. لهنامقیم ډیپلوماټیک ماموریت څخه موخه داده، چې د ډیپلوماټیک ماموریت د هر درې ګونې پوړ مشر کولای شي بېله دې چې،په قبلونکي دولت کې دایمي استونګنځی ولري خپل ماموریت اجرا کړي. یانې دا ډول ماموریت هغه وخت اجرا کېږي، کله چې د استونکي دولت نمایندګي په یوه هېواد کې وي او د هغې نمایندګۍ له لارې له بل دولت سره هم اړیکي ساتي.

(۳) ګډه (مشترکه) ډیپلوماټیکي نمایندګي:

د ډیپلوماټیکي اړیکو د کنوانسیون پر بنسټ ((څو دولتونه کولای شي، چې یو نفر د یو دولت پر وړاندې پر ماموریت باندې وګوماري، خو کله چې

Bawar.net


قبلونکی دولت له دې کار سره مخالف وي، بيا نه شي کولای)). دا ډول نمايندګي هغه وخت شونې ده، کله چې څو دولتونه د داسې استازي په ګومارلو باندې موافقه وکړي.

(۴) د درېيمګړي دولت د ګټو د ساتنې نمايندګي:

يوه ډيپلوماټيکي نمايندګي شونې ده چې سربېره پر هغو دندو چې د متبوع دولت له خوا ورسپارل شوي وي، د درېيمګړي دولت د ګټو د ساتنې لپاره هم کار وکړي. دا ډول استازيتوب هغه وخت شونی دی، کله چې د دولتونو ترمنځ ډيپلوماټيکي اړيکې نه وي ټينګې شوې او يا هم د يو مهال لپاره په تعطيل کې لوېدلې وي.

دا ډول نمايندګي لنډمهاله بڼه لري او په لنډمهاله توګه د درېيمګړي دولت ګټې ساتي.

(۵) د نمايندګۍ پر ځای ((دفتر)):

ځينې وختونه شونې ده، چې يو دولت په بل دولت کې دفتر جوړ کړي او بيله دې چې پر هغه باندې د نمايندګۍ يا سفارت نوم کېږدي. په داسې حال کې چې هغه دفتر (BUREAU) او غړي يې په سياسي او کونسلي چارو باندې بوخت وي او تر ډېره بريده له ډيپلوماټيکي امتيازاتو څخه برخمن وي.

د ډيپلوماټيکي نمايندګيو د جوړښت لپاره د رضايت اړينوالی:

د استونکي دولت له خوا د ډيپلوماټيکي نمايندګيو جوړول د منونکي دولت رضايت ته اړتيا لري او دا رضايت او خوښه بايد د استونکي دولت له خوا د ډيپلوماټيکي نمايندګيو د جوړښت ترمخه د منونکي (قبلونکي) دولت له خوا ښکاره شي. د ډيپلوماټيکي نمايندګيو جوړول او د هغو منل د هر هېواد حق ګڼل کېږي، چېله ډېر پخوا څخه هغه ته د (نمايندګۍ حق) ويل کېږي. د نمايندګۍ حق ته د لېږونکي دولت له خوا (د نمايندګۍ مثبت حق) او د منونکي دولت له خوا (د نمايندګۍ منفي حق) ويل کېږي.دا سکالو چېآيا هر

Bawar.net


دولت چېله بل دولت سره ډیپلوماتیکي اړیکې لري، دا حق لري، چې په هغه هېواد کې ډیپلوماتیکي نمایندګی جوړه کړي او یا دا چې هر دولت کولای شي، چې په خپله خاوره کې د بل دولت د ډیپلوماتیکي نمایندګی د جوړولو مانع شي.

## پنځم جز: د ډیپلوماتیکې نمایندګیو د جوړولو انګېزې

په نورو دولتونو کې د ډیپلوماتیکې نمایندګیو جوړول، لګښت او پرسونل ته اړتیا لري، چې دا د هېواد پر بودجه باندې اغیز ښیندي؛ نو له همدې کبله دولت باید د ډیپلوماتیکي نمایندګیو د جوړولو لپاره سیاسي، اقتصادي، سوداګریزي، نظامي، کلتوري او نوري انګېزې ولري.

په تیرو وختونو کې ډیپلوماتیکې نمایندګی ډیري کمې وي او ېېله څو لویودولتونو څخه په نورو دولتونو کې چا نمایندګی نه درلودې.

د ډیپلوماتیکې نمایندګیو د جوړولو بنسټیز لامل سیاسي لامل دی. د پخوا څخه بیا تر اوسه پوري لویو او کو چنیو هېوادونو د سفارتخونو څخه پر ډیپلوماتیکې، اقتصادي کلتوري او نورو برخو سربېره، په نورو هېوادونو کې د خپل نفوذ د زیاتوالي یاد جاسوسی او توطیو د جوړولو لپاره هم ګټه پورته کړیده.

### ۱. د ډیپلوماتیکې نمایندګیو د جوړولو ستونزې

د ډیپلوماتیکي نمایندګیو جوړول اصولاً او عملاً د دولتونو ترمنځ د اړیکوپه زیاتوالي، جغرافیایې لیریوالي او نژدیوالي، د ایډیالوژیکي نظر یوالې، سیاسي ګتو، سوداګریزو اړیکو، کلتوري ورته والي، د کونسلي کارونو حجم... بالاخره په مالي وضعي او علمي پرسونل پوري اړه لري.

د دریمې نړۍ یو شمېر بېوزله هېوادونه نسي- کولای، چې په بېلابېلو هېوادونو کې د سفارتونو د جوړلو او ساتني لګښت ورکړې، دبېلګې په توګه د مالدیو هېواد چي د هند په اقیانوس کې پروت دی، نسي- کولای چي په

Bawar.net


ملیونونو ډالر د خپلو سفارتونو لپاره لګښت ورکړې، نو له همدې کبله یې د نړۍ د هېوادونو سره ډیپلوماټیکې اړیکې په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د سازمان په چاپیریال کې ساتلې. همدارنګه د علمي او مسلکي پر سونل نلرل، بل هغه لامل دی، چې د نوو خپلواکو سوو دولتونو په مخکې د سد ونو په جوړولو کې خنډ ګرځي.

### د ډیپلوماټیکې نمایندګیو دندې

د (۱۹٦۱ز) کال د ډیپلوماټیکې اړیکو د کنوانسیون د دریمې مادې په لومړۍ بند کې د ډیپلوماټیکې نمایندګۍ دندې په دې ډول په ګوته سویدې:

(۱)- د استونکي دولت ((استازیتوب)):

دایمي ډیپلوماټیکې نمایندګۍ د بل دولت پر وړاندې تلپاتې او همیشنۍ اورګان دی. د ډیپلوماټیکې نمایندګیو مشران لکه سفیران او مختار وزیران د قبلونکي دولت پر وړاندې د استونکي دولت استازې ګڼل کیږي.

ډیپلوماټیکې نمایندګۍ د دوو دولتونو ترمنځ د رسمي اړیکو وسیله ده. ددې ماموریت د مشر خبرې او لیکنې که د رسمي لارو څخه خپرې سي، د خپل دولت د ځرګندونو په مانا ګڼل کیږي. اصولاً د ډیپلوماټیکې نمایندګۍ رئېس د هغه واک او صلاحیت پر بنسټ چې دی یې لري، کولای سي، چې د قبلونکي دولت سره داسې تړونونه وکړې، چې د استونکي دولت لپاره الزامي بڼه ولري. خو که چیرې د ډیپلوماټیکې نمایندګۍ رئېس د خپل صلاحیت او حدود څخه تیرۍ وکړ، بیا نو د استونکي دولت دنده ده، چې دده ژمنې او تړونونه درواغ وګڼې او رد یې کړي او وروسته پدې اړه نور ګامونه پورته کړې.

په تیرو وختونو کې سفیران د استونکي دولت د پاچا استازې ګڼل کیده، خو نن ورځ سفیران او مختار وزیران دواړه د خپل دولت استازي ګڼل کیږي او عملاً ددوی دواړو په منځ کې کوم ځانګړی توپیر نسته. د ډیپلوماټیکې نمایندګۍ د دریم پوړ (دایمي کارکونکو) مشران یوازي د خپل متبوع دولت د

Bawar.net



بهرنیو چارو وزیرانو استازي ګڼل کیږي. خو د دوی د صلاحیت او اختیاراتو حدود له ډیپلوماټیکي اړخه د سفیرانو او مختار وزیرانو سره یو شان دی.

هغه باور لیک یا پېژندپاڼه، چې د ډیپلوماټیکي نمایندګیو د رئیسانو لخوا د خپل ماموریت په پیل کې د قبلونکي دولت اړوند مقام ته سپارل کیږي، ددې ښکارندوی دی، چې نوموړی د خپل دولت په استازیتوب قبلونکې دولت ته ننوځي.

(۲)- د استونکي دولت او وګړو د ګټو ساتنه:

د استونکي دولت د ګټو ساتنه پراخه مانا لري او په بېلابېلو سیاسي، اقتصادي، کلتوري او نظامي قلمرونو پوري اړوند کیږي، خو په هر حالت کې ((د دولت د ګټو ساتنه)) روښانه او دقیق مفهوم نلري او تفسیر اوسپړنې ته اړتیا لري.

په قبلونکي دولت کې د استونکي دولت د ګټو پېژندنه د ډیپلوماټیکي نمایندګۍ پر غاړه دي، چې په نوموړې سیمي کې د چارو پرمخ بېول په غاړه لري. همدارنګه د وګړو د ګټو ساتنه هم عمومي اړخ لري، دبېلګې په توګه سیاسي استازي باید په قبلونکي دولت کې د هغه دولت ټول هغه اقدمات او قوانین وڅارې کوم، چې د متبوع دولت د وګړو د ګټو په خلاف وي او یا ددوی په زیان وي، همدارنګه دا استازي باید خپل متبوع دولت ته د هغه په اړه بشپړ راپور ورکړي.

د متبوع دولت د وګړو د خصوصي ګټو ساتنه زیاتره وخت په کونسلي ادارو پوري اړه لري. خو د کونسلي او ډیپلوماټیکې ادارو ترمنځ د خپلو وګړو د ګټو په ساتنه کې توپیر پدي کې دی، چې په ډیپلوماټیکې ساتنه کې د دولتونو او یا د هغوی د لوړو مقاماتو ترمنځ خبري کیږي، خو په کونسلي ساتنه کې بیا د کښتو مقاماتو یا سیمه ییزو مقاماتو ترمنځ خبري کیږي.

د ډیپلوماټیکې لارو څخه د خپلو وګړو د ګټو ساتنه څلور عامله لري:

Bawar.net



۱- نوموړي اشخاص باید د خپل متبوع دولت تابعیت ولري، خو پدي حالت کې بیا یوه استثناه سته،هغه دا چي که چیري داسي اشخاص وي، چي هم د خپل متبوع دولت تابعیت لري او هم د قبلونکي دولت تابعیت ولري، نو پدي حالت کې بیا متبوع دولت نسي کولای چي په قبلونکي دولت کې د نوموړي شخص د ګټو ساتنه وکړي.

۲- د مخه تر دي چي د خپل متبوع دولت دوګړو د ګټو د ساتنې لپاره ډیپلوماټیکې لاره په کار واچول سي، لومړی باید نوموړو اشخاصو د قبلونکي دولت د سیمه ییزو مقاماتو سره د خپلو حقوقو او ګټو د ساتني په اړه خبرې کړي وي.

۳- او د متبوع دولت د وګړو غوښتنه باید د امکان تر بریده مشروع او قانوني وي.

(۳) د قبلونکې دولت سره خبري او مذاکره کول:

له تاریخي اړخه خبري او مذاکره د ښو اړیکو، سولي او یا د جګړې د اعلان په اړه د سفیرانو دنده ده. هغه ډیپلوماټیکي استازی چي د استونکي دولت لخوا قبلونکي دولت ته لیږل کیږي، په ځانګړې توګه سفیر چي ددي استازي مشري په غاړه لري، کولای سي، چي د قبلونکي دولت سره د خپل دولت په استازیتوب هر ډول خبري او مذاکره وکړي.

مذاکره او خبري کول د سفارت د پراخو سیاسي دندو څخه ګڼل کیږي، د مذاکراتو قلمرو محدود ندی اوکولای سي، چي په ټولو ډیپلوماټیکو دندو پوري اړوند وي. سیاسي مذاکري د دوو دولتونو ترمنځ په بېلابېلو موضوعاتو پوري اړوند ګڼل کیږي. همدارنګه سیاسي استازی باید د استونکي دولت د غوښتنو مطابق عمل وکړې او خپلي شخصي غوښتني او دریځونه پکښي مطرح نکړي.

Bawar.net


(۴)د معلوماتو راغونډول او راپور ورکول:

د قبلونکي دولت د حالاتو په اړه د معلوماتو راغونډول او د هغه په اړه استونکې دولت ته راپور ورکول، د هري سیاسي نمایندګۍ د دندو څخه ګڼل کیږي.

یوه ټکې ته باید پاملرنه وکړو، چې د همدي کنوانسیون د دریمې مادي پربنسټ د معلوماتو راغونډول باید د مشروع او قانوني وسایلو په مرسته تر سره سي، دا اصل ددي ښکارندوی دی، چې ډیپلوماسي او جاسوسي سره بېل دي. په پخوا وختونو کې جاسوسي د ډیپلوماټانو د ډیرو اړینو دندو څخه ګڼل کیده.

خو په همدي ماده کې یوه خبره ګونګه پاته سویده، هغه داچې د مشروع او نامشروع وسایلو ترمنځ پوله نده ټاکل سوي. خو د مشروع وسایلو په اړه د معلوماتو راغونډول هغه معلوماتو ته ویل کیږي، چې د خصوصي او رسمي لیدنو، ټولیزو رسنیو او نورو قانوني لارو څخه په لاس راوړل سي او غیري مشروع معلومات بیا هغو معلوماتو ته ویل کیږي، چې د غیري قانوني لارو لکه د رشوت، د خلکو د وجدان رانیول او یا هم هغوی ته تهدید او اخطار ورکولو له لاري لاسته راوړل سي.

د دا ډول معلوماتو قلمرو پراخه دی او ټول سیاسي، اقتصادي، فني، علمي، ټکنولوژیکي، نظامي او نور پکښې شاملیږي.

د ډیپلوماټیکي او سیاسي نمایندګیو د لارې د معلوماتو راغونډول یوازي په قبلونکي دولت کي د بدلونونو او تغیراتو څخه ځان خبرول ندي، بلکي د همدي معلوماتو په رڼا کې استونکی دولت دخپل بهرني سیاست لپاره تګلاره جوړوي. نو له همدي کبله د بهرنیو هېوادونو په اړه غوره او بشپړ معلومات او تحلیلونه د یوه دولت د بهرني سیاست پر تګلارې باندي اغیز ښیندي او بهرني سیاست د لوبغاړو په پریکړو کې اغیزمن تمامیږي.

په تیرو وختونو کې دا ډول معلوماتو یوازي سیاسي بڼه درلوده، خولکه څرنګه چي اوس د دولتونو ترمنځ د اړیکو ساحه پراخه سویده، نو څکه پدي

Bawar.net


یېزو مقاماتو سره وګوري او د اړتیا پرمهال د مرکزي دولت د مقاماتو سره هم کتلای سي.

خو یوي خبري ته باید پام وکړو، چي هغه ډیپلوماټیک مامورین چي کونسلي دندي ترسره کوي هغه د ډیپلوماټیکو امتیازاتو او خوندیتوبونو څخه برخمن دي. خو کله چي کونسلي چاري تر سره کوي هغه بیا د ۱۹٦۳ کال د کنوانسیون پر بنسټ تر سره کوي.

**پینځم جز: د کونسلي پوسټ لخوا د ډیپلوماټیکي دندو تر سره کول:**

که څه هم د کونسلي پوسټ لخوا د ډیپلوماټیکي دندو تر سره کول، زیات رواج نلري، خو بیا هم ددي دواړو نمایندګیو ترمنځ د ګډو همکاریو پربنسټ کله ناکله رامنځته کیږي. لکه مخکې چي وویل سول، چي نن ورځ د سیاسي مسایلو ورته والی د اقتصادي او سوداګریزو مسایلو سره ددي لامل ګرځي چي کونسلي پوسټ هم باید ډیپلوماټیکي دندي ترسره کړي.

پدي برخه کې د کونسلي مامورینو دندي پر دوو برخو باندي ویشل شوې دي:

الف- په قبلونکې دولت کې د سیاسي چارو تر سره کول؛

ب- په نړیواله ټولنه او نړیوالو سازمانونو کې د خپلو متبوع دولت استازیتوب کول؛

په عادي حالت کې پورته دواړې دندي په ډیپلوماټانو پوري اړه لري. د کونسلي اړیکو په اړه د ۱۹٦۳ز کال کنوانسیون ۱۷ ماده همدیته ځانګړې سویده. دا ماده چي د ((کونسلي مامورینو په واسطه د ډیپلوماټیکې کړنو تر سره کولو)) په نامه نومول سویده داسي وضاحت لري ((د هغه دولت په قلمرو کې چي استونکی دولت پکښې ډیپلوماټیکې ماموریت نلري او د دریم دولت ډیپلوماټیکې ماموریت یې هم استازیتوب پر غاړه نلري، کونسلي مامور کولای سي، چي د قبلونکي دولت په رضایت سره او بېله دي چي په کونسلي وضعه کې یې څه بدلون راسي، ډیپلوماټیکي چارې هم تر سره کولای سي)).

Bawar.net


په نوموړې ماده کې پر دوو ټکو باندې ټینګار سوی دی، لومړی دا چې باید ددې ډول کړنې لپاره د قبلونکي دولت رضایت تر لاسه کړل سي، دوهم دا چې هغه کونسلي مامورین، چې دا ډول دندې په غاړه لري د هغو په امتیازاتو او خوندیتوبونو کې کوم بدلون نه راځي او هغوی د ډیپلوماټیکې امتیازاتو څخه نسي برخمن کیدای. همدا ۱۷ ماده زیاتې ګټې لري او ځینو نورو مسایلو ته هم اشاره کوي، چې په لاندې ډول به یې یادونه وکړو:

لومړی ټکی: لکه څرنګه چې پوهیږو ډیپلوماټیکې اړیکې د دوو دولتونو د رسمیت پېژندنې څخه وروسته رامنځته کیږي. خو کونسلي اړیکې د دولتونو په حقوقي یا عملي رسمیت پېژندنې پوري اړه نلري. پر همدې بنسټ دوه دولتونه هغه مهال چې یو او بل یې په رسمیت نه وي پېژندلی هم کولای سي، چې کونسلي اړیکې ټینګې کړي. یانې بېله دې چې ډیپلوماټیکې اړیکې د دولتونو ترمنځ شتون ولري، کونسلي اړیکې ټینګیدای سي. نو له همدې کبله کله چې یو دولت د بل دولت په رسمیت پېژندنې ته تیار نه وي، کولای سي، چې د کونسلي نمایندګیو د لارې یو شمیر ډیپلوماټیکې دندې تر سره کړې او د نوموړي دولت سره ډیپلوماټیکې اړیکې ونیسي-، نو پدې وخت کې د کونسلي پوسټونو د لارې د ډیپلوماټیکې دندو د تر سره کولو اړتیا لیدل کیږي.

دوهم ټکی : زیاتره وخت د کونسلي مامورینو لخوا د ډیپلوماټیکې دندو ترسره کولو ته هغه وخت اړتیا پیدا کیږي، کله چې د دولتونو ترمنځ ډیپلوماټیکې اړیکې پرې سي او اړوند سفارتونه وتړل سي. پدې وخت کې که چیري پدې دولتونو کې کونسلي پوسټونه شتون ولري، خپلو کونسلي دندو ته دوام ورکولای سي او د اړتیا پر مهال ډیپلوماټیکې دندې هم اجرا کولای سي.

دا خبره د کونسلي اړیکو د کنوانسیون د دوهمې مادې په دوهم بند کې داسې منل سویده ((د ډیپلوماټیکې اړیکو غوڅیدل د کونسلي اړیکو د غوڅیدو لامل نه ګرځي)).

دریم ټکی: لکه څرنګه چې په نړیواله کچه دا ښودل سوي ده، چې په عمل کې کله چې د دولتونو ترمنځ ډیپلوماټیکې اړیکې غوڅې سي نو همدا دولتونه

Bawar.net



بيا کونسلي اړيکو ته هم زړه نه ښه کوي. نو هغه بل حالت چې کونسلي مامور کولای سي، چي ډيپلوماټيکې چارې تر سره کړي د ۱۷ مادي په دوهم بند کې يې وړاندوينه سويده (( کونسلي مامور کولای سي، چي قبلونکې دولت ته تر اعلام وروسته د استونکي دولت استازيتوب په هر نړيوال سازمان کې وکړي)).
لکه څرنګه چي په نړيوالو سازمانونو کې استازي ډيپلوماټيکې ځانګړتياوي لري نو له همدي کبله پدي برخه کې کونسلي اعمال په ډيپلوماټيکې اعمالو باندي بدليږي.

Bawar.net


# پنځم څپرکی
# د دولتونو ترمنځ په خپلمنځي اړیکو کې
# د رامنځته کېدونکو شخړو حل

## لومړی مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي شخړو د حل حقوقي لارې

د (نړیوالې شخړې یا شخړو) اصطلاح د دوو یا زیاتو ملتونو ترمنځ د لویو اختلافاتو او ټکرونو لپاره کارېږي. نړیوال شخړې ګڼ لاملونه یا سرچینې لري، لکه د قلمرو پر سر راپورته شوې شخړې، له بحري حقوقو څخه راپورته شوې شخړې، د بشري حقوقو پر سر راپیدا شوې شخړې او د ځینو پخوانیو نارضایتونو له امله راپورته شوې شخړې چې تر اوسه نه وي حل شوي، ایډیالوژیک اختلافات، د انرژۍ د منابعو پر سر راپورته شوې شخړې او ګڼ شمېر نورې، که یوه نړیواله شخړه له دې هرې سرچینې څخه راپورته شوي اوسي، نو د بېلابېلو ملتونو ترمنځ د نظامي ټکر، د ملکیانو د وژل کېدو او د اوږدمهالې دښمنۍ سبب کېږي.

بشري تاریخ ته په لیدو سره دا جوتېږي، چې د بېلابېلو قومونو ترمنځ اړیکې ډېر خلې له جنګ و اختلافاتو سره یو ځای وې او ډېر کم ملتونه او قومونه به د تاریخ پر پاڼه داسې ومومو چې د جنګ له مصیبتونو څخه په امان پاتې شوي وي. متأسفانه په پخوا زمانو کې داسې قواعد او مقررات هم نه ول چې په پلي کېدو سره یې دغه اختلافات له منځه لاړ شي او یا کم ترکمه د جنګ هغه بد اثرات او پاتې شوني د ژوندانه له ډګر څخه راکم کړي.

Bawar.net


په پخوا وختونو کې به د دولتونو ترمنځ شخړې او نړيوالې مناقشې د جګړې له لارې حل کېدې، دواړه لوري به سره جګړې ته وتل او هر لوري به چې جګړه ګټله او مقابل لورى به يې ماتوه؛ نو حق به يې هم ترلاسه کاوه يانې د خپلمنځي شخړو او دعواوو د حل لپاره داسې منل شوي نورمونه او اصول نه ول موجود او نه هم داسې کوم ارګان موجود و، چې د شخړو او دعواوو پر سر د جګړې مخنيوى وکړي او دولتونه دې ورته ژمن اوسي. نن ورځ ((د نړيوالو شخړو سوله ييز حل)) د نړيوالو حقوقو له اووګونو اصولو څخه يو اصل دى چې د ټولو دولتونو له لوري منل شوى دى. دا اصل دولتونه دې ته اړباسي چې د خپلمنځي دعواوو او شخړو پر مهال له سوله ييزو لاره څخه ګټنه وکړي،نه دا چې ځواک استعمال کړي او يو د بل د محوه کولو لپاره راپورته شي. د معاصرو نړيوالو عمومي حقوقو له مخې دولتونه د خپلمنځي شخړو د حللارو په ټاکنه کې له بشپړې خپلواکۍ څخه نه دي برخمن، بلکې د شخړو د حل لپاره پرې د سوله ييزو حللارو ټاکنه اجباري او حتمي ده.

پوهانو او فيلسوفانو د جنګ او دهغې د وجودي فلسفې په هکله مختلف نظريات وړاندې کړي دي چې متأسفانه ځينو يې جنګ داسې يوه پديده ګڼلې چې اجتناب ترې نشي کېداى او ځينو خو يې جنګ د انسان يو طبيعي حق ګڼلى دى. د مثال په ډول مشهور لرغونى يوناني فيلسوف ارستو وايي چې انسانان په دوه کټګوريو په طبيعي ډول خلق شويدي چې يوه ډله يې حاکمه طبقه او بله يې په چوپړ کې وي، نو کله چې خدمتګاران د حاکمې طبقې له اطاعت څخه سرغړونه وکړي نو په مقابل کې يې جګړه يو مشروع او قانوني حق دى. د يادونې وړده چې زموږ موخه له پورته نظرياتو راوړلو څخه د هغوى د صحت او بطلان ثابتول نه دي، بلکې موخه مو په دې خبرې پوهبدل دي چې د جګړې پديده او د بشري پرګنو ترمنځ د اختلافاتو رامنځته کېدل يو طبيعي امر دى چې د تاريخ په اوږدو کې ورسره بشر مخامخ شويدي، چې خوشبختانه په مقابل کې د سولې حرکتونو هم وخت په وخت خپل شتون ثابت کړى دى او په دې لاره کې يې هلې ځلې کړې دي تر څو نړيوال په سوله او ارامۍ کې

Bawar.net


ژوند وکړي او همدې موخې ته د رسېدو لپاره يې اصول او قواعد وضع کړيدي، نړيوال سازمانونه يې جوړ کړيدي، نړيوال محاکم يې رامنځته کړيدي، د بې وسلې کولو او په نړيواله سطحه يې د مشروع دفاع حق تثبيت کړيدی او نورې داسې هلې ځلې يې کړېدي چې شخړې حل او د هغې بد اثرات چې پر نړيوالو پرېوتي دي له منځه يوسي او يا لږ تر لږه هغه اثرات راکم شي.

د يادونې وړده چې اسماني اديان او په سر کې يې د اسلام مبارک دين په دې اړه له ټولو څخه مخکښ او مکمل تعليمات لري چې يوه وړه نمونه يې پر ژمنو وفا کول دي چې د همدغه نړيوال او تلپاتې اصل له برکته د نړۍ خلک د نړيوالو اړيکو له هر اړخيزو ګټو څخه مستفيد دي او همدا اصل دی چې د جګړې د ختمولو او د اختلافاتو د حل په لاره کې بشريت ورڅخه کار اخلي، تړونونه کوي او بيا دغه تړونونو ته د احترام لامله نړيوالو ته سوله په ارمغان کې راوړي چې يو يې هم د ملګرو ملتونو سازمان دی.(۴۲:م۴۵۰)

د ملګرو ملتونو سازمان د منشور شپږم څپرکی د نړيوالو شخړو سوله ييز حل ته ځانګړی شوی دی، چې د نړيوالو شخړو د سوله ييز حل اهميت او ارزښت ترې په ښه توګه جوتېدای شي. په حقيقت کې د دولتونو ترمنځ د شخړو سوله ييز حل د نړيوالې سولې د تامين او ټينګښت ضمانت له ځانه سره لري. پر عکس د ځواک استعمالول، په ځانګړې توګه د دولتونو ترمنځ د موجوده اختلاف د حل لپاره له وسلو نه کار اخيستل، نړيواله سوله او ټيکاو له خطر او ګواښ سره مخ کوي او اړونده ټولنې د انسانانو د نورمال ژوند له دوام او لازمو هر اړخيزو پرمختګونو څخه مخنيوی کوي.

د ملګرو ملتونو سازمان منشور په ۳۳مه ماده راغلي دي: ((د دوو ا ختلافي اړخونو د اختلاف دوام چې په کې نړيواله سوله او ټيکاو په احتمالي توګه له ګواښ سره مخ کېږي، نو بايد مخکې له مخکې د خبرو اترو، غور، منځګړيتوب، پخلاينې، حاکميت او قضايي رسيده ګۍ له لارې يې حل ولټول شي. يا دې هم د دغو شخړو د حل په موخه سيمه ييزو باصلاحيته ادارو او

Bawar.net


ترتیباتو ته مراجعه وکړي او یادې هم په خپله خوښه نورې سوله ییزې حللارې وټاکي.

د امنیت شورا چې کله اړینه وګڼي، له اختلافي اړخونو څخه غوښتنه کولای شي چې خپل اختلافات دغه ډول په سوله ییزه توګه حل کړي.

د دغه سازمان د منشور په څلور دېرشمه ماده کې د نړیوالې سولې او امنیت ساتلو په موخه د امنیت شورا واک و صلاحیت داسې درج شوی دی: ((امنیت شورا به د هرې هغې شخړې یا وضعیت په اړه تحقیق کوي، چې د نړیوالو ټکرونه لامل کېږي او یا هم یوه شخړه راپورته کوي، په هغه صورت کې چې مشخصه کړي، چې د دې شخړې یا وضعیت دوام نړیوالې سولې او امنیت ته خطر پېښوي))

د همدې منشور د پینځه دېرشمې مادې له مخې د ملګرو ملتونو ټول غړي کولای شي چې د خپل اړوندو اختلافاتو حل ته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پام راواړوي، پینځه دېرشمه ماده په دې ډول ده: ((۱. د ملګرو ملتونو هر غړی (دولت) په څلور دېرشمه ماده کې یاده شوې د هرې شخړې یا مسئلې ته د امنیت شورا یا هم د عمومي اسامبلې پام راړولای شي.

۲. هغه هېوادونه چې د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري، د هغه اختلاف په اړه چې دغه هېواد یې یو اړخ دی، کولای شي د عمومي اسامبلې پاملرنه ورته جلب کړي؛ خو د ا ختلاف د سوله ییز حل لپاره چې په دغه منشور کې کومه لاره یاده شوې ده، هغه باید مخکې له مخکې پر ځان ومني.

۳. د عمومي اسامبلې هغه اقدامات چې د دې مادې پر اساس ورته د عمومي اسامبلې پاملرنه اړول کېږي، د هغو مقرراتو تابع دي چې په یوولسمه او دولسمه ماده کې یاد شوي دي)).

باید یاده کړو چې عمومي اسامبله د سازمان د منشور د یوولسمې مادې د لومړي بند پر اساس کولای شي چې د سولې او نړیوال امنیت د ساتلو لپاره د بې وسلې کولو او د وسلو د تنظم حاکم اصول پلي کړي او کولای شي چې په دغه شان خایونو کې غړیو دولتونو، امنیت شورا یا دواړو لوریو ته توصیه

Bawar.net


وکړي. عمومي اسامبله کولای شي د نړیوالې سولې او امنیت د ساتلو په موخه هغه مسایل چې د امنیت شورا یا د ملګرو ملتونو هر یو غړي هېواد په واسطه یا د پینځه دېرشمې مادې له دویم بند سره سم د هغه هېواد په واسطه چې د ملګرو ملتونو غړیتوب ونه لري، او هغه ته راجع شویوي، تر بحث لاندې و نیسي او د دولسمې مادې له مجوز پرته د دغه شان مسایلو په اړه باید اړونددده هېوادونه یا د امنیت شورا یا دواړو ښکېلو لوریو ته په دې اړه توصیې وکړي.

عمومي اسامبله کولای شي هغه حالت او اوضاع ته چې ښایي نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ رامنځته کړي، د امنیت شورا پاملرنه ورجلب کړي. د منشور دولسمه ماده د عمومي مجمع د واکونو او دندو په اړه په ځانګړې توګه نړیوالو اختلافاتو ته د رسیده ګۍ په اړه په دوو بندونو کې په لاندې ډول ده:

((۱. هغه مهال چې د امنیت شورا یو داسې اختلاف یا وضعې ته د رسیده ګۍ په حالت کې وي، چې دغه منشور ورته حواله کړی وي، عمومي اسامبله نه شي کولای د هغه اختلاف یا وضعیت په اړه ورته کومه توصیه وکړي، مګر په هغه صورت کې چې د امنیت شورا ترې غوښتنه وکړي.(۴۳:م۵۰۳)

۲. سرمنشي، د امنیت شورا په همغږۍ، په خپلو دوره یي غونډو کې، چې د نړیوالې سولې او امنیت ساتنې په موخه د امنیت شورا له لوري جوړېږي، عمومي اسامبله خبروي او دغه شان له فاصلې پرته به په دغه شان مسایلو کې د شورا له رسیده ګۍ وروسته دغه مراتب عمومي اسامبلې او که هغه د غونډې په حالت کې نه وه، غړیو ته یې په اړه اطلاع ورکوي)).

شپږ دېرشمه ماده د امنیت شورا د لاندینیو فقرو په پلي کېدو مکلفه بولي:

۱. یو اختلاف یا وضعیت چې په هره مرحله کې وي، لکه په ۳۳مه ماده کې هم چې یادونه شوې ده، د امنیت شورا کولای شي مناسب طرزالعملونه او د له منځه وړلو لارې ورته توصیه کړي.

۲. امنیت شورا ته لازمه ده چې هغه سوله ییز طرزالعملونه چې دواړو ښکېلو هېوادونو د خپلو شخړو د حل لپاره منلي وي، په نظر کې ونیسي.

Bawar.net


۳. د امنیت شورا باید په هغو توصیو کې، چې د دې مادې پر بنسټ یې کوي، په پام کې ونیسي چې د عمومي اصل په توګه حقوقي شخړې د عدالت د نړیوالې محکمې له مقرراتو سره سم، د عدالت نړیوالې محکمې ته راجع کېږي)).

اووه دیرشمه ماده دواړو ښکېلو لوریو او امنیتشورا ته لاندیني مکلفیتونه ور په غاړه کوي:

۱-.د هغه اختلاف دواړه لوري، چې په دري دېرشمه ماده کې ورته اشاره وشوه، کله چې د هغې مادې په مندرجه وسایلو سره خپل اختلاف او شخړه حل نه شي کړای، د امنیت شورا ته دې یې راجع کړي.

۲. کله چې د امنیت شورا په دې وپوهېږي چې د یوې شخړې دوام نړیواله سوله او امنیت له ګواښ سره مخ کوي، باید تصمیم ونیسي او له شپږ دېرشمې مادې سره سم عمل وکړي یا نورې مناسبې حللارې ورته توصیه کړي)).

په اته دېرشمه ماده کې د امنیت شورا ته نور واکونه هم درج شوي دي، په دې ډول: ((د امنیت شورا په هغه وخت کې چې د شخړې ټول اړخونه وغواړي، کولای شي د شخړې د سوله ییز حل په موخه د شخړې ښکېلو هېوادونو ته توصیې وکړي، پرته له دې چې د ۳۳مې او ۳۷مې مادې تجویزونو ته کومه صدمه ورسوي.

معمولاً د دولتونو ترمنځ شخړې په دوو کټګوریو وېشل کېدای شي، لومړی یې سیاسي شخړې دي او دویمه کټګوری یې د یو حق په اړه د دوو یا څو دولتونو ترمنځ اختلاف یا شخړه ده چې لومړۍ کټګورۍ شخړې له سیاسي یا ډیپلوماتیکي حللارو څخه په ګټنه حل کېږي چې عبارت دي له نېغ په نېغه ډیپلوماتیکي خبرې اترې، د درېیمګړیو هېوادونو نېکې هڅې،منځګړیتوب، د سولې او څېړنې د کمیسیون له لارې د شخړې حل او پای ته رسول.

دویمه کټګورۍ شخړې له قضایي حللارو څخه په ګټنې حل کېږي، چې قضایي حللارې عبارت دي له نړیوال حکمیت او د عدالت نړیوالې محکمې ته

Bawar.net


د حقوقي شخړې سپارل، چې په لاندې ډول د دوارو کتګوریو شخړو دوه حلالارې په ترتیب سره لولو:

## لومړی مبحث: د نړیوالو شخړو قضایي سوله ییزې حللارې

د نړیوالو شخړو لپاره په قضایي سوله ییزو حللارو کې تر ډېره د دولتونو ترمنځ پر حقوقي اختلافاتو فوکس کېږي. قضایي حللارې د هغو بې پرې ارګانونو په واسطه تعقیبېږي او عملي کېږي چې د اړونده شخړو د حل صلاحیت ورته د ښکېلو اړخونو د توافق پر بنسټ ورکړل شوی وي. د عدالت د نړیوالې محکمې د منشور د شپږدېرشمې مادې دویم پراګراف د حقوقي اختلافاتو لړلیک وړاندې کړی دی چې دولتونه کولای شي په لاندې برخو کې خپلې شخړې او اختلافات د عدالت نړیوالې محکمې ته د قضایي حل لپاره وړاندې کړي:

- د نړیوالو تړونونو د تفسیر له امله راپورته شوي اختلافات،
- د نړیوالو ژمنو د ماتولو له امله راپورته شوي اختلافات،
- د نړیوالو حقوقو د مقرراتو د ماتولو له امله راپورته شوي اختلافات،
- د نړیوالې وجیبې د ماتولو له امله له واردو شویو خساراتو نه راپورته شوي اختلافات.

معمولاً د نړیوالو حقوقي شخړو لپاره قضایي حللارې په لاندې دوه ډولونو وېشل شوي دي:

### الف: د نړیوال حکمیت له لارې د شخړو حل

د نړیوال حاکمیت له لارې د نړیوالو شخړو سوله ییز حل د لومړي ځل لپاره د ۱۸۹۹ز کال د لاهې په کنفرانس کې ګډونوالو د نړیوال حکمیت د محکمې د تاسیس طرحه جوړه کړه او په ۱۹۰۷ز کال د اکتوبر پر اتلسمه نېټه دا بیا تر تجدید النظر لاندې ونیول شوه او ٤١ غړیو په استازیتوب دغه محکمه له ۱۳٦ غړیو څخه جوړه شوه. په ۱۹۰۷ز کال کې د لاهې تړون په ۳۷مه ماده کې

Bawar.net


د هغو موافقتلیکونو پر اساس چې په راتلونکي کې بنایي د دوی ترمنځ منعقد شي، خپل اختلاف نورو محکمو ته راجع کړي)).

۹۶مې مادې د هغو مراجعو په اړه معلومات رااخیستي دي چې پر دولتونو سربېره د محکمې له پرېکړو او فعالیتونو څخه استفاده کولای شي: ((۱- عمومي اسامبله یا امنیت شورا کولای شي د هرې حقوقي مسئلې په اړه د عدالت د نړیوالې محکمې سلاوې او مشورې وغواړي.

٤. اختصاصي موسسات او د ملګرو ملتونو نور هغه ارګانونه، چې عمومي اسامبله هر وخت کولای شي هغوی ته صلاحیتونه ورکړي، هم کولای شي د هغو پوښتنو په اړه، چې د هغوی په کاري ساحه کې راپیدا کېږي، له محکمې څخه د هغې مشورتي نظریات واخلي.

د محکمې قضایي پلاوی له پینځه لسو خپلواکو حقوقپوهانو او قاضیانو څخه تشکیل شوی دی، چې دا کسان باید ورته تابیعت ونه لري او دا کسان به په خپلو خپلو هېوادونو کې له پامور معنوي اعتبار او حقوقي زده کړو څخه برخمن وي.

د عدالت نړیوالې محکمې صلاحیتونه په لاندې ډول دي:

- هغه شخړې چې اړخونه یې هېوادونه وي.
- د ملګرو ملتونو سازمان له منشور سره سم د نړیوالو سازمانونو او ارګانونو په حقوقي مسایلو کې د مشورتي نظریاتو ورکول.

اشخاص هم کولای شي چې د خپلو متبوعه هېوادونو له لارې د سیاسي ملاتړ د اصل په درلودلو سره له محکمې څخه د رسیده ګۍ غوښتنه وکړي.

د محکمې د اساسنامې د ٤۳مې مادې د حکم له مخې د محکمې کړنلارې په دوه ډوله دي، یو ډول یې هم لیکلې کړنلارې او دویم ډول یې هم شفاهي یا نالیکلې کړنلارې چې لیکلې یې عبارت دي له: د متقابلو لوایحو ابلاغ، د شخړو د اړونده هېوادونو پاڼې او اسناد به د محکمې پر وړاندې حاضر وي. په نالیکلې کړنلاره کې بیا په شخړه کې د ښکېلو هېوادونو په استازیتوب د شاهدانو، حقوقپوهانو، کارپوهانو او د دعوی د وکیلانو د څرګندونو اورېدلو

Bawar.net


څخه عبارت ده. د محکمې پرېکړې نهايي دي، بله مرحله نه لري، څکه کله چې محکمې ته موضوع راجع کېږي، نو د دواړو لوریو توافق پرې راغلی وي

## دویم مبحث: د دولتونو ترمنځ د خپلمنځي شخړو د حل سیاسي لارې

### لومړی جز: د نېغو ډیپلوماټیکي خبرو اترو په واسطه د نړیوالو شخړو حل

د نړیوالو شخړو د سوله ییز حل لپاره ډیپلوماټیکي نېغ په نېغه مذاکرات او خبرې اترې لومړنی، اسانه او اغېزناکه لاره ده.په ډیپلوماتیکي خبرو اترو کې معمولاً په شخړه کې د ښکېلو دواړو دولتونو رئیسان او یا هم د بهرنیو چارو وزیران یا هم بل هر صلاحیت لرونکی مقام ګډون کوي. دوی په خپلومنځونو کې دعواوې او مسایل نېغ په نېغه مطرح کوي، پر موضوع غور او څېړنه کوي او بیا یو بل لوري ته د ستونزې حل وړاندیزوي.که چېرې شخړه یا ستونزه ګڼ اړخونه ولري؛ نو بیا د ټولو اړخونو د راټولو لپاره د نړیوال کنفرانس تابیا نیول کېږي یا هم شوني ده چې د یو نړیوال سازمان په ناستو کې ستونزې او مسایل مطرح شي او حل ورته ولټول شي. معمولاً د نړیوالو شخړو په اړه له ډیپلوماټیکي حللارې څخه هغه مهال ګټنه کېږي، کله چې شخړه راپیښه شوې نه وي، په ډیپلوماټیکي ناستو کې د شخړو پر عواقبو باندې خبرې کېږي او دواړه لوري د وقایوي تدابیرو په توګه ځینې مکلفیتونه پر غاړه اخلي چې شخړه رامنځته نه شي.

په نېغ په نېغه ډیپلوماټیکو خبرو اترو کې اصول دا دي چې ټول اړخونه به د برابرو حقوقو لرونکي وي او پر پایلو باندې باید د دولتونو ځواکمنتوب او کمزوري هیڅ ډول اغېز ونه کړي. که چېرې ډیپلوماتیکي خبرې اترې مطلوبه او مثبته پایله ورکړي، نو دواړه لوري په یو موافقتلیک سره سلا کېږي. د دې ډول خبرو اترو یوه ګټه دا ده چې درېیمګړیو دولتونو ته په کې د لاسوهنې موقع نه شته ده.

Bawar.net


## دویم جز: د درېیمګړیو دولتونو له خوا د منځګړیتوب او نېکو هڅو له لارې د نړیوالو شخړو حل

کله چې ډیپلوماتیکې خبرې اترې کومه پایله ورنه کړي؛ نو د نړیوالو عمومي حقوقو شخصیتونه او افراد، چې په دې شخړو کې یې کومه ګټه نه وي، کولای شي د یوې بلې سوله ییزې لارې په موندنې یا لږ تر لږه د نېغو ډیپلوماتیکو خبرو اترو لپاره د لارې په اوارولو سره د ښکېلو اړخونو ترمنځ خپلې هڅې ګړندۍ کړي چې دغه شان هڅو ته نېکې هڅې ویل کېږي، په نېکو هڅو کې ممکن درېیم شخصیت چې د خبرو اترو لاره یې اواره کړې ده، په خبرو کې ګډون وکړي یا یې ونه کړي؛ خو منځګړیتوب کې معمولاً درېیمګړی ګډون کوي او د شخړې د دواړو لوریو ترمنځ د حایل او پردې حیثیت لري او هڅه کوي دواړه لوري یو پر بل له لفظي تېریو او مشاجرو څخه وساتي. دا چې منځګړي هېوادونه په شخړه کې د ښکېلو هېوادونو د موافقې پر بنسټ په خبرو اترو کې ګډون کوي نو دغه ډول هڅې جدي او اغېزناکې وي؛ خو دا هېڅکله هم الزامي اړخ نه لري، یوازې د سلا او مشورې بڼه لري یانې د شخړې دواړه هېوادونه یې په منلو اړ نه دي.

## درېیم جز: د څېړنې او سوله غوښتنې کمیسیونونو له لارې د نړیوالو شخړو حل

دا هم د دولتونو ترمنځ د شخړو د سوله ییز حل‌لارو څخه یوه لاره پېژندل شوې ده، د دې ډول کمیسیونونو عمده دنده د اختلافاتو په اړه د حقیقتونو او د هغو د ریښو موندل دي. د څېړنې په کمیسیون کې د ښکېلو هېوادونو له لوریو هم یو یو کس ګډون کوي، کمیسیون د شخړې په اړه په دواړو لوریو کې خپل تحقیقات پیلوي، مرکې کوي، نظرونه راټولوي، کله چې د کمیسیون کار پای ته رسېږي، نو د خپل کار یو راپور برابروي او د ښکېلو هېوادونو ترمنځ په خبرو اترو کې یې وړاندې کوي. کمیسیون د چا د مسوول او

Bawar.net


نامسوول ګڼلو په اړه څه نه وايي، یوازې خپله تر لاسه شوې پایله او ارقام وړاندې کوي.

معمولاً کمیسیون د دواړو لوریو په توافق او یا هم د ملګرو ملتونو سازمان په واسطه د یوې شخړې لپاره ټاکل کېږي؛ خو بیا هم د کمیسیون څېړنې اختیاري دي، نه اجباري، دولتونه په بشپړه توګه حق لري چې تړې ګټه اخلي اوکه د شخړې د حل لپاره کومه بله لاره غوره کوي. هغه دولتونه چې د کمیسیون د څېړنې پر کار یې موافقه کړې وي، د کمیسیون د کار تر پایه پورې د شخړې د حل لپاره له جګړې نه کار نه شي اخیستی. معمولاً سوله غوښتونکی کمیسیون، چې د پېښې له پېښېدو مخکې یا هم وروسته د دولتونو د خپلمنځي تړون له مخې جوړېږي، د نظر ورکولو او د شخړې د حل لپاره د وړاندیز کولو واک هم لري.

په اکثرو څو اړخیزو تړونونو کې د دغه شان کمیسیونونو یادونه وړاندې له وړاندې کېږي او د تړون په مازې نافذېدو سره دغه کمیسیون هم رامنځته کېږي، د دې لپاره چې د دولتونو ترمنځ د احتمالي شخړو په وخت کې د دوی ترمنځ سوله راولي؛ خو په دې وخت کې هم د سولې کمیسیون وړاندیز یا نظر منل پر دواړو اړخونو باندې حتمي نه دی.

## څلورم جز: د ملګرو ملتونو او نورو سیمه ییزو سازمانونو غوښتنې او پرېکړه لیکونه

څینې مهال د ملګرو ملتونو سازمان او یا هم نور سیمه ییز سازمانونه د دوو یا څو دولتونو ترمنځ د شخړو او کړکېچ د حل لپاره ذیدخلو لوریو ته خپلې رسمي غوښتنې او پرېکړه لیکونه اعلاموي او له هغوی څخه غوښتنه کوي چې په خپلو منځونو کې له مسلحانه برخوردونو څخه لاس واخلي او خپلې شخړې د سولې او خبرو اترو له لارې پای ته ورسوي؛ خو دا ډول غوښتنې او پرېکړه لیکونه د شخړو په پای ته رسېدو کې ډېر کم رول لري. زیاتره د په شخړو کې ذیدخله لوري دې ډول پرېکړه لیکونو او غوښتنو ته ډېر ارزښت نه ورکوي، په

Bawar.net



ځانګړې توګه هغه لوري چې په خپل ځواک و قدرت غره وي؛ خو بیا هم دا ډول پرېکړه لیکونه د نړیوالو شخړو په حل کې خپل اغېز لري، د بېلګې په توګه په ۱۹۷۵ز کال کې د هندوستان او پاکستان ترمنځ جګړه، چې دوه اوونۍ یې دوام وکړ، د امنیت شورا له مداخلې او غبرګون پرته پای ته ورسېده؛ ځکه هندوستان نه غوښتل چې د پرېکړه لیک د صادرېدو له امله پر هندوستان باندې د جګړې ودرول تحمیل شي.

## پینځم جز: د سوله ساتنې په نوم د نظامي ځواکونو مداخله

معمولاً کله چې د ملګرو ملتونو سازمان درک کړي چې د دوو یا څو دولتونو ترمنځ یوه شخړه له نورو سوله ییزو لارو نه شي حل کېدای؛ نو د امنیت شورا له پرېکړې سره سم د (سوله ساتو ځواکونو) په نوم د نظامي مداخلې له لارې د شخړې د پای ته رسولو لپاره هغې سیمې ته ځواکونه لېږل کېږي. سوله ساتي ځواکونه چې کله سیمې ته ځي؛ نو هڅه کوي چې د دواړو ښکېلو لوریو ترمنځ اوربند اعلان کړي او په بې طرفانه ډول د سیمې د سولې او امنیت ساتنه کوي. د سړې جګړې په دوران کې د سوله ساتو ځواکونه رامنځته کېدل د ملګرو ملتونو سازمان تر ټولو لوی اقدام ګڼل کېږي؛ خو دا چې په امنیت شورا کې د نړۍ لوی ځواکونه سره په سیاسي او د ګټو په لحاظ یووالی نه لري؛ نو د سوله ساتو ځواکونو مهم او ارزښتناکه رول ته یې هم له همدې امله زیان رسېدلی دی او نړیوال ورته نن سبا په هغه ارزښت او حیثیت نه دي قایل.

Bawar.net



**پایله:**

له هغې ورځې چې هیوادونه دځمکې پرمخ رامنځ ته شوی ،طبعی ده چې دا هیوادونه به دمشروعیت اوقانونیت لرونکی وی اودخپلوچارو د اجراء مسولیت به یی په خپله غاړه وی یا به داهیوادونه دبل هیواد دحاکمیت لاندی وی ،په دویم صورت کی که دویم هیواد دلومړی هیوادو په چارو کی مداخله کوی نودی دول مداخلی ته مداخله نه ویل کیږی ،همدارنګه که لمړی هیواد یومستقل اوازاد هیواد وی اوپه خپله خوښه دویم هیواد ته دمداخلی اجازه ورکوی داهم مداخله نه ګڼل کیږی ،ولی که دویم هیواد دخپلو موخو په خاطردیومستقل اوازاد هیواد په چارو کی دهغوی له اجازی پرته لاس وهنه کوی،بیا دالاس وهنه دملګروملتونو دمنشور ددویمی مادی د اوومې فقری خلاف عمل دی ،چی دا حالت دهیوادونوترمنځ داړیکو دټولوډولونودپریکون لامل ګرځی .

ددی تحقیقی اثر په پړاو کې مووليدل چی داړیکو دخرابیدو په صورت کی هیواد ونه یودبل پروړاندی دجګړې ډګرته ورداننګي .

په اروپا کی لومړي اودویمی نړیوالوجګړو اروپایی ټولنه دسختوناخوالواو مصیبتونوسره لاس په ګریوان کړی وه ،ټول اقتصادي ،سیاسي،فرهنګی اوټولنیزې اداري اوارګانونه په کلي ډول دبنیاد څخه رنګ شوې وو ،لاقانونیت اوانارشي خپل اوج ته رسیدلي وو،دهیچامال اوځان خوندي نه وو ،دجګړی ګټونکو هیوادونو دجګړې بیالونکوهیوادونوپه چارو کې مداخله اوتجاوز اعمال ځان ته جایز ګڼل ،نړیوالو اصولواودجامعه ملل پریکړو ته یې احترام نه درلود ،دهیوادونواقتصادي او سیاسي چارې یې دخپل ځان پوری تړلی وی ،په خاص ډول ددریمې نړی په هیوادونو امورو کې یې دومره بربنډې مداخلې کولې چې دهیچا له نظره پټې نه دي ،دبشری حقونو نه مراعت کول ،ترویزم،ملتپالنه هغه نور مصیبتونه وو چې ولسونه یې دارام ژوند څخه بې برخې کړې وه ،کله چې داسلام مبارک دین رامنځ ته شو دې ټکوته اشاره

Bawar.net



وشوه چې داسلام په نړیوالو ا ړیکو کی ځانګړې اساسات اواصول لري،مرسته اوهمکاري،ګذشت اوتیریدنه ،دعقیدې ازادي ،عدالت ،ترحم، په عهد وفا اونوروانساني اصولواوپرنسیپونو ته سخت التزام اوپابندي لری،ویلای شو چې په اسلام کی دانساني اړیکو یوه مهمه پایه اوبنسټ عدالت دی ددی اصل پربنیاد ټول بشریت سره مساوي دي داسلامي عدالت پرورانـدې ددښمن اودوست ترمنځ توپیر نشته، همدا دعدالت اصل په نړیوالو اړیکو کې یومهم رکن دی په اسلام کی دانساني اړیکو یو بل اصل ورته غبرګون دی ،دا اصل دعدالت سره نژدې اړیکې لری بلکې دعدالت یوه برخه ده،رسول کریم صلی الله علیه وسلم پدې هکله داسې فرمایي: (دخلکو سره هغه ډول معامله وکړي چی څرنګه یې له ځان سره خوښوي ).

نو بناً پایله دا شوه چې د اسلام مبارک دین خپل پیروان او حتی ټول بشریت ښو اړیکو او انساني غوره راشه درشي ته رابولي ،او ورته دصلحې اوسلامتي پیغام دځان سره لري، په نړیوالو چارو کې یی هم د عدالت، انصاف او غوره راکړه ورکړې اړخ نیولی دی.

<<<پای>>>

Bawar.net



## ماخذونه (Reference)

<u>په فارسي ژبه:</u>

۱. ارلوف، الکسندر، تاریخ سری جنایتهای استالین، ژباړه: عنایت الله رضا، لومړی چاپ، تهران، کتاب سرا،(۱۳٦٦هـ ش).

۲. افتورخانوف، عبدالرحمن، درکرملین چه میگذرد؟، ژباړه: نصرالله دیده بان، لومړی چاپ، تهران، (۱۳٦٦ه ش).

۳. اشنایدر، لویس ال، اسناد تاریخی قرن بیستم، ژباړه: فروغ پوریاوری،نشرات فاریاب، (۱۳۷۲ه ش).

٤. انتوني هک گرو، دیوید هلد، جنگهای صلیبي، ترجمه :کربایسان، مسعود، نشرات نشرچشمه، تهران (ه ش۱۳۸۷).

٥. اندره، مالرو، تحولات روابط بین الملل، از کنگره وین تا امروز،تهران،( ۱۹۳۷ م).

٦. السون رابرت تی، جهان میان دو جنگ، مقدمه ی بر اغاز جنگ، ژباړه: همایون حنیفه وند مقدم، تهران، (۱۳٦۳ه ش ).

۷. اینکورات، سایس، بحران جهاني، ترجمه: بزرگمهری، داکتر مجید، تهران،(۱۹۷۰ ه ش).

۸. بزرگمهری، ډاکتر مجید، تاریخ روابط بین الملل، ۱۸۷۰ تا ۱۹٤٥، نشرات سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انساني، دانشگاه (سمت) تهران، (۱۳۸٤ه ش ).

۹. برانلي، ایان، حقوق بین الملل در واپسین سالهای قرن بیستم، ترجمه: رضایي، صالح، نشرات دفتر مطالعات سیاسي و بین الملل ایران، تهران (۱۳۸٦ه ش ).

۱۰. پیرون ژاک، جریان های بزرگ تاریخ معاصر، ژباړه: رضا مشایخی، جلد دوم، نشرات امیر کبیر، تهران، (۱۳٥۷ه ش).

Bawar.net



۱۱. توکلي، محمد، صد سند از المان هیتلری، انگیزه های جنگ جهانی دوم، د المان د رسمي سپين كتاب څخه غوره‌چاپ، نشرات نقره، تهران، (۱۳٦۳ه ش ).

۱۲. رابرت کیوکان، روابط فراملی و سیاست جهان، ژباړه: كاوشگر، ناصر، نشرات سرنا، تهران، (۱۳٦۹ه ش ). .

۱۳. سنبلی، نبي، فصلنامه سياست خارجي، تهران، (۱۳۸۴ ه ش).

۱٤. صادقي، ډاكتر على، ايديالوژي و روابط بين الملل، نشرات قومس، تهران (۱۳۹۰ه ش ).

۱۵. طراز كوهي، حسين شريفي، جامعه مدني جهاني، تهران، (۱۳۹۳ ه ش).

۱٦. طيب، علي رضا، تروريزم، تهران، ( ۱۳۷۹ ه ش).

۱۷. عبدالحی، داکتر محسن، اشنايي باحقوق بشر دوستانه،تهران، (۱۳۸۱ه ش).

۱۸. عبدالحی، داکتر محسن، رابطه تروريسم با حقوق بشر، تهران،(۱۳۹۳ه ش).

۱۹. رانگل جوزف ،روابط بين الملل در جهان متغير، ترجمه عالم، عبدالرحمن ،نشرات دفتر مطالعات سياسي و بين الملل، تهران ( ۱۳۷۳ه ش).

۲۰. کاتسته، انتونيو، نقش روز در روابط بین الملل. ترجمه: كانتري بان، مرتضی، تهران( ۱۳۷۵ ه ش).

۲۱. كينتر، جان، نظريه پردازان روابط بين الملل، ژباړه، منصور رادمرد، نشرات سرنا، تهران، (۱۳٦۷ه ش).

۲۲. كسينجر، هنري. ډيپلوماسي، جلد دوم، ترجمه: سلطان يكتا، و عليرضا اميني، انتشارات اطلاعات ایران، تهران (۱۳۷۹ه ش ).

۲۳. كسنجر، هنري، ډيپلوماسي، جلد اول، ترجمه سلطان يكتا و عليرضا اميني، انتشارات اطلاعات تهران، ايران، (۱۳۷۹ه ش).

۲٤. كينس، جان مارنارد، تاريخ جهان، ترجمه: راد مرد، بارز، تهران،(۱۹۸۰م).

۲۵. لينكليتر، اندرو، جامعه شناسي تاريخي و روابط بين الملل- ژباړن: حبيب، على رضا. انتشارات وزارت خارجه ايران، دفتر مطالعات سياسي و بين المللی، بهار،تهران،(۱۳۸٦ه ش).

Bawar.net



۲۶. گروه از مولفان، روابط ایرانیان و ترکان با غرب از قرن دهم تا بیستم، ترجمه ضیاپیلیماز، سید ابوطالب روحاني، امید و امید، نشرات مرکز مطالعات فرهنگي بین المللي، تهران (۱۳۸٤ه ش ).

۲۷. لینکلیتر، اندرو، جامعه وهمکاري در روابط بین الملل، ترجمه: بهرام مستقیمي، انتشارات وزارت امور خارجه ایران، تهران ( ۱۳۸۵ه ش).

۲۸. مورگنتا، هانس جي، سیاست ملت، ترجمه: حمیرا مشیرزاده، نشرات دفتر مطالعات سیاسي و بین المللي ایران، تهران ( ۱۳۸۹ه ش ).

۲۹. مودسکی، جورج، سیاست جهانی و دولت ملی، ژباړه: علي رضا طیب، جلد دوم، تهران، (۱۳۸۹ه ش).

۳۰. متین، دفتری، روابط بین الملل پیشین، نشرات دانشگاه تهران،(۱۳٦٦ه ش ).

۳۱. ودرو ویلسن، توماس، تاریخ دیپلوماسي عمومي. ترجمه: اگاهي، عباسی، تهران (۱۹۲۱).

۳۲. ویراسته، اندرو لینکیتر، جامعه و همکاری در روابط بین الملل، ژباړه: بهرام مستقیمی، تهران، (۱۳۸۸ه ش)

۳۳. نقیب زاده، ډاکتر احمد، تاریخ ډیپلوماسي و روابط بین الملل، نشر قومس، تهران

۳٤. هرزن، اکسندر، مرور بر تمدن ها. ترجمه: رضا، علي، تهران (۱۹۸۸).

۳۵. هیوود، اندرو، سیاست، ترجمه عبدالرحمن عالم استاد دانشگاه تهران، (۱۳۹۱ه ش ).

*په انګلیسي ژبه:*

1. Alexander sOLzhenistyn" How are we to restructure rassia? Sep, 26,1990.P.112
2. Alan Blullock, Hitler and Stalin, Parllel Lives (New York) Alfreed A. Konopt, 1992, p.82.

Bawar.net




3. Gilpi , Robert, Global Political Economy, Princeton Uni Press. U.K, p. 22, 2001.
4. Jomas Macgregor Burns, Roosevelt: The Soldier of freedom New York: Marcourt Brace Jovanovich, 1970,P ,66.
5. John Colville, the Fringes of Power, New York, London,ww,Norton, 1985,P.404.
6. President George Bush" the U.N: World Parliament of Peace" New York Oct,1,1990,P.152.
7. President Bill Clinton" Confronting The Challenges of A brooder World" New York Sep 27,1993,P.650.
8. See Eric Larabee, Conunander in chief: Franklin Delano Roosvelt, His Lieuten, Ants, and their War New york Harper and Row, 1987,P.503.
9. Sir Jhan, Wheeler, The Semblance of Peace London: Macmillan, 1972,PP.46.
10. Wiskemann, Elizabeth, Europe of The Dicthators 1919-1945.5 ed, Fantana Press G.B, 1966 Paris, P.11.
11. Winstons. Churchill, The Second World War, Boston, 1950,P.214.
12. Voneky, Michel, Report of Terrorism and Human Rights, 1989.
13. Rabert, Juzef< Human Rights Committee: Lebanon, 1997.
14. Hans, Kilson, Guideline on Human Rights and the fight agains Terrorism, 1999.

Bawar.net

# International Relation

## Principles of Inter-State Political Relation

By:
**Mangal Sherzad**
Professor of Law & political Faculty
Nangarhar University

Jalalabad- 2016




چاپ چارې:
یار خپرندویه ټولنه، ننګرهار - افغانستان
۰۷۹۷۱۳۱۶۱۷-۰۷۸۵۵۰۰۷۳۱
khanbaheer2@gmail.com

Designed By: Rahmanullah Baheer